په ډیره مینه ، په ادب او احترام کوم
وطنه ستا ښکلې پرچم ته زه سلام کوم

# د پښتو ناول

# صوبه دار غلاف خان

**<u>مصنف</u>**

**پرویز شیخ**

**(ایم اے اردو ، انگلش )**





**ټول حقوق محفوظ دي**

د کتاب نوم : صوبه دار غلاف خان

لیکوال : پرویز شیخ

اشاعت : فروری ۲۰۱۲ء

کمپوزنګ: حبیب الرحمن (صافی)

شمېر: (200)

پرېس: اعراف پرنټرز محله جنګی پیښور
0092-91-2580006

بیعه: ( 200) روپۍ

**د موندلو درکونه**

یونیورسټی بک ایجنسی پیښور

یونیورسټی بک شاپ

زیب آرټ پبلشرز محله جنګی پیښور

## تړون :

دَ خپلې خدائے بښلې نمسۍ حديقه شهزاد په نوم چې
په کال 13-10-2010 کښې يې سترګې اوغړولې
او په 29 جنوری 2012 کښې په لاهور چلډرن هسپتال
کښې دَ اپريشن په دوران کښې لکه دَ مرغۍ
زمونږ دَ لاس نه والوته او نورو جنتي
مرغو سره ملګرے شوه ۔
انا للہ وانا الیہ راجعون

پرويز شيخ
14-02-2012





## ړومبی باب

صوبه دار غلاف خان په خټه ملک دين خيل افريدے وو او دَ دره آدم خيل په اخوروال نومے کلی کښې پيدا شوے وو ۔ پلار په نيکۀ دَ غټې ستې خاوند او دَ خپلې ډيرے ډانډے او کور حجرے مالک وو ۔ خو دَ فوجی نوکرۍ په وجه يې دَ ژوند لويه برخه دَ ملک په لويو ښارونو او چهاونړو کښې تيره کړے وه ۔ دلسم جماعت پاس کولو نه پس په 1971ء کښې په پاک آرمی کښې بهرتی شو او ايف ايف سنټر ايبټ آباد ته اوليږلې شو ۔ دَ سخت ټريننګ او رنګروټيا نه پس نورو سپاهيانو سره مشرقی پاکستان ته اوليږلے شو ځکه چې هلته دَ ملکی شورش ،عوامی بغاوت ،سول نافرمانی ، دَ مکتی باهنی دَ سازشونو او وران کارۍ په وجه حالات ډير خراب وو ، دَ فوج ځۀ برخه په ملک کښې دننه مکتی باهنی سره برسرِ پيکار وه ، ځۀ برخه دَ امن په بحالۍ کښې مصروفه وه او ځۀ دَ هند په پوله باندے پرته وه ۔

غلاف خان او دَ هغه ملګری نور رنګروټان ټول هغه کسان وو چې نه په نقشه پو هيدل ، نه د دے علاقے نه واقف وو او نه دَ جنګ په تکنيک پو هيدل ۔ هغوی کښې جذبۀ جهاد وه ، سينه زوری ، ولوله او آهنګ وو خو تجربه ورسره نه وه چې کله دَ هغوی کمپنی ډهاکے ته اورسيده نو په سخت حفاظتی حصار کښې ميمن سنګهـ جمالپور ته لاړۀ ۔ دے نه مخکښے يوے ايډوانس کمپنۍ په کمالپور کښې دَ هند پولے سره نزدے پوزيشن سمبال کړے وو ۔ دغه کمپنی په ځو ځو

سکشنونو کښې تقسیم شوے وه ۔ لویه علاقه یې کور کړے وه او مورچے ئې مضبوطې کړے وې ۔ او ټولو سکشنونو به دَ ضرورت په وخت دَ کراس فائرنګ په شکل کښې یو بل سره تعاون کوو،

دا محاذ دَ هندی فوجیانو دَ پاره ډیر اهم وو ۔ د دے دَ نیولو دَ پاره هغوی انتهائی زور لګولے وو ۔ شپه ورځ به پرے دَ توپو شیلنګ کیدو۔ روزانه به څۀ ناڅه مرګ ژوبله کیده خو پاکستانی فوجیانو خپے کلکے کړے وی او ځان ئې په مرګ شمیرلے وو چی کله دَ هندی فوج زور زیات شو او دَ دغه کمپنۍ دَ محاصرے منصوبه بندی اوشوه او دَ لیفټیننټ جنرل اروړه سنګهـ په مشرۍ کښې پرے دَ پنځه لاکهه هندی فوج حمله کیدو واله وه نو هغوی ته دَ پاکستانی افسرانو له خوا دَ وډرال آرډر ورکړے شو ۔ دغے ایډوانس کمپنۍ په لړه لړه وډرال اوکړو او جمالپور کښې ډیفنس کمپنۍ سره یې مورچے سمبالے کړې ۔ چی کومے مورچے هغوی خالی کړے په هغوی کښی هندی فوجونه مورچه زن شو۔

په لسم دسمبر هندی فوجونو ایډوانس اوکړو او دغه دواړه کمپنی یې محاصره کړے ۔ دَ څلور طرفه پرے دَ ګولو باران وو ۔ دے نه علاوه هندی فوجونو دَ هغوی دَ ایمونیشن او خوراک ټولے لارے بندے کړے ۔ څلور ورځے زبردست جنګ اوشو خو دَ ایمونیشن او دَ خوراک دَ کمی په وجه دَ جمالپور دَ محاذ فوجیان دَ اروړه سنګهـ دَ پنځه لاکهه فوجیانو په مخکښے بے بسه شو ۔ ګوله بارود دَ نیش برابر وو خو بیا





هم هغوی په مورچو کښې ناست وو او کله کله به ئې ډز کوو ۔

په شپاړسم دسمبر چی کله پاک آرمی سرنډر شوه او جنرل نیازی ، جنرل مالک شاته سلامی شو نو حکم ئې اوکړو چې ټول وسله کیږدی او سلامی شی۔ د دے دواړو کمپنو مشری لیفټیننټ زیدی کوله چې نوے نوے دَ کاکول نه فارغ شوے وو په دے دواړو کمپنو کښې او یا کسان (70) داسے وو چې هغوی باغیان شو ۔ ځکه چی په هغوی دَ سلامۍ ټکې ډیر بد اولګیدو ۔ هغوی دَ خپلو افسرانو دَ حکم منلو نه انکار اوکړو او دَ ذلت دَ ژوند نه ورته دَ شهادت مرتبه غوره ښکاره شو ۔ په دغه باغیانو کښې یو سپاهی غلاف خان هم وو ۔ هغه هم خپلو ملګرو سره روان شو ۔ زیدی صیب یو په یو ټولو ته دَ واپسۍ حکم اوکړو خو چا هم او نه منلو ۔ زیدی صیب ته دَ هغوی په تلو سخته ذهنی صدمه اورسیده ځکه چی دَ هغوی مرګ یقینی وو ۔ په اخره کښې غلاف خان ته ئې په ډکو سترګو اوکتل او وے وئیل " *غلاف خان تم بھی میرا کلم نہیں مانتے ہو۔ واپس آؤ پلیز* " غلاف خان چی هغه ته اوکتل نو دَ هغه په سترګو کښې غټې غټې اوښکے اوختے را اوختے ۔ غلاف خان دَ هغه په حکم خپه نیولے شو خو کله چې هغه بیا اووے "واپس آؤ پلیز " نو هغه واپس شو او نورو سپاهیانو سره اودریدو ۔

یو کم اویا کسانو په دشمن حمله اوکړه ۔ ښه په نره اوجنګیدل او دَ شهادت آرزو یې پوره شوه ۔ هغوی کمپنی ته راؤړے شو او ټول

په اجتماعي قبر کښې ښخ کړے شو ـ بیا زیدی صیب حکم اوکړو
چې خپله وسله خپلے مخے ته کیږدی ، ټولو خپلې خپلې ټوپکې
خپلے مخے ته کیښودے ـ هندی فوجیان راغلل او ټوله وسله یې دَ
هغوی نه غنډه کړه ـ دَ وسلے غونډیدو په وخت کښې دَ زیدی صیب
او ټولو سپاهیانو په سترګو کښې غټې غټې اوښکے راغلې ـ زیدی
صیب دَ هغوی دَ حوصله افزائی دَ پاره اووے " زما غازیانو !
مجاهدینو! ګټه ، بیلات انسانی ژوند سره تړلی څیزونه دی ـ مونږ
جنګ بائیلو خو همت مو نه دے بیللے ، زمونږ ژوند دَ غازیانو او مرګ
دَ شهیدانو دے ـ هغه خلق څومره خوش قسمته وو چې اوجنګیدل
او شهیدان شو " هغه نور څۀ ویل غوښتل خو جنرل اروړه سنګهه
راغے ، دَ هغه شاته اودریدو او په درونډ اوازیې اووے : Mr.Zaidi
come here ـ زیدی صیب چې هغه ته اوکتل نو هغه دَ باقاعده
مارچ شکل کښې ورغے او هغه ته یې سلوټ اوکړو ـ اروړه سنګهه دَ
هغه سلام وانه خستو البته پاکستانی آرمی ته مخاطب شو او وے
وئیل : یو وخت داسے وو چې تاسو زمونږ خلاف وسله راخستے وه او
مونږ سره جنګیدی ـ تاسو به دَ هر ډز سره دَ الله اکبر چغے وهلے ـ
ستاسو هغه مستی او جذبے څۀ شوے ؟ ـ اوس ولے چپه خوله او ټیټے
سترګے ولاړې ـ ستاسو هغه توره او مړانه څۀ شوه چې ستاسو
شاعرانو او ادیبانو به ستائله ـ هغه هر څۀ ولے ختم شو ؟ دا ځکه چې
تاسو دَ چا سترګے نه وې لیدلے ـ که مونږ اوغواړو نو تاسو ټول په





سترګه رپ کښې دَ دنیا دَ مخ نه فنا کولے هم شو خو نه مونږ به چرے
هم داسے اونکړو ځکه چې مونږ جمهوریت پسند خلق یو ـ تاسو ټول
زمونږ جنګی قیدیان یې او تاسو سره به دَ جنیوا کنونشن مطابق
سلوک کیږی ـ تاسو ته به دَ قیام وطعام او دَ ژوند نور سهولتونه
درکړے کیږی خو دے کښے شرط دا دے چې تاسو ټول به زمونږ دَ حکم
تابع یې او په چپه خوله او په ټیټو سترګو به دَ هندی افسرانو حکم
منی ـ که تاسو زمونږ دَ قانون او زمونږ دَ آرمی رول پابندی اوکړه نو
تاسو زمونږ رونړه یې او که چرے تاسو د دے خلاف ورزی اوکړه نو تاسو
سره به بیا هغه سلوک کیږی کوم چې دشمن دشمن سره کوی ، دے
سره هغه خپل تقریر ختم کړو او روان شو ـ دَ هغه دَ تلو نه روستو
هندی فوجیانو دَ هغوی سترګې او لاسونه اوتړل ـ هغوی په ټیټو
سترګو او تړلو لاسونو په ګاډو کښې کینولی شو او دَ جمالپور نه
لکهنو ته روان شو ـ دَ لکهنو نه بیا آګرے ته دَ ریل ګاډی په ذریعه روان
شو ـ دا سفر ډیر اوږد وو او پوره اووه ورځے جاری وو ـ دَ اولړے نه دَ ټولو
سترګے تږے راؤتے وې ـ په څلورویشتو ګهنټو کښې به ورته یو سپک
چپاتے ورکړے کیدو او هغه به هم ورته داسے ورکړے کیدو لکه اوږی
سپې ته چې ځوک ډوډۍ غورځوی ـ کله کله به یې ډوډۍ
غورځولو کښې "تو تو " هم کول ـ په هر ریلوے سټیشن به دَ هغوی
استقبال په کنزلو او وهلو کیدو ـ په وهلو کښې به یې دَ لتو ، سپیړو
او ډنډو نه علاوه دَ ټوپک دَ بټ نه کار اخستو ـ دَ څلورو کسانو یوه یوه

ډله به راتله او هغوی به واره په واره سزاګانے ورکولے ۔ ډيرے واله سړي به يې دَ ډيرے نه اونيوو او په سټيشن کښې به يې راخکو ۔ ځينې سزاګانے پکښې داسے چې دَ ليکلو او ويلو نه دی ۔ کوم ظلم بربريت او ناروا سلوک چې هغوی سره کيدو ،انتهائی انتقامی کار روائی وه۔

په دغه جنګی قيديانو کښې دَ يو څو نورو نه علاوه غلاف خان او کريم خان داسے وو چې دَ سختی سزا باوجود يې نه "اف" کړے وو او نه يې سترګی لوندے شوې وې ۔ دَ هغوی په زړونو کښې دَ انتقام وور بليدو او دَ هندی فوجيانو دَ هر ګزار سره به دَ دغه وور لنبې زياتيدې ۔ په وهلو او کنزلو هغوی دريو کيمپونو ته اوليږلې شو۔ دا درې کيمپونه ، کيمپ نمبر 44 ، کيمپ نمبر 77 ، اوکيمپ نمبر 88 وو۔ دا کيمپونه دَ يو بل نه په لږه لږه فاصله باندے پراتۀ وو خو دَ يو کيمپ قيدی بل کيمپ ته نشو ورتلے او نه ئے چاسره رابطه کولے شوه ۔ دَ سيکوريټی انتظام ډير سخت وو ۔ هره هفته کښې به په نامعلومه ورځ دَ هغوی او دَ هغوی دَ سامان تالاشی کيده او دَ يو مګ او سټيل پليټ نه علاوه دَ نور څۀ ساتلو اجازت نه وو ۔ سپاهی غلاف خان او سپاهی کريم خان په کيمپ نمبر44 کښې بنديان شو۔ په دغه کيمپ کښې دَCommandos يو څو کسان هم وو۔

ورځې تيريدے او دَ هندی فوجيانو په نفرت کښې اضافه کيده ۔ دا جنګی قيديان سل فی صد مسلمانان وو او په ديکښے نيم په نيمه پښتانۀ وو ۔ دَ هغوی دَ تنګولو دَ پاره به هغوی دَ هغوی خواله





راغلل او دَ غاړه تازه کولو او اخ ټخ په ذريعه به يې دَ هغوی فام ځان ته دَ راګرځولو کوشش کوو۔ چې هغوی به ورته اوکتل نو هغوی به په بريتو ګوتے وهلے څوکے به يې ويستلې او چې چا به دَ هغوی دے قبيح حرکت ته په غصه اوکتل نو هغوی به ورته اووے موسلے Look down "۔

دَ هغوی عام خوراک ساګ ، ګوپهی او ټيپر وو او په دغه ناقص خوراک کښې به دَ شګے ملاوټ وو ۔ کومے چپاتۍ به چې هغوی ته ملاويدے په هغے کښې مړے سپګۍ صفا ښکاريدے۔ چې دَ چا به دَ شکايت يو ټکې په خوله راغی نو هغه ته به اوويلے شو " *تم ہمارے مہمان نہیں جنگی قیدی ہو*"

سپاهی غلاف خان ، سپاهی کريم خان او حوالدار نذير احمد درے واړه دوستان وو چې کله به هغوی د دے ذلت ژوند ته کتل نو دَ وور لنبې به پرے لګيدے ۔ يوه ورځ هغوی درے واړو صلاح اوکړه چې په څۀ ناڅۀ طريقه اوتختی ۔ دے دَ پاره هغوی باقاعده منصوبه جوړه کړه ۔ دَ خپلو کټونو نه يې لنګی او ويستلې او دَ هغے نه يې مضبوطه رسی جوړه کړه او دَ يو لټرين سره يې پټه کيښوده ۔ دَ نورو ځايونو په نسبت دَ لټرينونو په ذريعه بهر ته وتل اسان وو ځکه چې په دے لټرينونو چهتونه نه وو۔ دَ شپې دولس بجے حوالدار نذير احمد پاسيدو او لټرين ته ورغی ۔ هلته هغه دَ منصوبے مطابق رسی دَ ديوال حفاظتی سيخ ته واچوله او ښه کلکه غوټه يې ورکړه ۔ او په مزه مزه

دیوال ته اورسیدو ۔ دَ رسیدو نه پس يې دَ دیوال نه لاندے توپ کړو او منډه يې کړه ۔ حوالدار نذیر احمد پسې نیمه ګهنټه پس سپاهی غلاف خان پاڅیدو او دَ لټرین په بهانه دَ بیرک نه اووتو ۔ هغه چې لټرین ته اورسیدو او دَ حوالدار نذیر احمد څپلۍ يې هلته اولیدے نو په زړه يې اوخوړه چې هغه اووتو ۔ هغه هم څپلۍ لیټرین کښې اوویستلې او په مزه مزه په رسۍ بره اوختو او روغوندے يې ځان دَ دیوال نه اوخویوو۔ هغه پسی نیمه ګهنټه پس سپاهی کریم خان لیټرین ته لاړو۔ هغه چی دَ حوالدار نذیر احمد او سپاهی غلاف خان څپلۍ اولیدلې نو هغه هم خپلې څپلۍ هلته اوویستلې ،رسۍ يې ښه مضبوطه په دواړه لاسه اونیوله او بره ختو ۔ چې دَ دیوال نیمۍ له اورسیدو نو رسې پرے اوشلیده او درز شو چی لاندے راپریوتو ۔ دَ هغه دَ راپریوتو درز په څوکۍ ولاړیو سپاهی وویدو ۔ هغه ګارډ ستینډ ټو (Stand to) کړو ۔ ټول ګارډ بیدار شو او دَ هغۀ تلاش شروع شو ۔ کریم خان دومره زورلې شوے وو چې دَ پاسیدو نه وو ۔ هندی فوجیانو ډیر په اسانه هغه اونیوو ۔ چی کله دَ لیټرین معائنه اوشوه نو هلته درے جوړه څپلی پرتې وې ۔ د دے نه هغوی دا اندازه اولګوله چې دَ کریم خان هغه نور ملګری وتو کښې کامیاب شوی دی ۔

کریم خان ټاوچرسل ته راوستے شو او هغه سزا يې ورکړه چې چغے يې ټول کیمپ اوریدے۔ دے نه علاوه ټول هندی فوج الرټ کړے شو او دَ حوالدار نذیر احمد او سپاهی غلاف خان تلاش شروع شو ۔





هغوی خپلی خلیے بدلې کړے وې خو دَ شک په بنا اونیولے شو او دغه شک بیا په یقین کښې بدل شو۔ هغوی دواړه دَ اګرے په ښار کښې اونیولی شو ۔ او ټارچرسیل ته راوستې شو ۔ هندی فوجیانو دَ هغوی دَ تختیدو دَ لارے بندولو دَ پاره دَ لټرینونو مرمت شروع کړو او دَ پاسه يې دَ پټولو منصوبه جوړه کړه ۔ دے نه علاوه په نورو کیمپونو کښې دَ لټرینونو په مرمت هم کار شروع شو او ځینی نور نوے لټرینونه هم جوړیدل ۔ دے دَ پاره ډیر مزدوران او ګلکاران راوستې شو ۔ دے نه پس ډیره موده په کیمپ کښې خاموشی وه ځکه چی هندی فوجیانو دَ هغوی دَ مصروفه ساتلو باقاعده منصوبه بندی اوکړه۔ هغوی ته او ویلې شو چې هره ورځ به دَ بیرک او دَ برنډے دَ لپالۍ نه علاوه دَ بهر میدان لپالئ هم کوی۔ ځینی قیدیانو احتجاج اوکړو خو دَ هغوی خپل ملګری هغوی سره متفق نشو او دَ هندی فوجیانو په سزا يې هغوی هم اویرول ۔ حوالدار نذیر احمد سپاهی غلاف خان او سپاهی کریم خان هم دَ ټارچرسیل نه بهر کړے شو او هغوی په چپه خوله لکه دَ نورو په خپلو کارونو کښی مصروف شو ۔دے سره سره دے درے واړو په خپل مصروفیت کښی نوره هم اضافه اوکړه او دَ برنډے مخے ته يې باغیچے جوړے کړے ۔ او هره ورځ به يې دَ هغے لپالئ کوله ۔ دَ هغوی دا مصروفیت دے حد ته اورسیدو چی هره ورځ به يې ورله نوے نوے خاؤره راؤړه او اکثر به يې دَ شپے هم لپالئ کوله ۔ کله چی هندی فوجیان دَ خپلې پالیسۍ نه مطمئن شو او هندی فوجی افسرانو دَ

هغوی تابعداری او کارکردګی اوليدله نو هغوی خپلو فوجيانو ته دَ نرمے رويے هدايات ورکړل ۔

په دے قيديانو کښې يو قيدی حافظ قرآن وو ۔ هغه به خپل کار هم کوو او تلاوت به يې هم کوو۔ هندی فوجيانو چې دَ هغه ايمانداری ته اوکتل نو هغه له يې مکمل چُهټی ورکړه ۔ بيا به هغه په خپل بيرک کښې ناست وو خپل نمونځونه ، نفلونه او تلاوت به يې کوو۔

يوه ورځ هندی فوجيانو ته اوويلے شو چې په بيرک کښې سرنګ شوے دے او بيګاه له دَ بعضے قيديانو دَ تختيدو اراده ده ۔ هغه ټول په يوه منډه بيرک ته په داسے وخت کښې راغلل چې حافظ محمد ادريس په تلاوت کښې مصروف وو او دَ هغه نه علاوه بل څوک پکښې نه وو ۔ هغوی په بيرک کښې د کټونو لاندے مشکوک ځايونه اوکتل خو هيڅ يو مشکوک ځای يې اونه ليدو ځکه چې بيرک بالکل صفا پروت وو او تازه لپائی يې شوے وه ۔ هغوی مخبر جنګی قيدی الله دته را اوغوښتو او دَ هغه نه يې په دے حقله تپوس اوکړو ۔ هغه ورته دَ ګوتے په اشاره دَ حافظ صيب کټ په نښخه کړو۔ هغوی حافظ صيب دَ لاس نه اونيوو لاندې ګزار کړو او کټ له يې لته ورکړه ۔ دَ لږ کوشش نه پس دَ حافظ صيب دَ کټ لاندے يوه تخته را اووته کله چې يې تخته لرے کړه نو دَ هغے لاندے دَ سُرنګ خوله را اووته ۔ ټول هندی فوجيان ورته ګوته په خوله اودريدل ۔ دے نه پس يې دَ هغه کسانو او هغه اوزار تلاش شروع کړو چا چې دا سرنګ





ويستلے او په څۀ چې ويستلے شوے وو۔ دے نه پس دَ هغوی په رويه کښې انتهائی شدت راغے۔ او ټولو قيديانو ته يې دَ ايزرسانۍ نوے نوے طريقے شروع کړے ۔ هغوی ډير تپوسونه اوکړل خو چا هم ورته هغه کسان په ګوته نه کړل ۔ کله چې اوچو سره دَ لواندو سول شروع شو نو اته کسان پاڅيدل او هغوی اووې چې دغه کار هغوی کړے دې او نور ګناهګار نه دی ۔ هغوی اونيولے شو ، ټارچرسل ته بوتلے شوو او انکوائری شروع شوه ۔ هغوی ته اوويلے شو چې دا سرنګ اته کسانو دَ ستيل په پليټونو په پنځويشت (25 ) ورځو کښی کنستلے دے او بيګاه له دَ شپے دَ هغوی دَ وتو اراده وه ۔ په دغه اتهه کسانو کښې دَ نورو نه علاوه حوالدار نذير احمد ، سپاهی غلاف خان او سپاهی کريم خان هم شامل وو ۔ دغه کسانو سره چې کوم انسانيت سوز سلوک شروع شو هغه دَ ويلو نه دې ۔ په وهلو کښی دَ حوالدار نذير احمد لاس مات شو او سپاهی سليم خان شهيد شو ۔ دَ هغه دَ مرګ نه پس دَ هغه لاش دَ ټارچرسيل نه اوويستلے شو او بهر په ميدان کښې کيښودے شو ۔ دَ ټولو قيديانو سترګے ډکے وې خو دَ يرې نه يې ژړلے هم نشو ۔ حافظ محمد ادريس په لوندو سترګو هغه له غسل هم ورکړو او امامت چې هم اوکړو ۔ دَ هغه په جنازه کښې دَ کيمپ نمبر 44 دَ ټولو جنګی قيديانو نه علاوه دَ لټرينونو په مرمت کښې اخته مسلمانانو مزدورانو او دَ هندی فوج نائب صوبه دار عبدالشکور هم شرکت اوکړو ۔ دَ شهيد سليم خان دَ شهادت خبر هم

په هغه وخت پاکستانی حکام ته اورسیدو ـ هغوی دَ یو این اوریډ کراس سره رابطه اوکړه ـ لږه شیبه پس دَ ریډکراس عمله را اورسیده ، لاش یې خپل تصرف کښې واخستو او پاکستان ته یې اولیږلو ـ هندی فوجیان حیران وو چې دا خبر په دومره لږ ساعت کښې پاکستانی حکام ته چا اورسوو ـ دے دَ پاره هغوی دَ قیدیانو دَ سامان او دَ هغوی نه دَ انټرویو یوه نوے سلسله شروع کړه ـ

یوه ورځ غلاف خان دَ هندی فوج په حصار کښې غسل خانے ته تلو ـ ګڼ مزدوران لګیاؤ خپل کار یې کوؤ ـ دَ هغه سترګے ناګهانه په یو داسے مزدور اولګیدی چې هغه لیدلے ، کتلے وو ـ دَ هغه په مخ مسکا خوره شوه او دا یې په زړهٔ کښې راغله چې هغه سره روغ جوړ اوکړی ـ دَ مزدور سترګے هم مسکی شوے خو چې کله غلاف خان د هغه ستړی مشی له ورتلو نو هغه تندې تریو کړو او تاټکې یې په سر کړو ، روان شو ـ غلاف خان دَ هغهٔ په لولې نظری خفه شو خو زړهٔ له یې په دے تسلی ورکړه چې کیدیشی هغه ته مغالطه شوے وی ـ

هندی فوجیانو به په مختلفو طریقو دَ ټارچرسیل قیدیان تنګول ـ کله کله به یې ماران ورغورځول او کله لړمانان خو هغوی هم ښه په تول پوره وو ـ هغوی به هغه ماران او لړمانان مړه کړل او دَ شپے به یې د سنتری خپو کښې په داسے انداز غورځول چې هغه به بے خبره وو ـ هغه به شور جوړ کړو ـ ټول ګارډ به یې stand to کړو ټولو به په مړ مار ګوزارونه کول او هغوی به ورپورے خاندل ـ





دَ کیمپ نمبر 44 21c راجش شرما به هر مازیګر دَ ټارچرسیل دوره کوله ، هغه سره به په ځنګ کښې بُل ډاګ "ټائیګر" هم وو ـ دَ هغه زنځیر به دَ هغه اردلی ګیراج سنګهـ نیولے وو او هغه پسې به روستو روان وو ـ سپې چې به دَ ټارچرسیل خواله راغے نو دَ شرما په اشاره به غوریدو او په قیدیانو به یې حملے کولے خو دَ سیل دَ سیخانو په وجه دننه نشو ورتلے ـ هغه به په روستو خپو اودریدو او مخکښې پنجې به یې په سیخانو راخکلے ـ دَ هغه دَ پنجو نوکونه دومره تیرهٔ وو چې دَ سیخانو نه به یې کرارے ویستلو ـ میجر شرما به هغوی ته په طنزیه خندا کتل او وئیل "*کوئی ہے جو میرے کتے کا مقابلہ کرے؟*" ـ دا به یې اووئیل او روان به شو ـ یو مازیګر راجش شرما دَ معمول مطابق راغے او دغه دهمکی آمیز الفاظ یې بیا اووې ـ دَ هغه په خندا غلاف خان دَ قهره تک سور شو ـ پاځیدو سینه یې اوټپوله او وے وئیل "*ہاں تمہارے کتے سے میں مقابلہ کرونگا۔کھول یہ دروازہ تا کہ دودھ کا دودھ اور پانی کا پانی ہوجائے*" راجش شرما یو ځل بیا اوخاندل او وے وئیل "*ارے پٹھان خان سوچ لو، بعد میں اپنا خون میرے ذمے نہ لگانا*"

غلاف خان متهی اونغښتلے او وے وئیل "*مجھے باتوں میں مت الجھاؤ دروازہ کھول*" ـ *راجش شرما۔ مقابلہ سب کے سامنے ہوگا۔ منظور ہے؟*ـ

غلاف خان : *ہاں منظور ہے* ـ

میجر شرما ټول قیدیان او هندی فوجیان دَ کیمپ مخے ته راغونډ کړل ـ دَ مشری دَ پاره یې صوبه دار میجر ترڼګادیو را

اوغوښتو ۔ غلاف خان دَ کارډ په نګرانئ کښې میدان ته راوستے شو ۔ میجر شرما او غلاف خان دَ یو بل نه په لس ګزه فاصله باندے ولاړ دی ۔ ټائیګر په غلاف خان باندے دَ حملے کوشش کوی خو شرما دَ هغۀ زنځیر کلک نیولے دے ۔ صوبه دار میجر ترڼګادیو دَ Ready اواز اوکړو ۔ ریډی سره شرما او غلاف خان دواړو خپل پوزیشن جوړ کړو ۔ دَ صوبه دار میجر دَ ون ، ټو ، تهری سره شرما دَ سپې نه زنځیر کش کړو ۔ سپې چې ازاد شو نو لکه دَ مړوکی په غلاف خان ورغئ ۔ غلاف خان هغه ډاج کړو او سپې یو څو قدمه تیر لاړو ۔ غلاف خان ډیر په تیزئ سره راتاؤ شو او دَ بوټ په لته یې په سر داسے ګوزار ورکړو چې یوه شیبه لکه دَ برلندی په زمکه تاویدو او چونګیدو ۔ هغه لا هغسے تاویدو چې غلاف خان ورمنډه کړه ۔ هغه یې دَ روستې خپی نه اونیوو، دَ زمکے نه یې پورته کړو او په هوا کښې یې تاوهو او په تاوهلو تاوهلو کښې یې لرے ګوزار کړو ۔ سپې چې په زمکه راپریوتو نو زر پاڅیدو او په هغه ورغوټه شو ۔ غلاف خان هغه له په خوله لته ورکړه ۔ سپې دَ هغه په بوټ چک اولګولو او غاښونه یې پکښې وربښخ کړل ۔ دَ سپی غاښونه دَ بوټ دَ څرمنې نه اووتل او دَ هغه په پنجه اولګیدل ۔ غلاف خان د درد نه سم لیونی شو ۔ هغه په بله خپه هغه په سر په لته اووهو ۔ سپې اودړیو خو خوله یې اونه ویسته ۔ غلاف خان ټیټ شو په دواړه لاسه یې دَ هغه دواړه ژامے اونیوے او لاندے باندے یې پرے دَ خپلې ځوانئ ټول زور اولګوو ۔





ډیره شیبه دَ غلاف خان او ټائیګر زور آزمائی جاری وو او خلقو ورته دوه سترګے څلور کړے وې ۔ هغه ډیر په مشکله دَ هغه دَ ژامے نه خپله خپه ازاده کړه ۔ دَ سپی خوله لا هغسے دَ هغه په لاسونو کښې وه او هغه پرے زور لګوؤ ۔ سپی په روستو خپو اودریدو او مخکښئ پنجے ئی دَ هغه په خیټه تر پنډو پورے راخکلے ۔ دے سره غلاف خان نور هم دړمند شو او نور زور یې هم اولګولو ۔ دَ زور دَ لاسه دَ هغه لاسونه ړچیدل چی دیکښے یو کړس اوشو، کړس ټولو خلقو وورېدو خو چاته هم دا معلومه نشوه چې دا کړس څۀ اوکړو ۔ سپی دَ هغه په لاسونو کښې ترټکے وهلے او چې خلقو ورته اوکتل نو دَ هغه ژامه ماته شوے وه او دَ ژوند اخری سلکئ یې وهلے ۔ ټائیګر دَ غلاف خان په لاس کښې ساه ورکړه ۔

غلاف خان هغه په دواړه لاسه اوچت کړو او دَ نعرۀ تکبیر چغه یې اوویستله ۔ دَ هغے په جواب کښی ټولو قیدیانو دَ الله اکبر چغے اووهلے ۔ غلاف خان سپې په دواړه لاسه اوچت نیولے وو ۔ بیا ئے میجر شرما ته په خپو کښې ګوزار کړو ۔ شرما چې خپل مړ سپی ته اوکتل نو دَ قهره تک سور شو ۔ طماچه یې را اوویستله چی هغه هم ټائیګر سره ملګرے کړی ۔ په دے غرض چی غلاف خان ته یې اوکتل نو رنګ یې تک زیړ شو ۔ طماچه دَ هغه لاس کښې وه خو په غلاف خان یې ډز نشو کولے ځکه چې دَ هغه شاته جنرل اروړه سنګهـ ، بریګیډیر لالو پرشاد او دَ یواین او دَ انسانی حقوق چیرمین David Dickson او

دَ هغه دَ ټیم نور غړی ولاړ وو ۔ David Dickson جنرل اروړه سنګهه ته په سوالیه نظر اوکتل ۔ اروړه سنګهه شرمنده شو او بریګیډیر لالو پر شاد ته ې دَ هغهٔ دَ ګرفتار حکم ورکړو ۔ میجر شرما ګرفتار شو او دَ هغهٔ خلاف کورټ آف انکوائری جوړ شو ۔ دَ غلاف خان دَ خیټے ، پنډو او خپې نه وینے بهیدې او دَ هغه ټوله وردی تکه سره شوے وه ۔ دَ بین الاقوامی ټیم په موجودګی کښې دَ هغهٔ دَ خپو نه بوټان اوویستلی شو ۔ او چې دَ هغه خپه اوکتے شوه نو دَ ګانښونو بیلی بیلی ننښے پکښی ښکاریدے David Dickson اروړه سنګهه ته اووی چی دے فوری طور سره هسپتال ته اولیږلے شی او د ده مکمل علاج اوشی۔

اروړه سنګهه هغه سره اتفاق اوکړو ۔ فورًا یې ایمبولینس را اوغوښتلو او هغه دَ مکمل ګارډ په نګرانی کښی CMH ته اولیږلے شو ، غلاف خان په هسپتال کښے وو چی کورټ آف انکوائری خپله انکوائری شروع کړه ۔ دا انکوائری لاجاری وه چی دَ پاکستانی قیدیانو دَ ازادیدو او خپل وطن ته دَ تلو اعلان اوشو ۔ چی کله غلاف خان دَ هسپتال نه کیمپ ته راغی نو پاکستانی قیدیانو دَ قوی هیرو غوندے دَ هغه استقبال اوکړو ۔ هغه اوس بالکل ښه شوے وو او چې کله یې خپل وطن ته دَ تلو خبر وویدو نو بیا خو داسے معلومیده چې هډو بیمار نه وو۔

دَ قیدنه پس غلاف خان خپل یونټ ته لاړو ۔ هلته دَ هغه ځینے زاړه ملګری رسیدلی وو او دَ ځینو دَ راتلو انتظار وو ۔ په یونټ





کښې چی کله هغه سُر کښې شو نو پلار مور ته یې کلی ته دَ راتلو خبر ورکړو ۔ یوه هفته پس هغه په Pleave خپل کلی ته لاړو ۔ دَ غلاف خان د مړانے او بهادری قیصے دَ هغه نه مخکښے صوبه دار قمرزمان چی هند کښې په کیمپ نمبر 44 کښې مزدور وو رسولے وی ځکه چی هغه په اصل کښې دَ مزدور په جامه کښی دَ پاکستان جاسوس وو۔

کله چی هغه په مقرره ورځ کلی ته اورسیدو او دَ هغه دَ راتلو غږ په کلی کښې خور شو ۔ نو ټول خلق دَ هغهٔ دَ استقبال دَ پاره په لویه لاره کښې ځائے په ځائے اودریدل ۔ لاسونو کښی یې ګلدستے او سهرے نیولے وې ۔ دَ هغه دَ استقبال شروع دَ ډزونه اوشوه او هغه باړونوه اوچلیدل چی ټول کلې یې اوکړنګوو ۔ بیا بهٔ ورته ګلدستے پیش کولے ، دَ ګلونو امیلونه اچول او دَ ګلونو پاڼې به یې پرے شیندلے۔

دَ هغه پلار عزت خان کاکا دَ ډوډی انتظام کړے وو ۔ دیګونه کړنګیدل او دَ هغه په مخ مسکا خوریده ۔ هغه دَ مشری په کټ کښې ناست وو او دَ خپلو مینو خوشحالی ته یې کتل۔ غلاف خان په دغه ګل پاشی کښې دَ پلار غیږ له راوستے شو ۔ پلار او ځوی چې یو بل ته اوکتل نو دَ دواړو دَ سترګو نه دَ خوشحالی اوښکے روانے شوے ۔ پلار او ځوې ډیره شیبه غیږ په غیږ ولاړ وو او په چپه خوله یې دَ یو بل په اوږو اوښکے تویولے ۔ دے نه پس دَ کلی نائی هغه له نوے جوړه جامے ، پیزار او ټوپی څادر راوړو ، دَ حجرے په کوټه کښې یې ورته

کیښودو او ورته یې اووې "څه ورشه غلاف خانه جامې بدلې کړه" غلاف خان په حیرانتیا هغه ته اوکتل خو دَ هغه او نورو ملګرو په اصرار کوټې ته ورغی او جامې یې بدلولې ۔ غلاف خان ته ځای یو قوی هیرو ښکاریدو ۔ هغه چې په نوې جوړه کښې دَ کوټې نه بهر شو نو ټولو دَ جامو مبارکی ورکړه ۔ هغه ته ځان دَ وادهٔ ځلمی ښکاریدو ۔ یو ځل یې بیا چې خپل ځان ته لاندې باندې اوکتل نو معلومه نه ده چې په زړه کښې یې څهٔ راغلل خو ځان سره یې رو غوندې اووې "خدای ته هیڅ ګرانه نه ده" دې نه پس هغه دَ پلار او نورو مشرانو په وینا کورته روان شو ۔ کور کښې دَ هغه مور، دَ چم ګاونډ زنانهٔ او نورو ځوانو او زړو دَ هغه لارې ته سترګې نیولې وې ۔ چې کله هغه کورته دننه شو او مور اولیدو نو زړیې ورمنډه کړهٔ خپلې سینې پورې یې اونیوو او په دواړه مخه یې ښکل کړو ۔ دې نه پس نورو زنانهٔ هغه سره سټړی مشی اوکړل او هغه له یې مبارکی ورکړه ۔ هغه مور سره په کټ کښې کیناستو ۔ دواړو په مینه یو بل ته کتل چې په دیکښې جانی ترور راغله او هغه ورته سپلنی لوګې کړل ۔ هغه دَ کلی، محلت ټولې زړې، ځوانې، نیمګی او جینکی اولیدې خو چې دَ هغه سترګو څوک لټول هغه پکښې نه وه ۔ دَ چا خوبونه چې هغه دَ ډزو په ترقار او دَ توپو په ګړزار کښې لیدل، دَ چا سرهٔ لاسونه، خورې زلفې او خورې خبرې چې دَ هغهٔ دَ زړهٔ ارمان وو، هغه پکښې نه وه ۔ هغه په یو لوې سوچ کښې پریوتې وو ۔ ناست خپلې مور سره وو خو دَ خیالو په ځنګل





کښې یې دَ هغې وړمې لټولې ۔ مور دَ هغه په مطلب پوهـ شوه ۔ دَ هغه دَ کټ نه غلې غوندې پاسیده او کوټې ته لاړه ۔ غلاف خان لاهغسې دَ خیالونو په دشتو کښې ګرځیدو چې دَ هغه په اوږه باندې یو لاس کیښودې شو ۔ دې سره یو اواز هم راغی "السلام علیکم! ...په خیر راغلې" دا هغه اواز وو کوم دَ پاره چې دَ هغه غوږونه ډَمودو په انتظار وو ۔ اواز سره هغه بیدار شو او چې اوې کتل نو مور سره یې په سره بنارسی کښې سرهٔ لاسونه او سرې خپې دَ هغه دَ زړهٔ دَ کائنات ملکه پروین ولاړه وه ۔ پروین مسکې شوه، او شرمیده او په منډه کوټې ته لاړه ۔ غلاف خان دَ هغې په تلو حیران شو ۔ مور ته یې په حیرانتیا اوکتل او وې وئیل "مورې پروین کوټې ته ولې لاړه" دَ مور په مخ یې دَ مسکا او خندا غونډاری دانه وانه شو، هغه یې یو ځل بیا ښکل کړو او وې وئیل "ناوې ده بچې، شرمیږی" ۔ غلاف خان هغې ته په حیرانتیا اوکتل او وې وئیل "ناوې؟"

مور... هاؤ کنه بچې، ستا دَ راتلو نه لږ مخکښې مونږ ستا ډولۍ راوړه"
دې سره غلاف خان هم مسکې شو، په سریې ځادر کیښودو او بهرحجرې ته اووتو ۔

## ړومبي برخه

دَ وادهٔ نه پس یې دَ ژوند خوږه ملګرې پروین بی بی هم ځان سره بوتله او هغه سره په فوجی کوارټر کښې اوسیده ۔ چې چرته به دَ هغهٔ بدلی کیده نو هغه به ورسره وه ۔ هغه دَ یو سپاهی په حیث بهرتی

شوے وو او دَ خپل محنت ، ایمانداری او ذهنی صلاحیتونو په وجه نه صرف دَ صوبه دارۍ عهد ته اورسیدو بلکه دَ خپلې اعلیٰ کارکردګۍ په وجه یې ګڼ شمیره فوجی اعزازت هم حاصل کړل۔ دَ خپل یونټ نه علاوه دړې کاله په کوئټه کښې انسټرکټر پاتے شو ۔ پنځه کاله په کاکول کښې ټریننګ انسټر کټر او شپږ کاله په ایس ایس جی کښې دَ ټریننګ ټیم دَ انچارج په حیث پاتے شو۔

دَ خپل شانداره او بے مثاله کارکردګۍ په وجه ورته دَ کارګل په جنګ کښې تمغه شجاعت ملټری ورکړے شوه او په صوبه سندھ کښې ورته یو لوے جاګیر هم ورکړے شو ۔ دَ کارګل دَ جنګ نه پس هغه بیا ایس ایس جی ته اوغوښتے شو او دَ این سی او دَ پروموشن کیډر انچارج مقرر شو۔ هغه دَ ریټایرمنټ پورے هم په دغه پوسټ کار کوو۔

دَ ریټائرمنټ نه درے ورځے مخکښے دَ یومِ جمهوریه په موقعه دَ کمانډوز په یوه مظاهره کښې چې کله هغه دَ هیلی کاپټر نه ټوپ کړو نو دَ هغه پیراشوټ بند پاتے شو ۔ هغه سانتې په سانتې اوختو را اوختو او زمکے له راتلو ، دَ ملک لوے لوے فوجی افسران ، سول افسران او اعلیٰ قیادت هم په دے موقعه موجود وو ۔ ټولو رنګونه وهلی وو او په ساه ختلې اندازې هغه ته کتل ځکه چې دَ هغه مرګ یقینی وو ۔ خو نه داسے نه ده ، هغه پیراشوټ په خپله بند ساتلے وو او کله چې هغه پیراشوټ خلاص کړو نو په هغوی کښې ساه راغله ۔ د هغوی دَ خفګان او مایوسی نه ډکے سترګے دَ خوشحالۍ په اوښکو کښې بدلے





شوې او یو بل ته یې په مسکا اوخندا اوکتل ۔ ټولو دَ خوشحالۍ لاسونه اوپړقول او دَ هغه ستاینه یې اوکړه ۔

کله چې صوبه دار صیب دَ خپل فرائضِ منصبی نه فارغ شو نو دَ خپلے ښځے او بال بچ سره کلی ته راغې ۔ خو په کلی کښې نه دَ هغه زړۀ لګیدو او نه دَ هغه دَ بال بچ ځکه چې هغوی دَ مختلفو ښارونو دَ چهاونو خوندونه اغشتی وو او دغه سهولتونه په کلی کښې نه وو ۔ بله دا چې دَ دهشت ګردۍ چپې دغلته هم رارسیدلے وې ۔ یو خوا دَ دهشت ګردو حملے ، ځان مرګی چودنے او مرګ ژوبلے وی او بل خوا دَ حکومت له خوا بمبارۍ او دَ توپو بے دریغه شیلنګونه وو ۔ورځ په ورځ او ساعت په ساعت به په مرګ او ژوبله کښې اضافه کیده ۔ ښه ښه کورنۍ بے عزته او تباه وبرباد شوے ۔ خائسته خائسته زلمی بے ګناه ، بے خطا دَ تورو خاؤرو لاندے شول ۔ د دې دَ مخ نیوی دَ پاره حکومت سره ځو ځو غونډې اوشوې خوټولے ناکمه ثابت شوې ۔

یوه ورځ دَ یوے مشترکه فیصلے دَ پاره ټول ملکان او مشران راغونډ شوی وو۔ په دغه غونډه کښې صوبه دار صیب هم دَ یو مشر په حیث ګډون کړے وو ۔ ټولو په مختلفو تجاویزو او په مختلفو خبرو تبادله خیال کوو ۔ دَ هرے خبرے او تجویز هر اړخ ته به کتې شو او دَ هر اړخ جاج به اغشتې شو۔ هغوی لا په دے قومی مسله کښې مصروف وو چې دیکښے یوه خودکش چودنه اوشوه ۔ په دغه چودنه کښې لوے لوے ملکان او مشران مړۀ او ژوبل شو ۔ صوبه دار صیب دَ

مرګ ژوبلے نه بچ شو خو ډیرے ورځے یې طبعیت ګډوډ وو ـ دے نه پس یوه بله چونده په اخوروال کښې اوشوه چې ډیره مرګ ژوبله پکښې اوشوه ـ دے پرله پسې چودنو په خلقو کښې ډیره یره ، ترهه پیدا کړه او خبره دے له راغله چې نر سړې هغه وو چې دَ کلی نه ځان اوباسی ـ ډیر تکړه تکړه ملکان چې دَ کبراو غرور نه به یې کھولے په سر کړے پرتے وې ـ دومره اویریدل چې کډے یې اوچتی کړے ځوک پیښور ته لاړل او ځوک کوهات ته ـ صوبه دار صیب دے خطرو سره بلد وو ـ هغه خپې کلکے کړے وې خو اخر هغه هم مجبور شو او هغه داسے چې دَ هغهٔ مشر ځوی وصال خان چې عمر یې دَ شپږو ، او وو کالو ترمینځه وو، دَ کور دَ مخے نه چا اغوا کړو ـ اغواء کارو دَ یو چټ په ذریعه دَ پنځه لاکهه روپو مطالبه اوکړه ـ صوبه دار صیب لا دَ روپو په تکل او هغوی سره دَ رابطے په کوشش کښې وو چې په لسمه ورځ په کوز خوړ کښې یو لاش ښکاره شو ـ چی سپی پرے اړم وو او غوښے یې ترینه خوړے ـ صوبه دار صیب چې خبر شو نو هلته ورغی ، سپی یې ترینه پاره کړل او لاش یې کور ته راؤړو ـ لاش نه بدبوی خته او دَ پیژندګلو نه بیخی اوتے وو ـ پروین بی بی چې دَ خپل نیازبین او نازنین ځوی لاش اولیدو نه په زمکه راپریوته او بے هوشه شوه ـ صوبه دار صیب لاش ته ډیره شیبه په ډکو سترګو کتل او دَ خپل ځوی تصویر ورته مخکښے مخکښے کیدو ـ دَ هغهٔ خبرے ، دَ هغهٔ منډے ترړے او دَ هغه لوبے ، دا ټول تصویرونه هغه ته یو په یو





مخکښے کیدل ـ بیا ئے لاش له غسل ورکړو او کفن دفن یې کړو ـ دَ هغه دَ دفن په څلورمه ورځ هغهٔ ته دَ یو چټ په ذریعه دهمکی ورکړے شوه چی ”مونږ سره شامل شه ګینی کلې پریږده“ ـ دَ ډیر سوچ او فکر نه پس صوبه دار صیب دَ بال بچ دَ خاطره دَ هغوی په مشوره عمل اوکړو او کلی یې پریښودو ـ پیښور ته ئے کډه یوړه ، څهٔ موده دَ کرایه په کور کښې اوسیدو خو چې خوندی ورنکړو نو خپل فوجی جاګیرې خرڅ کړو او په هغه پیسو یې دَ زمکے اخستو تکل شروع کړو

★★★★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

## دویم باب

لکی ، سورۍ ، بدرۍ او شنه خاؤره دَ قبائلی سیمے سره پوله په پوله دَ پیښور ضلعے دَ قطبی پرتیز اړخ ته دَ کابل سیند په دواړه غاړو اباد وو ۔ دَ دې ځلورو واړو کلو ابادی دَ یو بل نه ګوښه او زمکے یې یو بل سره جنګیدلے او ګنډلے وی ۔ لکۍ او سورۍ دَ سیند په ښۍ غاړه او بدرۍ او شنه خاؤره په ګس اړخ پراتۀ وو ۔ دَ سیند دَ اوختو را اوختو او دَ سیلابونو په وجه دَ زمکو په پولو ، بریدونو او دَ لوښې اوکهی په ټاپوانو به کال په کال ، کلی په کلی جنګیدل او چې کله به معامله ډیره خرابه شوه نو بیا به دَ نوو کلو مشرانو دَ هغوی مینځ ته را اودانګل ، تیګه بدې کیښوه او روغه جوړه به یې اوشوه ۔ دَ نورو کلو په نسبت شنه خاؤره دَ اوبو او فصل په لحاظ غوریزه وه ځکه چې دَ سیند یوه چره دَ هغوی زمکو ته برابر شوے وه او هغوی به پرې زمکے اوبۀ کولے ۔ چې کله به دَ هغوی نه اوبۀ تیرے شوې نو زمیدارو به دغه اوبه سیند ته واپس پارچاؤ کړے ۔ دغه تیرے اوبۀ دَ بدرۍ کلی زمکو ته هم رسیدے شوے خو دَ شنے خاؤرے دَ خانانو دَ زورګرۍ او بدنیتۍ په وجه داسے نه کیده ۔ یو ځل دوه ؤ دَ بدرۍ خانانو دَ شنے خاؤرے بریتو خان او خان جی خان سره په دې حقله خبرے هم کړے وی او دَ اوبو په بدل کښې ورله زمکه ورکولو ته هم تیار شوی وو ۔ دَ هغوی خبره جوړے ته نزدے وه ، خان جی خان هم غاړه ایښې وه او بریتو خان هم راضی شوے وو خو دَ چا د شیطانت په وجه بریتو خان عین دَ جوړے په ورځ لته اووهله او دَ





فیصلے منلو نه یې انکار اوکړو ۔ دَ هغۀ په انکار فیصله اوزانګیده او زانګیدلے پاتے شوه ۔ نتیجه یې دا شوه چې دَ بدرۍ کلی زمکه شاړه شوه او دَ بدرۍ خانانو دَ زمکے په خرڅ شروع اوکړه ۔

صوبه دار صیب ته چې پته اولګیده نو هغه حمید خان سره غوړ اوجنګوو او دوه سوه جریبه زمکه یې ترینه بیعه واخسته ۔ دا زمکه څۀ موده شاړه پرته وه خو چې کله ورته صوبه دار صیب ځان برابر کړو نو ټوله زمکه یې په ټریکټرو واړوله ۔ لوړه یې جورے ته راخکله ، جهاړے ، ځنګلی بوټی ، دَ کهی مونډان او کانی ، ګټی یې ترینه لرے کړل او ټوله زمکه یې ځلور تختے کړه او هرے تختے ته یې یو یو ټیوب ویل اولګولو ۔ دے سره سره یې ټولو لختو باندے دَ نارنجانو بوټی اوکرل او په کمرو ، غاړو او فالتو ځایونو یې دَ کشمالو ، ګلاب ، چنبې ، رامیل ، عنبرګل او نور نایاب ګلونه اوکرل ۔ چې دا هر څۀ یې اوکړل نو زمکه یې زمیدارو ته حواله کړه ۔ دَزمیدارو په جنګو او ډیرو کښې یې دَ توت بکیانے په ځائے میوه دار بوټی اوکرل او دَ هغے نګرانی به ئے په خپله کوله ۔ دا هغه ځیزونه وو چې هغه اوکرل خو چې کله باران اوشو او زمکه تانده شوه نو ډیر خورو اوبوټی هم زرغون شو چې په هغې کښې اکثریت دَ بنګو دَ بوټو وو۔ دَ ګرمۍ په موسم کښې به دَ ګلابو ، کشمالو ، چنبې او رامبیلو دَ خوشبوۍ سره دَ بنګو نشیزه وږمے ګډے شوے او یوه مسته پُرکیفه خوشبو یې به ترینه جوړه شوه ۔ دغه وږمے به تاویدے او دَ هوا دَ چلاند سره به په

خواۀ شا چاپیر چل کښې خوریدے ـ

چې کله زمکه برابره شوه او زمیدارو پکښې فصلونه اوکرل نو صوبه دار صیب دغلته کور ، حجره او جمات جوړ کړو ـ دے سره سره یې زمیدارو لـه هم کورونه او ډیرے جوړے کړے او ټول دغلته میشته شول ـ دَ صوبه دار صیب په راتلو سره دا کورونه په افریدو کلي مشهور شو ـ

دَ شنـے خـاؤرے ، لـکـی ، سوری او بدری عـام خلق دَ ژوند دَ سهـولتونو نه محروم وو ـ دَ ابادی نه علاوه د دغه کلو لارے ، کوڅے او لـختـی ټول کچه وو ـ نه پکښې سکول وو نه ډسپنسری ، نه ډاکخانه اونـه دَ ټیـلـیـفون سهولت موجود وو ـ دا تکلیف صرف عامو خلقو نه وو ـ خـانـان د دے نـه خبـر هـم نـه وو ځکه چې دَ هغوی بال بچ دَ ښار په لـویـو لـویـو سکـولـونو کښې سبق ویلے او په خپلو ګاډو کښې به تلل راتـلل او چې کله به یې لړه سپیړمـه اوتښـنـیده نو شپه په شپه به ئې هسپتـال ته رسول ـ کله چې صوبه دار صیب افریدو کلي ته راغی نو د هغـه پـه اثـر ، رسـوخ او مـنـډو تـرړو دَ هغـۀ پـه کلي کښې یو سکول دَ هـلـکانو د پاره او بل دَ جینکو دَ پاره جوړ شو ـ دے نه پس یوه ډاکخانه ، تـارګهـر ، یوه ډسپنسری یو بینک او یو ټیلیفون اکسچینج جوړ شو ـ دَ وړو دَ لوبو دَ پاره صوبه دار صیب یو لوے ډاګ عطیه کړو ـ

دَ صـوبـه دار صیب کـورنـۍ مـخـتـصر وه ـ یو هغه وو ، بله دَ هغـه ښـځـه پـروین بی بی ـ دوه ځامن جبران او غازی خان او دوه لوڼه نـګیـنـه او سپوږمۍ ، صوبه دار صیب اګر چه دَ فوج نه ریټائرډ شوې





وو خو خبرے اترے ، ناسته ولاړه ، چال چلن او عادات یې لا هم هغسې دَ فـوجیانو وو ـ کوم عادات چې دَ صوبه دار صیب وو هغه دَ جبران هم وو ـ سـحـر په خړه به دواړه پاسیدل ، سپورټ سوټونه به یې واچوو او دوه ګهـنـټـې بـه یـې پـه ډاګ کښـې ورزش کـوو ـ بیا بـه یې اولامبل ، نـاشتـه به یې اوکړه جبران به سکول ته روان شو او صوبه دار صیب به په خپله زمکه او فصل ګرځیدو ـ

دَ شنـے خاؤرے دَ خلقو سرګرمۍ بدلې وې ، دَ زمیدارو ټوله توجه فـصـل او څـارو و تـه وه ـ ښه فصل پیدا کول او ښه څاروی ساتل دَ هغوی پیشـه او شـغـل وو ـ نـر ښـځـې او واړۀ زاړۀ بـه ټـول په پټو کښې لګیا وو کـارونه به یې کول ـ مازیګر چې به د کار نه اوزګار شو نو ښځو به دَ اخلي پـخـلـی او دَ غواۀ ، میښو دَ لشلو بندوبست شروع کړو او سړو به سرڅڼه اوکـړه ، جـوار به یې دَ څادر پسکی ته واچول او دَ کاکی دَ بټیاری بټ ته به یې ځان رسولو ـ چې نینې به یې اوکړې نو دوه دوه ، درے درے کسان به دَ ډلے په شکل کښې بیل بیل کیناستل ، نینې به یې هم چیچلې او خپلې خبـرے بـه یـې هـم کـولـے ـ دَ هغوی خبرے به اکثر دَ فصل او دَ زمیدارۍ دَ سـامـان یـعـنـی یـوې ، جـغ ، غـاښـور ، یـوم پـنـج غاښے ، چاړی ، بیلچـه ، لـور،خاښـۍ او مـالـے وغیره او دَ جنګي څارو په باره کښې وې ـ دَ جمعے ورځ دَ هـغـوی دَ پاره دَ اخـتـر نـه کـمـه نـه وه ـ جـمـعه په جمعه به جنګي څاروی جـوړه کـیـدل او بلے جمعے له به دَ نمانځه نه پس جنګیدل ، چاپیره بـه ورتـه نـمـائـش ګیر ناست وو اودَ " او ګټې ، بائیلې " چغے به یې وهلے ،

چې دَ چا ښاروی به جنګ اوګټو نو هغۀ او دَ هغۀ ډلے به خوشحالئ او ګډاګانے کولے ۔ او ښاروی ته به یې دَ روپو امیل اچوو ۔

دَ ښاروو جنګولو شوق په خانانو کښې هم پیدا شو او هغوی هم ښه جنګی سنډګیان او غویان اوساتل او دَ غویانو دَ پاره یې بیل بیل نوکران ۔دَ یو بل دَ ضده به یې ښۀ ښۀ خوراکونه ورکول او چې کله به ښه سورب شو او جنګ ته به تیار شو نو دَ جمعے په مازیګر به یې دَ جوړه کیدو اعلان اوکړو ۔ چې کله به جوړه شو نو بلے جمعے له به په شرنګا شرنګ میدان ته راوستے شو ۔

دَ شنے خاؤرے دَ ضده په لکئ کښې دَ سپو جنګولو شوق پیدا شو ۔ دَ اعلےٰ نسل جنګی سپی به یې اغشتل او دَ جنګ دَ پاره به یې تیارول او چې کله به تیار شو نو یوه جمعه به جوړه شو او بلے جمعے له به دَ سیند په غاړه جنګیدل ۔ دے سره سره په سورئ کښې دَ چرګانو او په بدرئ کښې دَ مرزو جنګولو شوق عروج ته رسیدلے وو ۔ په لارو ، کوڅو ، کورونو حجرو او په جماتونو او پټو کښې به دَ چرګانو او مرزو خبرے وې او لکه دَ نورو کلو به دَ جمعے په ورځ دَ نمانځه نه پس جنګیدل ۔

صوبه دار صیب په منډو ، ترړو سکولونه جوړ کړی وو ۔ ، ټاټونه ، بنچونه میز ، کرسئ ، بورډونونه ، چاکونه او رجسټرې راغلے وې، استاذان چپړاسان او څوکیداران راغلي وو خو واړۀ نه راتلل ، هغۀ له دَ عوامو په بے حسئ او لا پرواهئ ژړا ورغله ۔ کلی په کلی





ګرځیدو او په خلقو کښی یې دَ وړو دَ تعلیم او تربیت په باره کښې دَ شعور او اګاهئ پیدا کولو کوشش کوو خو چا هم دَ هغۀ په خبرو غوږ اونۀ ګره وو ۔ په شنه خاؤره ، لکئ ، سورئ او بدرئ کښې دا غیر اخلاقی او غیر شرعی سرګرمئ او مقابلے ښۀ په درز کښې شروع وې ۔ دَ خلقو ټوله توجه دَ ښاروو ، سپوو ، چرګانو او مرزانو خصمانے او پالنې ته وه ۔ هغوی شوق دومره لیونی کړی وو چې دَ خپل بال بچ تعلیم او تربیت ترینه په ځائے پاتے وو ۔ بیا روستو د دې سرګرمیو په رنګینئ کښی هغه وخت اضافه اوشو چې ډهول سرنا، ډزے او دَ شرطونو عناصر پکښې شامل شو ۔ دے نه علاوه دَ هرکلی خانانو دَ خپل کلی په دغه لوبو کښی ښۀ په ارته سینه او ازاد مټ برخه واغشته او په ښاروو ، سپو ، چرګانو او مرزانو به یې روپئ شیندلے ۔ دغه روپئ به دَ هغوی نوکرانو راغونډولے او جولئ به یې ترینه ډکولے

صوبه دار صیب بیا د دې قبیح سرګرمیو خلاف اواز اوچت کړو او کلی په کلی یې دَ دے سرګرمیو خلاف تقریرونه اوکړل خو دَ جهالت په دغه تیرو او ز هریله هواګانو کښې هغه دَ علم او پو هے ډیوه بله نه کړے شوه ۔ چې کله نااميده شو نو الله ته یې زاری شروع کړې چې خدای په دې خلقو خپل رحم اوکړی ۔

په دغه سرګرمیو کښې به کله کله وړے وړے جګړے کیدے خو دَ میدان مشران به ورمخکښے شول روغه جوړه به یې ورله اوکړه او خبره به یې ختمه کړه خو کله چې خانان په خانان خپلو کښې

اونختل نو لوبه خرابه شوه ـ په شنه خاؤره کښې دَ بریتوخان او دَ خان
جی خان ترمینځه دَ ځاروو په مقابله یو زبردست جنګ اوشو چې په
هغے کښې دوه جنګی ځاروی دوه دَ بریتوخان زلمی ځامن او یو دَ خان
جی خان نوکر مړ شو ـ په دویمه جمعه په لکی کښې دوه جنګی
سپی ، څلور خانان او دوه دَ خانانو نوکران مړۀ شول . په دریمه جمعه
په سوری کښې دَ چرګانو په جنګ کښې دَ خانانو مقابله اوشوه چې
په هغے کښې دوه جنګی چرګان او درے خانان مړۀ شول او هم په دغه
جمعه په بدری کښې دَ مړزو په جنګ کښې ښه باړو ته اوچلیدل ـ
مرګ خو پکښې اونشو البته دولس کسان په زخمی حالت کښې
هسپتال ته اورسیدل ـ په هرکلی کښې اړے ګړے او الفاؤ تلفاؤ شروع
شوے وو ـ تولو سورے توپکې نیولے وې او هر پیژندګلو او ناپیژندګلو
کس ته به یې دَ شک په سترګه کتل ـ دَ هر سړی سترګے سرے او ګوتے
یې دَ توپک په کوتری پرتے وې ـ هرکلی ته به دَ ډلے په بنیاد دَ بهر نه
اشرونه راتلل ـ شربتې به کیدے ، چائے به پخیدے او هغه به څکلے
کیدے ، دیګونه به پخیدل او هغه به خوړلے کیدل ـ دَ یو بل سړی به
نیولے کیدل او وهلے کیدل ـ دَ سګریټو پیکټې به راتلے او هغه به
الوتے ، دَ نسوارو ګوتۍ به راتلې او تقسمیدے ، دَ چرسو او تماکو
چیلمان به ډکیدل او تشیدل ـ دے نه علاوه یو بل ته به دهمکی آمیز
خطونه لیکلے کیدل او دَ جماتونو په لوډ سپیکرو به دَ دوړے دیکې
اعلانونه کیدل ـ چې خبره دے ته را اورسیده او دَ خانه جنګی خطره





شوه نو صوبه دار صیب دَ پولیس په مرسته یوه جرګه جوړه کړه ـ
سپینی جهنډے یې اوچتی کړے ، کلی په کلی اوګرځیدو او دَ ډز
بندی اعلان یې اوکړو ـ خانان په ډز بندئ صلاح شو خو اشرګندی
دے ته تیار نه وو ـ جرګے خپل رپورټ پولیس ته پیش کړو ـ پولیس
کلی په کلی چهاپے اووهلې او تول اشرګندی یې اونیول ، په حوالات
کښی ئے واچول او چوکے یې ورته اونیولے ـ او هله ترینه قلار شو چې
تول یې په توبو کړل ـ دَ جرګے دَ مشرانو په ذریعه تول تانې ته راغنډ
شول ـ دَ ځاروو ، سپو ، چرګانو او مړزانو په جنګولو مکمل پابندی
اولګولے شوه ـ او دَ تولو روغه جوړه اوشوه ـ دَ روغے جوړے نه پس
صوبه دار صیب دَ یو رورولئ تلقین اوکړو او دَ هغوی دَ بال بچ په
تعلیم وتربیت یې زور واچوو ـ دَ صوبه دار صیب بے لوثه او بے لالچه
خبرو په هغوی لوے اثر اوکړو ـ تولو دَ هغه شکریه ادا کړه او دَ خپل
بال بچ دَ تعلیم او تربیت وعدے یې اوکړې ـ دَ روغے نه پس هغوی
تولو خپل بال بچ سکولونو ته لیږل شروع کړل ـ په لږو ورځو کښې
دواړه سکولونه دَ وړو نه ډک شو او دَ صوبه دار صیب په کوشش په
افریدو کلی کښې دَ پاکستان جهنډا اوچته شوه او قومی ترانه شروع
شوه ـ دَ صوبه دار صیب په ژوند دواړه سکولونه په هائی سکونو او
پلے ګرونډ (Play ground) په سټیډیم کښې بدل شو ـ ځائے په ځائے
دوکانونه جوړ شو او دغه دوکانونه یو ښکلی وړوکے بازار جوړ شو چې
دَ ضرورت هر څیز پکښې موندے شو ـ

## دریم باب

دَ صوبه دار صیب اصلاحی او تعمیری کارونه لا جاری وو چې وریسی دَ فوج له خوا دَ حاضریدو حکم نامه راغله ۔ صوبه دار صیب په دے ډیر خوشحاله شو چې په دی بهانه به خپلو زړو ملګرو سره لیدل ، کتل هم اوکړی او کیدیشی چې په اخری عمر کښې هغه ته دَ ملک وقوم په عزت وناموس دَ قربانیدو موقع هم په لاس ورشی ۔ صوبه دار صیب خپل ذاتی کارونه نیمګړے پریښودل ۔ جامے یې بدلے کړے او هم په هغه وخت روان شو ۔ په تلو تلو کښې یې ښځے ته صرف دومره اووې چې هغه خپل کمانډنټ غوښتې دې ۔ پروین بی بی دَ ژوند لویه برخه هغه سره په فوجی چهاونړو کښې تیره کړے وه او دَ فوجی اصولو او طریقو نه خبروه ۔ هغے په خندا خوشحالۍ صوبه دار صیب رخصت کړو خو دَ هغه دَ تلو نه پس دَ هغې په زړۀ کښې وسوسے او شکونه شروع شو ۔ هغې دا هر څۀ شاته اوغورځول ، مصله یې راواغشته او دَ هغۀ دَ سلامتۍ دَ پاره یې نفلونه او دعاګانے شروع کړې ۔

صوبه دار صیب چې یونټ ته اورسیدو او کمانډنټ صیب ته یې دَ خپلو راتلو اطلاع ورکړه نو هغه ډیر خوشحاله شو ۔ دَ خپل فوجی رتبے او مرتبے پرواه یې اونه کړه ، دَ خپلې کرسۍ نه پاسیدو او دَ هغۀ استقبال یې اوکړو ۔ صوبه دار صیب چې دَ هغه مینے ته اوکتل نو زر "هوشیار" شو او هغۀ ته یې سلوټ اوکړو ، کمانډنټ صیب سلوټ واغشتو او ورترغاړه وتو ۔ بیائے هغه ته دَ ناستې خواست





اوکړو او تر هغے ولاړ وو څو پورے چې صوبه دار صیب ناست نه وو ۔ دے نه پس یې دَ هغۀ نه دَ هغه دَ صحت او دَ بال بچ دَ خیریت په باره کښې تپوسونه اوکړل ۔ صوبه دار صیب هغه له ښۀ پُرامیده جوابونه ورکړل او دے سره سره یې دَ هغه نه هم دَ هغه او دَ هغه دَ بال بچ دَ خیریت پوښتنه اوکړه ۔ چې ابتنی پوښتنې او تمهیدی خبرے ختمے شوی نو صوبه دار صیب هغه ته په موسکو سترګو اوکتل او وے وئیل "سر پوښتنه کولے شم چې څنګه مو یاد کړے یم ۔ خیر خو دے ؟ کمانډنټ صیب خپل پی کیپ (P.Cap) دَ سر نه کوز کړو ، په میز ئے کیښودو او وے وئیل "خیر نه دے صوبه دار صیب څکه خو مِ تۀ را اوغوښتې" ۔ صوبه دار صیب او کمانډنټ صیب یو بل ته په غټو غټو اوکتل ۔ صوبه دار صیب ته دَ هغۀ په سترګو کښې دَ مایوسۍ نښې ښکاره شوے ، دَ هغه کمانډنټ صیب په سترګو کښې چې دَ هغه په ژوند کښې دَ ناممکنات ټکې نه وو ۔ خو اوس پکښې ولے راغلو ؟ اخر څۀ داسے کار شوے دې یا کیدو والا دے چې دَ هغه په طبیعت خړه راغلے ده ؟ کمانډنټ صیب سترګے خکته کړے ، ناګهانه یې بیا اوچتے کړے او په التجائی نظریې هغه ته اوکتل او وے وئیل ، صوبه دار صیب تا چې په فوج کښې څۀ زده کړی دی نن ملک ته دَ هغے دَ عملی اقدام ضرورت دے ، په کومه خاؤره کښې چې تا خړپوسے کړی دی هغے خاؤرے ته ستا دَ قربانۍ ، ستا دَ وینې ضرورت دی صوبه دار صیب لاس په سینه کیښودو او وے وئیل "سر زۀ دا خپله خوش بختی ګڼم چې دَ خپل

ملک او قوم په کار راشم ـ زما ژوند او بال بچ دَ وطن د دې خړے خاؤرے نه زار او قربان شه ، سر هغه کوم خدمت دې چې تاسو ئے دَ وطن دے نابوده سپاهی ته سپارل غواړې "۔

کمانډنټ صيب يو سوړ اسويلې اوکړو او وے وئيل "صوبه دار صيب زمونږ دَ ملک موجوده حالات تانه پټ نه دی ـ زمونږ ملک دَ خپلې بقا دَ پاره دَ قوم مجاهدينو ته سترګی نيولے دی . . . صوبه دار صيب ، دَ نائن اليون نه پس امريکے دَ اسامه بن لادن او دَ هغهٔ دَ ملګرو دَ ختمولو دَ پاره مونږ له دَ دوستۍ لاس راکړو او مونږ ته يې دَ مرستے خواست اوکړو ـ زمونږ په مرسته او تعاون هغه افغانستان ته اورسيده او هلته يې نوکے ښخے کړې ـ ډير غير ملکی دهشت ګرد زمونږ په مرسته اونيولے شو او ډير دَ افغانستان نه اووتل او زمونږ په قبائلی سيمه کښې ميشته شو ـ زمونږ دَ ملک ځينی مذهبی ډلے هم هغوی سره ملګرے شوې او دَ امريکے خلاف يې جهاد شروع کړو ـ داسې به اووايو چې جهادی ډلے يعنی طالبان په دريو غټو ډلو کښې تقسيم شو ـ يوه ډله هغه ده چې کومه په افغانستان کښې پاتې شوه يعنی افغانی طالبان ـ دويمه ډله چې کومه په قبائلی سيمه کښې ډيره ده د هغے تعلق القاعده سره دے ـ دريمه زمونږ ملکی جهادی ډله ده چې اوس په ډيرو ګروپونو کښې تقسيم شوے ده ـ څهٔ موده خو زمونږ آئی ايس آئی او دَ امريکے سی آئی اے مشترکه کار روائی اوکړه خو بيا روستو پکښې بداعتمادی پيدا شوه او هغه ګروپونه





چې هغے دَ امريکے خلاف دَ جهاد چغے وهلے هغے سره ملګری شو او زمونږ دَ ملک خلاف يې دهشت ګردی شروع کړه ـ دغه ګروپونه په ظاهره دَ اسلام چغے وهی خو پټ په پټه په غير ملکی ايجنډا باندې کارکوی ـ اوس خبره دے له راغلے چې فوج ، پوليس او سياسی ليډران خو پريږده چی دَ پاکستان دَ وجود مخالفت کوی ـ په دغه تنظيمونو کښې يو تنظيم "الجهاد العالميه" دے چی دَ قبائلی سيمے دَ کوزے باندې په کلی کښې دَ غر په غارونو او تهه خانو کښې اوسيږی او هلته يې لويه وسله او ګوله بارود جمع کړی دی ـ دا وسله اوګوله بارود ټول دَ غير ملکی دهشت ګردو په لاس کښې ده ـ دَ کوزے باندے خلق صرف دَ هغوی محافظ دی ـ د دے اډے دَ ختمولو دَ پاره مونږ څو څو کسان اوليږل خو افسوس چی څوک هم په خپل مشن کښې کامياب نشو ځکه چې دَ هغوی دَ ورتلو نه مخکښې دَ هغوی بائيو ډيټا هلته رسيدلے وی او چې هغوی په ځان پوهيږی نو نيولے شوے او وژلے شوے وی ـ صوبه دار صيب لس کسان اِن سروس او پنځه کسان سول ايجنټان مونږ اوليږل او ټول مړهٔ شول . . . او چی اونشوه نو اوس موته را اوغوښتے ـ اګر چه تا باندی زمونږ څهٔ زور ، جبرنشته ځکه چی تهٔ ريټائرډ شوے هم يې او بوډا شوے هم يې خو دا کار تانه بغير نشی کيدے . . . تهٔ دَ ټولو استاذ پاتے شوے يې او استاذ په هر حالت کښې استاذ وی ـ ستا څهٔ خيال دی صوبه دار صيب ؟ تهٔ دے مهم ته تيار يې ؟

صوبه دار صيب:۔ سر ميرله ګوتي اوړل او واپس راتختيدل يا دَ مشن دَ کاميابي نه بغير نيول کيدل او مړکيدل زما په خيال څۀ دَ مړانے کار نه دې ۔ اصلي کار دَ مشن کاميابي ده او دَ مشن کاميابي دَ دغے اډے تباهي ده ۔

کمانډنټ ۔ Yes, yes , i That is the point

صوبه دار صيب ۔ شهادت زمونږ دَ ټولو ارمان دې خو اصلي شهادت هغه دے چې دَ مشن دَ کاميابي نه پس حاصل شي ۔

کمانډنټ ۔I appreciate your thoughts ۔ ته دے ته تيار يې ؟

صوبه دار صيب:۔ دے دَ پاره خو زه راغلے يم سر چې دَ ملک وقوم څۀ خدمت اوکړم ۔

کمانډنټ۔ Good، Thank you ، هغه يو نقشته راخلي ، په ميزې خوروي ، متعلقه ځاے پکښې را اوباسي او هغه ته ووائي ”دا اوګوره ۔ دا کوزه بانډه ده وا يې دا هغه ځاے دې چرته چې دغه غير ملکي اډه ده “

(کمانډنټ صيب په مار کر دغه ځايونه اِن سرکل کوي ۔ صوبه دار صيب په غور سره هغه ځايونو ته ګوري ، ”دا نقشه ځان سره واخله او ښه پرې ځان پوهـ کړه “۔

صوبه دار صيب (مسکے شی ) ” دَ نقشے ضرورت نشته سر ۔ دا ټول ځايونه ماته ګوټ په ګوټ معلوم دی ۔ ديکښې مونږ څو څو مشقونه کړي دی ۔





کمانډنټ:۔ ډير ښۀ ۔ ښه ستا کوډ ورډز دی ”ون ، ټو ، تهری “ تا سره به دَ غريزے لارے او دَ سړک په سنګهم يو سړے ملاقات اوکړی ۔ هغه ته به خپل کوډ ورډز اووائی ۔ هغه به تا ګائيډ کړی ۔

صوبه دارصيب:۔ د دے هم ضرورت نشته سر زما څۀ ضروری سامان پکار دې هغه راکړه نور هر څۀ په ما پريږده ۔

کمانډنټ ۔ o.k ، ايمونيشن دَ ډپو نه واخله او نور سامان دَ سټور نه او که څۀ اخوا ديخوا پکښې راغلل نو ما خبر کړه “۔

اردلی چائے راؤړی يوه پيالۍ کمانډنټ صيب ته او بله صوبه دار صيب ته مخکښے اږدی ۔

صوبه دار صيب : o,k ، سر زۀ به درنه لاړ شم ۔

کمانډنټ صيب:۔ چرته ځې ، کينه چائے اوڅکه بيا به ځې ۔

صوبه دار صيب (مسکے شی ) چائے به درنه هله څکم چې خپل مشن کښې کامياب واپس راشم۔“ دے سره هغه اوځی ...خپل ضروری سامان ځان سره واخلی ، په فوجی ګاډی کښې يې کيږدی او خپل کور ته روان شی ۔

★★★★★

## ړومبي برخه

بله ورځ سحر صوبه دار صيب دَ مال منډۍ ته لاړ شی او يو ښۀ مست خر سره دَ کتې او کجاوے واخلی . چې خر حجرے ته راولی نو کته او موړه ترينه کوزه کړی او خپله وسله او نورضروری سامان په

هغې کښې بند کړی او ښه مضبوط یې اوګنډی ۔ چې هر څۀ ټیک ټاک کړی نو خپله خلیه بدله کړی ، یو ګوډې غاړے ته واچوی او ښځے له راشی ۔ هغه چې دَ صوبه دار صیب خلیے ته اوګوری نو مسکې شی خو دَ مسکا سره سره ئے په سترګو کښې اوښکے هم راشی ۔ صوبه دار صیب دَ هغے په ډکو سترګو دَ خپل ردِ عمل اظهار اونکړی ، په خر خپه واړه وی او دَ حجرے نه اوځی ۔ دَ ټولے ورځے دَ سفر نه پس ماښام دَ قبائلی سیمے یو بازار ته اورسی ، هلته شپه اوکړی او سحر وختی یو دوکان له ورشی یوه تروړه ګوره ، دَ کریانے سودا او دَ ماشومانو دَ خوراک څیزونه واخلی او بوجی ترینه ډکے کړے چې دے نه اوزګار شی نو بیا خر له بُهوس او بوره واخلی ۔ درے واړه بوجۍ په خر واچوی او دَ غریزے لارے په اړخ خر پسې ټپال شروع کړی ۔ چې څۀ ټوټه مخکښې لاړ شی نو په لاره کښې ورسره یوه جوپه ملګرے شی ۔ صوبه دار صیب او دَ هغۀ خر هغوی سره څۀ ځائے پورے ملګرتیا اوکړی خو بیا دَ هغوی لارے بیلې شی او هغه یوائې پاتې شی ۔ لاره ډیره سخته وه خو هغۀ همت بایلے نه لو او په مزه مزه مخکښې روان وو ۔ تر ماښامه پورے یې نیمه لاره اووهله او لا روان وو خو چې خر ته یې اوکتل نو دَ هغۀ سترګے بدلې وې ۔ ستومانه هم وو او اوږے شوے هم وو ۔ هغه نور سفر مناسب اونه ګڼو په زړه کښې یې دا فیصله اوکړه چې شپه دلته تیره کړی نو سحر په خره به روان شی ۔ هغه خر دَ لارے نه یو طرف ته واړه وو او په یو هوار ځاے کښې یې دَ





خر نه سودا کوزه کړه ۔تر لرے لرے پورې دَ ابادۍ څۀ نوم نشان نه وو او نه یې په لاره دَ چا لاروی څه کش کرپ تر غوږو شو ۔ هغه خر یو بوټی پورے اوتړو او ګوتاوه یې ورته اوکړه ۔ بیا ئے تبر راواغشتو خواؤ شا جهاړے بوټی یې اووهلے او هغه یې ټوټے کړے ۔ ځان له یې دَ ملاستے ځائے جوړ کړو او هغه ټولے جهاړے او ازغنې یې ترینه چاپیره په سمون سمون په داسې انداز کیښودې چې دَ ځنګلی ځناور ورته دَ راتلو امکان پاتے نشو ۔ دَ تلو راتلو دَ پاره یې یو کنډاؤ پریښودو او دَ هغے دَ پاره یې دَ زغنو یوه غټه پولۍ بیله کیښوده چې دَ ضرورت مطابق یې لرې کوی او اړدی ۔ دے نه پس ئے خپله سودا اوګوډې هم ځان سره یو خوا ته کیښودو ۔ چې دا هر څۀ یې اوکړل نو بیا یې دَ ګوډی نه ډوډۍ او پیکوړے را اوویستلے او هغه په خوند خوند خوړلے او چاپیره غرونو او په غرونو ولاړے اونو بوټو ته یې کتل شپے تورے زلفے لکه دَ کوډ مارے په تورو غرونو او جهاړو بوټو خورے کړے وې ، هره خوا چپه چپیا او خاموشی وه البته کله کله به دَ خر دَ سپیږو دَ "پرش" اواز دَ خاموشۍ ځیګر سیرلو او په چاپیره غرونو کښې به دَ هغے انګازه خوریده ۔ دے ناګهانه اواز سره به کله کله دَ هغه زړۀ هم اوخویدو او دَ یرے یو ناګهانی کرنټ به دَ هغه دَ سوچونو کائنات او لړځوو خو چې خر ته به یې اوکتل نو دَ امید او حوصلے مسکا به یې په مخ خوره شوه او په زړه کښې به یې دَ همت او جرأت توانائی پیدا شوه ۔ صوبه دار صیب چې ډوډۍ اوخوړه نو تبر یې ځان سره خوا

کښې کېښودو ، ډېره يې اووهله او دَ ستورو ډک اسمان ته يې کتل ، ستورو هغه ته په يره او مسکا په داسې انداز کتل لکه ماشومان چې دَ لرې نه دَ پاړو او دَ هغهٔ دَ مار تماشه کوی ، دَ تماشې اشتياق هم لرى او دَ مار نه هم يريږى ـ اسمانى مخلوق به کله کله په نامعلومه مخلوق دَ سکروټو ګوزارونه کول ، پيرونې پريوتې وې او تله او چته راغلې وه خو هغه لا هغسى دَ ستورو دَ تماشې په شا دَ خپل خوږ وطن متعلق سوچ کوو او دَ هغهٔ خلاف دَ خطرناک سازشونو حقيقت يې لټوو چې خوب په خپله غېږ کښې واغښتو او دَ نرۍ هوا په الله هو يې په دروند خوب اودهٔ کړو ـ هغه لا په غرق خوب اودهٔ وو چې ناصافه يې څهٔ ښکالو وورېدهٔ ـ هغه غاړه تازه کړه ، په ډېره ووختو او خر ته يې مخ راواړه وو او چې اوې کتل نو څلور ځنګلى ځناور دَ خر نه چاپيره ولاړ وو او پنځم دَ هغهٔ خپوته ولاړ وو ـ صوبه دار صيب هغه ته غلې غونډې اوکتل او روغونډې يې تبر ته لاس کړو ـ چې ځناور په ځان پوهيدو نو هغه پرې دَ تبر ګوزار کړې وو ـ ګوزار دَ ځناور په پنجه برابر شو هغه يو "چيں" اوکړو او په ګوډه خپه يې منډه کړه ـ نور ځناور هم اوېريدل او هغوى هم منډه کړه ـ هغه پرې په روانه کښې دَ کاڼو ګوزارونه اوکړل او کيديشى چې يو ځناور دوه لګيدلے هم وى ځکه چې دَ دواړو ګوزارونو سره هغه دَ چيں بيل بيل اوازنه ووريدل ـ بيا پاڅيده او خر له ورغى ـ دَ هغهٔ په اوربوز او غوږونو يې لاس اووهو لکه چې هغه له دلاسه ورکوى او ورته وائى چې يريږه مهٔ هيڅ نشته





ـ خر خپل اوربوز دَ هغه سينې سره اولګوو او دَ هغهٔ بدن پورې يې مګو لکه چې دَ هغه په جامو خپلې اوښکې اوچوى ـ صوبه دار صيب يو ځل بيا د هغهٔ په اوربوز او سترګو لاس اووهو او په غوږ کښې يې ورسره څهٔ پټې خبرې اوکړې ـ چې کله يې هغه مطمئن کړو نو بيا دَ غنو محفوظه قلعه کښى ورننه وتو ـ تبر يې ځان سره کيښودو ، ډېره يې اووهله او اسمان ته يې کتل ـ دَ ستورو محفل ښهٔ ګرم وو ـ صوبه دار صيب باندې دا ستورى ډېر ښهٔ لګيدل ځکه چې دې ستورو په څو موقعو کښې هم په داسې انداز هغه ته کتلى وو او هر ځل يې هغه له اميد او سهاره ورکړې وه ـ هم په دې غرونو کښې دَ جنګى مشقونو په دوران کښې هغه ايکى يوائې څو څو شپې تيرې کړې وى اولږې او تندې يې تيرې کړې وې او هم په داسې انداز ورته هم دې ستورو داسې کتل خو هغه وخت دَ هغه ځوانى او بې غمى وه او اوس ... اوس هغه بوډا شوې دې هغهٔ لکه دَ يو نانى ديوتا يوليس خپلى تلې ځوانۍ پسى ارمان کوو او هغه وخت يې رايادېده وو چې چې هغه به په دې غرونو او دَ کارګل په غرونو لکه دَ اوسى ختو او کوزيدو ـ اوس اګر چه دَ هغه د بدن حرارت ، طاقت او توانائى کمه شوې وه خو دَ هغهٔ دَ وطن مينه او وينه په غورځنګ وه ـ دَ هغه اراده مضبوطه او دَ هغه منصوبه مربوطه وه ـ هغه په دې ډېر خوشحاله وه چې دَ خپل عمر په اخرى مرحلو کښې يې دَ وطن په اواز لبيک اووې او دَ اګر ، مګر ، چونکه او چنانچه غوندى ټکى يې دَ خلې نه اونه وتل ـ

صوبه دار صیب په دغه سوچونو کښې ډوب وو چې دیکښې یې دَ سر سره خوا کښې دَ پرشار اواز وورېدو ۔ هغه پوهـ شو چې ماردې ۔ چې هغه ورته په ترخ نظر اوکتل نو هغه واقعی مار وو چجه یې کړے او ځان یې ګوزار ته جوړه وو ۔ هغه غلے غونډې تبر ته لاس کړو لاس یې ښۀ په توله کړو او ډیر په تیزۍ سره یې په هغه ګوزار اوکړو ۔ تبر ښۀ تیره وو په یو ګوزار سره دَ مار تنه دلته پاتے شوه او سر ترینه لرې پریوتو ۔ صوبه دار صیب چې مطمئن شو نو بیا ئے ډېره اووهله او سترګې یې پټې کړے ۔ دَ هغۀ سترګی ایله لګیدلے وې چې خر ترپکې شروع کړے ۔ هغه دَ خر په لتو او ترپکو بیدار شو او چې سترګی یې اوغړولے او خر ته یې اوکتل نو دوه کسان په خر باندې سوارۀ وو او دریم پرے دَ سوریدو کوشش کوو۔ دَ خر ترپکو پورے هغوی خندل او خپلو کښې یې ځۀ ویلے ۔ صوبه دار صیب چې تبر ته لاس کړو او دَ پاڅیدو هڅه یې کوله نو دیکښې دَ تمبل اواز او دَ ګونګرو شړنګار یې وورېدو ۔ دغه کسانو هم دا اوازونه ووریدل ۔ هغوی هم دَ خر نه کوز شول او دغه اوازنو پسې روان شو ۔ لږه شیبه پس دَ تمبل او دَ ګونګرو اوازونه رانزدے شو او چې هغه مخ اړه وو راړه وو نو خلق دَ هغه خواله رارسیدلی وو ۔ سپوږمۍ سروهلې وو دَ هغې په تته رڼا کښې هغه دا خلق لیدل ۔ دَ هغه دا خیال راغی چې شاید دَ سحر رڼا لګیدلې ده او دا خلق دَ وادۀ په جنج روان دی ۔ دا ټول دَ هغه نه چاپیره شول او هلته یې لوبه ګرمه کړه ۔ دَ تمبل د اواز سره ګډا ، دَ ګونګرو شړنګار او دَ





لاسونو پړقار هم وو او دَ لوبو اوازونه هم ۔ هغوی مستۍ کولے ، ګډاګانے او لوبے یې ویلے خو صوبه دار صیب دَ هغوی په ژبه نه پوهیدو ۔ په دغه انډوخر کښې یو کس دَ غنو نه خپه راواړوله او هغه له راتلو ۔ صوبه دار صیب چې دَ هغۀ په نیت پوهـ شو نو تبر یې په لاس کښې اونیوو او دا یې نیت وو چې که بله خپه یې راواړوله نو ګوزار به پری کوی ۔ هغه چې دَ صوبه دار صیب په لاس کښې تبر اولیدو نو ړومبۍ خپه یې هم روستو کړه ۔ صوبه دار صیب پوهـ شو چې دا خلق نه ادم زاد دی او نه جنج دی بلکه پیریان دی ۔ دَ پیریانو خیال سره دَ هغۀ بدن زیګ او ویښته یې ببر شو ۔ دلته هغۀ دا خطره هم محسوس کړه چې که چرے هغه پرے دَ تبر ګوزار اوکړی نو دَ هغه هم خیر نشته ۔ دیکښې ناګهانه دَ هغۀ په زړۀ کښې یو خیال راغی۔ هغه سترګے پټې کړے او آیت الکرسی یې شروع کړه ۔ دے پسی یې زر سورة الفلق او سورة الناس شروع کړو ۔ چې اخری سورت ختمیدو نو دَ تمبل اواز ، دَ ګونګرو شړنګار او دَ لاسونو پړقار ختم شوے وو او بالکل خاموشی وه ۔ هغه چې سترګے اوغړولې نو هیڅ څوک یې په نظر رانه غلل ۔ سپوږمۍ دَ اسمان دَ لمنې پاس سره پورے راغلے وه او هغۀ ته یې په مسکامسکا کتل ۔

شپه دومره اوږده شوے وه چې تیریدله نه او هغه دومره یریدلے وو چی دَ خپل ځایه پاسیدے نشو ۔ اخر یې زړۀ ټینګ کړو ، پاسیدو او خر له ورغی۔ دَ هغه په اوربوز او سترګو یې بیا لاس اووهو او ورته یې

اووې "اوهو! تا څو ژړلی دی ـ یریږمه هیڅ نشته ـ خر خپل سر دَ هغهٔ په سینه کیښودو لکه چې هغهٔ ته وائی "زهٔ یریږم ، مانه مهٔ خوځه ، هغه لا دَ هغه سر سینې پورے نیولے وو چې دَ چا دَ ژړا او فریاد چغے یې وورېدې ـ دَ هغه په زړهٔ کښې راغله چې دغه ژړا او فریاد پسی روان شی او واقعی هم داسې یې اوکړل ـ دَ خر سر یې پرېښودو او ژړا پسی روان شو ـ لرے یې دَ ټارچ رڼا اولیده ـ دے سره هغه روستو شو او خپل ځائے له واپس راغی او غلې کیناستو ـ هغه لا د دې ژړا او فریاد په باره کښې سوچ کوو چې لرے یې دَ بانګ اواز وورېدو ـ دے سره هغه دَ اطمینان یوه لویه ساه واخسته او دَ خدائے شکر یې اوویستلو چې دا زبونه اوکړمیزنه شپه تیره شوه ـ هغه تر هغے پورے هلته ناست وو چې تر څو رڼا نه وه لګیدلے ـ چې رڼا اولګیده نو تیمم یې اووهو او دَ سحر مونځ یې هم په هغه ځائے کښې اوکړو. بیا ئے ډیره شیبه تسبیحات کول ـ دَ غر زیړے پلوشے دَ مخامخ سپین غر په څوکه لګیدلے وې ـ هغه پاڅیدو خرله ورغی په هغهٔ یې لاس اووهو ، خو یدلے کته یې پرے سمه کړه ، کجاوه یې پرے واچوله بیائے واره په واره بوجی کیښودے او بنهٔ کلکی یې اوتړلے ـ تبر یې دَ بوجو په مینځ کښې کیښودو. دے نه پس یې دَ سر نه پټکی لرے کړو ، دَ ملا نه یې کلک تاؤ کړو ، دَ مړمارتنه یې دَ ټوپی دَ پاسه دَ سر نه تاؤ کړه چی که چرې موقعه راغله نو اورته به یې کړی او اوبه یې خوری ـ بیائے دَ ګوډی نه دَ نسوارو ډبلې را اوویستلو او دَ سترګو په ګوټونو کښې لړ





لړ کیښودل ـ دے سره دَ هغهٔ سترګے چو چی شوې او اوبهٔ پرے راماتے شوے ـ ګوډې یې څنګ ته واچوو او خر یې دَ پړی نه اونیوو لارې ته یې سم کړو. چی مخکښے لاړو نو هلته یې په لاره کښې یو سرپریکړے لاش اولیدو چې وینو یې په زمکه لارے جوړے کړے وې ـ صوبه دار صیب چې ورنزدے شو نو دَ هغهٔ په سینه یې یو چټ اولیدو هغه په ریپدونکی لاس باندی چټ اوچت کړو ـ په چټ کښې لیکلی شوې وو ' څوک چې زمونږ جاسوسی کوی نو دا به یې حال وی " هغه چټ دَ هغه په سینه واپس کیښودو او په خپله لاره روان شو ـ دے نه پس چړهائی شروع شوه ـ چړهائی ډیره اوږده وه ـ صوبه دار صیب او دَ هغه خر په لاره څو څو دمے اوکړے ـ چی کله دَ سړک او لارے سنګهم ته اورسیدل نو هتله بیا دمه شو ـ صوبه دار صیب او دَ هغه خر چې ساه واغشته او بیا روانیدل نو دَ یو قبر دَ خوا نه یو منجور کند پر سر دَ هغه خواله راغی ـ هغه سره یې روغ جوړ اوکړل او سم دستی یې ورته اووې " ون ، تو ، تهری " صوبه دار صیب پوهـ شو چې مخبر دے اودا هغه ټکی وو چې هغه ته په کوډ ورډز کښې ورکړې شوی وو خو هغه پرے ځان ناغرضه کړو ـ مخبر بیااووی "ون ، تو ، تهری " او صوبه دار صیب ته یې نیغ نیغ اوکتل ـ صوبه دار پرے ځان ناجانه کړو او وے وئیل ـ تهٔ څهٔ ویل غواړے ملنګ باچه . . .بنه بنه دا تروره دَ ګوړے ده ـ دا بله دَ کریانے سودا ده او دا دریمه دَ بهوسو او بورے ده ـ مخبر مسکے شو او هغه ته یې څهٔ ویل غوښتل چې په دیکښے یو

تپوس دَ پاس نـه راشوړه شو او دَ هغه سر او ټوپی نه تاؤ شوے مړ مار یـې سره دَ ټوپۍ په پنجو کښې اوچت کړو ـ صوبه دار صیب او مخبر دواړو تپـوس تـه اوکتـل ، مسـکـی شول او دَ یو بل نه جُدا شول ـ چی یـوه تـوته مخکښی لاړو نو ورسره یو بل زلمې ملاؤ شو ـ هغه صوبه دار صیب ته سلام اوکړو او تپوس یې ترینه اوکړو " بابا چرته ځې ؟"

صوبه دار صیب ( په لا پروائۍ ) دغه کوزے بانډې ته ځم "

زلمے :ـ دے بوجو کښې څۀ دی بابا ؟

صـوبـه دار صیـب:ـ دا یـوه تـروږه دَ ګـوړے ده ـ دابلـه دَ کریانے سودا او دَمـنیـارۍ سـامـان دے او دے دریمه کښې دَ خر خوراکه یعنی بهوس او بوره ده ـ

زلمے :ـ بابا دَ کوم ځائے نه راغلې ؟

صوبه دار صیب :ـ دَ پیښور نه ـ

زلمے :ـ څۀ کار وبار کوې ؟

صـوبـه دار صیب : دا چـی ورتـه ګـورې هـم دا کاروبار کوم ـ دا سامان اخلم او په کلو کښې یې خرڅوم۔

زلمی :ـ بابا دلتـه په ړومبی ځل راغلی که نه مخکښے راغلے یې ؟

صوبه دار صیب:ـ نه نه یم راغلے ـ

زلمے :ـ دغه کلی کښې دې څوک پیژندګلو شته ؟

صـوبه دار صیب :ـ (مسکے شو ) یَه بچیه ! زۀ دَ چا پیژندګلو څۀ کوم ـ خپلی مزدوری پسې راغلے یم ـ مزدوری به اوکړم او ځم به ترینه ـ





زلمے :ـ نه بابا! تۀ زما په مطلب پو هـ نشوې ـ دلتـه څوک چاله شپـه نه ورکوی ـ

صـوبـه دار صیب:ـ ولې دغلته پښتانۀ نشته ؟ پښتانۀ خو دَ میلمه نه زاریږی قربانیږی۔

زلـمے (خاندی) دا تۀ دَ کومے زمانے خبره کوې بابا هغه پښتانۀ هم لاړل او هغه زمانه هم لاړه ـ اوس دلته هر اجنبی ته دَ میلمه نه بلکه دَ شک پـه نـظـر کتـې شی ـ ( هغه یو بوتی ته اشاره کوی ) " دغه اوګوره ستا غـونـدے څـوک نـابـلـده او نـا پیژندګلو سړې حلال شوے پروت دې "،

صـوبـه دار صیـب چـی ورتـه اوګوری نو بالکل تازه حلال شوے وی او اخری لتـه دَ هغوی په مخکښے اووهی ـ

صـوبـه دار صیـب:ـ زۀ څـۀ اوکـړم واپس شم ؟ ما خو ډیر مزل کړے دې واپس نشم رسیدې ـ

زلـمے :ـ چی راغلے یې نو اوس ایسار شه خپله سودا خرڅه کړه او که چا دَ شپے ځائے درنکړو نو دلته زمونږ کور ته راشه ( هغه دَ کوټے په اشاره هغۀ ته خپل کور ښائی ) "خو دراتلو نه مخکښے تا دا سوچ ولے نه کوو "۔

صـوبـه دار صیـب :ـ دا خـو واقـعـی مـالـویه غلطی کړے ده ـ بچیه ! دَ خیتـې لالـچ سړې لیونې کړی ـ زما دا خیال وو چې دا لرے پرته علاقه ده دلتـه بـه مـزدوری هـم ډیـره وی خو دا راته نه وه معلومه چې دلته دَ مزدوری سره خطره هم ډیره ده ـ

زلـمے :ـ ستـا خبـره صـحـی ده دلتــه واقعی ښـه ډیره مزدوری ده چی

پیښور کښې یو څیز په یوه روپۍ وي نو دلته په لس روپۍ وي ۔ دا خلق په پیسو نه دي ۔ هرسړې ښځۀ شته من دے او په دې غرونو کښې هغه څۀ خوری چې تاسو یې پیښور کښې نشۍ خوړلے ۔ او څنګه چې دا خلق مزے کوی هغسی د دے سیمی ځناور هم مزے کوی ۔ تازه تازه غوښے ورله دَ پیښور او پنجاب نه راځی " هغه په لار کښې ځاے په ځاے پرتے انسانی ډهانچوته اشاره کوی او وائی :دا اوګوره ...هغه اوګوره ..او یې دغه نوروته اوګوره ۔ دا ټول ستا او زما غونډې انسانان وو او اوس یې دغه حال دے ...ښه زمونږ لارے بیلیږی زۀ درنه کورته ځم او تۀ دغه مخامخ کلی ته ورشه او که چا شپه درنه کړه نو بیا ماته رنګ اوکړه ۔ موبائیل درسره شته ؟

صوبه دار صیب :۔ نه بچے زۀ نه په موبائیل پو هیږم او نۀ راسره شته ۔

زلمے :۔ خیر کور خو دے اولیدو که څۀ اخوا دیخوا وو نو دلته راځه ۔

صوبه دار صیب :۔ ډیره مهربانی بچے ۔ خداے دې دَ سرے ډولۍ خاوند کړه ۔ زلمے خاندی او په تلو تلو کښې وائی " ډولۍ پسې خو مو سترګے سپینې شوے ۔ ګوره که ستا دعا قبوله شی زما نوم ګل مست دے یاد لره دے سره هغه دخپل کور په اړخ روان شی او صوبه دار صیب دَ کلی په طرف ۔

لوږ مازیګروو چی هغه په کوزه بانډه دننه شو چی دَ کلی مینځ ته اورسیدو نو خرېې یو بوټی پورے اوتړو ، سودا یې ترینه کوزه کړه او دَ خرڅولو دَ پاره یې په زمکه خوره کړه ۔ دَ سړک ګس اړخ ته دَ





کلی ابادی وه او ښی اړخ ته دَ غرونو اوږده سلسله وه چی دَ هغے لمنے تر سړکه پورے رارسیدلے وې ۔ په غر باندې دَ چیړ ، دیار او دَ پرتل لوے لوے اونے ولاړے وی ۔ دَ هغے لاندې دَ خون او غوزانو ګورې اونے وې او دَ غر په لمنه کښې د سیوانو اونے ولاړے وی ۔ دَ کچه سړک نه علاوه د دې کلی نه یوه لاره دَ قطب اړخ ته اوتے وه بله سهیل ته او دریمه دَ پرتیز لاره وه چی مخامخ ډاګ ته تلے وه ۔ دَ قطب او سهیل لارے نورو ایجنسو او کلو ته تلے وې او دَ پرتیز لاره په ډاګ ختمه شوے وه ۔ دا ډاګ دَ کلی نه تقریبا دَ یو فرلانګ فاصله باندے پروت وو او دَ دنګو دنګو غرونو دَ لمنے پورے رسیدلے وو ۔ کوم ځائے چی دا څلور لارے ملاویدے هلته یو چوک جوړ شوے وو ۔ دَ چوک ګس اړخ ته یوه غټه سپینه بکیانړه ولاړه وه ۔ داونے خو کښې درے څلور غټ غټ دوکانونه وو چې دَ ضرورت هر یو څیز پکښې ملاویدو ۔ د دې دوکانونه تقریبا دَ پنځوست ګزه فاصلے یو څو نور واړه واړه دوکانونه وو چې دَ یو وړوکی بازارګی مینه پرے ماتیده ۔ دَ ډاګ نه چاپیره خار دار تار لګیدلې وو چې په هغے کښې به دَ شپې دَ بجلۍ کرنټ پریښودې شو او په هر ګوټ به یې شپه ورځ مسلح کسان ولاړ وو ۔ دَ کلی هر سړی ته دغلته دَورتلو اجازت نه وو ۔ دَ ډاګ په اخری سر او دَ غر په لمنه کښې یوه چینه وه چې هغے ته به سپینه چینه ویلے کیده ۔ دَ چینې خواوشا ځایونو کښې چرته چی دَ اوبو نم رسیدلے وو هلته شین کبل زرغون شوے وو۔ دا ټوله علاقه دَ الجهاد العالمیه تنظیم وه ۔ دَ ډاګ

لاندې لوړے لوړے تهه خانے وی چی هغه دَ ورونو ، لارو او کړکو په ذریعه یو بل سره مربوط شوے وې ۔ دے نه علاوه په ملحقه غرونو کښې دننه لوړے لوړے غارونه جوړ شوی وو ۔ د دغه غارونو خلے تنگی وی خو دننه پکښې دَ تنظیم دَ عملے دفترے اوبیلے بیلے کمرے وې په غر باندی تر لرے لرے لکه دَ نورو غرونو غوندې دَ نختر ، چیړ او دیار اونے ولاړ وې ۔ دَ ډاگ په اخری سرونو کښې دَ غوزانو او بیوواونې او ورسره خوا کښې دَ سیوانو گورے اونے ولاړے وې۔

دا کلې دَ پاکستان او افغانستان په اخری برید پروت وو ۔ دا علاقه ډیره یخه وه ۔ په گرمئ کښې به هم لویو ، وړو گرمے جامے اغوستے او غټې پټکی به یې تړل ۔ دلته سرکاری بجلی نه وه البته دَ تنظیم له خوا دَ رڼا دَ پاره دوه غټې جنریټرے لگولې شوے وې ۔ یو جنریټر دَ کلی دَ پاره وو او بل دَ تنظیم دَ پاره۔

دا ځائے دَ ټولو تنظیمونو دَ پاره دَ وسلے ، ایمونیشن او دَ گوله بارود لوے مرکز وو۔ دَ مختلفو تنظیمونو اهلکار به دلته راتلل او دے ځائے نه به یې دَ خپل ضرورت سامان اوړو ۔ دے تنظیم سره دَ متعلقه تنظیمونو دَ مشرانو او کارکنانو نومونه درج وو او هر یو ته به دَ رتبے په لحاظ باقاعده تنخواه ورکړے کیده او مختلف ټاسکس به ورته حواله کیدل ۔

د دے تنظیم په رومبی سر په دوو کمرو یو هال او یوه برنډه مشتمل یو وړوکې مکان وو چې هغے ته لنگرخانه ویلے کیده ، په هغے کښې به دَ تنظیم دَ اهلکارو دَ پاره اخلې پخلی کیدو او هم هلته به





خوړلے کیدو ۔ صوبه دار صیب خپلې سودا ته ناست وو ۔ وړو چې خوړے سودا ته اوکتل نو کورونو ته یې منډے کړے ۔ پیسی به یې راوړے او سودا به یې اغشته ۔ چیونگ گم ، دَ ترو گولئ او چڼې ، پهلی په لړ ساعت کښې ختم شو ۔ په دویمه چپه کښې په صابن او واشنگ پوډر او دَ منیاری په سامان شروع اوشوه او ښه خرڅ اوشو ۔ دریمه چپه دَ گوړے ، چینو ، دَ چایو او قهوے دَ پاڼو وه ۔ په هغے کښې هم ښۀ گوزاره اوشوه او خرڅ لا روان وو چې دیکښې دَ اتلسو ، نورلسو کالو یو ښکلی زلمے کلاشن کوف په غاړه راغئ ، هغه ته یې سلام اوکړو او دَ سلام نه پس یې ترینه تپوس اوکړو "بابا څۀ خرڅوې ؟"

صوبه دار صیب په بے اعتنالئ جواب ورکړو "دا پرته سودا ټوله خرڅوم "۔

زلمے ( هغۀ ته گوری ) "بابا یو تپوس درنه کولے شم "؟ ،

صوبه دار صیب :۔ یو نه شل کولے ، سل کولے ۔

زلمے :۔ تۀ دَ کوم ځائے نه راغلے یې ؟ ۔

صوبه دار صیب :۔ دَ پیښور نه بچے ۔

زلمے :۔ کور ، کلی او استوگنه دې کوم ځائے ده ؟

صوبه دار صیب سودا هم خرڅوی او هغه له جواب هم ورکوی او وائی " دا خو ماته هم پته نشته بچے چې کورِ م کوم ځاے دے دَ کور په تلاش کښې مِ عمر تیر شو خو کورِ م اونه موندو او اوس خو دغه یو څو ورځے پاتے دی چې دا پوره شی نو خپل کور یو وړوکے شان خو دَ سکون او امن

کور ته به لاړشم ۔

زلمے :۔ دلته څۀ دَ پاره راغلے یې ؟۔

صوبه دار صیب:۔ دلته مزدورۍ له راغلے یم او چې سودا خرڅه کړم نو ځم به درنه ۔

زلمے:۔ دلته دے څوک پیژندګلو شته چې شپه ورسره اوکړے ؟

صوبه دار صیب:۔ پیژندګلو مې څوک نشته ۔ پاتے شوه دَ شپے خبره نو بچے دَ مزدور غریب به څۀ شپه وی ۔ د دغه اونے لاندې به سملم ۔ شپه ده تیره به شی ۔

زلمے:۔ دلته خو مونږ څوک نه پریږدو ۔ دلته شپه نشې کولے ''۔

صوبه دار صیب په یو لوے سوچ کښې پریوتو ۔ دَ ګوړے په چکویې میږو ته کتل ،تور خانګور میږی اړم وو او چلند یې کوو ۔ صوبه دار صیب میږو ته کتل او زلمی صوبه دار صیب ته ۔ یوه شیبه پس هغه اووے ''بابا تا ماله دَ خبرے جواب رانکړو : صوبه دار صیب په مسکو سترګو هغه ته اوکتل او وې وئیل: بچیه ډیره موده مخکښے شاید ته به لا پیدا هم نه وې چې یو ځل مزدورۍ پسی دلته راغلے ووم او هم په دے ځائے مې دمه کړے وه ۔ په هغه وخت کښې د دے کلی خلقو زما په میلمستیا یو بل سره جګړے کولے ۔ یو به وې شپه به ماسره کوی او بل به وی ما سره ۔ چا به رانه څادر تختوو ۔ چا ټوپۍ او چا څپلۍ هائے ، هائے ، څۀ شو هغه پښتانۀ خدایه ۔زۀ بچې کله کله دا سوچ کوم چې انسان دَ انسان دشمن ولے شو ۔ تۀ دے میږو ته اوګوره دا ټول د دې ګوړے پوټی په خولو کښې نیسی او په یوه سوړه دننه کیږی او





انسان ! اف خدایه ! دَ یو بل نه بے زاره دے ۔

زلمے :۔ بابا دا خو ټول د دې کلی میږی دی ځکه یو دی که دَ بل کلی میږی راغلل نودلته به یې پرے هم نه ږدی ''۔

د هغه په خبره صوبه دار صیب په خندا شو ګوډی ته یې لاس کړو ۔ په لټولو لټولو یې دَ هغے نه دَ تیلو ډبلی را اوویستلو او وے وئیل : دا اوګوره ...دا ور خانګور میږی ما دَ پیښور نه ځان سره راوړی دی''۔ هغه چې ډبلی کهلاؤ کړی نو تور خانګور میږی ترینه راؤځی او نورو میږو له منډې وهی ۔ دَ کلی میږو چې هغوی اولیدل نو دَ هغوی مخے له ورغلل او بیا ورسره داسے ګډ شو چی پیژندګلو یې هم ګرانه شوه ۔ دے سره صوبه دار صیب او زلمی یو بل ته اوکتل او مسکی شو ۔

زلمے :۔ بابا تۀ خو ډیر اوښیار یې ...دا راته اووایه چې دا میږی دې دَ پیښور نه څۀ مقصد دَ پاره راوړل؟

صوبه دار صیب:۔ وه ساده سړیه ! ته په مقصد پو هـ نشوې ؟ لکه کوم عزت چې دَ دې کلی میږو دَ پیښور میږو له ورکړو داسے تاسو له هم پکار دی چې دَ خپلو میلمنو عزت اوکړی ''۔ صوبه دار صیب او زلمې دواړه یو بل ته په غټو غټو ګوری ۔ دواړه په لوے سوچ کښې پریوځی او دواړه دَ یو بل په مخ کښې څۀ لټوی ۔ دَ صوبه دار صیب سترګے ډکی شی ۔ هغه سر اوځنډی او خپلی اوښکے اوچے کړی ۔

زلمې هغه ته په حیرانتیا ګوری او وائی : بابا ...ستا په سترګو کښې اوښکے ؟ ولې بابا ؟

صوبه دار صیب مسکے شی او وائی : بچے خفه کیږه مه خو ستا په مخ کښې م دَ چا مخ اولیدو ۔ هغه مخ چې کله هم ماته رایاد شی نو ما ژړوی ۔

زلمے :۔ بابا تا زما په مخ کښې دَ چا مخ اولیدو ؟ ... ماته حال نه وایے ؟

صوبه دار صیب :۔ ولے نه بچے .... ستا په مخ کښې ما ....ما دَ خپل شهید ځوی مخ اولیدو ۔ که هغه ژوندې وې نو اوس به ستا په عمر وو۔

زلمے :۔ زما هم دریاندې سترګی خوږے شوې بابا ... با با یو تپوس درنه کوم خو رشتیا رشتیا به راته وایے ګینی بیا به چرے هم درته بابا اونه ویم ۔

صوبه دار صیب :۔ بچے که ته ماته بابا وائے او که نه وایے خو زۀ به درته بچے ویم ځکه چې ستا دَ پاره زما په خله بل تکې نه راځی او نه یې زما زړۀ قبلوی ۔

زلمے :۔ بابا ... ته غلاف خان پیژنې ؟

صوبه دار صیب: غلاف خان څوک دے بچے ؟

زلمے :۔ دا تپوس خو زۀ تانه کوم بابا ، که ماته پته وه نو بیا م تانه ولے تپوس کوو۔

صوبه دار صیب :۔ غلاف خان دَ کوم ځائے دې ؟

زلمے :۔ دا معلومات ماته نشته البته دومره راته شه چی ...څه پریږده دا خبره ۔ ستا نوم څه دې بابا؟





صوبه دار :۔ زما نوم خائسته ګل دے ۔

زلمے :۔ شناختی کارډ درسره شته ؟

صوبه دار صیب:۔ هاؤ بالکل شته ۔ ( هغه شناختی کارډ را او باځی او هغه لـه یې ورکوی ۔ زلمے چې شناختی کارډ ته اوګوری نو وائی خائسته ګل ولد تلاوت شاه ۔ ښه بابا دا واخله ځان سره یې کیږده ۔

صوبه دار صیب :۔ ستا څۀ نوم دے بچے ؟

زلمے :۔ زما نوم سوار خان دے بابا ۔

صوبه دار صیب :۔ ډیر ښۀ ...ډیر ښۀ ۔ خدائے دې تل سوار لره ۔

سوار خان :۔ ښه بابا نه تۀ غلاف خان نه پیژنې ؟

دَ سوار خان په نادانۍ باندې صوبه دار صیب خاندی او دومره اوخاندی چې دَ سترګو نه یې اوښکے روانے شی ۔ سوار خان کچه شی او دَ هغه نه تپوس کوی " تۀ خو بابا خاندی ولے ؟ زما دَ خلے نه څۀ غلطه خبره اووته ؟

صوبه دار صیب :۔ نه سوارخانه بچے نه خو هسے ستا په تپوس باندے راته دَ هلکوانے یوه واقعه رایاده شوه او هغه داسې چې بچپه لکه ځان چې واخلے ، زۀ ستا په عمر ووم او په کچهۍ کلی کښې اوسیدم ۔ زمونږ په کلی کښې زما همځولې یو هلک وو چې شریف الله نوم یې وو ۔ شریفالله اسم باسمیٰ وو۔ انتهائی شریف او دَ خدای ساده وو تر ځلمیتوبه پورے یې پیښور ښار نه وو لیدلے ۔ شریف الله به تولـه ورځ په پټی کښی کار کوو ۔ چی ماښام ، ماسخوتن به حجرے ته راغی نو بیا به دَ ابراهیم او ایران شاه نه نه خلاصیدو ۔ دَ هغوی کارونو پسې

بدې منډې وهلې ۔ شریف الله به دَ هغوی کارونو پسې په چپه خوله منډه وهله ځکه چې هغوی ورسره وعده کړې وه چې هغه به ښار ته بوځي ۔ چې کله به هغوی دَ قصه خوانې دَ فالودې خبرې کولے نو دَ هغهٔ په خوله کښې به اوبه راغلې او چې کله به یې دَ کابلي دَ فلمونو خبرې راواغښتې نو بیا خو به ورته نیم نه پاتے کیدو ۔ دَ شریف الله صبر تمام شو او اخر هغه ورپورې پله شو چې "ما به خامخا پیښور ته بوځئ" او هم دغسې اوشوه ۔ یوه ورځ یې هغه پیښور ته بوتلو ۔ دَ فالودې دوکان ته یې اوخیژو او ښهٔ یې موړ کړو ۔ چې دَ دوکان نه کوز شو نو هغوی مخکښې وو او شریف الله ورپسې وو ۔ په قصه خوانۍ کښې هسې هم بیړه وی خو په هغه ورځ دَ مخکښې نه زیاته وه ۔ چې لږ مخکښې لاړل نو هغوی ترینه یو خوا ته پټ شو او دَ هغه اندازه یې اغښته ۔ شریف الله چې مخکښې روستو اوکتل او هغوی یې اونه لیدل نو لک ګل شو ۔ وارخطا او دم ختلې په هغه ځائے اودریدو او دَ هر لاروی نه به یې تپوس کوو "ماما تا خو ابراهیم او ایران شاه نه دی لیدلې" ځوک به ورته غصه شو او چا به په مسکا جواب ورکړو نه خوریه زهٔ هغوی نه پیژنم نو تا هم بچیه ماسره هغه ټوقه اوکړه چې " ته غلاف خان نه پیژنې" دَ خدای په دے دومره لویه دنیا کښې غلاف خان ځوک څهٔ پیژنئ ؟

سوار خان : بابا ماته خو تهٔ غلاف خان ښکارې ۔ زما زړهٔ دا ګواهي کوی چې ته غلاف خان یې ۔ بابا . . .یو خواست درته کوم که ته





غلاف خان یې نو سودا دې راغونډه کړه او د دې کلی نه ځان اوباسه ۔ هسی نه چه ځوک دے مړ کړی ؟

صوبه دار صیب :۔ یه بچیه دا غلاف خان ځوک دے چې تاسو ترینه دومره په لړزان یې ۔

سوارخان :۔ بابا غلاف خان مونږ نه پیژنو خو دَ هغه متعلق مخبر دا وینا کړې ده چې هغه ډیر خطرناک سړے دې او دَ دے ټول کیمپ دَ تباه کولو دَ پاره یې سینه ټپولے ده ۔ هغه دَ ځائے نه راروان شوے دې او نن دَ هغه دَ رارسیدو امکان دے ۔ دا خبر چې مونږ له کوم مخبر راکړے دې نو دَ هغه خبره لا تراوسه پورے دروغ نه ده ختلے ځکه چې هغه دَ هغوی په جامه کښې زمونږ سړې دې ۔ بابا که ته واقعي غلاف خان یې نو په مرګ م نه شې پیرزو ، سودا دې راغونډه کړه چې صحیح سلامت دې د دې کلی نه اوباسم او که تهٔ په شک کښې هم اونیولے شوې نو که ته غلاف خان نه هم یې خو په خپله به چغے وهې چې "زهٔ غلاف خان یم " ۔ ستا دَ حلالو دَ پاره چړې تیار پرتے دی ۔ پروګرام دا دې چې تانه به ځرمن ویستلے شی ۔ په هغه ځرمن به دَ پاکستان نقشه جوړیږی په هغے به دَ فوجی جرنیلانو ، سیاسی لیډرانو او دَ ملک دَ اعلیٰ قیادت تصویران جوړیږی او دغه تصویرونه به چاند ماری کیږی ۔ دا ډیر خطرناک خلق دی بابا زهٔ د دې کیمپ سیکورتی انچارج یم او ماله دا خبرے نه دی پکار چې تاته اوکړم خو په تام زړه خوږیږی ۔ سپین ږیری بوډا سړې یې او ماته دَ پلار غوندے ښکارے ۔ دے دَ پاره درته وایم چې

سودا دې راغونډه کړه چې زۀ دې د دې کلی نه اوباځم ـ
صوبه دار صيب ( خاندی ) يَه بچيه سوارخانه ! ته خو داسې خبرې کوی لکه چې زۀ واقعی غلاف خان يم ـ که هسې راته اوبه خروې نو هغه بيله خبره ده خو زه نه غلاف خان يم او نه يې پيژنم او نه په غلطه اراده راغلے يم ـ که زما په مرګ کښې تاسو ته ثواب ملاويږی نو يا بسم الله ، ځه ورشه هغه چړی راؤړه او قيصه مِ ختمه کړه چې دَ دنيا دَ غمونو نه بے غمه شم او دَ پړی راؤړو ضرورت نشته ـ ماسره پړې شته ـ
سوارخان :ـ دا ته چې څۀ وائې بابا نو داسې ټول وائی خو چې قربان ګاه ته بوتلے شی لاس ، خپې ورله اوترلې شی نو بيا چغې وهی ، منت او زاری کوی ـ ژاړی او سلامونه کوی خو معاف کيدے نشی ځکه چې شوریٰ دَ هغۀ خلاف فيصله کړې وی . . . بابا ته چې راتلے نو په لاره کښې دے څوک سر پريکړے لاش ليدلے وو ؟
صوبه دار صيب :ـ دوه مِ ليدلی وو ـ
سوار خان :ـ دا دواړه جاسوسان وو او هغوی ته سزا هله ورکړے شوه چې هغوی سره دَ جاسوسۍ پوره ثبوتونه اوموندلے شو او دَ خپل جرم اقرار يې په خپله اوکړو ـ تا ځان سره څۀ راؤړے دی ؟
صوبه دار صيب:ـ ستا په مخکښې ناست يم ، تالاشی مِ واخله که مجرم ثابت شوم نو هرے سزا ته تيار يم ''ـ سوار خان دَ هغۀ په ګوډۍ کښے لاس وهی ـ په ګوډۍ کښې اوچه ډوډۍ ، په کاغذ کښی انغښتې يو څو پيکوړے ، دَ تيلو ډبلې دَ نسوارو پونۍ او يو ورکوتی





چاقو اوموندلی شی ـ بيا دَ هغه جامه تالاشی کوی ـ صوبه دار صيب پاڅی او هغه دَ هغه دَ ګنډۍ او قميص په جيبونو کښې ګوتې وهی او لټ په لټ يې اړوی ـ دَ يو څو روپو او په هر جيب دَ ترو دَ يوے يوے ګولۍ نه علاوه نور هيڅ ورسره اونه موندلے شی ـ سوار خان چې دَ هغۀ دَ هر جيب نه يوه يوه د ترو ګولۍ را اوباځی نو حيران شی او چې هغه ته په حيرانتيا اوګوری نو دَ هغۀ په سترګو کښې غټې غټې اوښکے اوړی راؤړی ـ سوارخان هغه ته وائی '' ته خو ژاړې بابا ، دا ولی ؟ که دے ګولو پسې ژاړی نو درکوم يې ، زۀ يې نه خورم ''ـ
صوبه دار صيب:ـ نه بچې ژاړم نه خو هسے يوه واقعه راته رايادہ شوه نو سترګے مِ لوندے شوې ـ
سوار خان : ـ څۀ واقعه بابا ـ
صوبه دار صيب:ـ تاته يو ساعت مخکښے ما دَ خپل ځوی قيصه کړے وه ، چی شهيد شوې دې ـ مشر ځوې هسے هم پلار ته ګران وی خو هغه واقعی چی ماته ډير ګران وو ـ زۀ به چې کله دَ بهر نه کورته راغلم نو هغه به رامنډه کړه او په ولاړه ولاړه به يې زما جيبونه لټول ـ ما به په هر جيب کښې دَ هغۀ دَ پاره دَ خوراک څۀ ناڅۀ ساتل ـ هغه به زما جيبونه داسې لټ په لټ کړل لکه تا چې اوکړل ـ هر څۀ به يې ترينه واخستل او بهر ته به يې منډه کړه ـ بس دا خبره وه بچے ـ
سوار خان :ـ د دے خير دے خو ما وې که په ځان اوېريدے او ژاړې . . . هن بابا دا ګولۍ دې واخله ـ

صوبه دارصيب:۔ نه بچے نه ۔ تۀ هم ماته دَ خپل بچی نه کم نه ښکارے ، دا ستا شوې ۔ ته يې اوخوره۔

سوار خان :۔ دا دَ ماشومانو خوراک دے بابا ۔ زۀ څۀ ماشوم خو نه يم ۔

صوبه دار صيب :۔ ماته ماشوم ښکارې او که ماشوم هم نه يې نو زما دَ زړۀ دَ پاره يې اوخوره ۔ زۀ به خوشحاله شم ۔

سوار خان خولے ته يوه ګولۍ واچوی ، هغه يې لا تيره کړې نه وی چی دَ هغه په موبائيل رنګ راشی۔ هغه موبائيل را اوباسی يو خوا ته اودريږی يو څو خبرے اوکړی ، بيا هغه له راشی او ورته وائی : سودا دې راغونډه کړه بابا څه چې څو حجرے ته ، تياره شوه "۔ صوبه دار صيب خپله سودا بوجو کښی واچوی په خر يې کيږدی او هغه سره حجرے ته روان شی ۔ چې حجرے ته اورسی نو دَ خر نه بوجی۔ کوزے کړی او يو خوا ته يې کيږدی ۔ بيا خر ته ګوتاوه اوکړی او کټ کښې ډډه اچوی ۔ سوار خان کورته لاړ شی او هغه له ډوډۍ راوړی او صوبه دار صيب ته وائی " صوبه دارصيب لاس اووينځه چی ډوډۍ اوخورې "۔

صوبه دار صيب پاڅی او پاڅيدو کښې وائی " خوله دې خطا شوه سوار خانه بچی ۔ دَ بابا په ځائے دې راته صوبه دار صيب اووې "۔

سوار خان :۔ خوله مې نه ده خطا شوے ۔ يې خو صوبه دار غلاف خان خو دَ بابا ټکې درته دَ عزت دَ پاره وايم " ( سوار خان د صوبه دار صيب تاثراتو ته ګوری ) " ته ډوډۍ خوره بابا ۔ زۀ راځم " هغۀ وتو کښې وی چې دَ هغه په موبائيل بيا رنګ راشی ۔ هغه موبائيل اوچتوی او





وائی " هنّ وايه ۔ نه نه .... ښه ښه ۔ دا دې څۀ اورې .... يره ته ګوره دومره لا پروا سړې يې ...اوس به دې راباندے دا بے ګناه غريب وژلے وو ۔ دا زړۀ مې وائی چې کوم کار مونږ دۀ سره کول غوښتل هغه تا سره اوکړو ...اوس معافی غواړے ...ښه څه نورے خبرے به بيا اوکړو ۔ هغه موبائيل بند کړی صوبه دار صيب له راځی او وائی "مبارک شه بابا ته بچ شوې ۔ زمونږ مخبر اووے چې صوبه دار غلاف خان بيګاه هغوی په لاره کښې ختم کړے دې او تۀ بے ګناه يې "۔ سوارخان صوبه دار صيب ته ګوری او دَ هغۀ دَ تاثراتو جاج اخلی خو په هغه دَ دے خبرے هډو څه اثر اونشی ښه بے غمه خپله ډوډۍ خوری ۔

سوار خان :۔ ته خوشحاله نشوی بابا ۔

صوبه دار صيب :۔ په څه ؟

سوار خان :۔ دَ صوبه دار غلاف خان په مرګ ۔

صوبه دار صيب:۔ زۀ دَ چا په مرګ نه خوشحاليږم ۔ دَ چا چې ځان کښی واک نه وی ۔ او په چا چې دا څيز لا زمی شوے وی هغه به دَ بل په مرګ څۀ خوشحاله شی ۔ زمونږ دَ ټولو دَ ژوند او مرګ مزی دَ خالق په لاس کښی دی ۔ چی يو راکاږی ژوند ورکړی چی بل راکاږی ژوند ترينه واخلی۔ هر سړی په قطار کښے ولاړ دے ۔

سوار خان :۔ ښه بابا ته ډوډۍ اوخوره ، زۀ ورځم څۀ کار مې دے " دے سره هغه دَ حجرے نه اووتو او ورئے دَ بهر نه زنځير کړو ۔ صوبه دار صيب يو نظر هغه ته اوکتل او ډوډۍ خوړل يې شروع کړه ۔ صوبه دار صيب

چې ډوډۍ اوخوړه نو کټ کښې یې ډېره واچوله ـ ټوله ورځ یې مزل کړی وو او ښه ستړے وو۔ دَ سوار خان دَ راتلو انتظار ورته پیښ نشو ـ دَ مخے سره اوده شو ـ سوار خان چې ماسخوتن تیر راغے او صوبه دار صیب ته یې اوکتل نو مسکے شو ـ په کټ کښې ورته مخامخ کیناستو او غټ غټ یې ورته کتل ـ دَ شپې څو څو ځله ویښ شو او دَ هغه جائزه یې واخسته خو هغه چې په کومه ډېره پروت وو تر سحره پورے هغسے وو ـ صوبه دار صیب سحر وختی پاڅیدو ، نمونځ یې اوکړو او دَ سودا په بوجو کښې ګوتے وهلې چې هغه یې سمے کړے او په خرئے واچولے نو سوار خان ویښ شو ـ صوبه دار صیب ته یې اوکتل او تپوس یې ترینه اوکړو " څۀ کوی بابا "؟

صوبه دار صیب :۔ دَ تلو تیارېکوم بچے ـ تا سره دے خدامے ښۀ اوکړه شپه دے راکړه ـ ډیر زبردست خوب مِ اوکړو او ایله مِ ستومانی اووته ـ دا لږه سودا پاتے شوے ده دا به دغه بل چم کښې خرڅه کړم ( هغه دَ خر پړے دَ موګی نه پرانیزی ) په خدائے مِ سپارلے ـ لوے الله دے مل شه ـ

سوار خان :۔ سودا دَ خر نه کوزه کړه ـ تۀ نشے تلے بابا ـ

صوبه دار صیب دَ خر نه سودا کوزه وی او موګی پورے یې تړی ـ سوار خان ته مخامخ اودرېږی او وائی "سودا مِ کوزه کړه او خر مِ اوتړو۔

سوار خان :۔ کینه بابا ... ستا خبره ما کمانډر صیب سره کړے ده ـ هغه تا سره لیدل غواړی ـ

صوبه دار صیب :۔ دا خو ډیره ښه خبره ده چی دومره لویه هستی ما





غوندے نابوده سره لیدل غواړی ـ دا زما دَ پاره لوے اعزاز دے خو یو تپوس درنه کولے شی بچے چې زۀ ورشم او که هغه به راځی ـ

سوار خان :۔ دا تپوس خو ترینه مانه دے کړے خو دَ ملاقات خواهش هغه کړے دے نو هغه له راتلل پکار دی ـ

صوبه دار صیب :۔ نه بچے نه ، هغه چې څنګه ستاسو کمانډر دے ـ داسے زما هم دے ـ زۀ به ورشم۔ زۀ نه غواړم چې هغه له تکلیف ورکړم ـ

سوار خان :۔ تۀ دَ هغه په تکلیف خفه کیږے او زه ستا په تکلیف خفه کیږم هسے نه چې څۀ نقصان درته اورسی ـ

صوبه دار صیب:۔ نفع ، نقصان او خیر وشر د الله کار دے ، انسان هیڅ نشی کولے ـ ځه چی ورشو ، د کور دَ ورنه اواز راځی " چائے تیاره ده "

سوار خان پاڅی او وائی "کینه بابا چې چائے اوڅکو نو بیا به ورشو "۔

سوار خان کورته لاړو ـ لږه شیبه پس یې چائے راؤړه ـ دواړو ښه په مړه خیټه اوڅکله او روان شو۔ چې دَ کمانډرصیب کمرے ته اورسیدل نو سوار خان وردننه شو او صوبه دار صیب بهر اودریدو۔ لږه شیبه پس هغه بیا را اووتو او صوبه دار صیب ته یې اووے "راځه بابا "۔

صوبه دار صیب چی کمرے ته ورغے نو مخامخ ، په قالین یو دروند سړے ناست وو او بالخت ته یې ډېره وهلے وه ـ لویه توره ږیره ، لوئے لوے ویښتۀ ، غټے ګولۍ سترګے ـ سپینے جامے ، سپینه جُوڅه او په سر سپین غټ پټکې ـ دا وو کمانډر صیب ، صوبه دار صیب هغه ته سلام

اوکړو او په معصومانه مسکا یې هغه ته اوکتل ـ کمانډر صیب دَ هغه سلام واخستو او هغه نه تپوس اوکړو :"بابا دَ کوم ځائے نه راغلے یې۔

صوبه دار صیب :ـ صیب دَ پیښور نه راغلے یم ـ

کمانډر صیب :ـ په پیښور کښې څوک پیژنې ـ

صوبه دار صیب:ـ ټول پیښور پیژنم صیب ـ دَ هشنغرئ پاټک کښې ټول چاپړی فروش پیژنم ـ په دال ګران کښې تاج الملوک رانجو والا پیژنم ، په محله جنګی کښې ملنګ چائے والا او دَ هغه ټول نوکران پیژنم او رشتیا ستا خدائے ایمان نصیب کړه سره زما په کابلئ کښې ټول پالشیان پیژنم۔

کمانډر صیب:ـ بس ، بس دَ پیښور چھاونئ دے لیدلے ده ـ

صوبه دار صیب:ـ ډیر موده مخکښې مې لیدلے وه خو اوس خلق وائی چې حالات خراب دی په هغه طرف څوک نه پریږدی ـ

کمانډر صیب :ـ تا دَ پیښور چھاونئ کښې څومره موده تیره کړے ده۔

صوبه دار صیب:ـ ډیر مخکښې مې ورته یوه ورځ سودا اوړے وه خو خوند یې نه وو۔ ورځ مې ماته شو او سودا خرڅه نشوه ـ

کمانډرصیب:ـ او هو ـ ته په کومے لاړے ؟

صوبه دار :ـ زۀ په ورسک روډ ورغلے ووم ( کمانډر صیب او سوار خان دواړه خاندی )

کمانډر :ـ څۀ کاروبار کوے ؟

صوبه دارصیب:ـ محنت ، مزدوری ـ





کمانډر صیب:ـ په دے عمر کښې مزدوری ؟ چرته جمات کښې کینه الله یاده وه ـ

صوبه دار :ـ جمات کښے ناسته هم دَ یرے ده صیب۔ جماتونو کښې چودنے کیږی

کمانډر صیب ( خاندی ) دا چودنے څوک کوی ـ

صوبه دار صیب:ـ خلق وائی چه دا طالبان یې کوی ـ

کمانډر صیب:ـ خلق پریږده هغوی به هر څه هرڅه وائی خو ته څۀ وائے ـ

صوبه دار صیب:ـ زۀ به څه اوویم صیب ـ په خپلو سترګو مې نه دی لیدلے او دَ غیبو علم خدائے ته دے۔

کمانډر صیب:ـ ستا څۀ نوم دے ؟

صوبه دار صیب:ـ زما نوم خائسته ګل دے ... دا زما شناختی کارډ دے ( صوبه دار هغه له شناختی کارډ ورکوی )۔

کمانډر صیب:ـ دا اصلی دے که جعلی ؟

صوبه دار صیب:ـ دا بالکل اصلی دے صیب۔ پنځه دَ پاڅه په دوه سوه راته پروتے دے ـ

کمانډر صیب:ـ چرته دَ خائسته ګل په جامه کښې غلاف خان نه ئے ـ

سوار خان :ـ نه صیب ، دَ غلاف خان کار ختم شوے دے ـ

کمانډر صیب:ـ تۀ مونږ سره کار کول غواړے ؟ تا ته به چائے ، ډوډی هم ملاویږی او تنخوا هم ـ

صوبه دار صیب:ـ په دے عمر کښے چی زما مناسب څۀ کار وی نو په

سر ، سترګو ۔

کمانډر صیب:۔ کلاشن کوف چلولے شے ۔

صوبه دار صیب:۔ چې غوږونه بند کړم او سترګے اوتړم نو ګوته راخکلے شم ۔

(کمانډر صیب او سوارخان دواړه خاندی) کمانډر صیب : خودکش حمله کولے شے ؟

صوبه دار صیب:۔ خودکشی ، کولے شم خو حمله نشم کولے ۔

(کمانډر صیب او سوارخان بیاخاندی)

کمانډر صیب:۔ دَ سپینی چینی لنګرخانے نه اوبه راؤړلے شے ۔

صوبه دار صیب:۔ په خر راؤړے شم په سر نشم راؤړے ۔

کمانډر صیب:۔ ښه نو ستا دا ډیوټی شوه چی هره ورځ به په خر لنګرخانے ته اوبۀ راؤړے ۔ ستا چائے ، ډوډی ، مفت او تنخواه ، په تنخواه ۔

صوبه دار صیب:۔ چې چائے ، ډوډی ملاویږی نو په تنخواه څۀ کوم ۔

کمانډر صیب:۔ نه ، نه ، تا له به پوره لس زره روپۍ تنخواه درکوو خو دیکښے یو شرط دے او هغه دا چې مونږ نه به ځے نه ۔

صوبه دار :۔ صیب ! زۀ به چرته لاړشم ، چې ډوډی او دَ شپے ځائے مِ پیدا شی نو دَ ژوند یو لوے ارمان به مِ پوره شی ۔

کمانډر صیب ( سوار خان ته ) سوارخانه دے بوځه چې د اوس نه کار شروع کړی ۔





صوبه دار صیب:۔ صیب یو عرض لرم او هغه دا چی ما سره لږ ه شان سودا پاتے ده که ستاسو اجازت وی نو دا به خرڅه کړم بیا به کار شروع کړم ۔

سوار خان :۔ ستاسو دا په ما خرڅه شوه ۔ زۀ چې څو حساب ، کتاب اوکړه چې پیسے درکړم ۔

★★★★★★★

## دویمه برخه

سوار خان دَ صوبه دار صیب دَ شخصیت نه ډیر متاثر شوے وو ۔ دَ هغه په خبرو کښې دومره خواږۀ وو چې هغه یې دَ ځان نه لرے کول نه غوښتل ۔ هم دغه وجه وه چې هغه یې په خپل اثر رسوخ دَ خپل تره او مشر باورچې میراجان سره په لنګر خانه کښې دَ بشتی په حیث نوکر کړو ۔ صوبه دار صیب خپله ډیوټی شروع کړے وه ۔ سحر په خړه به یې خر کته کړو او سپینی چینې ته به یې ځان رسولو ۔ درے څلور پیرے اوبه به یې لنګرخانے ته راوړے او یوه پیره به یې دَ میراجان او سوار خانه کور ته اوړه ۔ دَ اوبو ډک ټیمان به یې حجرے ته دننه کړل او وربه یې وریسې راپورے کړو ۔ بیا به دغه اوبه دَ کور په ور دَ میراجان لور شګفتے کورته اوړے ۔

چې د اوبو راؤړلو کار به ختم شو نو بیا به یې خر لنګرخانے سره خوا کښې یو ګوټ ته اوتړلو او دَ اوړو ډکه ګوتاوه به یې ورته اوکړه ۔ خر به ګوتاوه خوړه او هغه به په لنګرخانه کښې لنګریانو سره لاس خپے

وهل ۔ خوراک څښاک يې دلته کوو او شپے له به دَ سوارخان حجرے ته تلو ۔ په لږو ورځو کښې ټول لنګریان او بالخصوص میراجان دَ هغه دومره ګرویده شو چې دَ هغه نه بغیر پرے ساعت نه تیریدو ۔

دا لنګرخانه دَ هغه غیر ملکی مجاهدینو او مشرانو دَ پاره وه څوک چې دغلته جره اوسیدل ۔ په دے غیر ملکی کسانو کښې ډیرو دلته وادونه هم کړی وو ۔ هغوی په کلی کښې خپلو ښځو سره اوسیدل او دفتری کار به يې دلته کوو ۔ دے غیر ملکی مجاهدینو په مین آفس کښې مختلف کارونه کول ۔ دیکښے پلاننګ افسران ، اکاؤنټ افسران ، ایمونیشن افسران او رابطه افسران وغیره شامل وو۔ دے غیر ملکی خلقو چونکه اسلام قبول کړے وو نو په اسلامی نکته نظر سره دا ټول په یوه ورورلۍ کښې شامل وو ۔ په دے وجه دَ کوزے بانډے خلقو هغوی سره دَ خپلو لونړو ، خواياندو وادونه خپله خوش قسمتی ګنړله ۔ بله خبره دا وه چې دے غیر ملکی نومسلمو سره دَ دولت څۀ کمی نه وو۔ چا چې دغلته وادونه کړی وو هغوی دَ خپلې سخرګنې خرچه هم کوله ۔ دے نه علاوه دَ خپلو ښځو په سفارش يې دَ هغوی خپلوان یورپ او امریکے ته لیږلی وو ۔ دَ دے تنظیم مشر دَ امریکے نومسلم ریمنډډیوس وو ۔ ریمنډډیوس دَ ډیرو خوبیو مالک وو ۔ دَ هغه رنګ ډهنګ، کړۀ اوړۀ ، خوراک څښاک او جامه پیزار بالکل دَ پښتنو غوندے وو ۔ دومره صفا ، سوچه او خوږه پښتو به يې ویله چې پښتنو هم هغے نشوه ویلې ۔ هغه به کله کله دلته راتلو او دے





ټولو سره به يې ګپې هم لګولے ۔ صوبه دار صیب سره هم څو څو ځله دَ هغه ملاقات شوے وو خو دَواړه یارانه هغه وخت پخه شوه کله چې هغه دَ صوبه دار صیب دَ جیب نه دَ نسوارو ګوتۍ اوویستله او یوه غټه چونډۍ يې ترینه په بره ژامه کښې کېښوده ۔ صوبه دار صیب له يې دَ اسلام اباد او امریکے پته هم ورکړه او هغه سره يې فوټوان هم اوویستل ۔ دَ ریمنډډیوس دَ مخه نور غیر ملکی مجاهدین هم هغه سره بلد شو او هغه سره به يې په لنګرخانه کښې ګپ شپ لګوۀ۔

ریمنډ ډیوس به په هرځائے کښې دا وې چې "زۀ د اسلام او اسامه سپاهی یم ۔ او دَ هغۀ لیدو او دَ اسلام خدمت د پاره راغلے یم "۔ کله چې په لاهور کښې هغه دوه قتله اوکړل او اونیولے شو نو خلقو ته معلومه شوه چې هغه نومسلم نه بلکه دَ اسلام او اسامه دشمن او دَ سی آئی اے چیف دے نو دَ کوزے بانډے خلق حیران شو خو صوبه دار صیب بالکل حیران نشو ځکه چې هغۀ په ړومبۍ ورځ هغه پیژندلے وو ۔ دَ اسامه بن لادن په شهادت دَ پاکستان او امریکے ترمینځه تاؤ ، تربنګ والے راغے ، د عوامو دَ ردِ عمل په وجه دَ فوج منفی کردار ته ګوتے اونیولے شوے ۔ فوج خپله صفائی پیش کړه خو سیاسی لیډران مطمئن نشو ۔ دَ عوامو په احتجاج باندې امریکے دَ پاکستان نه دَ سی آئی اے ایجنټان اوویستل ۔ په دغه کسانو کښې څۀ امریکے ته لاړل او څۀ دَ افغانستان په لاره کوزے باندې ته ۔ چې یو پکښې دَ ریمنډ ډیوس نائب ډینس فری مین وو۔ دَ ډینس فری مین اسلامی نوم شیخ

عبدالرحمان وو چې بیا روستو په شیخ رحمان مشهور شو ۔ شیخ رحمان دَ پنځه دیرش (35) کالو په عمر یو خائسته ځوان وو ښکلې خائسته ځیره وجود ، سور سپین رنګ ، تورے سترګے لویه سره بخنه ږیره او لوے لوے سره ویښته یې په اوږو زانګیدل ۔ شیخ رحمان لکۀ د ریمنډیوس ډیر خوش اخلاقه وو ۔ په پښتو پوهیدو خودَ هغه غوندے روانه پښتو یې نشوه ویلے ۔ هغه چې چارج واغشتو نو دَ تنظیم ټول خلق یې راغونډ کړل او هغوی سره یې خپله پیژندګلو اوکړه ۔ صوبه دار صیب هم په دغه کسانو کښې شامل وو ۔ هغه ته دَ هغه کمزوری معلومه شوه چې روانه پښتو نشی ویلے ۔ هغه دا خبره ځان سره غوټه کړه او دَ مناسبې موقعے انتظار یې کوو ۔

یو ورځ شیخ رحمان خلاف معمول لنګر خانے ته ورغے ، هلته میراجان ، سید نور ، ګلامیر او ګلاجان په اخلی پخلی کښے مصروف وو او صوبه دار صیب دویمه کمره کښې میزونه او کرسۍ صفا کولے شیخ رحمان چې دَ هغۀ خوا له ورغے نو وے وئیل " شامالے کوم "

صوبه دار صیب مسکے شو هغه له یې لاس ورکړو او وے وئیل "السلام علیکم " شیخ رحمان په خپل غلط تلفظ کچه شو او دَ صوبه دار صیب ویلے شوے الفاظ یې دَ هغه په لهجه کښې اووې "السلام علیکم " ۔

صوبه دار صیب بیا مسکے او وے وئیل " وعلیکم سلام ۔ په





خیر راغلے ۔ سترې مشې ۔"

شیخ رحمان :۔ ستا ۔ نوم څۀ دې ؟

صوبه دار صیب :۔ خائسته ګل ۔

شیخ رحمان (مسکے شی ) Beauti ful flower

صوبه دار صیب :۔ Yes

شیخ رحمان: Pathans naturally like beauti full things.

صوبه دار صیب:۔ زۀ په انګریزی ډیر نه پوهیږم صیب ۔

شیخ رحمان :۔ زۀ په پښتو ډیر نه پوهیږم ۔ خائسته ګل داسے نه شی کیدے چې ته ماته پښتو ژبه اوښایی او زۀ تاته انګریزی ۔

صوبه دار صیب:۔ دا خو ډیره ښه خبره ده صیب ۔ ته به پښتو زده کړے او زه به انګریزی "۔

شیخ رحمان هغه خپل ټیوټر مقرر کړو ۔ چی هغه به دَ خپل کار نه اوزګار شو نو شیخ رحمان له به ورتلو او هغه ته به یې دَ پښتو زده کړه ورکوله ۔ کله کله به ورسره مازیګر بهر اووتو په ډاګ او په غرونو به هم ګرځیدل او زده کړه به یې هم ورکوله ۔ په لږو ورځو کښې دَ هغوی استاذی شاګردی په دوستانه کښې بدله شوه او بیا خبره دے له راغله چی دواړه دَ یو بل نه جدا کیدل هم نه ۔

★★★★★★★★

★★★★

★★

## څلورم باب

دَ صوبه دار غلاف خان دَ شهادت خبر دَ هغهٔ کمانډنټ ته رسیدلی وو ۔ کمانډنټ صیب ته دَ هغه په مرګ او دَ مشن په ناکامۍ سخته ذهنی صدمه رسیدلې وه ۔ یو څو ورځے پس هغه دَ هغه دَ شهادت خبر دَ تعزیتی خط په ذریعه دَ هغهٔ ښځے او بال بچ ته اولیږلو ۔ دا پیغام په هغه ورځ هغوی ته اورسیدو چې دَ لسم جماعت نتیجه اوتې وه او جبران په اعلٰے نمبرو پاس شوے وو ۔ دَ هغه دَ پاس کیدو خوشحالۍ او مبارکۍ په ژړا انګونا او په چغو سورو کښې بدلې شوې ۔ دا خبر په سترګه رپ کښې په افریدو کلی او خواؤ شو نورو کلو کښې خور شو ۔ دَ هر کلی په جماتونو کښې دَ هغه دَ شهادت او دَ غائبانه نمازِ جنازه اعلانونه اوشو ۔ دَ هغه په مرګ دَ هر چا سترګے لوندے وے ځکه چه هغه یو مصلح او خدائی خدمتګار سړې وو ۔ په لږو ورځو کښې هغه لوے لوے اجتماعی کارونه کړی وو چې لویے لویے خانان هم ورته ګوته په خلهٔ وو۔ دے نه علاوه دَ خواؤ شا کلو ډیر ځلمی یې په فوج ، ملیشا او ایف سی کښې بهرتی کړی وو ۔ دا هم د دغه بے لوثه خدمت نتیجه وه چې دَ خواؤ شا کلو نر ، ښځے لکه دَ مچ سیرو افریدو کلی ته راروان وو ۔ دَ جنازے اهتمام په سټیډیم کښې شوے وو ۔ لوے لوے عالمان راغلی وو او دَ فلسفه شهادت په عنوان تقریرونه کیدل ۔ ټیک شپږ بجے دَ جنازے دَ نمونځ ادا کولو دَ پاره ټول په صفونو کښې اودریدل او چې څنګه پیش امام دَ الله اکبر اواز اوکړو





نو په دریم صف کښی هم دَ الله اکبر اواز اوشو او د اواز سره یوه زبردسته چودنه اوشوه ۔ هر طرف ته لوګی شول او رڼا ورځ توره شپه شوه ۔ دے سره ژړا ، چغے او فریادونه شو ۔ په سټیډیم کښې دَ قیامت صغرا ء او دَ نفسانفسی منظر شو ۔ کله چې لوګی ختم شو او رڼا شوه نو ټول میدان په وینو تک سور وو ۔ بوټۍ بوټۍ غوښے او دَ بدن مختلف اعضاء ځائے په ځائے پراتهٔ وو ۔ دَ عامو خلقو نه علاوه لوے لوے عالمان او خانان هم پکښې مړهٔ او ژوبل شوی وو ۔ دَ ځینې کسانو خو پکښې هډو دَ مړ ژوندی پته نه لګیده ۔ دَ چودنے اواز په خواؤ شا کلو کښې هم ویدے شو ۔ په لږ ساعت کښې پاتے خلق هم را اورسیدل ، نر ، ښځے او وارهٔ زارهٔ په میدان کښی خپے یبله خپے او سر تور سر ګرځیدل او خپل مین او عزیزان یې لټول هر چا به غیږے ډکولے ، دَ غوښے او دَ بدن دَ اعضاء ټوټې به یې جوړولې ۔ سر له به یې تنه ، تنے له به یې سر ، خپے له به یې خپه لاس به یې لاس تلاش کوو ۔ کلی په کلی په جماتونو کښې دَامداد دَ پاره اعلانونه اوشول ۔ لږه شیبه پس عوامی کمک دَ ګاډو او کټونو سره را اورسیدو ۔ ړومبۍ شروع یې دَ زخمیانو نه اوکړه ۔ هغوی به یې په ګاډو کښې اچول او دَ پیښور جرنیلی هسپتال ته به یې رسول ۔ په څه ګاډو کښې مړی او دَ هغوی اعضاء واچولے شو او په څهٔ کښے دَ غوښے ټوټې واچولے شوے ۔ مړی کورونو ته اورسولی شو او غوښے سیند کښې واچولے شوې ۔ اخباری نمائندګان ریډیو رپورټران او دَ مختلف الیکټرانک میډیا

نمائندګان رارسیدلی وو ۔ لائیو رپورټنګ شروع وو او دَ دنیا ګوټ ګوټ ته رسیدو۔ دَ ملک اعلیٰ قیامت دَ شاهی محلات نه په دے سانحے دَ خفګان اظهار اوکړو او دے سره سره دَ ترهګرو مذمت اوکړې شو ۔ دے نه علاوه دَ عوامو دَ تسلی دَ پاره یې اووے چې ''ترهه ګر دَ سزا نه نشی بچ کیدے ''۔ پولیس دَ موقعه واردات په کتو سره دَ باردو دَوزن اندازه اولګوله او رپورټ مکمل شو۔

ځینې مړی مسح شوی وو او دَ پیژندګلو نه اوتی وو ۔ ځینو پورے سرونه او ځینو پورے لاسونه خپې نه وې ۔ دَ صوبه دار صیب کورنۍ دَ مرګ ژوبلے نه بچ شوے وه البته دَ نورو نه علاوه دَ شنے خاؤرے خان جی خان او دَ بدرۍ دَ حمید خان ځوې سلیم خان چې دَ جبران کلاس فیلو ووهم په زخمیانو کښې شامل وو ۔ هرکلی کښې خلق لګیا وو قبرونه یې کنستل او چې اوکنستلی شو نو شپه په شپه ټول مړی ښخ شو۔

## ړومبی برخه

په آفریدو کلی کښې دَ چودنے خبر کوزے باندے ته هم رسیدلے وو ۔ صوبه دار صیب خر کته کړے وو او دَ سپینی چینے نه یې دَ اوبو اخری پیره دَ میراجان کورته اوړه چې ځنګه خر په حجره دننه شو نو دیکښے دَ کوزے باندې دَ الجهاد العالمیه دَ دفتر مخے ته ډزے اوشوے ۔ د دے په جواب کښې په مین آفس کښې باړونه اوچلیدل ۔ دَ ډزو سره دَ مبارکۍ چغې شوے ۔ صوبه دار صیب خر نه زر زر دَ اوبو





تیمان کوز کړل او په منډه بهر وتو چې په ور کښې سوارخان مخے له ورغی ۔ هغوی دواړه په درشل یو بل ته مخامخ شو ۔ سوار خان په ساه ختلی انداز کښې اووې ، کوم خوا ځې بابا''؟

صوبه دار صیب: بهر ډزے اوشوے ، ورځم چې معلومات یې اوکړم ۔

سوار خان :۔ ولی تاته پته نشته ؟

صوبه دار صیب :۔ نه ، ولے څۀ چل شوے دے ؟

سوارخان هغه دَ لاس نه نیسی او ځان پسی ئے دَ حجرے کوټے ته راولی '' راځه ټی وی لګوو ۔ اوس به په هر څۀ پوهه شے ''سوار خان چې T.V اولګوی نو خصوصی بُلیټن کښې ویلے شی چې ''اوس پوره خبرونه وورۍ ۔ نن مازګیر شپږ بجے دَ پیښور ضلعے په افریدو کلی کښې دَ صوبه دار غلاف خان دَ مرګ غائبانه نمازِ جنازه کښې یوه لویه ځان مرګه چودنه اوشوه ۔ دَ مړو او ټپیانو شمیر لا معلوم نه دې خو ویلے کیږی چې ګڼ شمیره خلق مړۀ او ټپیان دی ''۔ دے سره دَ مړو او ټپیانو په حالت زار باندې تبصره کیږی ۔ دَ مړو او زخمیانو دَ غوښو او اعضاء تصویرونه ښودلے کیږی ۔ دَ هغوی دَ خپلوانو او عزیزانو ژړا فریاد اوریدی شی ۔ صوبه دار صیب دغه ټولو خلقو ته په غور سره ګوری ۔ دا ټول خلق هغۀ پیژندل او دَ اکثرو کسانو نومونه هم ورتلل ۔ هغۀ په مړو او زخمیانو کښې جبران او غازی خان هم لټول خو هغوی یې اونه لیدل ۔ په دیکښے یو بل منظر راشی چې په هغے کښې دَT.V نمائنده دَ جبران نه انټرویو اخلی ۔

صوبه دار صیب چې هغه ته اوګوری نو په سترګویې رڼا شی خو چې
دَ سوار خان دَ موجودګۍ احساس ورته اوشی نو سنجیده شی ۔ T.V
نمائنده دَ جبران نه تپوس کوی او وائی ''ناظرین کرام جبران دَ صوبه
دار غلاف خان ځوی دې ۔

سوار خان :۔ جبران ؟ ( دے سره هغه صوبه دار صیب ته ګوری او دَ
هغه تاثرات معلومول غواړی خو هغه بیخی چپ پاتے شی )۔

نمائنده ..راځۍ چی دَ هغه نه تپوس اوکړو چې د دې واقعے متعلق
هغه څۀ وائی ۔ ''جبرانه د دې واقعے متعلق ستا څۀ احساسات او
تاثرات دی ؟

جبران:۔ دا واقعه انتهائی افسوسناکه ده او دَ ظلم ، جبر او بربریت
انتهاده ۔

نمائنده:۔ وقوعه څنګه اوشوه ۔

جبران:۔ دا ټول مشران ، کشران زما دَ پلار په غائبانه نماز جنازه کښې
دَ ګډون دَ پاره راغلی وو ۔ په دیکښے ځوک خودکش هم راغلې وو ۔ دَ
مولانا صیب دَ الله اکبر سره په دریم صف کښې هم دَ الله اکبر اواز
اوشو او دَ اواز سره یو ګرز شو ۔ هره خوا لوګی شو ، تیاره شو ، هیڅ
نشولیدے خو دَ ژړا او فریادونو چغے شوے ۔

نمائنده :۔ ته کوم ځائے ولاړ وے ؟

جبران :۔ ماته په ړومبو صفونو کښې ځائے ملاؤ نشو نو اخری صف
کښې اودریدم ۔





نمائنده :۔ ستا سو کورنۍ بچ ده ؟

جبران :۔ زمونږ کورنۍ بچ ده خو دا شهیدان او زخمیان هم زمونږ
رونړه او مشران دی۔

دَ سوار خان زړۀ نور صبر اونه کړی او صوبه دار صیب ته وائی '' دا
هلک ته پیژنی ''۔

صوبه دار صیب:۔ ماته سم نه ښکاری ۔ یاخو دا تصویر تت دے یا زما
په سترګو خړه ده ۔

سوار خان :۔ د دۀ نوم جبران دے او دَ پلار نوم ئے غلاف خان دے ۔

صوبه دار صیب:۔ وی به خو زۀ یې نه پیژنم ۔

سوار خان :۔ دا افریدو کلے کوم ځائے دې ؟

صوبه دار صیب:۔ دے خبرونو والا وې چې په پیښور کښې دې ۔

سوار خان :۔ دَ خبرونو والا خبره پریږده ، زۀ تانه تپوس کوم ۔

صوبه دار صیب:۔ خبره یوه ده ۔ زما هم دَ هغۀ په خوله یقین دے ۔

سوار خان :۔ جبران ځوک دے ؟

صوبه دار صیب:۔ دے خبرونو والا ویلے چې دَ صوبه دارغلاف خان
ځوې دے ۔

سوار خان:۔ بابا زۀ تانه تپوس کوم دَ هغۀ نه نه ۔

صوبه دار صیب:۔ خبره یوه ده که د هرچانه تپوس کوے ۔

## دویمه برخه

دَ پښتـو ژبې نه علاوه صوبه دار صیب شیخ رحمان ته دَ پښتو دَ دور دستـوره رسـم ورواج او دَ روایـاتـو نه هم خبر کړو ـ شیخ رحمان دَ صـوبه دار صیب دَ خدماتو او اخلاق نه ډیر متاثر شوے وو ـ بله دا چې دا عـلاقـه او د دے ځائے خـلـقه یې هم زړۀ ته پریوتل او په زړۀ کښې دا خیال پیدا شو چې دے علاقه کښې مستقل رهائش اختیار کړی ـ یو مـاښـام چې دَ غـرونـو او دَ سپینـې چینې دَ سیل نه واپس راتلل نو په لاره کښـې یې صوبه دار صیب ته دَ خولے نه دا خبره اووته ـ صوبه دار صیب دَ هغه په خبره ډیر خوشحاله شو اوے وئیل "ډیر ښۀ خیال دے ـ ډیره دَ خـوشـحـالـۍ خبره ده صیب چې تاسو پښتنو سره دومره مینه کـوۍ خو دا مینه به هله پائیداره شی چی پښتنو سره پښتون شے ـ د دوی او ستـا مـړے ، ژونـدې او غـم ښـادی یـو شی او دا به هله یو کیږی چې تۀ دلته وادۀ اوکړے چې رشته دې پخه شی ـ

شیخ رحمان:ـ دا خو زۀ غواړم ـ آیا دا ممکن دے ؟

صوبه دار صیب :ـ بالکل ممکن دے او ستا دَ پاره هر څۀ ممکن دی ـ

شـیـخ رحـمـان :ـ زۀ هر څه ته تیار یم ـMoney is no problem ـ هر څه منم ـ

صوبه دار صیب ( خاندی ) بیا خو ممکن نه بلکه یقینی دے ـ

شیخ رحمان :ـ ته زما دَ پاره کوشش کولے شی ؟

صوبه دار صیب:ـ ضرور ـ خامخا ـ اوبه شی خو لږ انتظار به کوې ـ





شیخ رحمان O.K ـ زۀ به انتظار کوم ـ

دے سره هغـوی دواړه په خـنـدا شـی او دَ یو بل نه جُدا شی ـ

شیـخ رحمان خپلے کمرے ته لاړ شی او صوبه دار صیب لنگرخانے ته ـ هغـه چې څنگه لنگرخانے ته ورشی نو میراجان ورته وائی ـ"خائسته گله ! تاسو خو ډیر خندل راخندل ولې څه خاص خبره وه ـ

صـوبـه دار صیـب:ـ دَ خـوشـحـالـۍ پـه خبره خلقه خاندی میراجانه ـ ځکه مونږ هم خندل ـ

میراجان :ـ دَ څۀ خبرے خوشحالی ، زۀ پو هه نشوم ـ

صـوبـه دار:ـ تـه بـه هـلـه پـو هـ شې چې دَ شیخ رحمان دَناوے دَ ډولۍ مخکښې گډ شې ـ

میـراجـان:ـ هغه ته دَ تپوس په نظر نیغ نیغ گوری ـ "دَ شیخ رحمان دَ ناوے ډولۍ ؟

صوبه دار صیب:ـ هاؤ کنه میراجانه ـ شیخ رحمان وادۀ کوی ـ

میراجان (په حیرانتیا ) واده ؟ چاسره ؟ چاسره یې خبره شوے ده ـ

صـوبه دار صیب :ـ نه میراجانه ! خبره لا چاسره نه ده شوے خو دَ هغه دَ پاره دَ څۀ کمے دے ـ

میراجان څه ښه ده چې نه ده شوے ـ

صوبه دار صیب :ـ څۀ مطلب ؟

میـراجـان :ـ مـطـلب دا چې تـۀ دے خبرو کښې گوتے مه وهه ، غریب سړے یې خپله مزدوری کوه ـ

صوبه دار :۔ نه نه میراجانه ۔ دے کښې زما کار نشته ۔ هغه پوهه شه او دَ هغه کار۔ زۀ غریب سړے یم دا لانجے نشم کولے ۔

میراجان :۔ څکه خو مِ درته اووے چې خوله پټه بهتری ده ۔ چاته دی دَ خولے نه اونه ځی ۔

صوبه دار صیب:۔ ډیره ښه ده میرا جانه ۔ ګل خبره دے اوکړه ۔

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★





## پنځم باب

جبران ، دَ هغه مور او خویاندو ته په خودکش چودنه کښی دَ مړو او زخمیانو په وجه دومره خفګان رسیدلے وو چې دَ هغوی نه خپل خفګان هیر شو او په هغوی یې ژړاګانے کولې ۔ پروین بی بی خو دَ څۀ مجبورۍ په وجه بهروتلے نشوه البته جبران او دَ هغۀ خویاندے څوځو ځله دَ مړو اقرباء کره تلے او دَ هغوی په غم کښې شریکے شوے وې ۔ په زخمیانو کښې یې دَ نورو نه علاوه دَ خان جی خان او دَ سلیم خان پوښتنے هم اوکړے او دَ هغوی دروغ صحت دَ پاره یې دعاګانے اوکړے ۔ دَ صوبه دار صیب دَ مرګ نه پس جبران ته خپل ځان بیخی یواځے ښکاریدو ۔ هر وخت به په خپلو خیالونو او سوچونو کښی ډوب وو ۔ دَ هغۀ مور غوښتل چې هغه په کالج کښې داخله واخلی ۔ څو څو ځله یې هغه ته دَ خپل خواهش اظهار هم اوکړو خو دَ هغۀ زړۀ دَ سبق نه موړ شوے وو ۔ دَ ډیر سوچ او فکر نه پس هغه په دے نتیجه اورسیدو چې هغه له دَ خپل پلار خلا پوره کول پکار دی ۔ هغه خلا چې دَ هغه دَ پلار په وجه په فوج کښې پیدا شوے وه ۔ کله چې هغه خپلے مورته دا خبره اوکړه نو هغے دَ هغۀ دَ فیصلے مخالفت په دے وجه اوکړو چې هغه خپل تعلیم مکمل کړی او دَ کمیشنډ آفیسر په حیث بهرتی شی خو چې دَ جبران ضد ته یې اوکتل نو اجازت یې ورکړو ۔ صبا سحر وختی هغه دَ پیښور ریکروټنګ آفس ته لاړو ۔ دَ بے روزګارے په وجه ګڼ هلکان بهرتې له

راغلی وو او په قطار کښې ولاړ وو ۔ جبران هم هغوی سره په قطار کښې اودریدو ۔ ریکروټنګ آفیسر صوبه دار جانس خان چې دَ هغهٔ غزیدلې څوانۍ ، څیره وجودخړے بادامی سترګے او سور سپین مخ ته اوکتل نو سترګے یې ترینه نشوے اړولے ۔ دَ لاس په اشاره یې دَ قطارنه را اوویستلو ۔ دَ هغه ناپ ، تول یې اوکړو او دَ جسمانی آزمائش دَ پاره یې نورو هلکانو سره آرمی سټیډیم ته اولیږو ۔ هلته دَ هغه مختلف جسمانی آزمائشونه اوشو او په ټولو کښې به اے ګروپ کښې راغې ۔ دے نه پس بیا ریکروټنګ آفس ته راوستے شو او هلته یې ذهنی آزمائش او میډیکل چیک اپ اوشو ۔ په هغے کښې یې اے ګروپ واخستو ۔ صوبه دار جانس خان دَ هغهٔ دَ کارکردګی نه ډیر متاثر شو ۔ دَ هغه خپل ګروپ سګنل وو دے دَ پاره هغه دا غوښتل چې هغه خپل ګروپ ته اولیږی خو د هغه نه تپوس ضروری وو ۔ صوبه دار صیب هغه ته اووے "ول ډن" ستا کارکردګی ډیره ښه ده ۔ زهٔ تا سګنل ګروپ ته لیږل غواړم ۔

جبران:۔ نو سر ، زهٔ ایف ایف ګروپ ته تلل غواړم ۔

صوبه دار جانس خان :۔ تهٔ روغ یې که لیونے ۔

جبران ( مسکی شو ) سر ذهنی آزمائش کښې خوروغ ووم ؟

صوبه دار جانس خان :۔ کیدیشی ستا په آزمائش کښې مونږ نه څه غلطی شوے وی ۔

جبران :۔ ولے سر ؟





صوبه دار جانس خان :۔ روغ داسے خبرے نه کوی ۔ ایف ایف خو لړاُکا ګروپ دے سنګل ته لاړ شه ، اے ایم سی ته لاړ شه ، سپلائی ته لاړ شه ۔

جبران:۔ نوسر ، زهٔ ایف ایف ګروپ ته تلل غواړم ۔

صوبه دار جانس خان :۔ ایف ایف ګروپ ته ولے ځې ؟ وجه ؟

دَ جبران په زړهٔ کښی راغله چې هغه ته صفا صفا اووائی چی " په دیکښې زما پلار تلے وو ، د دے نه ریټائر شوے وو او زهٔ دا خلا پوره کول غواړم خو د دے اظهار یې مناسب اونه ګڼو او فوری طوریې اووې، 'سر زما ایف ایف ګروپ سره شوق دے "۔

صوبه دار صیب مسکې شو اووے وئیل ۔ O.K, young man as you wish دے نه پس دَ هغه کاغذونه تیار کړې شول او هغه ته ضروری هدایات ورکړے شول ۔ مازیګر چی کورته اورسیدو نو مور ته یې ټول حال اووے ، مور یې ډیره خوشحاله شوه چې دَ هغے څوی خدائے دومره کړو چې دَ خپل پلار کمې پوره کړی او دَ هغهٔ غوندې دَ ملک وقوم خدمت اوکړی ۔ بیائے دَ هغهٔ دَ پاره اخلی پخلې شروع کړو ۔ غونزاخی یې ورله پاځهٔ کړل ، دَ غنمو خواږهٔ غونډاری یې ورله تیار کړل او دَ جوارو نینې یې ورله اوکړې ۔ هغه دَ ستوانو په تیارولو کښې اخته شوه او نګینے ورله ، کپړے ، تولیه ، صابن ، اینه ګمنز ، برش پالش وغیره راواخستل او په سوټ کیس کښې یې ورله په سمون سمون کیښودل او پینټ شرټ او کوټ یې ورله دَ اغوستودَ پاره تیار کیښودل ۔

چې دَ ماښام ډوډۍ او خوړې شوه نو پروین بی بی مصله راوغشته او تر ناوخته پورې یې دَ هغهٔ دَ کامیابۍ او سلامتۍ دَ پاره نفلونه او دعاګانې کولې ـ

دَ سحر دَ نمانځه نه پس یې ښهٔ مړه ناشته اوکړه او دَ تلو تیارې یې شروع کړو ـ چې سوټ یې واچوو نو خویاندو او ورور له یې واره په وار په سرونو لاس کېښودو او ټول یې ښکل کړل ـ دې نه پس مور له ورغۍ ـ هغې خپلې سینې پورې کلک اونیوو ، څو څو ځله یې ښکل کړو او خپلې مقدسې اوښکې یې دَ هغه په مخ اوڅڅولې چې دَ هغې دَ مینې تسکین اوشو نو بیائې هغه ښکل کړه ـ بستره یې په اوږه کېښوده ، سوټ کیس یې لاس کښې اونیوو ، په ډکو سترګو دَ کوره بهر شو او په نوې عزم دَ نوی ژوند په لور یې قدم کېښودو ـ

## دویمه برخه

مازیګر چې هغه دَ ایف ، ایف سنټر په مین ګیټ دَ ټیکسی نه کوز شو نو دَ هغهٔ شخصیت ، شان وشوکت او سوټ ، بوټ ته چې دَ آر ـ پی (R.P) حوالدار اوکتل نو دَ هغهٔ پرې دَ کاکول دَ لفټیننټ ګمان راغۍ ـ زر زر یې ټول ګارډ فال اِن کړو او یوه زبردسته سلای یې ورکړه ـ حیران سر اوړکوودَ هغوی سلامی یې په مسکا واغشته او دَ بټالین حوالدار میجر تپوس یې اوکړو ـ دَ آر ،پی حوالدار په آرډر یو سپاهی دَ هغه بستره او سوټ کیس اوچت کړو او دَ بټالین حوالدار میجر دفتر نما کمرې ته یې اوسولو ـ دَ هغه په لیدو باندی بټالین





حوالدار میجر هغهٔ ته سلوټ اوکړو ـ هغه یې په عزت کینولو او کوکا کولا بوتلې یې را اوغوښتې ـ دَ بوتلو څکلو په دوران کښې به هغه جبران ته دَ تپوس په غرض کتل خو جرأت یې نشو کولې خو چې سترګې به یې اولګیدې نو هسی به نینې شینې شو او اوبه ئې وئیل "ښه جی تاسو ښه یې ؟ بوتل ډیر یخ خونه دې ؟ بوتل مِ ځکه را اوغوښتو چې زمونږ دَ کنټین چائې دَ مزې نه وی ؟ ـ جبران پوهـ شو چې سړې په بله لاړو ـ هغه هم دَ مناسبې موقعې په تلاش کښې وو چې خپل پوزیشن هغه ته کلیر کړی ـ چې بوتلې اوڅکلې شوې نو بټالین حوالدار میجر دَ هغه تش بوتل ډیر په انکساری دَ هغه نه واغشتو ، یو خوا ته ئې کېښودو او دَ هغهٔ نه یې تپوس اوکړو ـ "تاسو سر ، څنګه تشریف راؤړې دې" جبران دَ کوټ دَ جیب نه یوه لفافه راواویستله او هغه ته یې په دواړه لاسه پیش کړه ـ بټالین حوالدار میجر چې دَ هغه کاغذونه اوکتل نو مسکی شو او وې وئیل سردا کاغذونه ستاسو دی ؟

جبران : جی جناب ـ

حوالدار میجر:ـ تاسو جی ډی سپاهی بهرتی شوې یې ـ

جبران :ـ Yes sir

حوالدار میجر:ـ ستاسو نوم جبران دې ؟

جبران :ـ جی جناب ـ

حوالدار میجر :ـ زهٔ څنګه یقین اوکړم چې تاسو جی ډی سپاهی

بهرتی شوے یې ۔

جبران:۔ تاسو ، سر زما په خبره یقین اوکړئ چې زما نوم جبران دې او زۀ په ایف ۔ ایف سنټر کښې دَ یو جی ۔ ډی سپاهی په حیث بهرتی شوے یم “۔

حوالدار میجر:۔ ښه دا بستره دے په اوږه کړه ، سوټ کیس لاس کښې اونیسه او دا نیغه لار واخله الفا کمپنئ ته ځان رسوه ۔

جبران هم هغسې اوکړل ۔ دَ هغه دَ کمرے نه اووتو او روان شو ۔ هغه لا ډیر لرے نه وو تلې چې حوالدار میجر بو ”برق“ کړے او ځان پورے یې اوخاندل ۔ جبران هم په تلو تلو کښې دَ هغه خندا وورېده او ځان سره مسکې شو ۔

جبران چې الفا کمپنئ ته اورسیدو نو بستره یې په برنډه کښې کیښوده ، سوټ کیس یې په لاس کښې اونیوو او بیرک ته دننه شو ۔ بیرک دَ انګروټانو نه ډک وو ۔ هغوی دَ لوبو(Games) او پټیک (working) ) نه راغلی وو ۔ چا جامے بدلولے ، چا بوټ پالش کوو او چا دَ شپې دَ ډیوټئ دَ پاره وردی اچوله ۔ دَ هغه په لیدو ټول رنګروټان پاڅیدل او په ” هوشیار پوزیشن “ کښې اودریدل هغوی سره نائیک انجم او حوالدار انور هم پاڅیدل دواړو سلوټ اوکړو او په ”هوشیار پوزیشن “ کښې دواړه خاموش اودریدل ۔ جبران دَ هغوی خاموشی هغه وخت ماته کړه کله چې هغه اووې ” ستاسو انچارج څوک دې “ حوالدار انور یو ځل بیا خپه اووهله او وے وئیل ” زۀ یم صیب ،





حوالدارانو رپلاټون نمبر3 الفا کمپنی “ جبران مسکې شو هغه له یې لاس ورکړو او وے وئیل ، Nice to see you sir ۔ استاذ انور دَ هغه په انګریزئ پوهه نشو خو دَ خپلی تجربے نه دومره اندازه اولګوله چې صیب خوشحاله شو۔ نور څۀ نه ورتلل خو دومره یې اووې ۔ Thank you sir سر څۀ خدمت اوکړو یخ ، ګرم ؟ څۀ را اوغواړو سر ؟

جبران :۔ نه نه دَ دې ضرورت نشته ، اوس مِ بټالین حوالدار میجر سره یخ اوڅکل “۔

استاذ انجم :۔ سر مونږ به هم دَ خدمت موقعه راکړئ دا به ستاسو ډیره مهربانی وی سر۔

جبران:۔ ولې نه ؟ بالکل بالکل ۔ نور به بیا ګورو خو اوس فی الحال ماله یو کټ راکړئ چې زۀ پکښې خپله بستره اولګوم او ځان سټ کړم ۔

استاذ انور :۔ کټ ؟ څۀ مطلب سر ۔

جبران (مسکې شی ) زۀ سر نه یم ۔ زۀ جی ۔ ډی سپاهی بهرتی شوے یم ۔ دا زما کاغذونه دی سر (جبران انور استاذ له کاغذونه ورکوی )۔

استاذ انور :۔ ستا نوم جبران دې ؟

جبران : جی بالکل ۔

استاذ انور کچه شی او هغه ته وائی ”ښه دے کټ کښې بورئ بستره واچوه او دا سوټ دې زر زر اوباسه ، ساده کپړے واچوه ۔ ظالمه دَ خدای مونږ باندې دې په یخ ژمی کښې خوله راوسته ۔

جبران هغوی سره خوا کښې په یو خالی کټ کښې بستره کېښوده او هغه یې په طریقه خوره کړه ، بیا دَ نورو رنګروټانو سره مس ته ورغې . لنګری خان محمد او نورخان چې هغه اولیدو نو دواړه پاڅېدل او سلوټ یې اوکړو او کله چې هغه دَ هغوی خوا له ورغې نو خان محمد دا محسوسه کړه چې دا ګینی ځوک نوې کمپنی کمانډر راغې او دَ انګروټانو دَ خوراک معائنه کوی . خان محمد یو پلیټ کښې ترکاری وا چوله په بل کښې ئې دوه ډوډۍ کېښودې او هغه ته یې اووې " دا ټسټ کړې سر " جبران پو هـ شو چې دوی هم جق اوخوړو . هغه دواړه پلیټونه دَ هغه دَ لاس نه واغشتل ، روان شو او نورو ملګرو سره میز ته کیناستو . لنګریانو ته چې کله معلومه شوه چې هغه رنګروټ دې نو سرونه یې خکته کړل او ځان پوری غلې غلې خاندل .

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★

★★





## شپږم باب

وخت تیریدو سره دَ صوبه دار صیب او دَ شیخ رحمان دوستانه نوره هم زیاتیده او پخیده . نن هغه ډیر خوشحاله وو ځکه چې شیخ رحمان هغه خپل مشیرِ خاص مقرر کړے وو . په هر کار کښې به ئې دَ هغه نه مشوره اخسته او قبلوله . نن ماسخوتن دَ معمول مطابق هغه حجرے ته ورغې او خپل کټ کښې ډډه شو . سترګے یې پټې کړے او په یو لرے سوچ کښې لاړو . لږه شیبه پس سوار خان هم غلے غوندے راغې او کیناستو . صوبه دار صیب چې دَ هغه په راتلو پو هـ شو نو سترګې یې اوغړولے ، هغۀ ته یے اوکتل او وے وئیل : ولے بے سُره یې بچې . تبی خو نه یې نیولے . سوار خان په ږومبی ځل صوبه دار صیب ته دَ مظلومیت په سترګو اوکتل او وے وئیل "نه هیڅ نشته بابا . ټیک ټاک یم "

صوبه دار صیب : نه بچې ځۀ خوشته . ما په ږومبی ځل ستا په تندی خړه او ستا په سترګو کښې تیاره اولیده ولې بچې ځۀ چل شوے دی " . سوار خان هغه ته په ډکو سترګو نیغ نیغ اوکتل خو هیڅ جواب یې ورنه کړو . صوبه دار صیب مسکے شو او وائی " ماته حال نه وائې بچے ؟ ولې خفه یې که ځۀ خبره وی نو ماته حال اووایه چې زړۀ دې سپک شی . ما خپل خیر خواه او راز دار اوګڼه بچی " . سوارخان خپلی اوښکے دَ څادر په پسکی اوچے کړې او وے وئیل " هیڅ نشته بابا " .

صوبه دار صیب :۔ گوره بچې زما چې څومره تجربه ده نو ستا عمر دَ هغې دَ دریمې حصې نه هم کم دی ۔ ماته پته ده چې ستا په زړهٔ ډیرې خبرې دی ، لوې بوج دې او دا بوج که داسې پاتې شی نو ښهٔ خبره نه ده ۔ خپل غم بل ته ویلو سره او په مشورې سره کمیږی او کیدیشی څهٔ حل یې هم رااوځی ۔ او که ماته ئې نه کوې نو بل چاته ئې اوکړه چې زړهٔ دې سپک شی خو هر چاته نه ، خپل قابلِ اعتماد سړی ته ئې اوکړه

سوار خان :۔ قابل اعتماد ؟ ننی وخت کښې څوک قابلِ اعتماد شته ؟ او څوک چې قابل اعتماد وو او ما ورته دَ پلار په نظر کتل هغه ما سره څه اوکړل ۔ بابا زهٔ په اعتبار کښې اووهلې شوم ۔ زما ترهٔ زما دَ غیرت سودا اوکړه بابا ۔ (دَ هغهٔ په اواز کښې غصه او تیزی راځی ) زما په نوم ناسته زما چنغله ، زما روح ، زما ځان ، زما شرم او حیا یې مانه واخسته او بل سره یې منسوب کړه ۔ زهٔ څهٔ اوکړم بابا ؟ چې دهٔ راسره دهوکه اوکړه نو دَ نورو نه به څهٔ گیله اوکړم ۔

صوبه دار صیب :۔ بچې ستا په خبره پوره پوهـ نشو۔ ماته صفا خبره اوکړه ۔

سوارخان:۔ صفا خبره دا ده باباجی چې میراجان کاکا او چا چی خپله لور شگفته ماله راکړې وه ۔ ما ورله دَ وادهٔ پوره سامان کړې دې او بکسونه مې ډک کړی دی ۔ جوړې جامې او کالی پتری مِ هم کړی دی خو هغه زما مخ ته اونه کتل او دَ شیخ رحمان ډالرو ته یې اوکتل ۔ هغه ته یې وادهٔ کوی ۔





صوبه دار صیب:۔ ( کټ کښې کینی او وائی ) " دا څهٔ وائی سوار خانه بچې ۔ شرق ستا په سر راپریوتو ۔ زهٔ به چرې هم ستا ارمان لوټ کیدو ته پرې نه ږدم "۔

سوارخان :۔ دا زړهٔ مِ وائی چې یا مِ ځان اوویشتی یا تره او یا جینۍ ۔

صوبه دار صیب :۔ جینۍ څهٔ وائی ؟

سوار خان :۔ دلته دَ جینکو نه څوک تپوس نه کوی ۔ هر څهٔ دَ مشرانو په خلهٔ کښی وی ۔

صوبه دار صیب:۔ تا دَ جینۍ نه تپوس کړې دې هغه څهٔ وائی ۔

سوار خان:۔ هغه خو په ما ځان وژنی ۔ په یو کور کښې مو دولس کاله لوې کړې دی ۔ په یو کور کښې لوئې شوې یو ۔

صوبه دار صیب :۔ دَ جینۍ مور څهٔ وائی ؟

سوار خان :۔ هغه مړه ده ۔

صوبه دار صیب :۔ ستا مور پلار څهٔ وائی ؟

سوار خان (دَ هغه په سترگو کښی اوښکې راشی ) زما مور پلار کوم دی ۔ که هغوی وی نو بیا څهٔ غم وو ۔ هر څه به هغوی کول ۔

صوبه دار صیب:۔ زهٔ میراجان سره خبره اوکړم او ستاسو خفگان ورته اورسوم ؟

سوار خان :۔ هغه ته هر څهٔ معلوم دی ۔ هغه زمونږ خفگان ته نهٔ گوری ، خپل لالچ په مخه اخستې دې ۔ هغه شیخ رحمان سره خبره کړې ده او خبره څهٔ چې دَ وادهٔ نیټه یې هم ایښې ده ۔

صوبه دار صیب:۔او دا خبره ده ؟ دیکښې هغه ته دَ میراجان هغه خبره رامخکښې شي چې "ته دې خبرو کښې ګوتې مه وهه ، غریب سړی یې خپله مزدوری کوه " هغه ډیره شیبه خاموش وی او په دغه خاموشی کښې حقیقت تلاش کوی ۔ بیا وائی " شیخ رحمان هغه نالیدلې قبوله کړې ده ؟۔

سوار خان :۔ جینۍ یې لیدلې نه ده خو د هغې تصویر یې ورله اوړې دې او هغه تصویر یې زما دَ بټوې نه ویستلې دې ۔

صوبه دار صیب:۔ نیته کښې څو ورځې دی ؟

سوارخان:۔ بیا په ننۍ ورځ دَ هغې وادهٔ دے ۔

صوبه دار صیب:۔ ستا څهٔ اراده ده ؟ تهٔ څهٔ کول غواړې ؟

سوارخان:۔ زهٔ په یو حال کښې هم دَ هغې پریښودو ته تیار نه یم ۔

صوبه دار صیب:۔ دا خو ټیک ده خو تهٔ به دَ هغې دَ حصول دَ پاره څهٔ کوې ۔

سوار خان :۔ دَ هغې دَ ډولۍ وتو سره به زما لاش اوځی ۔

صوبه دار صیب:۔ هائے نامرده ۔ دا ستا توره ده چې خپل ځان مړ کړې زور به چاله ورکړې ؟ ستا په مرګ به څوک خفه شی ؟ او څوک به اوژاړی ؟ چې ته مړ شې نو دَ هغې واده به اونشی ؟

سوار خان :۔ جینۍ به هم مړه کړم او ځان هم ۔

صوبه دار صیب:۔ اوه ۔ په یو وخت دوه غلطۍ ...دَ جینۍ غریبې څهٔ قصور دې ؟ هغه په خپل وادهٔ خوشحاله ده ؟ چې هغه مړه کړې او





بیا ځان مړ کړې نو ستا مرګ به دَ قاتل وی که دَ شهید ؟

سوار خان :۔ دَ شهید ؟

صوبه دار صیب :۔ دَ شهید ولې ؟ یو خوا تا یو بے ګناه قتل اوکړو او بل خوا په خپله هم دَ خپل ځان قاتل شوې ۔ او دا دواړه مرګه په هر صورت کښې دَ قاتل مرګ دے ۔ تهٔ ګوره ، تا خو ځان په مرګ شمیرلې دې کنه ۔ چې ځان وژنې یا جینۍ او میراجان وژنې نو دغه خپل غیر مسلم رقیب ولے نه وژنې؟

سوار خان :۔ غیر مسلم نه ، نو مسلم ۔

صوبه دار صیب:۔ نه ځویه هغه نو مسلم نه بلکه غیر مسلم دے ۔ دا صحی خبره ده چې دَ هغه دَ مرګ نه پس ستا مرګ یقینی دے خو تا چې ځان په مرګ شمیرلې دے نو څهٔ دَ هغه دَ لاسه او څهٔ دَ خپله لاسه ۔ چې دَ هغه دَ لاسه مړ شی نو پښتو به دې هم اوشی او شهادت به دې هم نصیب شی ... ته شګفتے سره صلاح اوکړه چې هغه څهٔ وائی ؟ هغه په تا ولاړه ده که نه ؟

سوار خان :۔ دَ هغې په ولاړه او ناسته هیڅ نه کیږی ۔ هغه به څهٔ اوکړی ، هغه نه ځان بچ کولے شی او نه ما ۔

صوبه دار صیب :۔ وهٔ کم عقله ! هغه ډیر څهٔ کولے شی ۔ کوم کار چې ته نشې کولے هغه یې کولے شی"۔

په دیکښې ورلړے کیږی ۔ صوبه دار صیب او سوار خان ورته ګوری ۔ یوه شیبه پس په تور پړونی کښې پټه یوه جینۍ دننه راځی ۔ صوبه دار

صیب او سوار خان دواړه اودریږی ۔ سوار خان دَ هغې لاره نیسی او وائی " تهٔ دلته ولې راغلې ځه ګورته " جینئ هغه له ټیله ورکوی ځان له لاره کوی او وائی ، لرې شه زما دَ مخې نه ۔ زهٔ تاله نه یم راغلې ۔ زهٔ خپل بابا له راغلې یم " هغه صوبه دار صیب ته په خپو پریوځی ۔ صوبه دار صیب هغه منعې کوی او وائی " نه بچې نه دې کښې ګناه ده " صوبه دار صیب دَ هغې په سر لاس اړدی او وائی " پاځه بچې پاځه "

سوار خان دَ هغې مخ په پړونی پټوی خو هغه خپل مخ ښکاره کوی او وائی ، بابا پلار ته ویلې کیږی او دَ پلار نه ستر نه کیږی ، هغه دَ مخ نه پړده لرې کړی ۔ صوبه دار صیب چې هغې ته اوګوری نو روح ترینه اوتښتی هغه دَ خیال په کمند دَ جنت حورې ته مخامخ ولاړ وی او په رومبی نظر دَ هغې دَ حسن دَ کائنات پوره نظاره اوکړی ۔ صوبه دار صیب دَ هغې نه مخ واړه وی او وائی "کینه بچې ۔ دا ښه ده چې راغلې

شګفته:۔ تاله ځکه راغلم بابا چې دې لږ پوهـ کړې ۔ په ګهووډو سر دې ۔

صوبه دار صیب :۔ دې څهٔ وائی ؟

شګفته :۔ بابا دَ دهٔ ټولې خبرې غلطی دی کله وائی "ځان وژنم کله وائی تا او کاکاجی وژنم"۔

صوبه دار صیب :۔ دې چې دا اونه وائی نو څهٔ به وائی ۔ د دهٔ یا په ځان وس رسی یا په تا ۔ ځان خو ځان دې خو تا هم دَ ځان نه کمه نه ګڼی ۔ دا ډیر سخت تاؤ دې بچې ۔ د دې اندازه تهٔ نشی لګولې ؟





شګفته:۔ ( دَ هغې په سرو خمارو سترګو کښې دَ هغې دَ زړهٔ غمونه دَ غصې په شکل کښې رابرسیره شی او وائی ) "زهٔ یې نشم لګولې ؟ ولې په دې اور کښې دې یوائې سوزې ؟ دا بیله خبره ده چې زهٔ په چپه خله دا هر څهٔ برداشت کوم ۔ یو خوا په خپل غم اخته او بل خوا د دهٔ رویه راباندې اور بلوی لکه چې دا هر څهٔ زما په صلاح شوی دی ۔ بابا ماته پته ده چې ده نه ناپوره ده ۔ دا کار به زهٔ کوم ۔

صوبه دار صیب:۔ نه بچې نه ۔ پښتنی دَ پلار په مخکښې داسی خبرې نه کوی ۔ دا کار زما دې دا به زهٔ کوم خو یو ځل زما مخکښې دا وعده اوکړی چې تاسو دواړه یو بل سره مینه کوی " دې سره شګفته اوشرمیږی ، مسکئ شی دَ صوبه دار صیب تندې ښکلوی او په منډه بهر اوځی ۔ سوار خان هم مسکې شو او دَ هغې دَ شونډو په نښخو شونډې اړدی ۔ صوبه دار صیب مسکې شی او وائی "نورکار زما دې "۔

## رومبئ برخه

صوبه دار صیب چې خپل کار ختم کړو نو دَ معمول مطابق دَ شیخ رحمان دفتر ته ورغئ ۔ شیخ رحمان ډیر ښه موډ کښې هغه سره ملاؤ شو ۔ دَ هغه په میز باندې دَ شګفتې یو وړوکې تصویر پروت وو ۔ شیخ رحمان مسکې شو هغه تصویر یې راواغشتو او هغه ته یې اووې " دا جینئ پیژنې "؟ صوبه دار صیب تصویر ته په غور سره اوکتل او وې وئیل "نه صیب دا نه پیژنم ؟ دا څوک ده ؟

شیخ رحمان : دا زما چنغله ده ۔

صوبه دار صیب:۔ ( په مصنوعی حیرانتیا ) ستا چنغله ؟

شیخ رحمان :۔ هاؤ۔ زما چنغله ۔ دَ میراجان لور شگفته ده ۔

صوبه دار صیب :۔ تا زما دَ مشورے نه بغیر رشته اوکړه ؟ د دې خو دا مطلب شو چې تا ماسره دوستانه ختمه کړه ۔

شیخ رحمان :۔ اوه نو ۔ نو زما او ستا دوستانه چرے هم نشی ختمیدې ۔ دا دوستانه به تل تر تله وی ۔ تهٔ به واقعی په دے خفه شوے ئے چی ما تانه تپوس اونکړو خو زهٔ هغهٔ هډو تا سره مشورے ته پرے نه ښودم ۔ هغه بله ورځ ماښام میراجان راغلے وو او ماته یې په خپله دَ خپلی لور آفر اوکړو ۔ دا تصویر یې هم ځان سره راوړے وو ۔ چی تصویر مې اولیدو نو جینۍ مې خوښه شوه او خبره اوشوه ۔ په راتلونکی جمعه به زمونږ وادهٔ وی ۔

صوبه دار صیب :۔ تا چې ما سره خبره کړے وه ؟ دَ هغے به څهٔ کیږی ۔

شیخ رحمان :۔ سوری خائسته گل ۔ ماته ډیر افسوس دے چې ما تاسره مشوره اونکړهَ۔ Don't mind it ۔

صوبه دار صیب :۔ نه مائنډ کوم نه خو هسے گیله مې درته کوله ۔

شیخ رحمان ...ستا گیله منم ، هر جرم ته تیار یم ۔

صوبه دار صیب:۔ (تصویر ته گوری ) نه صیب دَ جرم ضرورت نشته خو هسے دا جینۍ ماته شگفته نه ښکاری ۔

شیخ رحمان:۔ څهٔ ؟ دا شگفته نه ده ؟ دا تصویر دَ بل چا دے ؟ داسې معلومیږی چې هغه ما سره دهوکه کړے ده ۔





صوبه دار صیب:۔ نه ، تاسره دهوکه نه ده شوے ځکه چې دَ میراجان بله لور نشته خو دا تصویر راته دَ هغې نه ښکاری ۔

شیخ رحمان :۔ دا تصویر دَ هغے نه دے ؟ تهٔ څنگه دا وائې ؟ تهٔ هغه پیژنې ؟

صوبه دار صیب:۔ تهٔ د پیژندو خبره کوې ۔ هغه زما په لاس کښې لویه شوے ده ۔ خو دا تصویر ماته دَ هغے نه ښکاری ځکه چې دیکښے او هغے کښې ډیر لوے فرق دے ۔ زما مطلب دے چې هغه دَ دے تصویر نه ډیره خائسته ده ۔

شیخ رحمان :۔ Really? واقعی ؟ ۔ تهٔ رشتیا وائی ۔

صوبه دار صیب:۔ دروغ ویل زما عادت نه دے ۔ هغه دَ گلو لخته ده ۔

She is a flower bough

شیخ رحمان:۔ But I don't Think so

صوبه دار صیب:۔ Believe me sir ۔ که هغه دے اولیده نو دا تصویر به پوتی پوتی کړے او دَ هغے خپو کښې به یې اوغورځوی ۔ مبارک شه صیب ، ته هغه خوش قسمته انسان یې چې په دے دنیا درته دَ جنت حوره ملاؤ شوه ۔

شیخ رحمان :۔ که ته رشیتا وائی نو زهٔ دَ وادهٔ نه مخکښے هغه یو نظر لیدل غواړم ۔

صوبه دار صیب:۔ Impossible ۔ ناممکنه ده صیب ۔ دَ پښتو روایات او دود دوستور کښې داسې نشی کیدے ۔ ته به هغه دَ وادهٔ نه

پس وینی ۔

شیخ رحمان:۔ ته زما څنګه دوست ئے چی دا ناممکن ، ممکن کولے نشی ۔

صوبه دار صیب :۔ اوبه شی ۔

شیخ رحمان (خاندی) اوبه شی ؟

صوبه دار صیب :۔ انشاء الله ۔

شیخ رحمان :۔ انشاء الله ؟

صوبه دار صیب :۔ By The Willing of god ۔ که الله اوغواړی ۔

شیخ رحمان :۔ خائسته ګل دا زۀ غواړم الله نه غواړی ۔

صوبه دار صیب :۔ انشاء الله ډیر ښه ټکی دی ۔ مونږ ټول مسلمانان په هر کار کښې انشاء الله وایو۔

شیخ رحمان :۔ دا څۀ دَ پاره وائی ؟

صوبه دار صیب :۔ چې الله خوشحاله شی او زمونږ کار په خیر اوشی ۔

شیخ رحمان :۔ تاسو مسلمانان ټوله ذمه واری په الله اچوی په خپله هم څه کوی ۔

صوبه دار صیب:۔ ولی صیب ته زمونږ په ډله کښې شامل نه یې ؟ ته مسلمان نه یې ؟

شیخ رحمان :۔ خائسته ګل ! دا خبره ما پټه ساتلے ده او تر اوسه مِ چاته هم نه ده ښکاره کړې خو چونکه ته زما دوست یې نو تاته پټ وایم چې زۀ مسلمان نه یم خو دَ مسلمانانو په ډله کښې شامل یم ۔ اسلام





پسند او اسلام دوست یم ۔

صوبه دار صیب:۔ دوستی به دی هله منم چې مسلمان شی ، اسلام قبول کړے او مونږ سره په یو صف کښې نمانځۀ ته اودریږې۔

شیخ رحمان :۔ څنګه مسلمان شم او څنګه تاسو سره په صف کښې نمانځه ته اودریږم زه دَ ځان دشمن خو نه یم ۔ تاسو مسلمانان په یوصف کښې ولاړ خپل ملګری ، عبادت کښې مصروف مسلمانان په بمونو الوځوی ؟

صوبه دار صیب :۔ څوک چې دا کار کوی هغه ته مونږ مسلمان نه وایو ۔

شیخ رحمان :۔ ستا په ویلو نه ویلو هیڅ فرق نه پریوځی هغوی ځان ته تا نه ښۀ مسلمان وائی more superior muslim ۔

صوبه دار صیب :۔ ته چی مسلمان نه یې نو اسلام دوست څنګه شوې ؟

شیخ رحمان :۔ او خائسته ګله ! ته نه وینې چې مونږ تاسو سره څومره مینه کوو ۔ تاسو وایئ چی "مونږ په پاکستان کښی اسلام غواړو ۔ ستاسو دا مطالبه جائز ده او دے دَ پاره مونږ تاسو سره ښه مرسته کوو ۔ خپل کور ، کلے مو پریښې دے او تاسو سره دلته په دے غرونو کښې پراتۀ یو او ستاسو مرسته کوو۔ پیسی ، وسله ، اقتصادی او عسکری مرسته درسره کوو ۔ اوس ستاسو ځینې تنظیمونه داسې دی چی هغوی دَ سره دَ پاکستان وجود نه منی ۔

مونږ وایو چې بالکل دوستي په دوستی ده چې نه منې نو مۀ منې
مونږ تاسو سره ولاړ یو ځکه چې عوام تاسو سره دی او زمونږ پالیسی
هم دا ده چې دَ عوامو دَ خواهشاتو خیال به ساتلے شی خو دے کښی
لوے خنډان فوج ، پولیس او سیاسی لیډران دی ۔ دے دَ پاره زۀ ستاسو
دَ پالیسی قدر کوم چې په فوج ، پولیس او سیاسی لیډرانو باندې حملے
کوی ۔ ته ګوره کنه خائسته ګله ! په عراق کښی مونږ دَ عوامو
مرسته اوکړه او کامیاب شو ۔ په مصر او تیونس کښی کامیاب شو ۔
اوس دَ لیبیا ، شام او دَ یمن دَ عوامو مرستې ته مو سینه تپولې ده او
لږے ورځے پس ګوره هغوی به هم دَ دغه ظالمانو حکمرانو نه ازاد شی
۔ دَ پاکستان ځینی لیډران او فوجیان وائی چی مونږ دَ هغوی ایتمی
قوت ختمول غواړو نو دَ هغوی دَ خولو بندوله دَ پاره مونږ هغوی له
هم مالی امداد ورکوو.... خائسته ګله ! که زما منې نو تۀ هم یو
تنظیم جوړ کړه ۔

صوبه دار صیب :۔ زۀ ؟ زۀ خو صیب دَ تنظیم یو ادنٰے کارکن یم ۔ زۀ به
تنظیم څنګه اوچلوم ۔

شیخ رحمان:۔ او خائسته ګله ! تۀ دَ هر څۀ نه بے غمه اوسه ۔ نوم به
ستا وی ، چلوو به یې مونږ ۔ تۀ صرف ښه اوکړه ۔ نور کار زمونږ دې۔
پیسې وسله او سړی زمونږه او نوم ستا ۔

صوبه دار صیب (خاندی) نه صیب نه ۔ زۀ بوډا سړی یم تنظیم نشم
چلولے ۔





شیخ رحمان :۔ دَ تنظیم نوم ما خوښ کړے ده ۔ دَ دې نوم به وی
"صوبه دار غلاف خان جهادی تنظیم"۔

صوبه دار صیب :۔ صوبه دار غلاف خان ؟ دا څوک دې صیب ؟

شیخ رحمان :۔ ته صوبه دار غلاف خان نه پیژنی ؟ ...ښۀ څه ... دا
یو فوجی صوبه دار وو۔ زمونږ دَ تنظیم دَ تباهۍ دَ پاره رالیږلے شوے وو
...دلته دَ رارسیدو نه مخکښے مو ختم کړو ... چې دَ تنظیم نوم دَ
صوبه دار غلاف خان شی نو دے سره به دَ آرمی مرسته پیدا شی ۔

صوبه دار صیب :۔ دَ دے تنظیم په نوم کښې یو ترمیم پکار دې ۔ او
هغه دا چې صوبه دار غلاف خان شهید شوے دې نو د تنظیم نوم
"صوبه دار غلاف شهید جهادی ګروپ" پکار دے ۔

شیخ رحمان :َ Well done ۔ ډیر ښه تجویز دے ۔ دا نوم ډیر صحی
دے ۔ تۀ ځان تیار کړه ۔ زما دَ دوستۍ نه څۀ فائده واخله ۔

صوبه دار صیب :۔ ولے نه صیب۔ زۀ تیار یم خو ما سره به پوره مرسته
کوی ۔ زۀ ګوری یو جاهل سړے یم په هیڅ نه پو هیږی ۔

شیخ رحمان :۔ کار دَ کله نه شروع کول غواړے ؟

صوبه دار صیب :۔ شیخ صیب چې تر څو مِ ستا دَ وادۀ روژے نه وی
خوړلے او ستا دَ ډولۍ مخکښے نه یم ګډ شوې تر هغے پورے هیڅ کول
نه غواړم ۔

شیخ رحمان :۔ O.K, O.K ۔ ستا خبره صحی ده خو ...هغه دَ
ملاقات خبره به څنګه شی ۔

صوبه دار صیب :۔ اوبه شی انشاء الله ۔
شیخ رحمان :۔ بیا انشاء الله ۔
صوبه دار صیب :۔ یو ځل خوزما دَ پاره اووایه " انشاء الله " ته گوره چې کیږی او که نه ۔
شیخ رحمان (مسکے شی) انشاء الله ...خو کله ؟
صوبه دار صیب :۔ نن مازیگر سپینی چینی ته راشه ۔
شیخ رحمان :۔ O.K تینک یو۔

## دویمه برخه

شیخ رحمان شپینې چینې سره جخت پټ ناست وو او دَ شگفتے دَ راتلو انتظار یې کوو۔ هغه لارے ته دوه سترگے خلور کړے وې خو دَ شگفتے څهٔ پته نه لگیده ۔ لږه شیبه پس صوبه دار صیب رابنکاره شو چې خر پسې را روان وو ۔ دَ خر پړے یو لوړ دنگ ځلمی په لاس کښې نیولے وو چې غټ پکټی یې وهلې وو ، دَ پټکی پلړ یې په مخ راخور کړے وو ، تکے سپینی جامے یې اغوستے وی او ځنگ ته یې کلاشن کوف زانگیدو ۔ شیخ رحمان ته په صوبه دار صیب غصه ورغله چې دَ وعدے مطابق یې شگفته ولے رانه وسته ۔ هغه په زړهٔ زړه کښې خوښکیدو چې هغوی سپینې چینې ته رااورسیدل ۔ دَ رارسیدو سره ځلمی او صوبه دار صیب دَ خر نه تش تیمان کوز کړل ۔ صوبه دار صیب دَ تیمانو په ډکولو شروع اوکړه او ځلمی خپل کلاشن کوف په زمکه کیښودو ۔ بیائے اخوا دیخوا اوکتل او دَ سر نه





یې پټکی لرے کړو ۔ دَ پټکی لرے کولو سره دَ هغهٔ لوے اوږدے زلفې دَ هغه په مخ او شانو خورے شوے ۔ شیخ رحمان چې ورته اوکتل نو حق دق شو څکه چې دا ځلمی نه وو بلکه یوه ښکلے پیغله وه ۔ او چې هغې په دواړه لاسه خپلی زلفی شاته واړولے او لکه دَ تورو مارانو دَ هغې په شا زانگیدے نو شیخ رحمان سم لیونو شو هغے پینځی اوچتې کړے او په مزه مزه چینی له ورغله ۔ بره صوبه دار صیب تیمان ډکول او خکته هغه په چینه کښې اودریده مخ لاس یې وینځل ۔ شیخ رحمان په زړهٔ کښی ووے چی خائسته گل رشتیا ویلی وو چی هغه دَ گلو لخته ده ۔ دَ هغے اداگانے چې دَ هغه دَ برداشت نه اووتے نو دَ پناه گاه نه بهر شو او هغے له روان شو ۔ شگفتے چې هغه اولیدو نو منډه یې کړه او خپل کلاشن کوف یې راواغشتو ۔ بولټ یې راخکو ، هغه ته یې اونیوو او وے وئیل ، "دغلته اودریږه دیخوا رانشی " شیخ رحمان په خپل ځائے ټپ اودریدو ۔ صوبه دار صیب چې هغې ته اوکتل نو وے وئیل : مهٔ لورې ، گوری ډز اونکړې ۔ راځه شیخ صیب "۔ شگفتے لا هغسے هغه ته کلاشن کوف نیولے وو ۔ شیخ رحمان چې دَ هغوی خواله راغی نو صوبه دار صیب شگفتے ته اووې:
"شگفتے لورے ، دا دې او نه پیژندو ؟ دا ستا چنغول شیخ رحمان دے ۔ شیخ رحمان مسکے شو او هغے ته یې سلام اوکړو ۔ شگفتے هغه له دَ سلام جواب ورنکړو البته اوشرمیده ، مسکی شوه او مخ یې بل طرف ته واړه وو ۔

صوبه دار صیب خپل تیمان ډک کړی وو او یو یو ئے په کجاوه کښې ایښودو ـ شګفتے خپل پټکې راواغشتو ـ خپل ویښته یې په هغې کښې پټ کړل او ول په ول یې دَ سر نه تاؤ کړو ـ بیائے دَ پټکی پلو په مخ راخوړ کړو ـ کلاشن کوف یې غاړے ته واچوو ، دَ خر پړے یې اونیوو او هغه سره روانه شوه ـ

شیخ رحمان دَ شګفتے دَ زلفو په دام کښې داسے انختی وو چی رپ قدرے یې نشو وهلے لکه دَ بت یې په غټو سترګو هغوی ته کتل او په خپل ځائے بے حسه ، بے حرکته ولاړ وو ـ شیخ رحمان په ړومبی ملاقات کښې خپله چنغله په هر روپ کښې اولیده ، دَ زلمی په روپ کښې ، دَ پیغلے په روپ کښې او دَ یوے حسینے دل ربا په روپ کښے ـ هغه په هر شکل کښې دَ حسن ملکه او د رنګونو کرشمه ښکاریده ـ هغه ډیره شیبه په چپه خله هغوی ته کتل خو چی هغوی پناه شو نو هغه هم په مزه مزه روان شو ـ

## دریمه برخه

صوبه دار صیب ماسخوتن په حجره کښې ملاست وو ـ سترګے یې پټې کړے وې او په لوے سوچ کښې ډوب وو ـ سوار خان ورسره خوا کښې په بل کټ کښې ناست وو او هغه هم په خپلو خیالونو کښې اورک ښکاریدو ـ مکمل خاموشی وه ـ په دیکښې دَ کوټے ورلړے شو او میراجان دننه راغی ـ دَ هغه دَ راتلو سره سوار خان هغه ته پاڅیدو ـ میراجان هغه ته په لاس دَ ناستے اشاره اوکړه او وے





وئیل "کینه بچی ، کینه" ـ سوار خان او میراجان دواړه په بیل بیل کټ کښې کینی ـ ، میراجان دَ سوار خان ته ګوری او وائی " ولې خائسته ګل او دۀ دې څه ؟

دَ خپل نوم اوریدو سره صوبه دار صیب سترګے غړوی او وائی " په خیر راغلې میراجانه " (صوبه دار صیب کټ کښې کینی )

میراجان :ـ خوشحاله اوسې خائسته ګله ـ ولے اودۀ وې څه ؟

صوبه دار صیب :ـ نه میراجانه اودۀ نه ووم هسے مِ سترګے پټې کړے وې ـ ته ولې وختی راغلے ؟ صیب ډوډی اوخوړه ؟

میراجان :ـ نه هغوی لا ډوډی نه ده خوړلې هغه مِ نورو ته اوسپارلو خو لږ وختی تا پسی راغلم او سوار خان سره مِ هم یو څو خبرے وې ـ دا ښۀ ده چې دواړه دلته موجود یې ـ

صوبه دار صیب :ـ وایه میراجانه ، تابعدار یم ـ

میرا جان :ـ هسے تا سره مِ د دې وادۀ دَ انتظام په باره کښې خبره کوله ـ ما وې چې دَ جمعے په ورځ زما دَ لور وادۀ دے د خیره دیکښې به ما سره دَ میلمنو خدمت ته اودریږې ـ

صوبه دار صیب :ـ ولی نه میراجانه ـ ستا دَ وینا ضرورت نشته ، دا خو زمونږه خپل کار دې ـ هر وخت تیار یم میراجانه ـ

میراجان:ـ سوار خانه ! ته هم د دې جینۍ دَ جوړو جامو څۀ بندوبست اوکړه ـ

سوار خان :ـ بندوبست شوے دې ، جوړے ، جامے ، پیزار او کالی پتری

تیـار دی ـ غـوړی او روژی بـه د دې دوکـانـدار نـه راواخلې ـ بس دغـه بندوبست دې ـ

میراجان:ـ دغه جوړے جامے او کالی پتری خو تا کړی دی ، ستادی ـ

سوار خان :ـ هر چاچې کړی دی خو دَ هغے دَ پاره یې کړی دی او هغے سره به ځی ـ

میـرا جان :ـ نه داسے نشی کیدے ـ دا ستا دی او خدایے دې ستا نصیب کړی ـ دا هر څۀ دې پراتۀ وی پکار به راشی ـ

سوار خان :ـ چې تخته لاړه نو سوباړے دې وریسې وی ـ چې لور نه راکوی نو په جامو دے اوړپورے شی۔

میراجان:ـ سوار خانه ! ستا خبرے بدلے غوندے ښکاری ـ

سوار خان :ـ وخت او حالات سره زمانه بدلیږی ، که تۀ او زۀ بدل شونو څۀ لویه خبره نه ده ـ

میراجان:ـ زۀ او تۀ ؟ څۀ مطلب ؟

سوار خان :ـ په مطلب پوهـ نشوې کاکاجی ؟ چې تا سترګے بدلے کړے نو ما خبرے بدلے کړے ـ

میـراجان :ـ ته جوړ دَ شګفتے او شیخ صیب په وادۀ خفه یې ـ دا خو ما تاته کینولے وه خو چې تانه ناپوره شوه نو هغه له مِ ورکړه ـ

سـوار خان :ـ مـانـه نـاپوره شوه کاکاجی ؟ ما خو ورله هر څۀ تیار کړی دی خـو چې تاته به مِ د یو بل په خوله اووې نو نن به شی ، صبا به شی او خبره دے لا اورسیـده چې بل له دې ورکړه ـ مانه خو به دے یو خوله





تپوس کړے وې ـ دے کور کښې خو زۀ هم ووم ـ

میراجان :ـ تا نه مِ نه دې کړے او هغے نه مِ کړے دے ـ

سوار خان :ـ هغے اجازت درکړے دی ؟

میراجان :ـ دَ هغې دَ اجازت ضرورت نشته ـ دَ هغے اختیار ما سره دے او تـا نـه مِ تپوس ځکه نه کوو چې دا هر څۀ ما ستا دَ پاره کړی دی ـ ما شیـخ صیب له خپله لور دے دَ پاره ورکړے ده چې تا امریکے ته اولیږی او چې یو ځل هلته لاړ شے نو بیا ښځے ډیرے ـ

سـوار خان :ـ امـریکے ته زما دَ تلو څۀ ضرورت دے ـ زۀ دلته دَ امریکے نـه ډیرے ګټـم ـ زۀ دَ پیسـو اوږے نـه یـم ـ ما چې څۀ غوښتل هغـه اونشـو اوس د دې ژونـد څـۀ خـوند دې ـ د دے نه به لویه بے غیرتی څۀ وی چې زما دَ امیدونو ناوے دَ بل دَ غاړے هار شی ـ

میـراجان :ـ په هلکه سوار خانه دا خوله دے بنده کړه د دې نه که شیخ صیب خبرشو نو ګوری قیمه به دې کړی ـ

سوار خان :ـ د دې بے ننګه وجود نه که قیمه جوړه شی نو بده به نه وی۔

میـراجان :ـ یـه هـلـکه ! ته جوړ په خوړو خبرو نه پو هیږې ؟ ډیر مِ ښۀ اوکـړل چې ورمِ کـړه زما خپله لور وه زما خوښخه ده چې هر چا له یې ورکوم ـ

سوار خان :ـ هر چاله یې نه ورکوې ډالرو له یې ورکوې ـ

میـراجان :ـ کـه دَ صـوبـه دار غلاف خان مخ نه وې نو اوس به مِ دَ سوار خان په لاره لیږلے وې ـ ( صوبه دار صیب سترګی اوغړوی او هغوی ته

ګوری) ۔

سوار خان :۔ که دَ چاچی مخ مِ نه وې نو اوس به مِ خپله چنغله دَ لاس نه نیولے وے او د دے کوره به اوتلے ووم ۔

میرا جان :۔ هغه نه ستا چنغله وه او نه ده ۔ هغه دَ شیخ صیب چنغله ده ۔

سوار خان :۔ دا چاچې ماته په خپله ویلے وه او تانه یې پخه وعده هم اخستے وه خو چې دَ هغې سترګی پټې شوی نو تا سترګے بدلې کړې

میرا جان :۔ ته دے چاچی په سر خیژولے وې ۔ ستا په تس کښې زما دَ ګل غوندې ځوی لاړو ۔ څه اوڅه ته هم وریسے څه ۔ سوار خان خپل کلاشن کوف لاس کښې نیسی ، پاڅی او وائی " څه خو ځم ، خو یوائځے نه ، ځان سره به خپله چنغله هم بوځم ۔

میرا جان :۔ دَ هغے نوم په خوله وانخلی ۔ څه اوڅه بے غیرته ، ته لا خبرے کوې ۔

سوار خان :۔ بے غیرته نه یم خو ستا دَ لاسه بے غیرته شوم "۔ په دیکښے دَ کوټے ورلرے کیږی او شګفته دننه راځی ۔ میراجان پاڅی او هغے ته په غصه وائی " تهٔ دلته ولے راغلے ؟ څه شابه کور ته څه ۔

شګفته :۔ بابا زهٔ واپس تلو له نه یم راغلې ۔ ما دَ واپسی لارے بندې کړی دی ۔ اودریږه سوار خانه یوائځی مه څه ، دواړه یو ځائے ځو (دواړه روانیږی صوبه دار صیب پاڅی او هغه دواړه نیسی او وائی " اودریږۍ چرته هم نشۍ تلې ۔ زه به تاسو دے بے پښتو کارته چرے هم پرے نه





ږدم "۔

میراجان سوار خان ته ټوپک نیسی او وائی " سوار خانه ! زما دَ صبر امتحان مه اخله که دا غلط حرکت دے اوکړو نو دلته به یخ پخ پروت یې ۔ په خوله کښې به دې مچان بنګیږی او څوک به دې دَ ښخولو هم نه وی "۔

سوار خان هم هغه ته کلاشن کوف نیسی اووائی " چې زهٔ مرم نو داسے ډیر به دَ ځان نه مخکښے کړم"۔

صوبه دار صیب :۔ دَ دواړو شپیلو په مینځ کښې اودریږی او وائی " یه هلکو ! تاسو خو زما صبر تمام کړو ۔ راکړه میراجانه دا ټوپک او ته هم راکړه سوار خانه ۔ (هغه دواړو نه ټوپکی اخلی او خپل کټ کښې یې اږدې)" ۔ تاسو خو دَ خود نه خبره اوویستله ۔ دلته دواړه کینۍ ،خپل اوړ پړ اوکړۍ ۔ دا دَ حوصلے خبرے دی ۔ د جنګ جګړو نه دی ۔ ټول کینۍ ....کینۍ شابۍ " چی هغوی کینی نو صوبه دارصیب میراجان ته وائی "ښه وایه میراجانه دا څهٔ قیصه ده "۔

میرا جان:۔ خائسته ګله ! دا هغه ناشکرنه دې چې زما ټول خدمتونه او ټولے خواری یې په لته اووهلے ۔ دهٔ سره ما څهٔ کړی وو او ما سره یې څهٔ اوکړل ۔ ما دهٔ له دَ پلار مینه ورکړه ۔ او .....

سوار خان :۔ تا دَ پلار مینه راکړه او ما دَ ځوې مینه درکړه ....

میراجان :۔ رشتیا خبره ده چې پردې ځوې نه خپلیږی ......

سوار خان :۔ او نه پردې پلار خپلیږی ۔

صوبه دار صیب :ـ ته چپ شه سوار خانه چی هغه خبره اوکړی ـ ښه وایه میراجانه ...خپله خبره کوه۔

میراجان :ـ خائسته ګله ! دَ نن نه شل ، پنځویشت کاله مخکښې زۀ دَ خالصے په سیمه په "وډګران" کلی کښې اوسیدم ـ خپله زمیداری به مِ کوله او ښۀ خوشحاله وخت مِ تیره وو ـ زمونږ په کلو بانډو کښې جنګ جګړے زیاتے وی ـ کله په اوبو ، کله په پوله ، کله په اونه غنه او کله په تاویلی ما ویلی جګړے کیږی ـ دغه رنګے یوه واقعه ماته هم پیښه شوه ـ چې په کلی کښې مِ ګوزاره ګرانه شوه نو زمکه مِ خرڅه کړه او کډه مِ اوچته کړه درے ته لاړم ـ هلته مِ دَ ټوپکو کاروبار کوو او ښۀ وخت مِ تیریدو ـ څۀ موده پس کاروبار مِ خراب شو ـ څه پیسے رانه اووهلې شوے څۀ په کاروبار کښې بند شوې او څۀ په تاوان کښې لاړے ـ په هغه وخت کښې ماله خدائے دوه واړۀ راکړی وو ـ سوار خان دَ شپږو ، او شګفته دَ دوو کالو خواؤ شاوه ـ خائسته ګله ! چی کاروبار مِ بند شو او تیارے پیسے ختمے شوے نو دَ پولی پړق ته کیناستم ـ ویلے کیږی چې جهنم ته یوه لاره دَ خیټې نه تلے ده ـ زۀ د دې خبرے قائل څکه یم چې زۀ هم دَ خیټې دَ پاره په هغه لارو سره شوم کومے چې جهنم ته تلے دی ـ خپلو ملګرو سره مِ دَ اغواء برائے تاوان کاروبار شروع کړل ـ پردی بچی به مو راوستل او دَ هغوی په سر به مو په لکونو روپۍ دَ هغوی دَ مور ، پلار نه اخستې ـ خائسته ګله ! دا یو قیصه ده خو مقصدی خبرے له به راشو ـ یوه ورځ مو دَ صوبه دار غلاف خان دَ شپږو اوو کالو ځوې وصال





خان اغواء کړو ـ ( دَ صوبه دار زړۀ یو توپ اووهی خو خپل ځان قابو کړی ) وصال خان زما دَ ځوی همزولے وو لکه دَ هغه ډیر خائسته ماشوم وو ـ مونږ دَ صوبه دار صیب نه دَ پنځه لاکهه روپو مطالبه اوکړه او دا دهمکی مو ورکړه چې که چرے پیسو کښی دے اخوا دیخوا اوکړل نو ځوی به درله مړ کړو ـ چې دَ پیسو په وصولۍ کښې وخت اولګیدو نو زمونږ ملګرو دَ هغۀ وژل غوښتل ـ صوبه دار صیب په دغه علاقه کښی یو بے ازاره ، خوږ طبعیته او خوږ ژبانه سړې وو ـ ما دا نه غوښتل چې هغه دے اووژلے شی البته ملګرو سره مِ هیڅ نشو کولے او هاغه به کیده څۀ چې هغوی غوښتل ـ زما ښځه چی زمونږ په نیت پوهـ شوه نو هغه یې چرته پټ کړو ـ زما ملګرو ویلے چې ماشوم راکړه ګینی مونږ له خپله حصه روپۍ راکړه ـ ما سره دومره روپۍ نه وې نو انکار مِ ورته اوکړو .... خائسته ګله ! چې اونشوه نو هغوی زما ماشوم ځوې ، زما سوار خان زما دَ غیږ نه اوشوکوو ـ هغه چغې وهلے ، ژړل یې ـ ماته یې چغې وهلے ، مور ته یې وهلے خو دَ هغوی په زړۀ کښی رحم رانغی۔ ـ هغه له یې سترګے اوتړلے او ځان سره یې ګاډی کښې کینوو ( هغه خپلی اوښکے اوچوی ) ـ کوز خوږ ته یې بوتلو او هلته یې په کانړو او ګټو داسے اوویشتلو چې دَ پیژندګلو نه یې اوویستلو ( دَ ژړا یوه چغه ) خائسته ګله ! زما سوار خان یې په دردناک مرګ مړ کړو۔ زۀ په ځان نه یم پوهـ شوې خو چې کله زۀ په سُدهـ کښی شوم نو هغه راته بیا رایاد شو کوز خوږ ته ورغلم خو هلته راته چا اووے چې هغه صوبه دار

غـلاف خان دفـن کـړے دې ـ زه صـوبه دار غلاف پسې ورغلم خو هغه کور نه وو او راته اوویلے شو چې هغهٔ چرته کډه اوړے ده ـ ( تهول ژاړی )ـ خائسته ګله ! زما ملګرو زمادَ ځوی دَ وژلو وډیو کیسټ ماته راولیږو ـ مـابـه کیسټ ته کتـل او ژړل خو دَ سوار خان دَ مور سترګو له اوښکه نـه راتله ـ هغے وې دا دروغ دی ـ زما ځوی سوار خان دا دې زما په غیږ کښې دې ـ دَ هغے ورځے نه دَ صوبه دار صیب دَ ځوی نوم سوار خان شو ـ سوار خان او شګفتے به تهوله ورځ خپلو کښې لوبے کولے ـ مور به ورتـه کتـل او خـوشـحـالیـده به ـ هغه وړوکے سوار خان او وړه شګفته لوبے شول او دواړه ستاپه مخکښې ناست دی ـ (شګفته پاڅی او کور ته ځی )

صوبه دار صیب :ـ دَ درے نه دلته څنګه راغلے ؟

میرا جان :ـ خائسته ګله ! دَګنا هونو سلسله چې یو ځل شروع شی نو بیا نـه ختـمیـږی ـ دَ سوار خان په بدل کښې ما هغه درے وانړه ملګری قتل کړل او کډه مِ اوچته کړه دلتـه راغلم ـ

صـوبـه دار صیب :ـ سوار خانه ! ته خو واقعی ناشکرته یې ـ دهٔ تا سره څهٔ اوکړل او تهٔ ورسره څهٔ کوی؟

سوارخان :ـ زهٔ ناشکرته نه یم بابا ما کاکاجی او چاچې ته دَ خپل مور ، پـلار نـه کـم نـه دی کـتـلې او چی څنګه دے خپل ځوی پسې خفه دے داسے بـه ما پسی هم خپل مور ، پلار خفه وی ـ دے ما خپل مور، پلار لـه ولـے نه بو ځی ـ بله خبره دا ده چې چاچې څو څو ځله کاکاجی سره





زمـا او دَ شـګـفتـے خبـره کړے وه او دهٔ نه یې ښه پخه وعده اخستے وه ـ خـو چـې دَ هغـے سترګے پټې شوې نو دهٔ هم سترګے بدلې کړے ـ زما یا دَ شـګـفتـے نه یې تپوس قدرے هم اونه کړو او دَ خپله ځانه یې هغه له دَ وادهٔ نیتـه ورکـړه ـ

صـوبـه دار صیب :ـ ګـوره بـچـې چې څهٔ شوے دی هغه اوشو ـ اوس دیـکښے هیڅ نشی کیدے زمونږ خیر په دیکښے دې چې دے خبرے له نـوره هـوا ورنـکـړو ـ او په چپه خوله ورته غاړه کیږدو ....که دَ باغی اواز دربـانـدے اوشـو نـو داسـے بـه دی والو ځوی چې غوښے بـه دې هم معلومے نشی سوارخانه بچې ـ

سوارخان:ـ کاش زهٔ دَ وصال خان په ځائے سوار خان وې خو چې داسے دَ بے غیرتی ورځے مِ نه وی لیدلےـ

میـراجـان:ـ خائستـه ګله ! دے پو هه کړه هسے نه چې دَ لاسه مِ خراب شی ـ

صـوبـه دار صیب :ـ تـه څـه میـراجانه څه اودهٔ شه ـ دے ماته پریږده زهٔ به یې پو هـ کړم

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★

★

## اووم باب

دَ جبران ټریننګ شروع شوې وو ۔ هغه ته کِټ ، کیت بکس او وردی بوټان وغیره ورکړے شوی وو ۔ په ړومبی ورځ چې هغه وردی واغوسته بوټان یې واچول ، ټوپۍ یې په سر کړه او په بیرک کښې لګیدلی اینے ته اودریدو نو خپل ځان یې نه پیژندو ۔ بوټانو خو لړه ډیره ګوزاره کوله خو وردی او ټوپۍ یې بالکل آن فټ وو ۔ ځان ورته ډیر بد ښکاره شو او په دے بدرنګه روپ یې طنزیه خندا هم اوکړه ۔ دغه ورځ خو یې پریډ اوکړو او تیره شوه ۔ په صبا د اتوار ورځ وه ۔ بازار ته لاړو دواړه جوړه وردی او دواړه ټوپۍ یې په درزی دَ خپل بدن مطابق فټ کړې ۔ نورو رنګروټانو دا غم نۀ کوو ۔ هغوی به وردی کښې ننوتل خو چې کله یې دَ جبران وردی اولیده نو هغوی هم ورته اوپسخیدل ۔ جبران چی به وردی واغوسته نو English knight به پکښی ښکاریده ، خوبصورته ، دلکشه اوبارعبه ۔

په پریډ کښې دَ هغه پوزیشن نمایان وو ، یو خوا دَ هغه دَ لوړې دنګه ځوانی په وجه او بل دَ هغه دَ نفاست او کارکردګی په وجه ۔ ټریننګ شروع شوے وو ، دَ الفا کمپنۍ دَ دریو واړو پلاټونو سرګرمۍ اوهلې ځلې ښه په درز کښې جاری وې خو دَ اکثرو رنګروټانو قدم نه ملاویدو ۔ دَ دریو واړو پلاټونو نو استاذانو ښه پوره کوشش کوو چې دَ هغوی هلکان دې دَ نورو نه ښۀ ثابت شی ۔ ړومبی او دویم پلاټون خو څۀ لړه ډیره ګوذاره کوله خو دَ دریم پلاټون حالت ډیر خراب وو





البته یو جبران داسې وو چې دَ هغه په کارکردګی باندې دَ استاذانو سترګې خوږیدی په دے وجه هغوی دَ هغه حوصله افزائی اوکړه ۔ جبران دَ بیدار ذهن او فولادی بدن خاوند وو ۔ دَ ماسخوتن چې به کله نور هلکان سملاستل نو هغه به غلې غوندې بهر اووتو ، پریډ ګراؤنډ ته لاړو او تر ناوخته به یې خپل پریکټس کوو۔ دَ خپل خداداد صلاحیت او محنت په وجه هغه دَ پلاټون لیډنګ پوزیشن ته اورسیدو ۔ دَ هغوی په پلاټون کښې دَ ګروپ لیډر مقابله اوشوه او هغه په ډرل کښې دَ ټولې کمپنی لیډر شو ۔ دَ الفا کمپنۍ کمپنی کمانډر کپټن آصف علی دَ یو کورس دَ پاره کوئټه ته تلے وو نو دَ هغۀ په غیر موجودګی کښې دَ دریم پلاټون کمانډر سنیر صوبه دار مستقیم خان دَ ټولې کمپنی ایکټنګ کمانډ کوو۔

چې کله جبران دَ ټولی کمپنی ډرل لیډر شو نو صوبه دار مستقیم خان ورته دَ ګروپ لیډرۍ سرے چیندی اولګولې ۔ دې سره دَ هغۀ دَ استاذانو دَ نائیک انجم او حوالدارانو سرونه دَ فخر نه اوچت شو ۔ چی کله به یې نورو استاذانو سره لیدل کتل کیدل نو غاړے به یې تازه کړې او په بریتو به یې ګوتے اووهلې ۔ دَ هغوی دا سر لوړی صرف او صرف دَ جبران په وجه وه ۔

صوبه دار مستقیم اسم باسمه وو۔ دَ یوې خبرے او دَ یوے لارے سړې وو ۔ دومره اصولی او نیغ پیغ سړې چې دَ لچک یا اعتدال ګنجائش پکښی نه وو ۔ دَ هغه یوه خبره وه ، دوست یا دشمن ، نیک یا

بد ، ښهٔ یا خراب ۔او چې په کومه خبره به اودریدو نو تر اخر به ولاړ وو ۔ دوستی یې هم ښهٔ پخه او عمری وه او دشمنی یې هم ابدی وه ۔ دَ هر سړی او هرے خبرے به یې پوره جاج اخستو او چی دَ هغهٔ په معیار به پوره اوختو نو هغه به تراخره پوره وو او که پوره به نه وو نو تر آخره پورې به نیمګړے وو۔

خپلې پیشې سره یې دومره دلچسپی وه چې دَ ژوند ټولې خوشحالۍ یې ترینه قربان کړی وې ۔ او تر دغه وخت پورې یې واده نه وو کړے ۔ هغه دَ ډرل ډیر شوقی وو او چی کله به یې دَ کمپنۍ لیډنګ کوو نو دَ نورو کمپنو استاذان به یې تماشے ته اودریدل ۔ هغهٔ دا غوښتل چې خپله کمپنی دَ پاسنګ آؤټ دَ پاره تیاره کړی او بریګیډیر صیب ته دَ هغهٔ سترګے اوچتې شی ۔ دې دَ پاره به هغه دَ پریډ په اخره کښې دَ ټولے کمپنۍ دَمشترکه پاسنګ آؤټ مشق کوو اولیډنګ به یې په خپله کوو۔ جبران دَ هغهٔ په پل ، پل کیښودو او دَ هغهٔ نه یې ډیر څهٔ زده کړل ۔ چی کله دَ مشق دَ پاره دَ کمپنۍ لیډر شپ جبران ته حواله شو نو بیا به صوبه دار صیب دَ سلامۍ په چیوتره ولاړ وو او جبران به لیډنګ کوو۔ هغه به چې کله دَ کمپنۍ لیډنګ کوو نو دَ لاسونو پوره غورځنګ (Full swing ) سره به یې لکه دَ مست مستنګ ( Mustang ) په زمکه خپه وهله چې دَ بوټانو خاؤوره به یې دَ دویم کس په خپو پریوته او چی کله به ورته دَ کمپنۍ کمانډر له طرفه دَ هیل ( Heal ) آرډر ورکړے شو نو بیا به یې دَ بوټانو





خاؤره دریم کس ته رسیده ۔

یو څو ورځے پس سنټر کمانډنټ بریګیډیر اسلم چیمه صیب بدل شو او دَ هغه په ځاے زاهد جنجوعه صیب راغی ۔ زاهد جنجوعه صیب ډیر سخت جان او سخت ګیر سړے وو ۔ پنځه کاله دَ ایس ایس جی کمانډنټ پاتے شوے وو ۔ دے نه مخکښے په کاکول کښې دَ ټریننګ ټیم ایډ جوټنټ په ښه ذمه داره عهده پاتے شوے وو۔ دَ ډرل او بینټ فائټنګ (Bayonet fighting ) ډیر شوقی وو ۔ او په تهیوری کښی دَ جذبهٔ حب الوطنۍ او جذبه جهاد داعی وو ۔ هغه به وې لښکر ِم نه دے پکار ، فوجیان ِم پکار دی ۔ زر دے نه وی ، سل دے وی خو چی جواب دَ زرو کوی ۔ فوجی به فوجی وی نور هیڅ نهٔ ،په دے وجه او دَ خپل نوم دَ مناسبت په وجه هغه په جنګ جویه او جنګ خویه ، نومونو مشهور شو ۔ دَ هغه متعلق دا ”لنګر ګپ“ دَ هغه دَ متوقع راتکونه نه مخکښے خور شوے وو خو چی کله هغه په خپله راغۍ نو ټولو ته پته اولګیده چې دَ هغه متعلق دا ټولی خبرې صحی دی ۔ دَدولس بجو نه به مخکښی هغه په دفتر کښې نه کیناستو۔ صوبه دار میجر او صوبه دار صیب ادم خان چی دَ سنټر ټریننګ ټیم ( C.T.T ) انچارج وو هغه به ورسره وو او په هره کمپنۍ او هر پلاټون به په خپله ګرځیدو او هر سړې به یې دَ نظره ویستلو ۔

صوبه دار مستقیم ته هم دَ هغه دَ رجحاناتو او میلاناتو پته لګیدلې وه نو هغه په ډرل او بینټ فائټنګ زیات زور اچولے وو ۔

یو ورځ په اخری پیریډ کښې صوبه دار مستقیم دَ سلامۍ په جبوتره ولاړ وو ، جبران تولـه کمپنی "فال اِن " کړې وه او په خپله یې کمانډ ورکوو ۔ هغه اووې "کمپنی هوشیار ....کمپنی آسان باش ..... کمپنی هوشیار ....کمپنی دائیں مُڑگی ....کمپنی دائیں مڑ " دَ خپل دی کمانډو سره هغه هم ښی طرف ته تاؤ شو او بیا لاړو په لیډنګ پوائنټ اودریدو ۔ بیا یې کمانډ ورکړو " کمپنی تیز چلی گی" ...."کمپنی تیز چل " دے سره استاذان هم په تیز چل کښې شامل شو ۔ دَ سلامۍ دَ چبوترے نه صوبه دار صیب اواز اوکړ " Swing "۔ دَ سونګ سره ، د جبران جذبه دَ کتو وه ۔ صوبه دار صیب بیا اواز اوکړو " هیل " دَ هیل سره دَ هغۀ دَ خپو تماشه دَ لیدو وه ۔ صوبه دار صیب په چبوتره ولاړ وو چې کمانډنټ صیب ، صوبه دار میجر صیب او صوبه دار ادم خان صیب درې وانړه را اورسیدل او دَ صوبه دار مستقیم صیب نه لږه فاصله باندې روستو اودریدل ۔ جبران چې هغوی اولیدل نو نور هم په جذبه کښې راغی او چی کله چبوترې ته نزدې شو نو په اوچت اواز یې اووې " کمپنی دائیں سلام کرے گی ...کمپنی ، دائیں سلام " دے سره هغه سلام اوکړو او ښی طرف ته یې مخ واړولو ، صوبه دار مستقیم او کمانډنټ صیب ، دواړو دَ جبران دَ سلام په جواب کښې سلام اوکړو ۔ چی کمپنی تیره شوه نو صوبه دار میجر صیب ، صوبه دار مستقیم ته اووې "صوبه دار صیب "دَ بریګیډیر صیب په موجودګۍ کښې ستا سلام اغشتل غیر فوجی طریقه نه ده





؟ دے ناګهانه اواز سره صوبه دار صیب روستو اوکتل ۔ رنګ یې اووهلو فوری طور یې سلوټ اوکړو او وې وئیل: سوری سر ، مانه وی لیدلی "۔

بریګیډیر صیب :۔ "Neveb mind, that,s o.k"بیا ئے د صوبه دار صیب نه تپوس اوکړو "کمپنی لیډر رنګروټ وو ؟ "

صوبه دار مستقیم :۔ Yes sir

بریګیډیر:۔ O.k. try your best

صوبه دار مستقیم :۔ Definitely. Sir

جبران صرف په ډرل یا بینټ فائټنګ کښې کمال نه لرو بلکه په P.T او جمناستک شو کښې هم یکتا وو ۔ په پی ټی شو کښې به داسې بند په بند تاویدو لکه چې دَ هغه په بدن کښې هډوکې بیخی نه وی چی بیم ته به یې لاس واچوو نو لکه دَ برلندی برپرې تاویده په جمناستک ، لانګ او هائی جمپ کښې خو ورته استاذان هم ګوته په خله وو ۔ هم دغه وجه وه چې دَ پی ټی استاذانو به دَ هغۀ ډیر قدر کوو او دَ هغه دَ ډاډ دَ پاره به یې اکثر پوره کلاس هغه ته حواله کړو ۔

په تولـه کمپنۍ کښې دَ جبران دَ صلاحیتونو خبرے کیدے ۔ هر سړې دَ هغۀ په صفت نه مړیدو او دا یې غوښتل چې په څۀ ناڅۀ طریقه هغه ته ځان نزدی کړی ۔ دَ پریډ ختمیدو نه پس به اکثر این سی اوز (NCOS) هغه له راتلل او هغه سره به کیناستل ۔ صوبه دار مستقیم هم څو څو ځله راغلې وو او دَ هغه ډاډګیرنه یې کړې وه ۔

حوالدار ميجر عبدالباسط به هغه خپلی کمرے ته غوښتو او په هغه به يې د۔ رنګروټانو فهرستونه او ډيلي پريډ سټاف سټيټمنټ " Daily parade staff statement "جوړولو ۔ دَ هغـه دومره تعلقات پـه انجم استاذ او انور استاذ ښۀ نه لګيدل ۔ څۀ کسان هغوی منعې کړل خو دَ حولدار ميجر او صوبه دار صيب دَ منعې کولو کاريې هغه ته حواله کړو خو هغه داسے چرته کولې شو ۔ هغه دَ هر چا دومره تابعدار وو او دومره خوږے خبرے به يې ورسره کولے چې هر چا به وی چی زما دے ۔ هغه دا غوښتل چی هر استاذ ترينه خوشحاله وی ۔ دا ټول دَ عمر او رتبے پـه لحاظ دَ هغه نه مشران وو او هغه ورته په درنه سترګه کتـل او په تيره تيره خو يې استاذ انجم او استاذ انور ته دَ تره او پلار په نظر کتل ۔

دَ پريډ نه روستو به پرے هم هغوی خپل حکم چلوو او هغه بـه دَ هغوی حکم په پټو سترګو منلو ځکه چې هغه به وی چې دَ يو لانس نائيک نه واخله تر يونټ کمانډنټ پورے دا ټول زما افسران دی او دَ دوی حکم منل په ما فرض دے خو چې اونشوه نو انجم استاذ او انور استاذ دواړو ورته اووې چې "زمونږ دَ اجازت نه بغير به نۀ چا سره ملاويږې او نه به تا سره څوک ملاويږی" استاذ انور خو دومره زورنه ورکړه چې دَ هغۀ په سترګو کښې اوښکې راغلې ۔ هغه ورته غټ پريکړے اووې چی "ستا استاذ زه يم ۔ زما دَ اجازت نـه بغير بـه کمانډنټ سره هم نه ملاويږی او که ماته پته اولګيده چې تا حکم





عدولی کړے ده نو هغه سزا بـه درکړم چې ټول عمر به ياد ساتې ۔ ظالمه ! تاته خو چې څوک ګوری نو په خله کښې يې اوبۀ راځی "۔ استاذ انجم دَ استاذ انور دَ وارننګ نه دا فائده واخسته چی دَ زړۀ خبره يې خلے له راغله او هډو شخوند يې پرے او نه وهلو او وے وئيل " که دَ نور چا پـه خله کښې اوبه راځی او که نه خو زمونږ په خلو کښې خو راځی " جبران هغه ته دَ معصوميت په نظر اوکتل ، په خله يې هيڅ اونه وی خو پـه زړۀ کښې يې دَ غيرت ټولې تلی په ټنګيدو شوې ۔ يـوه ورځ ورپسی حوالدار ميجر سړې را اوليږو چی دَ هغۀ کمرے ته ورشی او هغه له سټاف سټيټمنټ (Statement)جوړ کړی ۔ جبران دَ تپوس پـه غـرض استاذ انور تـه اوکتل ، هغه ورته اووې "ماته څۀ له ګورې دَ خپلې مرضی مالک يې که ورځې ورشه او که نه ورځې مۀ ورځه " جبران چې دَ هغه پـه سترګو پوهـ شو نو دَ حوالدار ميجر کمرے لانـه ړو ۔ بيا ئے دَ هغه نه دَ نه ورتلو دَ وجے تپوس اوکړو نو هغه زياته کړه "نۀ به دَ هغۀ کمرے ته ورځی او نه دَ صوبه دار صيب کمرے تـه ۔ دا دواړه ډير خطرناک دی ۔ دا يو تور مار دې او هغه بل ګنجې مار دې ۔ دَ دوی دم مونږ سره هم نشته " جبران دَ هغه په مطلب پوهـ شو خو پـه خله يې هيڅ اونه وې البتـه مسکے شو او پـه زړۀ کښې خوشحاله شو چې دا ښۀ ده چې پـه وخت خبر شو ۔ دَ هغۀ په زړۀ کښې دَ حوالدار ميجر او صوبه دار صيب نه دَ دوی په خبرو کرکه پيدا شوے وه ۔ حوالدار ميجر دَ هغه پـه رويه حيران شو ۔ دَ هغه نه يې

تپوس هم کولے شو او هغۀ له یې سزا هم ورکولے شوه خو هغه ته پته وه چې دا دَ بل چا لمسه ده او دا خیال دَ صوبه دار صیب هم وو ۔ چې دا ټول منعې شول نو بیا ورسره دَ پلاټون لوئ هلکان هم نشو ملاویدے ۔ اوس میدان دواړو استاذانو ته خالی پاتے شو ۔

ټوله ورځ به یې پرېږد کوو ۔ بیا به یې دَ هغوی ذاتی کارونه کول لکه دَ هغوی جرابے ، رومال، بنین وینځل ، دَ کنتین نه دَ چائے ۔ سگریټ ، نسوار پالش راؤړل یا څۀ نوره منډه تړه ۔ یوه ورځ ورته استاذانور اووی "راشه جبرانه په دې سر راله زور کړه "۔

جبران :۔ ولے استاذ جی په سر دې درد دې ۔ گولۍ درکړم ؟"

استاذ انور :۔ نه دَ گولۍ ضرورت نشته ، چې ستا لاس ورپوری اولگی نو په خپله به ښۀ شی "۔ او واقعی چی هغه ورله په سر لاس کیښودو نو دَ تسکین او سرور یوه لویه ساه یې واغشته او دَ هغۀ دَ لاسونو اثر لکه دَ امرت دهارا دَ هغه په ټول بدن کښې خور شو ۔ دَ زړۀ بندې دریچے یې لرې شوې او دَ هرے دریچے نه دَ ورمو چپې شروع شوې ۔ سترگی یې پټې کړے او په پټو سترگو یې دا مزے اغشتې ۔ یوه شیبه پس یې دَ هغه لاس اونیوو او ورته یې اووی " څومره پستی گوتې دې دی "۔ جبران دَ هغه خبره په بله واړوله او وے وئیل "استاذ جی که درد دې ښۀ شوې وی چی لاړ شم "۔

استاذ انور :۔ دَ سر درد مِ زړۀ ته راغی ۔ لږ لاس پرے کیږده چی ټپونه بس کړی "۔ جبران هم داسے اوکړل او واقعی چی دَ زړۀ دردونه یې ښه





شو ۔ چی څومره به وخت تیریدو هومره دَ هغوی دَ بد اخلاقئ په خبرو او حرکتونو کښې اضافه کیده ۔ بله ورځ ورته استاذ انجم اووې چی "راشه زما دَ خپو لاسونو دَ گوتو نه ټکونه اوباسه "۔ هغه واقعی داسې اوکړل اگر چه په خپلو کړو پښیمانه وو۔ یوه ورځ دَ جبران په زړۀ کښې راغله چې دَ هغوی دَ دې ناجائز او غیر اخلاقی خبرو او حرکاتو شکایت حوالدار میجر یا صوبه دار صیب ته اوکړی خو چې سوچ یې اوکړو نو په دے نتیجه اورسیدو چې دغه لارے خو دَ هغوی په وینا هغه په خپله بندے کړې دی ۔

یوه ورځ جبران مفتی ( دَ فوجیانو سپینی جامے ) واغوسته او دَ هغوی په مخکښې تیریدو ۔ دواړو استاذانو یو بل ته اوکتل او مسکی شول ۔ دَ استاذ انجم زړۀ صبر اونکړو او وې وئیل " یره جبرانه نن خو هلواق دَ تیریدو یې " جبران باندې دا خبره ډیره بده اولگیده خو دَ قهر درویش برجانِ درویش " والا خبره وه په زړۀ یې تیره کړه ۔

دَ خفگان اظهار یې ونکړو البته مسکے شو او وے وئیل "استاذ جی ستا خله وړه ده او زۀ ډیر غټ یم ، مابه څنگه هلواق تیر کړے "۔ هغه لا جواب نه وو ورکړے چې استاذ انور اووی "نه کنه ، ته پوهـ نشوې ۔ دَ انجم مطلب دا دې چې په خله کښې دې او چیچې او بیا دې غنډ تیر کړی " هغه یو څل بیا مسکے شو او وې وئیل :"سر که چیچلو ته مو زړۀ کیږی نو ما سره دَ جوارو نینی شته دے "۔ هغوی خبره نوره هم اوږدوله خو جبران په خندا شو او بهر اووتو ۔

## اتم باب

شیخ رحمان دَ صوبه دار صیب نه ډیر خوشحاله وو۔ هغه دَ هغه دَ پاره یو ناممکن کار نه صرف ممکن کړو بلکه په عملی شکل ئے ترسره کړو چې هغه دَ شګفتې سره دَ هغه ملاقات وو ۔ دَ سپینې چینې دغه رومانی منظر دَ هغه په زړهٔ او ذهن نقش شوے وو ۔ دَ هغے په وجه به دَ هغه زړهٔ هر وخت ګل وګلزار او دَ هغه ذهن باغ وبهار وو۔ په هغه خوند به هر مازیګر هغه صوبه دار صیب سره هلته تلو او دَ هغه تیر مازیګر یاد به یې تازه کوو ۔ صوبه دار صیب ته به یې دَ هغے دَ اداګانو یوه یوه خبره څو څو ځله کوله ۔ صوبه دار صیب دَ هغه په خوږ رګ ګوتے ایښے وې ۔ هغه به هم خبره تاؤله راتاؤله او هغے له به یې راوسته ۔ دَ شیخ رحمان په زړهٔ کښې څۀ داسے خبره وه چې هغه کول غوښتل خو زړهٔ یې پرے نشو کولے ۔ څو څو ځله یې په خوله راغله خو بیا پرے چپ پاتے شو ۔ دَ صوبه دار صیب نه دَ هغه هیڅ خبره پټه نه وه نو اخر یې جرأت اوکړو دَ زړهٔ خبره یې په خله راغله او وے وئیل "خائسته ګله ! دے ځائے له چې زۀ را اورسم نو بیا مِ خپے تلو ته نه پریږدی ۔ داسے معلومیږی چې د دے ځاے خاؤره زما وجود کښې ګډه ده ۔ صوبه دار یب اوخاندل هغه ته یې اوکتل او وې وئیل : " د دې خاؤره نه بلکه د دې ځائے خوش بوئی ستا په روح کښې ګډه شوے ده۔

شیخ رحمان دَ هغه دَ خبرے تائید اوکړو او وے وئل " بالکل هم داسے ده ۔

صوبه دار صیب :۔ صیب ، خوښخه دے نه ده چې دلته ستا ډولی۔





راؤړو ؟

شیخ رحمان :۔ دا خو دے ایله زما دَ زړهٔ خبره اوکړه خو څنګه ؟

صوبه دار صیب :۔ دا څۀ دومره لویه خبره نه ده صیب ۔ دلته به درله یوه ښکلے خیمه اولګوم ، قالین به پکښی اوغوړوم ۔ دضرورت او عیش ونشاط ټول سامان به پکښی سټ کړم ۔ دا ځائے به ستا کور هم وی او هنی مون سپاټ هم ۔ دلته چې څومره غیر ملکی خلقو وادونه کړی دی هغوی دَسخرانو په کورونو کښې اوسیږی خو تۀ داسے مه کوه صیب ۔ دا ځائے ستاسو دَ پاره ډیر موزون دې او دَ کیمپ نه یوے ډډے ته هم پروت دې ۔ هسے یوه خبره مِ په زړهٔ کښے راغله خو چې اوکړم او که نه ؟

شیخ رحمان :۔ وایه خائسته ګله ! څۀ ویل غواړے ؟

صوبه دارصیب :۔ هسے ما وی که ستا اجازت وی نو د دے خیمے نه چاپیره به یو څو مائنز ښخ کړو چې دا ځائے محفوظ شی او هډو څۀ خطره پاتے نشی ۔ ستاسو څه خیال دے ؟

شیخ رحمان :۔ ډیر ښۀ خیال دے ۔ ډیر اعلیٰ ۔ ( هغه دَ صیب نه چابیانے را اوباسی ) ته داسے اوکړه چې دا دَ ایمونیشن ډپو چابیانے واخله او ځان سره یې کیږده چې ستا څۀ ضرورت وی هغه ترینه راواخله او د ایمونیشن ډپو ذمه واری تاته حواله شوه ۔

صوبه دار صیب چابیانے جیب کښې اچوی او وائی "ډیره ښه ده صیب "۔

شيخ رحمان :۔ بله خبره دا ده چې مونږ سره منسلک ټولو تنظيمونو ته دَ وادۀ بلنه ورکړه "۔

صوبه دار صيب :۔ نه صيب دغه ذمه واری بل چاله ورکړه ۔ زه به ايله په مشکله دَ سيکورټي ذمه واری سمبال کړم ۔ ورځے لږے دی او کار ډير دے ۔

شيخ رحمان :۔ ډيره ښه ده ۔ تۀ دا کار اوکړه هغه به د الجهاد العالميه مشر ته حواله کړم ۔

صوبه دار صيب:۔ ډير ښۀ خيال دے صيب ۔

## ړومبۍ برخه

دَ جمعے ورځ وه ۔ دَ شيخ رحمان وادۀ دَ تاکلې شوے ۔ نيتے مطابق ښۀ په درز کښې شروع وو۔ دَ کلي هرے کورنۍ ته څۀ ناڅۀ ذمه واری سپارلے شوے وه چا شاميانے لګولے ، چا ځاروی حلالول ، څوک ديګونه ته ولاړ وو ۔ چا چونه اچوله ، چا سهرې لګولے ۔ چا ګيټ لګوو ۔ چا په شاميانو کښې کرسۍ اېښودے ، څوک سيکورټي ته ولاړ وو او څوک دَ ميلمنو سترې مشی ته ۔ ټولو خائسته جامے اغوستے وی او دَ روايانو مطابق يې غټ غټ پټکی تړلی وو۔

مازيګر نه دَ ميلمنو دَ راتلو سلسله شروع شوه ۔ په شاميانه کښې سټيج جوړ شو او په سټيج باندې نعت خوانی شروع شوه ۔ په اوچتو ځايونو څلور لوډ سپيکرے لګيدلے وې او تر لرے لرے به دَ هغوی اوازونه رسيدل ۔ دَ شيخ رحمان دَ ناوے دَ پاره خائسته خيمه لګيدلے وه ، سور قالين پکښې غوړيدلے او دَ صوبه دار صيب دَ





هداياتو مطابق دَ عيش ونشاط ټول سامان پکښې اېښودے شوے ۔ چې دا هر څۀ ټيک شو نو شيخ رحمان دَ هغې دَ معائنے دَ پاره راوستے شو ۔ هغه چې دَ خيمے سټېنګ اوکتو نو ډير خوشحاله شو او هغه ته يې اووے "ول ډن خائسته ګل : تينګ يو ۔ يو آر اے ګريټ مين"

صوبه دار صيب مسکې شو او وے وئيل : زۀ خو ستاسو نوکريم صيب ۔ ستاسو خدمت کول په ما فرض دی صيب ۔ صوبه دار صيب نن ډير خوشحاله ښکاريدو يوه ښکلې جوړه يې اغوستے وه ۔ غټې پټکی يې تړلې وو او څنګ ته يې کلاشن کوف زانګيدلو ۔ شيخ رحمان يو ځل بيا هغه ته اوکتل اووے وئيل "خائسته ګله ! نن ډيرخائسته ښکارې "۔

صوبه دار صيب :۔ ولے نه صيب ۔ نن خو زما دَ ارمانونو دَ پوره کيدو ورځ ده . . .

شيخ رحمان :۔ څۀ مطلب ؟

صوبه دار صيب :۔ واه صيب واه ته لا په مطلب پو هـ نه يې ۔ نن زما دَ صيب وادۀ دې او صيب ته لاپته هم نشته ۔

شيخ رحمان :۔ نونو دا خو راته پته ده خو ما وې که ستا څۀ بل ارمان دے ۔

صوبه دار صيب :۔ دَ ژوند ارمانونه نه ختميږی صيب چی يو ختم شی نو بل راشی او چی بل ختم شی نو بل خو اوس چی دا يو ارمان مِ پوره شی نو زۀ به خوشحاله شم ۔

شیخ رحمان :۔ خائسته ګله ! نن شپه تهٔ زمانه مهٔ خوځه ۔ تهٔ به ما سره یې ۔

صوبه دار صیب:۔ نه صیب نه ، زما دومره کارونه دی چې سرګرولو ته اوزګار نه یم ۔ ته ورځه میلمنو سره کینه او زهٔ ورځم چې هغه جینئ تیار کړم ۔ دَ ماښام تیاره اولګیده . . .ښه صیب زهٔ درنه ورځم چی ستا ډولئ راؤړم ۔ زما نه بغیر هغه څوک ډولی کښې نشی کینولے ۔

دے سره صوبه دار صیب دَ میراجان دَ کور پلو روان شی ۔ په لاره کښې ورسره سوار خان ملاؤ شی او هغه ورته په غوږ کښې څهٔ اووائی ۔

صوبه دار صیب سر اوړکوی او هغه سره روان شی چی حجرے ته اورسیدل نو په کوټه کښې یو سړې ناست وو ۔

سوار خان هغه ته اووے ۔ بابا دا ستا میلمه دې ۔

صوبه دار صیب هغه له لاس ورکړی او وائی " او مِ نه پیژندے صیب "؟

میلمه :۔ تا اونه پیژندم خو ما په اوله ورځ پیژندلے وې صوبه دار غلاف خان صیب "

صوبه دار صیب : صوبه دار غلاف خان صیب ؟ تهٔ تیروتے میلمه ۔ زما نوم خائسته ګل دے او زهٔ صوبه دار نه یم خو دا راته اووایه چې ته څوک یې ؟

میلمه :۔ زهٔ هغه سړې یم چې تاسره په ړومبی ځل دَ غر دَ لارے او دَ





سړک دَ لارے په سنګهم ملاؤ شوے وو ۔

صوبه دار صیب :۔ ښه ډیره ښه ده ۔ اوس ته ما ته څهٔ ویل غواړې ؟

میلمه :۔ زهٔ تاله ستا دَ شهادت مبارکئ درکولو له راغلے یمَ

صوبه دار صیب :۔ څهٔ مطلب ؟

میلمه :۔ په مطلب پوهـ نشوې ؟ ستا اطلاع ما شیخ رحمان له هم ورکړے ده او هغه ستا انتظار کوی " هغوی لا دا خبرې کوی چې په لوډ سپیکر اعلان اوشی "خائسته ګل بابا چې هر چرته وی ، زر تر زره دې شیخ رحمان صیب له راشی "۔

میلمه :۔ وو دے ریدل ۔ ورشه صوبه دار صیب ، شیخ رحمان ستا انتظار کوی ۔

صوبه دار صیب :۔ زهٔ ورځم خو ته راته ځان اوښایه چې ته څوک یې ۔

میلمه :۔ زهٔ هم ستا غوندے صوبه دار یم ۔ ته ریټائر شوے یې او زه حاضر سروس یم ۔

صوبه دار صیب :۔ ډیر نمک حرام یې ۔ غدّاره دَ وطن خاؤرے سره غدّاری کوې ۔ هغه وطن سره چې لکه دَ بچی یې تهٔ په خپله سینه لوبولے یې هغه وطن سره چې دَ هغه په خاؤره کښې تا خړپوسے کړی دی ۔ هغے خاورے سره چی تا پرے پاپلې کړے دی ۔ ته هغه وطن سره غدّاری کوې دَ چا دَ تحفظ چی تا قسم خوړلے دې ، میر صادقه ، میر جعفره ۔

میلمه طماچه را اوباځی ، هغه ته یې نیسی او سوار خان ته وائی " دا

دَ تنظيم غدّار لا تا حجره کښې ساتلې دې ؟ دا خو ناسور دے ناسور ۔
اجازت راکوه چې جنت ته يې اوليږم ۔
سوار خان :۔ نه صوبه دار صيب ! دا زما کار دے ۔ راکړه دا طماچه چې دا ثواب زۀ اوګټم اورشتيا چې طماچه ستا وی او ګوته زما وی نو ثواب به دَ دواړو اوشی ۔ خو هسے يو تپوس کوم درنه چی تا واقعی دَ خپل وطن دَ عزت دَ تحفظ قسم خوړلے دې ۔
ميلمه صوبه دار :۔ ما داسے قسم نه دی خوړلے چې تر قيامته پورے به يې حفاظت کوم ۔ دا خو مړه يو رسمی کار دے ۔ دا څۀ دومره لويه خبره نه ده ۔
سوار خان :۔ او بابا تا څنګه قسم خوړلے دې ( هغه ته طمانچه نيسی ) په دے کښی يو زلمی دَ بهر نه راځی او اودريږی ؟
صوبه دار صيب :۔ ما داسے قسم خوړلے دې چه دَ وينے تر اخری څاڅکی او آخری سلګۍ پورے به دَ خپل وطن حفاظت کوم ۔
سوار خان :۔ او دَ تنظيم وفاداری ؟
صوبه دار صيب :۔ د دې قسم مانه دې خوړلے او نه خوړلو ته تيار يم ۔
سوار خان :۔ د دے مطلب دا دې چې ته صوبه دار غلاف خان يې ۔
صوبه دار صيب :۔ صوبه دار غلاف خان به هله شم چې دَ وطن دَ غدارانو او دَ وطن دَ دشمنانو په لاشونو غلافونه اوغوړوم ۔
سوار خان :۔ مونږ په دے ثواب کښې نه شريکوی بابا ؟ ( دے سره ناګهانه طماچه ميلمه صوبه دار ته راړوی او وائی هغه ژبه چې دَ وطن





دَ تحفظ قسم پرے اوخوړے شی او په خپل اقرار ثابته پاتے نشی دَ هغے پرے کول پکار دی " دے سره دَ هغه په خوله طماچه اړدی او ګوته راکاږی ۔ ډز سره هغه دَ کټ نه لاندې پريوځی ۔ لتی او ډکوی اوساه ورکړی ۔ سوار خان صوبه دار صيب ته ورغاړوځی او وائی "بابا اوس خو راته اووايه کنه چې ته صوبه دار غلاف خان يې "۔
صوبه دار صيب :۔ سوارخانه بچی ۔
سوارخان :۔ سوار خان نه ، وصال خان ۔
صوبه دار صيب :۔ ښه وصال خانه بچے ( مسکے شی ) دے سره به بيا ګورو اوس وقت نشته ۔ شابې خپل کار اوباځی خپل خپل مقام ته ځان اورسوی ۔
سوار خان روستو ځلمی ته ګوری او وائی ۔ " څه شګفتے خپل مقام ته ځان رسوه ۔ هغوی دواړه بهر اوځی نو صوبه دار صيب دَ خرکته اوشلوی او دَ هغے نه بمونه او ګرينيډو را اوباځی هغه لا په دغه کار کښې اخته وی چې ديکښے دوه زبردستے چودنے اوشی ۔ او دواړو سره دواړه جنريټرے والوځی او هر طرف ته تياره شی ۔ صوبه دار صيب بمونه او ګرينډو خپل ګوډی کښی واچوی او په تيارۀ کښې په يوه منډه بهر اوځی ۔ چی کيمپ ته نزدی شی نو دَ خفيه ځايونو نه ريموټونه را اوباځی ۔ او واره په واره ټول راکاږی ۔ په ايمونيشن ډپو کښې دهماکے شروع شی ۔ د تهه خانے بالائی حصه والوځی لاندې کينی او هرے خوا ته ګرز ګروز وی ۔ بيا دَ خپل ګوډی نه ګرينيډو نه

رااوباځی او دَ وادهٔ شامیانو ته اولی هر طرف ته لوګی وی او په لوګو کښې چغې ، ژړا او فریادونه وی ۔ صوبه دار صیب لاره بدله کړی او دَ شیخ رحمان خیمې ته ځان اورسوی ۔ شیخ رحمان زخمی شوې وی ، په خیمه کښې پروت وی او چا سره په موبائیل خبرې کوی ۔ صوبه دار غلې غونډې خیمې ته نزدې شی ۔ کلاشن کوف هغه ته نیسی او چی ګوته راکاږی نو دَ هغه خبره نیمګړې پاتې شی او خپی اوټکوی ۔ بیا لاره بدله کړی او دَ غر سرته خیژی ۔ دَ غر په سر باندی یوه ونه ولاړه وه ۔ صوبه دار صیب خپل ګوډې او وسله لاندې کیږی ۔ دَ پټکی دَ ول نه دَ پاکستان جهنډا را اوباځی ۔ چی اونې ته اوخیژی او جهنډه اولګوی نو مسکې شی ، او ښکل یې کړی ۔ درې ځله د الله اکبر چغې اووهی ، دَ هغې په جواب دَ وصال خان او دَ شګفتې دَ طرف هم دَ الله اکبر چغې راشی ۔ دې نه پس دَ پاکستان زنده باد درې چغې اووهی دَ هغې په جواب کښې هم دَ هغوی چغې راشی ۔

صوبه دار صیب لا په اونه کښې وو چې دوه هیلی کاپټرې راغلې او سپینی چینی سره خوا کښې کوز شوې ۔ صوبه دار صیب ته پته اولګیده چې دا دَ نیټو له خوا کمک دې دَ هغه زړه دَ خوشحالۍ نه په ټوپونو شو۔ چی کوم ځیز هغه په اسمان کښې غوښتو هغه خداې زمکې ته او دَ هغه خواله را اورسوو ۔ هغه زر زر دَ اونې نه راکوزیدو خو چې کله دَ اونې اخرې ته را اورسیدو نو خپه یې اوخویده او لاندې په ګټه راپریوتو ۔ دَ پریوتو سره یې تندې په کانی اولګیدو او لاس یې دَ





بل کانړی او دَ خپل بدن په مینځ کښې راغی او مات شو ۔ صوبه دار صیب دَ درد نه سم لیونې شو خو همت یې بایې نه لو ۔ دَ لاس هډوکے یې په ګرمه ګرمه کښې خپل پیوند ته اورسوو ۔ ، دَ پټکی څهٔ حصه یې ترینه تاؤ کړه او په څهٔ یې غاړې پورې اویزانده کړو ۔ خپل ګوډی نه یې دوه خطرناک ګرینیډونه په داسې وخت کښې رااویستل چې دَ نیټو اهل کار دَ هیلی کاپټرونه کوزیدل ۔ پرله پسې یې دواړه په هغوی ورګوزار کړل۔ دې سره دوه دهماکې اوشوې او بیا دهماکو پسې دهماکې شروع شوې ۔ په دواړو هیلی کاپټرو وور اولګیدو او په هغې کښې دننه ګوله بارود او بمونه په خپله چودل ۔ دَ صوبه دار صیب زړه په دې صبر اونکړو ، کاشن کوف یې راواخستو چې ښه پرې زړه یخ کړی خو افسوس چې کلاشن کوف هغه نشو ټینګولے ، دَ لاس نه ئې اوخویدو او لاندې پریوتو ۔ بیا ئې دَ ګوډی نه دوه پټرول بمونه راواخستل او هغه یې پرې ورګوزار کړل ۔ په لاشونو او زخمیانو وور اولګیدو او دَ هیلی کاپټرو وور تازه شو ۔

صوبه دار صیب چې په لنبو کښې دَ ماحول جائزه واخسته نو لویه تباهی یې اولیده ، بیا ئې دَ ګوډې نه یوه کیمره را اوویستله او دَ تباهی فوټوګرافی یې اوکړه ۔ دې سره سره یې پاس دَ نختر په اونه کښې دَ پاکستانی جهنډې دَ رقص تصویر کشی هم اوکړه ۔ دې سره یې یوه لویه ساه واخسته ۔ د تندی وینه یې په لستونی اوچه کړه ، ګوډې یې غاړې ته واچوو ، طماچه یې په لاس کښې اونیوه او رو رو

په بدله لاره دَ غر نه راکوز شو او دَ میراجان کور ته روان شو ۔ په لاره کښې ډیر لاشونه او زخمیان پراتۀ وو خو هغه په منډه وو ۔ چې حجرے ته اورسیدو نو خر ولاړ وو ګوتاوه یې خوړله ۔ صوبه دار صیب هغه کته کړو ، کجاوه یې پرے کیښوده ، دَ حجرے نه یې بهر کړو ، خپه یې پرے واړوله ۔ او په سړک روان شو۔

صوبه دار صیب غوښتل چې زر تر زره هغه ځائے ته اورسی کوم چې دَ ملاویدو دَ پاره هغه وصال خان او شګفتے سره ټاکلې وو۔ بله دا چې هغه ته پته وه چې دَ نیټو له خوا یوه بله حمله کیدونکی ده ۔ دَ ډرون حمله هم قرین قیاس وه دے دَ پاره هغه کوشش کوو چې زر تر زره د دے ځاے نه اوځی ۔ خر هم ښه دمه وو هغه منډے اومستی یې شروع کړه چې په لږ ساعت کښې هغه د کلی دَ حدود په اخری برید روان چې په دیکښے دوه ډرونز راغلل ۔ دواړو په کلی لائټونه راښکته کړل او ټوله علاقه یو سپین پړق شو ۔ هغه اوشو چې دَ څه نه صوبه دار صیب تیښته کوله ۔ دواړو په کلی شپږ، شپږ میزائیل خلاص کړل او په لږ ساعت ټول کلی وران او نر ، ښځے او واړۀ ، زاړه مړۀ او زخمیان شو۔

صوبه دار صیب خر له پونده ورکړه چې مقرره ځائے ته اورسیدو نو هلته وصال خان او شګفته نه وو ۔ صوبه دار صیب په زړه او خوړه چې شهیدان شوی دی ۔ دے سره دَ هغه زړۀ اوخویده او دَ مایوسی تیرے یې په یخ بدن خورے شوے ۔ زخمونو یې دړدونه شروع





کړل خو دَ ځان پرواه یې اونکړه ، دَ خر نه کوز شو او دَ هغوی انتظار یې کوو ۔ څۀ وخت پس دَ هغه په زړۀ کښی راغله چې کیدیشی هغوی ژوندی وی او مخکښے تلے وی ۔ په دے خیال هغه په زمزمبولی بیا په خر سور شو او دَ نعرۀ تکبیر چغه یې اوویستله ۔ دَ لرے نه دَ الله اکبر یوه وړه چغه راغله ۔ دا اواز دَ شګفتے وو ۔ صوبه دار صیب په زړۀ کښے اووے چې دَ وصال خان اواز ځکه رانه غی، چې کیدیشی هغه شهید شوے وی ۔ مختلف وسوسے دَ هغۀ زړۀ له راتلے او په مختلفو لارو تلے ۔ بهر حال هغه خپله منډه جاری اوساتله ۔ چې لږ مخکښے لاړو نو دَ وصال خان فریاد یې وورېدو ۔ چې هغه ورته خیال اوکړو نو شګفتے هغه په غیږ کښې اخستو وو او په تیزو قدمونو مخکښے روانه وه دَ صوبه دار صیب زړۀ وار اونکړو په بے صبری، سره شګفتے ته اووے ”ولی بچے وصال خان زخمی دے ؟ شګفتے په ساه ختلی انداز کښی اووے ”هاؤ بابا وصال خان زخمی دے“۔ صوبه دار صیب په وارخطائی کښی اووے ”اودریږه لورے زۀ درغلم“ دے سره هغه دَ خر نه کوز شو ۔ شګفتے له ورغی، دَ هغے دَ غیږ نه وصال خان خپلې غیږ ته اړولو خو مات لاس دَ صوبه دار صیب ملګرتیا اونکړه دَ لاس نه یې اوخویدو او دواړه لاندے په زمکه پریوتل۔ دَ پریوتو سره دَ دواړو دَ خولو نه دَ ”وی“ اواز اوشو خو دے نه پس دواړه خاموشه شول ۔ شګفتے په صوبه دار صیب او وصال خان ځو ځو اوازونه اوکړل خو یو هم جواب ورنکړو ۔ دواړه په زمکه بے هوشه پراتۀ وو ۔ یوه شیبه پس هغے دواړه

اوچت کړل او په کجاوه کښې کېښودل ۔

صوبه دار صیب او وصال خان ، دوه انډی دَ دوو لاشونو غونډې په خر پراته وو او شگفته ورپسې روانه وه ۔ هغے دَوصال خان جامے اغوستې وې ۔ دَ هغه څادر یې دَ ځان نه تاؤ کړے وو او خپل تور پړونې یې دَ پټکی په شکل په تړلې وو ، خپل او دَ وصال خان کلاشن کوفے یې څنګ ته اچولے وې او دَ شپاړس ، او ولس کلیز زلمی غونډې یې خر پسې ټپال کوو۔ دا سړک څۀ باقاعده سړک نه وو بلکه دَ لوړو دنګو غرونو او اونو بوټو کښې یوه پلنه او کچه لاره وه چې ټوله ختنه او کوزیدنه وه ۔

څۀ ځائے پورے خر خپله مړانه اوښودله او ښۀ په منډه روان وو خو چې څومره به مخکښے تلو هومره دَ هغۀ په رفتار کښې سستی او دَ هغۀ په توانائی کښې کمی راتله ځکه چې بارګې دَ خرګی دَ وزن نه دروند وو ۔ دَ هغه بے واره بیناړې دَ غرونو په مینځ او خاموشه فضا کښې دَ انګازو تسلسل وو۔ چی سترې شو نو خپې یې کجې۔ شوی او سترګے یې تېغی شوے خو خپل مالک سره یې خپله وفاداری نه پریښوده ، سر یې ړکوو او مخکښې روان وو ۔ یو ځائے داسې راغی۔ چې د یوے گټې سره یې تیندک اوخوړو او ناګهانه په زمکه راپریوتو ۔ دے سره هغوی دواړه په یو بل لاندے باندے پریوتل ۔ ۔ دَ وصال خان سر دَ صوبه دار صیب په سینه داسے پروت وو لکه یو وړوکې چې دَ خپل پلار په سینه اوده وی ۔





شګفتے خر پاسوو ، یو بوټی پورے یې اوتړو ، بیا ئے کجاوه اوچته کړه او یو خوا ته یې کېښوده ۔ دے نه پس راغله هغوی سره جخته کېناسته ۔ د وصال خان سر یې اوچت کړو په یو پټون یې کېښودو او دَ صوبه دار صیب سر یې په بل پټون ۔ دواړه پلار او ځوې دَ هغے په غیږ کښې بے هوشه پراتۀ وو او هغه ورته خفه ناسته وه ۔ دَ هغے په زړۀ کښې دا حدشه وه چې هسے نه دَ کلی خلق هغوی پسی په افه راؤځی ۔ او هغوی اونیولی شی ۔ اګر چه په ظاهره څۀ داسے خطره نه وه ځکه چې دَ کلی خلق په خپل غم اخته وو خو بیا هم د امکان تردید نشو کیدے ۔ دَ هغے تلوسے رو رو زیاتیدے او خبره دے له راغله چې هغه دومره شک منه شوه چې دَ امکان خبره ورته یقینی ښکاره شوه ۔ دَ پانی کش سره به یې بدن بوګنیدو او مخکښې روستو او اخوا دیخوا به یې په یره کتل او په زړۀ کښې به یې وی چې دا دې راغلل هغه دے راغلل ۔ هغه نه پو هیده چی څۀ اوکړی ، دَ هغوی مقابله اوکړی ، په مقابله کښې سر کیږدی او که سر بچ کړی خو خبره یوائے دَ هغے دَ سر نه ده بلکه دَ صوبه دار صیب او دَ وصال خان دَ سرونو هم وه ۔ هغه په خپل ځان نه وه خو په هر قیمت او هره طریقه یې هغوی بچ کول غوښتل ۔ دا صرف دَ هغے وهم وو ګینی دَ جنریټرو په تباهی او په نوره کاروائی کښې هغوی نه چا لیدلی وو او نه پرے دَ چا شک راتلو ۔ دَ هغے په زړۀ کښې راغله چی هغه زر تر زره د دغه ځائے نه اوځی او مخکښے فوجی کیمپ ته ځان اورسوی ۔ خو څنګه ؟

بیا ئے په ذهن کښې یو ترکیب راغیٔ چې صوبه دار صیب په خر او تړی او وصال لکه د مخکښے غونډې په غیږ کښې اونیسی ۔ په دے اراده هغے دَ پاڅیدو کوشش کوو چې لرے یې رڼا اولیده ۔ دَ رڼا په لیدو سره دَ هغې وسوسے نورے هم زیاتے شوې ۔ هغے په زړه اوخوړه چې دا دَ نورو تنظیمونو خلق دی چې دَ کوزے باندے دَ خلقو دَ امداد د پاره راځی ۔ هغے دواړه کلاشن کوفے دَ اوږے نه کوزے کړے ۔ یو یې په زمکه کیښودو او بل یې په لاس کښې اونیوو۔ چې څومره به رڼا زیاتیده هومره دَ هغے دَ زړهٔ درازا زیاتیده ۔ کیده کیده چې رڼا نزدے شوه او هغې ته مخامخ شوه ۔ هغه ته دواړه زخمیان او خر دَ ګاډی په رڼا کښې صفا ښکاریدل ۔ دَ رڼا په لیدو باندے خر اوپرشیدو او هغوی ته یې اوکتل ۔ شګفتے دَ ګاډی رڼا ته سترګے نشوی نیولے او سترګے به یې پټولے ، غړولے او زبولے ، دا رڼا دَ یو فوجی ګاډی دَ لائټونو وه چې دَ هغوی طرف ته روان وو ۔ ګاډې چې دَ هغوی خواله را اورسیدو نو اودریدو ۔ په ګاډی M.G لګیدلی وو او دوه سپاهیان ورته ګوته په کوتری تیار ولاړ وو۔

دَ مخکښے سیټ نه یو کس کوز شو ، هغے ته یې ټوپک اونیوو او وے وئیل "تهٔ څوک یې او دلته څهٔ کوے ؟

شګفتے هغه ته په یره اوکتل او وے وئیل "دا دوه کسان په دهماکه کښې زخمیان شوی دی ۔ دوی مِ فوجی هسپتال ته اوړل خو خر راته پل اولګوو او دلته مِ ترینه کوز کړل ۔





فوجی :۔ وسله په زمکه کیږده او ته پاڅه "شګفته کلاشن کوف په زمکه کیږدی ، بیا دَ صوبه دار صیب او وصال خان سرونه په زمکه کیږدی او پاڅی ۔

فوجی :۔ څادر لرے کړه او لاسونه اوچت کړه " شګفته څادر لری کړی او لاسونه اوچت کړی ۔ فوجی چې اصل کښې میجر یاسر وو یو سپاهی ته وائی "راشه هلکه د دهٔ جامه تلاشی واخله " سپاهی چې دَ شګفتے تلاشی پسی روان شو نو هغے ورته اووے ، "دغلته اودریږی دیخوا رانشی " سپاهی اودریدو او میجر یاسر ته یې اوکتل ۔ میجر یاسر هغے ته په دروند اواز اووے "تلاشی ولے نه ورکوې ؟

شګفته :۔ تلاشی ؟ ....تلاشی ؟

میجریاسر:۔ هاؤ ستا دَ بدن تلاشی ، ستا دَ سامان تلاشی ۔

شګفته:۔ وروره سامان مونږ سره نشته ۔ دا دوه کلاشن کوفے دی ۔ دا مو دَ خپل حفاظت دَ پاره راخستی دی ۔ نور څه راخخه نشته او دَ بدن تلاشی تهٔ نشی کولے ۔

میجریاسر:۔ چې تلاشی نه ورکوې نو هسپتال ته به څنګه اورسې ۔ مونږ خو دَ تلاشی نه بغیر څوک ګاډی کښې نه کینوو۔ تلاشی ورکړه چې ګاډی کښې دے کینوو او هسپتال ته مو یوسو۔

شګفته :۔ نه وروره خفه کیږه مه ، سړی دَ ښځو تلاشی نشی کولے ۔

میجریاسر:۔ دَ ښځو نشی کولے ، ستا خو کولے شی کنه ۔

شګفته :۔ فوجی وروره زهٔ هم ښځه یم ۔

میجر یاسر :۔ زۀ څنګه یقین اوکړم چې ته ښځه یې ۔

شګفته په یو لاس دَ سر نه پټکی لرے کوی ۔ دَ هغې ګیدۍ زلفې دَ هغې په مخ او اوږو خورے ورے راپریوځی ۔ بیا سر له څنډ ورکړی او مخ یې په داسے انداز ښکاره شی لکه سپوږمۍ چې دَ تورے وریځے نه مخ بهر کړی ۔ میجر یاسر ډیره شیبه هغې ته حیران حیران ګوری او دَ هغې دَ حسن په تماشه وی بیا وائی ' ستا نوم څۀ دے "۔

شګفته :۔ وروره زما نوم شګفته دے ۔

میجریاسر :۔ o,k ، خپل پټکی دې اوتړه "۔ شګفته چې پټکی اوتړی نو بیا وائی " اوس ستا څۀ نوم دے "۔

شګفته :۔ شګفته ۔

میجر یاسر :۔ شګفته نه شګو ۔ (بیا سپاهیانو ته وائی ) "دا زخمیان ګاډی کښې واچوی او تۀ شګو دوی سره کینه ۔

شګفته:۔ ښه وروره ۔

چې ګاډی روان شی نو شګفتے میجر یاسر ته وائی "وروره ، خر او کجاوه پاتی شو"

میجر یاسر:۔ چې تاسو اورسوو نو دوی سره به بیا ګورو ۔

## دویمه برخه

صوبه دار صیب او وصال خان دَ میجر یاسر په نګرانۍ کښې په ایمرجنسی میډیکل کیمپ کښې داخل شو او شګفته یې ځان سره دفتر ته راوسته ۔ هلته یې ځان سره کینوله او دَ هغې نه یې دَ





دهماکو په حقله تپوسونه شروع کړل ۔ شګفتے غټ پټکے ترلے وو او دَ پټکی یو پلویې په خوله راخور کړے وو ۔ دَ تپوس نه مخکښے میجر یاسر هغې ته اووې چې "ترسو کیدے شی تۀ دَ نارینه په روپ کښې اوسه او که بیا نه کیده او ضرورت پیښ شو نو ګورو به ۔ فی الحال ستا نوم شګو شو "۔

شګفته مسکۍ شوه او وے وئیل "صیب تۀ ماته شګو ولې وائی "۔

میجر یاسر :۔ ستا دَ نوم مناسبت سره تاته شګو وایم ۔ دَ جینۍ په روپ کښې ستا نوم شګفته دے ، دَ هلک په روپ شګو دے "۔

شګفته :۔ صیب شګو خو مونږ بے وقوف ته وایو ۔

میجریاسر :۔ ته هم بے وقوفه یې کنه ۔ په داسے حال کښے او په داسے توره شپه څوک دَ کوره بهر اوځی؟

شګفته:۔ څۀ مِ کړے وې صیب ، دوه زخمیان راته پراته وو ۔

میجریاسر دَ هغې بیان ټائپ کولو دَ پاره ټائپ ریکارډر آن کوی او هغې ته وائی "دا ستا څۀ دی ؟

شګفته :۔ دا یو زما چنغول دے او دا بل مِ بابا دے ۔

یاسر:۔ د دوی څۀ نومونه دی ۔

شګفته :۔ زما دَ چنغول نوم وصال خان دے او دَ بابا نوم خائسته ګل دے ۔

میجر یاسر :۔ تاسو دَ کوزے بانډے یې

شګفته :۔ هاؤ صیب ۔

میجریاسر:۔ دهماکه چې کیده نوته چرته وې ؟

شگفته :۔ زۀ خپل کور ووم صیب ۔

میجر یاسر:۔ دهماکے ځنګه اوشوے ۔

شگفته:۔ مخکښے جنریټرے والوتلے بیا نورے دهماکے اوشوے ۔

میجر یاسر:۔ تاته ځنګه پته اولګیده چې مخکښے جنریټرے والوتے ۔

شگفته :۔ ماته ځکه پته اولګیده چې رومبو دهماکو سره بجلی لاړه او تیاره شوه ۔

میجر یاسر:۔ نورے دهماکے دے نه روستو اوشوے ؟

شگفته:۔ هاؤ صیب ۔

میجر یاسر:۔ ټولے څو دهماکے شوے دی ۔

شگفته:۔ په سرونو ، په زرګونو ۔

میجر یاسر :۔ دَ نقصان څۀ اندازه درته لګی ؟

شگفته:۔ لویه تباهی شوے ده صیب ۔

میجریاسر:۔ جانی ، مالی او که مکانی ؟

شگفته :۔ درے واړه ۔

میجریاسر:۔ ډرونز حملے دے نه روستو اوشوے ؟

شگفته :۔ هاؤ صیب ۔

میجر یاسر:۔ څو توغندی خلاص شوې دی ۔

شگفته :۔ دولس ۔

میجر یاسر :۔ وصال خان او خائسته ګل ځنګه زخمیان شو۔





شگفته:۔ داسے لکه نور خلق چې زخمیان شو ۔

میجر یاسر:۔ زما مطلب دې چې هغوی هغه وخت کوم ځائے وو ۔

شگفته :۔ هغه سړی دی او سړی بهر ګرځی ، زۀ خو هغوی سره نه ووم ۔ بله دا چې دا دهماکے دَ ماښام او ماسخوتن ترمینځه شوی دی ۔ دغه وخت خو ټول سړی بهر ګرځی ۔

میجر یاسر:۔ اوریدلے مې دی چې په دغه ورځ په کوزه بانډه کښې واده وو ؟

شگفته:۔ دا معلومات ماته نشته ۔

میجر یاسر :۔ معلومات درته نشته او که ویل نه غواړے ۔ شګو! شګو! ستاسو په کلی کښې وادۀ وو او تاته پته نشته ؟ او وادۀ هم څۀ معمولی نه بلکه ډیر لوے ۔ ښه دا راته اووایه چې ته شیخ رحمان پیژنی؟

شگفته:۔ زۀ پردی سړی نه پیژنم ۔

میجر یاسر:۔ میراجان پیژنے دَ هغه دَ لور شیخ رحمان سره واده وو ۔

شگفته :۔ دا معلومات ماته نشته ۔

میجر یاسر :۔ اوهو ۔ تۀ رشتیا شګړیې ۔ ښه یو اخری تپوس درنه کوم چې دا دهماکے ځنګه اوشوے او چا اوکړے ؟

په دیکښے یو لوړ دنګ نیم ځالے سړې په خندا خندا راغی ۔ سلوټ کوی بیا میجر صیب لاس سره ملاوه وی ۔

میجر یاسر :۔ هیلو حوالدار میا ن خان ۔ راځه کینه " حوالدار میاں

خان کېنی او وائی " صیب د دے ماشوم نه څۀ تپوس کوی ؟ او ولی صیب تاته پته نشته ؟ دا کار ، دا دومره لوے کار دَ حوالدار میاں خان نه سیوا څوک کولے شی ۔ داسے تباهی مِ ورله اوکړه چې ایله مِ پرے دا زړه یخ شو ۔ ماخو کرنل صیب له په هغه وخت مبارکی ورکړے ده او تاله هم مبارکی له راغلے یم ۔ مبارک شه صیب ۔

میجریاسر:۔ خوشحاله اوسے ... ښه حوالدار میاں خان ! دهماکے تا اوکړے ؟

حوالدار میاں خان :۔ بالکل یعنی دے بندۀ ناچیز حوالدار میاں خان اوکړې ۔

میجر یاسر :۔ تاسره څۀ ثبوت دے چې تا اوکړے ۔

حوالدار میاں خان :۔ د دې ثبوت به درته هله ملاؤ شی چی یې په خپلو سترګو اووینې ۔ ټول کیمپ مِ تباه کړے دے ۔

میجر یاسر :۔ ښه تۀ خپله کارګزاری بیان کړه ۔ وایه ۔

حوالدار میاں خان :۔ کارګزاری خو ما کرنل صیب ته بیان کړے ده او که تاسو اوریدل غواړئ نو تاسو ته به هم اووایم خودا هلک ناست دے ؟ ...خبره سکرټ ده صیب ...

میجریاسر:۔ د دې زلمی په مخکښې خو تا اقرار اوکړو چې دهماکے تا کړی دی سکریسی خو پاتے نشوه۔

شګفته:۔ صیب زۀ به درنه بهر اوځم ۔

میجر یاسر:۔ نه شګو نه کېنه ۔ دا عام تپوسونه دی څۀ پټې خبرے نه





دی ۔

ښه میاں خانه وایه ۔ دَ دهماکو شروع دې دَ څۀ اوکړه ؟

میاں خان :۔ سر ، دَ شیخ رحمان وادۀ وو ، ټولو تنظیمونو ته دَ واده وینا شوے وه ۔ ماته هم دَ یو دوست په ذریعه دعوت راکړے شوے وو ۔ دَ ټلو نه مخکښې ماته دَ کرنل صیب دَ خوا دا ټاسک راکړے شو ۔ ما هم په وادۀ کښې شرکت اوکړو او موقعے ته مِ کتل ۔ چې دَ ماښام تیارۀ اولګیده نو ټوله بجلی مِ شاټ کړه۔ یو درز شو چې دواړه جنریټرے والوتے چې تیاره شوه نو بیا مِ منډه کړه یو پناه ځائے کښې اودریدم او پرله پسی مِ یو څو ګرینیډونه ورواغورځول ۔ دے سره هر طرف ته چغے ، فریادو ، کریغے او لوګې شو ۔ بیا مِ دا کلاشن کوف دَ اوږے نه راکوز کړو او اونختم تر هغے مِ ډزه وو چې زړه مِ ښۀ یخ کړو ۔

میجر یاسر دَ هغه دَ لاس نه کلاشن کوف اخلی هغه بویوی او هغه له یې واپس ورکړی "دے نه خو دَ بارودو بوئیں نه ځی " ولې ؟ داسے معلومیږی چې دے باندے یو ډز هم نه دې شوے ۔

حوالدار میاں :۔ واه صیب واه ۔ داسے لمبے مِ ترینه ویستی دی چې پرقار یې خته ؟

میجر یاسر :۔ بوئیں ولی نه کوی ؟

حوالدار میاں خان :۔ دا مِ اوس دلته دَ راتلو نه مخکښې صفا کړو ۔

میجر یاسر :۔ دَ شیخ رحمان دَ ډولۍ څۀ اوشو۔

حوالدار میاں خان :۔ ډولۍ خو سم دَ مازیګره دَ هغۀ خیمے ته تلې وه

ناوے دَ هغـه پـه انتظار کښې سرے منګولے او خورے زلفے ناسته وه ۔
چې دھماکے اوشوے نـو شیخ رحمان منډه کړه او خپلې ناوے له یې
ځان اورسوو ۔

میجر یاسر :۔ تا په تیاره کښې شیخ رحمان څنګه اوپیژندو؟

حوالدار میاں خان :۔ زۀ دَ هغـه خیـمے سره جخت پټ ناست ووم چې
هغه په خیمه ورننه وتو۔

میجریاسر:۔ دے نه معلومه شوه چې هغوی دواړه بچ شو او ژوندی
دی ۔

حوالدار میاں خان :۔ نـه صیب ، بـچ کیدے رانه څنګه شی ۔ دواړه مِ
ایره کړل ۔

میجریاسر:۔ ناوے هم مړه شو ؟ داسے دے ولے کول دَ هغے غریبې څۀ
ګناه وه ۔

حوالدار میاں خان :۔ او چو سره لواندۀ سوزی سر “۔

شګفتـه خاندی ، میجر یاسر او حوالدار میاں خان دواړه هغے تـه
اوګوری ۔ میجر یاسر دَ هغے نه تپوس کوی ، ”ته ولے خاندې شګړ ؟

شګفتـه:۔ زۀ د دې صیب دروغـو پورے خاندم ۔ ما وې چې فوجیان
دروغ نه وائی خو دے نه معلومیږی چې نه دوی زمونږ نه زیات وائی ۔

حوالدار میاں خان :۔ ولے زۀ دروغ وایم ؟ دا زمونږ دَ محکمے توهین دے
سر چې یو سویلین سړے مونږ پورے خندا کوی ۔

میجـر یاسـر :۔ حوالدار میاں خان ، جذباتـی کیـږه مه . دا غریب ہے





تـعـلیـمـه ، جاهل او غریز هلک دے که په ناپوهی کښې ئے دَ خولے نه
خبره اووتـه نو څۀ اوشو ۔ او مونږ هم څۀ فرشتے خو نه یو انسانان یو ،
دروغ هم وئیلے شو او رشتیا هم دا خبره زړۀ ته مه اچوه ۔

حوالدار میاں خان :۔ زما دَ خبرے وضاحت اوشو سر ؟ ماته اجازت دے
تلے شم ؟

میجر یاسر :۔ هاؤ هاؤ بالکل تلے شی ۔

حوالدار میاںخان ( پاځی او پاځیدو کښی وائی ) سر ، دَ انعام روپۍ به
کله ملاویږی ؟

میـجریاسر:۔ لږه سړه خوره میاں خانـه ۔ ډیره توده مه خوره خوله به
دې اوسوزی ۔دا یـو ابتـدائـی رپـورټ دې ۔ د دے رپـورټ بـه بیا جائزه
اخستـلے کیـږی ۔ دا بـه انکوائری ټیم ته حواله کیږی ، بیا به تانه بیان
اخستـلے کیـږی او ستا پـه بیان بـه بیا جرح کیـږی ۔ چې انکوائری
کـمیټـی مطمئنه شی نو هله به تاته پنځوس لاکهه روپۍ ملاویږی ۔
دے پـنـځوس لاکهه پسې پنځوس کسان مړه شو او پنځوس ئے نور په
طمع دی ۔

حوالدار میاں خان :۔ سر ، تاسو زما دَ پاره لږ کوشش اوکړی ‘ دے سره
هغـه تیـټ شی ، هغه ته په غوږ کښې څۀ وائی او په خندا خندا اوځی
۔ دَ هغـۀ دَ تـلـو نـه پـس شـګـفته بیا خاندی او مخ بل طرف ته اړوی۔

میجر یاسر هغے ته اوګوری او وائی ”ته ولے خاندې شګړ؟

شګفتـه هغه ته مخ راړه وی او وائی ” دے سړی تاته په غوږ کښې څۀ

اووی "

میجر یاسر :۔ دا څۀ پته خبره وه ۔

شګفته:۔ دا پته خبره ښکاره کړم ؟ ۔

میجر یاسر :۔ ښکاره کړه ۔

شګفته :۔ دې سړی تاته وې چې نیمے پیسے ستا نیمے زما ۔

میجریاسر:۔ (خاندی ) واه ، واه شګو ، ته خو ډیره ورانه یې ۔ تا خو پته خبره ښکاره کړه ۔ تانه خو زما یره اوشوه ۔

شګفته :۔ مانه مه یریږه صیب ۔ خو د دے سړی نه اویریږه صیب ! دا سړے ماته فراډی ښکاری ځکه چې په هره خبره کښې یې دروغ وې ۔

میجر یاسر:۔ شګو ، داسے خبرے مه کوه دا به درله ګوری ښۀ نشی فوجیانو پسې خبرے کول قانوناً جرم دے ۔

شګفته:۔ دَ فوجیانو هرے خبرے ته به مونږ رشتیا وایو که دوی دروغ وائی که رشتیا ، که ښۀ کوی که بد هر څۀ ټیک دی ؟

میجر یاسر :۔ ولی دۀ څۀ دروغ ویلی دی ۔

شګفته:۔ دا دروغ نه دی صیب چی شیخ رحمان او دَ هغۀ ناوے هغه ایره کړل ۔

میجر یاسر:۔ د دے به هله پته لګی چې صبا شی ، زۀ هلته په خپله لاړ شم او هغه هر څۀ په خپلو سترګو اووینم او تۀ پرے ولے اعتراض کوې کیدیشی صحی وائی ۔

شګفته:۔ دا دروغ دی صیب ، چټ دروغ دی ۔





میجریاسر:۔ شګو ته په کوم دلیل وائې چې دروغ دی ۔

شګفته:۔ زۀ بے دلیله خبرے نه کوم صیب ۔

میجر یاسر :۔ (دَ هغے په ساده والی مسکے شی ) "ښه پیش کړه دلیل ۔

شګفته:۔ د دې دلیل دا دې چې زۀ ستا په مخکښې ژوندی ناسته یم ۔

میجریاسر:۔ هغه ستا خبره نه کوله دَ شیخ رحمان دَ ناوے خبره یې کوله ۔

شګفته:۔ زۀ دَ هغه ناوې ووم۔

میجر یاسر:۔ ته . . .تۀ . . .تۀ شګو۔ ته ؟

شګفته :۔ هاؤ صیب زۀ ۔

میجریاسر:۔ تۀ چې د دغه زخمی هلک چنغله یې نو دَ هغه ناوې څنګه شوے ۔

شګفته:۔ چې داسې کیږی نو هغسې به ضرور کیږی ۔

میجریاسر:۔ چنغله دَ وصال خان وې او وادۀ کیدې شیخ رحمان ته ؟

شګفته :۔ هاؤ صیب ۔

میجر یاسر :۔ دے نه معلومیږی چې دا کار تاسو کړے دې ۔

شګفته:۔ دا مونږ درے وارو کړے دی ۔

میجر یاسر :۔ بابا هم دے کښې شامل دے ؟

شګفته:۔ کار خو ټول هغه کړے دې ، مونږ ورسره مددګار وو ۔ دَ بارودو ډیپو ؟ دفترے ، دوه هیلی کاپټرے هغه تباه کړی دی ، ټول غیر

ملکی ایجنټان هغه وژلی دی ۔ دَ تور غر په څوکه په دنګه اونه کښې دَ پاکستان جهنډا هغه لګولے ده او دَ اونے دَ څوکے نه یې درے ځله دَ الله اکبر او درے ځله دَ پاکستان زنده باد چغے ویستلی دی ۔ او دَ هغې جواب ما او وصال خان ورکړے دې۔

میجریاسر:۔ شګو ، شګو ، تا خو زما سترګے رڼا کړے ۔

شګفته:۔ صیب تۀ بابا اولټوه هغه سره پوره سامان موجود دے ۔

میجر یاسر :۔ هاؤ دَ هغې په تلاشۍ کښې ځینی سامان مشکوک دې او هغه زمونږ حراست کښې دې۔

دَ هغوی خبرے لا جاری وې چې دَ کوزے بانډے نه دَ زخمیانو ډلے راماتے شوے دَ میجر یاسر اردلی هم دَ هغۀ دفتر ته راغے. او هغه ته یې اووی چی "کرنل صیب تاسو یادوه وی" میجر یاسر خپل ټائپ ریکارډر غلے غوندے بند کړی او وائی "زۀ ورغلم" بیا شګفتے ته وائی ...شګرې ته کینه زۀ صیب له ورځم "۔

شګفته:۔ صیب که ستاسو ټپوسه ختم شوی وی نو زۀ به بابا او وصال خان له ورشم ۔

میجر یاسر :۔ ټپوسونه ختم شوی دی خو ته هلته نشې تلے ۔ هلته دَ هسپتال خپل کسان شته هر څۀ هغوی په خپله کوی ۔

شګفته :۔ زۀ به یې لرې اوګورم صیب چې څنګه دی ۔

میجر یاسر :۔ تۀ به هغوی سره هله ملاویږې چی تاته اواز اوشی ۔ اوس نه ته ورتلے شې او نه تا څوک هلته پرېږدی ... ته داسے اوکړه





چې زما دغه کټ کښې پریوځه او ښه بے غمه اوده شه ...او یې ځان پسی پرده راکاږه "۔ دے سره هغه بهر اووتو ۔ دَ هغه دَ تلو نه پس هغه ډیره شیبه په کرسی کښې ناسته وه خو چی خوب جوته ورکړه نو پاڅیده او دَ میجر یاسر په کټ کښې سملاسته ۔

دَ قدرت کارونه هم عجیبه وی ۔ دَ چا راتلو ته چې دَ شیخ رحمان خوشبوداره خیمه وازه خوله سترګے په لار وه ، دَ چا دَ پاره چې دَ ګلونو ډک پالنګ دَ هغۀ دَ ډېرې ارمانی وو، هغه خیمه ، هغه پالنګ او دَ هغے دَ غیرے ارمان ژن ، شیخ رحمان اوسوزیدل ، ایره شو او دَ هغوی دَ سوی بوئیں او ایره دَ هوا په وزرو دَ چاپیر چل نه علاوه تر لرے لرے اورسیدل او هغه دَ میجر یاسر تنبو او دَ هغه په بینکر کښې پروت کټ ته اورسیده ، پرده یې ځان پسې راخکله او په دروند خوبه اوده شوه ۔

هغه کټ کښې اوده شوه چې هغے کښې هغه په ویښه او اودو کښې دَ خپلو ارمانونه شهزادګۍ لیدله ۔ هغه اوده وه او په اودو کښې یې میجر یاسر سره خبرے کولے کله به مسکۍ شوه ، کله به اوشرمیده ، کله به په خندا شوه او په خوله به یې لاس کیښودو ۔ دَ میجر یاسر دَ "شګو" ټکی نه خواږه څخیدل ، څاڅکے څاڅکے به دَ هغے د زړۀ تل ته رسیدۀ او دَ هغے په رګونو کښې به خوریدو۔ هغے په رومبی ملاقات کښې هغه ته "ورور" ویلے وو خو هغه ورته خور نه وو ویلے ۔ بیا روستو دَ "ورور" ټکې دَ هغے زړۀ قبول نۀ کړو او دَ "ورور" په ځاے به یې ورته "صیب" ویلے ۔ دَ هغے په طرز ادا او انداز تکلم کښې

دومره خواږه او دومره معصومیت وو چې دَ میجر یاسر غوندے دَ تریښ سړی خوله یې دَ خوږو نه ډکه کړه ۔ چې کله به ورته هغه دَ "شگوشگو" الفاظ اووې نو دَ دواړو زړونه دَ باهمی مقناطیس کشش په ذریعه به په خپلو کښې اونختل خو چې دَ چنغلے ټکی یا خیال به پکښې راغی نو دغه اثر به زائل شو او دواړه زړونه به دَ یو بل نه جُدا شو ۔

په لږ وخت کښې دَ دواړو په زړونو کښې دَ یو بل دَ پاره بے کچه مینه وه خو دواړه په دے نه پوهیدل چې دے مینے ته دَ مینے کوم یو قسم اووائی ۔

میجر یاسر ته دَ کرنل صیب له خوا دَ مکمل انکوائری حکم ورکړے شوے وو۔ ټوله شپه یې دَ خلقو نه دَ دهماکو په باره کښې تپوسونه کول ۔ او څو څو بیانونه یې قلم بند او ټائپ کړل ۔ دا ټول زخمیان دَ موقعے گواهان وو ۔ ټولو ته معلومه وه چې دَ شیخ رحمان واده دَ میراجان لور سره کیدونکے وو خو دَ میراجان دَ لور نوم چاله نه ورتلو البته په اخره کښې یو دوه زنانه داسے پیدا شوے چې هغوی دَ هغے نوم "شگفته" اوښودلو۔ د دے خبرے تصدیق یې هم اوکړو چې شگفته دَ وصال خان چنغله وه او دواړه په دے واده باندے خفه وو خودا معلومات چاته هم نه وو چې شگفته او شیخ رحمان مړۀ دی او که ژوندی دی البته په دے ټول متفق وو چې ډولۍ رانه وه اوړے شوے ۔ دَ غر په سر په اونه کښې دَ پاکستان دَ جهنډې تصدیق هم اونشو ځکه





چې یو خو شپه وه بله دا چې هغوی په خپل غم اخته وو۔ تر صبا پورے هغه په خپل کار کښې اخته وو ۔ چې خپل کار یې ختم کړو او زړۀ یې تله کړو نو خیمے ته واپس شو چې دَ شگفتے په حال احوال باندې ځان پوهه کړی ۔ دَ راتلو سره دَ بینکر دَ آرام گاه نه یې غلے غوندے پرده اوچته کړه او چې اوې کتل نو هغے دَ سر نه پټکې لرے کړے وو او ډډے ته یې ایښې وو ۔ دَ هغے دَ زلفو جال دَ هغے د ماؤنټ ایورسټ دَ حساس ټاورو په سوکو خور شوے وو او دَ هغے دَ پاسه دَ هغے سپینې منگولے په داسے انداز پرتے وې چې دَ گوتو سوکے یې یو بل ته مخامخ شوے او نزدے شوے وی ۔ سرۀ نوکونه یې لکه دَ یاقوتو دَ دانو په پړقا او ځلا کښې یو بل ته خاندل ۔ دَ کائنات ښکلا دَ هغے په مخ مسکا او ورمو دَ هغے په بدن گډا کوله ۔

هغه یوه شیبه دَ هغے دَ حسن دَ گلستان په تماشه ، بے حسه ، بے حرکته دم ختلے ولاړ وو ۔ هغه ته داسے معلومیده چې خوب وینی او په خوب کښې دَ فطرت ښکلے نظارے وینی ۔ دَ هغه دَ نظر تنده لا نه وه ماته چې دَ هغه اردلی دوکپه چائے دوه توسه راؤړل ، په میز یې کینښودل او وې وئیل "صیب چائے" ۔ دے اواز سره هغه ناگهانه الرټ شو۔ چې روستو یې اوکتل او چائے یې اولیده نو راغی په خپله کرسۍ کیناستو او شگفتے له یې اواز ورکړو "پاڅه شگو ناوخته دے"۔ دے اواز سره شگفته ویښه شوه ، چې بینکر ، پردی کټ او خپل ځان ته یې اوکتل نو اویریده ۔ کټ کښې کیناسته ، پټکې یې اوتړلو ، څادر یې دَ

ځان نه تاؤ کړو او بهر راووته ـ

میجر یاسر چې هغې ته اوکتل نو وې وئیل "شګو خوب دې پوره شو ؟

شګفته:ـ هاؤ صیب پوره شوه ـ

میجریاسر:ـ شګو ، بهر مخ لاس اووینځه او بیا راشه چې چائې اوڅکے

شګفته بهر اووته ، مخ لاس یې اووینځل او بیا راغله هغه سره کیناسته ـ هغه داسې ښکاریده لکه د وړو وهلی ګل چې دَ سحر په پرخه لامبیدلے او تازه وی ـ میجر یاسر هغې ته اوکتل مُسکے شو او وې وئیل "پیالی واخله شګو ، یخه شوه"ـ

شګفته:ـ صیب چایو ته مِ زړهٔ نه کیږی ـ زهٔ به دَ وصال خان او بابا تپوس له ورشم ـ

میجر یاسر:ـ هغوی له زهٔ ورغلے ووم ـ دَ هغوی اپریشن شوے دې او دواړو ته ډریپونه ختلی دی ـ

شګفته:ـ هغوی څنګه وو ؟ زهٔ هغوی سره لیدل غواړم ـ

میجر یاسر:ـ اوس نه ، ستاسو لیدل ، کتل دَ دوو بجو نه روستو ممکن دی پیالی واخله ، وار مه خطا کوه هر څه به اوشی انشاء الله ...زهٔ په منډه یم ـ ستاسو کلی ته ځم چې دغه حالات په خپلو سترګو اووینم ـ ستا څهٔ سوال ، جواب ، پیغام یا که څهٔ خیر خبر چاله ورکول غواړې ؟

شګفته:ـ نه صیب ! زمونږ کلی کښې هیڅوک نشته ـ زمونږ نه کلی پاتے دې ـ





میجر یاسر:ـ بیا به چرته ځې ؟

شګفته:ـ ( یو سوړ اسویلے اوکړی ) چرته به لاړ شو صیب ؟ دَ خدائے لویه دنیا ده چرته خو به راته دَ زمکے په سر ځائے ملاؤ شی او که دَ زمکے په سر نه وی نو دَ زمکے په خیټه کښې خو به ملاؤ شی ـ

میجر یاسر:ـ شګو ته داسې خبرې ولے کوی ؟ که تاسو غواړی نو زهٔ تاسو خپل کلی ته هم لیږلے شم ـ

شګفته:ـ ستاسو کلې کوم ځائے دې صیب ـ

میجر یاسر:ـ زمونږ کلی پنجاب کښې دې ـ

شګفته:ـ ته پنجابی یې صیب که پښتون ؟

میجر یاسر:ـ زهٔ دواړه یم ـ پلار مِ پنجابې دې او مور مِ پښتنه ده ـ ښه زهٔ درنه ورځم ګاډې تیار دے او تهٔ زما دَ راتلو پورې چرته څه مه ـ تاسره زما یو څو ضروری خبرې دی ـ

شګفته:ـ ته به څهٔ وخت پورې راشې ؟

میجر یاسر :ـ کیدے شی مازیګر ماښام پورې راشم ـ

شګفته :ـ صیب چې راځې نو ځان سره زمونږ خر هم راوله ـ

میجر یاسر ( خاندی ) شګو ، ته بالکل شګویې ـ زهٔ دومره اهم کار پسې روان یم زما دَ سر خیر نه غواړې او خپل خر غواړې ـ دعا راته کوه چې سلامت راشم ـ

شګفته :ـ خدائے دې دَ یخ او تود بادونو ساته ـ

میجر یاسر :ـ ( دَ جیب نه یو کارډ را اوباسی ، هغې له یې ورکوی او

وائی ) شګو دا کاږ ځان سره کیږده ـ دیکښې زما مکمل ایډریس او موبائیل نمبرے دی ـ که څه اخوادیخوا وو نو ماته خبر کوه ـ څه لاړم درنه دعا کوه ـ

شګفته:ـ لوے الله دې مل شه ، ستا بلا په بل شه ـ

## دریمه برخه

دَ میجر یاسر دَ تلو نه پس شګفته دَ هغه دَ خیمے نه بهر اووته ـ هغے دَ پټکے پلو په مخ راخور کړے وو ـ هغه چانه پیژنده خو هغے دَ کوزے بانډے اکثر نارینه او زنانه پیژندل ـ په میډیکل کیمپ کښې ډیر هلـه ګوله وه ـ په سړنو مات ګوډ خلق ځاے په ځاے پراته وو او په سړونو ، نر ښځې ، واړه ، زاړه خپلو زخمیانو ته سرے سترګے ناست وو ـ لږه شیبه پس دَ آرمی دوه هیلی کاپټرے راغلے یو کښې خیمے وی او بل کښې دَ O.T سامان وو دوایانے او دَ عملے کسان وو ـ په لږ ساعت کښې یو بل کیمپ اولګولے شو او خلق پرے ورمات شو ـ دَ آرمی ډاکټرانو نه علاوه سیول ډاکټران هم رارسیدلې وو او خپل کار یې شروع کړے وو ـ

دَ وصال خان دَ خپی اپریشن شوے وو او پلستر ورته اچولے شوے وو ـ دے نه علاوه دَ ورو ورو زخمونو پټی یې هم شوے وې ـ دَ ځائے دَ کمی او دَ زخمیانو دَ زیاتی په وجه ډاکټرانو د علاج نه پس اکثر مریضان فارغول ـ په دے مریضانو کښې وصال خان هم شامل وو او دَ شګفتے انتظار یې کوو ـ شګفته چی ورغله او هغه یې غږیدلې





سترګے اولیدو نو ډیره خوشحاله شوه او وے وئیل "څنګه یې وصال خانه ؟

وصال خان :ـ ښه یم شګفتے ، ډاکټرانو د تلو اجازت راکړو ـ

شګفته:ـ وصال خانه بابا څۀ شو ـ

وصال خان دَ بابا ماته پته نشته خو د هغه غم مه کوه هغه فوجی سړے وو او فوجی کیمپ ته یې ځان رااورسولو ـ

شګفتے :ـ ستا خبره رشتیا ده ـ هغه سره مونږ ملاویدے هم نشو ځکه چې اوریدلے مِ دی چې هغه سره ځینی مشکوک څیزو داسے وو چې دَ هغے په وجه به دَ هغه نه ضرور تپوسونه کیږی ـ

وصال خان :ـ تپوسونه ، نه ، هغه خو رالیږلے شوے هم دے پسی وو ـ خپل کار یې مکمل کړو او ښه زړۀ یې پرے یخ کړو ـ

شګفته وصال خان په دواړه لاسه اوچت کړی دَ کیمپ نه یې بهر یو خوا ته په زمکه کیږدی او ورسره کینی ـ یوه شیبه پس هغه وائی "ښه اوس به څۀ کوو ؟ چرته به ځو "

وصال خان :ـ خپل کلی ته خو نشو تلے البته افریدو کلی ته به ځو ـ

شګفته:ـ افریدو کلی ته ؟ دا کوم ځائے دے ـ

وصال خان :ـ دا دَ صوبه دار صیب کلې دے ـ

شګفته :ـ دَ بابا کلې دے ؟

وصال خان :ـ خو ځوبه څنګه . . .ته داسے اوکړه چی هغه خر چرته اوګوره . . .

شګفته :۔ هغه خو بېګاه لاره کښې پاتے شو او مونږ ترینه په فوجی ګاډی کښې راغلو ۔

وصال خان :۔ کیدیشی چا پرے څه مریض یا څه کډه کوډه دلته راؤړے وی ۔ ... ته اوګوره هغه خرونه چی په شینکی کښې څری کیدیشی په دغو کښې وی ۔ (هغوی دواړه دَ لرے نه ورته ګوری) "ته ورته اوګوره شګفتے زما خو په دغه یو شک راغی " شګفته چی ورته اوګوری نو وائی " شک نه هم دغه دے " ۔ دے سره هغه پاڅی ۔ خر راولی ۔ کته ورله سمه کړی ۔ وصال خان پرے کینوی او هغه وریسې روستو روانه شی ۔

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★





## نهم باب

دَ رنګروټ ژوند دَ قهر الهی نه کم نه وی او دَ جبران ژوند دَ دے مکمل ثبوت وو ۔ هغه به لکه دَ نورو انګروټانو سحر وختی پاڅیدو او لکه دَ هغوی به یې ، کچه ، بنین واچوو ، جارو به یې راواخسته دَ استاذانو او خپل ځاې به یې جارو کړو چی دے نه به اوزګار شو نو بیا به یې صافی راواخسته دَ هغوی خوا کښې لګیدلے دوه کړکۍ ، دَ هغوی بکسونه او دَ انګیټهۍ شیلفونه به یې صفا کول ۔ دې نه پس به یې بوجۍ لونده کړه او دَ کټونو لاندې به یې په فرش اووهله ۔ بیا به یې هغه بوجۍ اووینځله نچوړی به یې کړه او یو خوا ته به یې کیښوده ۔ چې دا سلسله به ختمه شوه نو بیا به یې خپل او دَ هغوی بوټان او بیلټونه راواخستل ، هغه به یې دَ خاؤرونه صفا او پالش کړل ۔ دې نه پس به یې د بیلټونو کونډے په پیتل پالش صفا کړے ۔ چی دے نه به اوزګار شو نو بیا به یې جارو راواخسته خپله برخه برنډه به یې جارو کړه او دَ هغے لپائی به یې اوکړه ۔ چی دا به یې اوکړل نو بیا به یې هغه نچوړی شوے بوجۍ راواخسته فرش او لاره به یې ښه صفا کړل ۔ چی د دے هر څه نه به بے غمه شو نو بیا به ئې تولیۀ صابن راواخستل او واش روم ته به لاړو ۔ دَ لامبلو نه پس به یې مس کښې چائے اوڅکله او استاذانو له به یې ځان سره دَ هغوی کټونو له راؤړه ۔ هغوی به چائے څکله او هغه به خپله وردی واغوسته او دَ حوالدار میجر دَ سیټهۍ انتظار به یې کوو ۔

دَ هغـهٔ دا خیـال وو چې دا ټول خوشحاله کړي او هغه ته ځوک ګوته اونـه نیسـی خـو افسوس چې ټول خو لا لویه خبره ده چی هغه یو هم خوشـحـالــه نــه کـړے شـو ۔ د دې دومـره خـدمـت بـاوجود هم دَ هغـه اسـتـاذانـو دَ هغـه خـدمت ته اونه کتل ، هن هغوی که کتل نو دَ هغهٔ سپیـن بـدن تـه او دَ هغـه سپینو پنډو ته ۔ چی کله به هغهٔ دَ هغوی دَ کټـونـو لاندې لونده بوجی وهله نو هغوی به په اوږو سترګو دَ هغه دَ بدن ، اتار چړهاؤ ، نشیب وفراز او Ups, Downs ته کتل ۔ کله کله به یې دَ هغهٔ کټ سره لوټونه اوغورځول خو چې هغه به اولیدل نو زر به یې را واخستل او په دواړه لاسه به یې ورته په عزت پیش کړل ۔ استاذ بـه ځـان نـا غرضه کړو او اوبه یې وئیل ، "اوه دا کوم ځاے وو ؟ . . .دا به زمـا نـه وی ؟ ۔ ځـه ځـان سره یـې کیږده بیا به حساب ، کتاب کوو "۔ هغـه بـه مسکے شو او اوبه یې وئیل " ډیره مهربانی استاذجی خداې دې دَ حساب ، کتـاب نـوبت نه راولی "۔ هغه دَ استاذانو په نیت پوهـ وو ۔ جـواب یـې هـم ورکولے شو او دَ هغوی دَ ذاتی کارونو نه یې انکار هـم کـولے شـو خـو د دې مـګـر مـچـهـانـو دشمنی یې ځنګه پـه غاړه اخسـتـې وې ۔ هغــه دَ ډانګ او پـړانګ پـه مینځ ډیـر پـه احتیـاط د رنـګـروټـیـا شپې ورځـے صبا کولے ۔ کله کله به چی ورته دَ هغوی غیر اخـلاقـی خبرے او حـرکـات رامـخـکښـې شول نو زړهٔ به یې یوه ډبې اووهـلـه او سـتـرګې به یې ډکې شوې خو بیا به یې ډیر زر خپل زړهٔ له پـه خپـلـه تسلی ورکړه او ځان سره به یې اووئیل "لړے ورځے دی ، دا به





هـم تیـرې شـی او دَ دے ظالمانو دَ پنجو نه به اوځی ۔ یو ورځ دَ معمول مـطـابـق هغـه سـحـر وختـی دَ استاذانو دَ کټونو لاندې صفائی کولـه ۔ انـور اسـتـاذ یـو داسـی حـرکـت اوکړو چې دَ هغهٔ دَ غیرت ټوله دنیا یې اولـړځـولـه او دَ سـر نـه یې د اور لنبه اوختـه ۔ جبران دَ هغه لاس له ځنډ ورکـړو او دَ غـصـے نـه یـې خپلـې شـونـډې اوچیـچلې ۔ صفائی یې مـخـتـصـر کـړه او خپـل کـټ تـه راغـی ۔ چې دَ خپل کټ صفائی یې اوکـړه او بهـر بـرنډه یې هم اوکړه نو دَ معمول مطابق واش روم ته لاړو ، مـس کـښـې یې چائے اوڅـکـلـه او استاذانو له یې دَ هغوی کټونو له راؤړه ۔ بیـا ئـے وردی واغـوستـه او دَ نـور رنـګروټانو سره بهر اودریدو ۔ انـور اسـتـاذ چې وردی وا چوله نو دَ چایو کپ یې لاس کښې اونیوو او بهـر را اووتو ، په برنډه کښې اودریدو دَ چاے نه یو ګوټ اوکړو او جبران تـه یـې اووې "دلتـه راشه هـلـکـه" جبران په منډه هغه له ورغی ، په هوشیار پوزیشن کښې اودریدو او دَ هغهٔ دَ حکم انتظار ئے کوو۔ استاذ انـور هغـه ته په قهر اوکتل او وې وئیل "دا چاے تا راؤړے ده " جبران دَ تـابـعـداری په انداز کښی اووې "Yes sir" استـاذ انـور بـه تریو تندی اووې "چائے داسـی وی ؟ دا خـو سمی اوبه دی " دی سره یې ډک مګ چائے پـه هغه وراویشتـه ۔ دَ هغه مخ بچ شو خو وردی یې ټوله دَ چایو شـوه ۔ جـبـران پـه ډکـو سـتـرګـو خپـلـی وردی تـه اوکتل او بیـا ئـے دَ مـظـلـومیت پـه نـظـر دَ خپـل روحانی پلار دے ناقابلِ برداشت رویے او حرکت ته ۔ دَ غصے نه دَ هغه په مخ مسکا راغله او وې وئیل " Sorry

sir “ ـ انور استاذ په دې صبر اونکړو بلکه هغه پوجه وينا يې ورته اوکړه چې دَ ”بے غيرته“ ټکې په کښې دَ ټولو نه مهذبه ښکاريدو ـ دَ انور استاذ حرکت نورو هلکانو هم اوليدو ـ او دَ هغه بدې ردې هم ووريدے خو هغه دَ چا خبره چې استاد استاد وی هغۀ ته څوک څۀ ويلے شی ـ جبران سر خکته کړو او خپل ځائے له ورغی ـ جبران ته پته وه چې دَ چا يو داغ په کپړا اوچ شی نو بيا په اسانه نه ختميږی ـ هغه دا غوښتل چې داغونه لونده په لونده لرې کړی چې اوچ نشی ـ په دې عرض چې هغه نلکې ته ور روان شو نو حوالدار ميجر سيټهی اووهله او ټولو هلکان پريډ ګرؤنډ ته په منډه روان شو ـ جبران سر اوځنډو او هغوی سره روان شو ـ چې کمپنی فال ان شوه نو حسب معمول دَ ټرن آوټ او وردۍ انسپکشن شروع شو ـ نائيک انجم دَ خپل پلاټون معائنه شروع کړه ـ چې جبران له را اورسيدو نو هغه يې دَ فائل نه بهر کړو او استاذ انور ته يې پيش کړو ـ هغه دَ لاس نه اونيوو او حوالدار ميجر ته يې پيش کړو ـ دَ هغۀ خو ورته دَ مخکښی نه په زړۀ کښې پرته وه هغه ترينه په مخ يو څو لاندې باندی شړوقونه اوويستل او بيا ئے صوبه دار مستقيم ته پيش کړو ـ صوبه دار مستقيم هم دَ مخکښے نه اغيږ وو ـ هغه هم دَ حوالدار ميجر پيروی اوکړه او چې يو څو يې لاندی باندی اوهو نو دَ ليډرۍ چيندۍ يې ترينه کوزے کړې او دَ دريو ورځو دَ پاره يې ورته دَ دريو ، دريو ګهنټو پيټهو سزا اوروله ـ حوالدار ميجر دَ سزا ورکولو دَ پاره دَ استاذ انور





انتخاب اوکړو ـ

چې پريډ ختم شو نو نور رنګروټان ډوډۍ دَ پاره مس ته لاړل خو جبران مس ته لانه ړو ـ خپل بيرک ته لاړو ، سره دَ بوټانو يې په خپل کټ کښې ډډه واچوله او دَ ننې ورځے په نحوست باندې يې سوچ کوو ـ په دے سوچ او فکر کښې دَ هغه سترګے اولګيدی ـ سترګے يې ايله ورغلې وی چې دَ مس نه هلکان راغلل ـ د هغوی راتلو سره دَ هغۀ سترګے اوغړيدے او ترخے سترګے په کټ کښې کيناستو ـ بيا ئے خپل کيټ بکس کهلاؤ کړو ـ پيټهو ، جوله او پوچونه يې ترينه را اوويستل او دَ پيټهو سزا دَ پاره يې خپل تيارې شروع کړو ـ هغه خپله کمبله ، درۍ ، مچهر دانۍ ـ مګ ، پليټ وغيره په پيټهو ، جوله او پوچونو کښې واچول ـ بيا ئے واټر بوتل دَ اوبو نه ډک کړو او جولے سره يې لاندې اوتړلو ـ چې دا هر څۀ يې سټ کړل نو سټيل هيلمټ يې په سر کيښودو ، په يو لاس کښې ګنټهی او نيوله ، په بل کښی يې بيلچه او پنځه منټه کم په دوه بجے بهر اووتو ـ دو منټه کم دوه بجے ورپسی استاذ انور اووتو هغه ته اودريدو او آرډر يې ورکړو ”هوشيار ، آسان باش ، هوشيار، ډبل مارچ“ جبران ډبل مارچ شروع کړو ـ چې يو خاص ځاے پورے لاړو نو بيا ې ورته اووی ”اُلٹا پھر“ دې نه پس هغه ته دَ ډبل مارچ حدود اوښودلے شو ـ هغه ځاې پورے به تلو او بيا به واپس کيدو ـ چې يوه ګهنټه مسلسل ډبل يې اوکړو نو بيا يې ورته اووې چه ”کينه“ چې هغه دَ خپو په

سرکیناستو نو بیا ئے پری ډډوچال شروع کړو ۔ چی نیمه ګهنټه یې ډډو چال اوکړو نو بیا یې پرې ډبل شروع کړو ۔ چی پنځلس منټه یې ډبل اوکړو نو بیا ئے پرې کرالنګ (Crawling ) شروع کړو ۔ جبران ګنتهی ، بیلچه دَ پیټهو لاندې په شا کیښودې او په خاؤرو کښې یې کرالنګ کوو۔ بیا ئے پاسوو او په ډبل مارچ یې دَ ګرونډ اخری سره پورے اورسوو ۔ دلته دَ هغهٔ دریمه ګهنټه او دَ سزا دویمه سلسله شروع شوه ۔ استاذ انور ورته په زمکه کرښه راخکله او ورته یې اووی ”دلته دَ LMG دَ پاره مورچه ووکنه ۔ زر کوه حوالدار میجر او صوبه دار صیب به راځی او د دې انسپکشن به کوی ۔ هغه چی دَ انسپکشن وورېدل نو دَ یری نه پرې رېچ راغی۔ خو زړهٔ یې ټینګ کړو او متې یې اونغښتې ۔ زمکه ډیره کلکه وه خو دَ هغه دَ همت او جذبے مخکښې هیڅ نه وه ۔ هغه اړم شو ۔ په ګنتهی۔ به یې زمکه کچه کوله او په بیچله به یې ویشتله ۔ جبران په اوږے خیټه لګیاوه مورچه یې کنستله او دَ هغه خوږ استاذ یو خوا ته ناست وو سګریټ یې هم څکلو او هغه له به یې هدایات هم ورکول ”شابه ، شابه زر کوه ۔ هری اپ “ جبران باندې دَ هغه اواز نه لکه دَ ګولو لګیدل خو هیڅ یې نشو کولے ۔ په نیمه ګهنټه کښی یې مورچه تیاره کړه ۔ بیا یې ورته اووې ”د دې هوارې اوکړه ۔ په هواری او صفائی۔ کښې لس منټه نور اولګیدل ۔ څلویښت منټه کښی مورچه بالکل تیار شوه ۔ دی نه پس هغه ته اوویلی شو ’بهر را اوځه“ جبران ګنتهی ، بیلچه بهر اوویشتلے ،





د۔ مورچے په دواړو کمرو یې لاسونو کیښودل او چې ټوپ یې کړو نو دَ څلویښت کلو وزن سره دَ مورچے نه بهر اووتو ۔ هغه لا ساه نه وه اغشته چې استاذ آرډر ورکړو ” دا مورچه بند کړه “ هغه هډو دَ ”ولی “ یا ”تپوس“ انتظار اونکړو ۔ بیلچه یې راواغشته او دَ هغې ډکول یې شروع کړل ۔ چې پنځه منټه کم پنځه بجے شوې نو مورچه ټپه او هواره شوه ۔ بیا یې ګنتهی ، بیلچه په لاسونو کښې اونیوې او دَ استاذ په آرډر یې ډبل شروع کړو ۔ چې خپل بیرک ته را رسیدو نو پوره پنځه بجے وې ۔ هغه دومره ستړے شوې وو چې سره دَ پیټهو او جولے په کټ کښې پریوتو ۔ دَ هغه خوا کښې جخت دَ هغه ملګری کامران دَ هغهٔ دَ اوږو نه پیټهو پرانستو او جوله او پو چونه هغه په خپله لرې کړل ۔ هغه په کټ کښې بوړی بوړی پریوتو او لا ملا یې نه وه نیغه کړی چې حوالدار میجر دَ games او Working دَ پاره کمپنی فال ان کړه ۔ دَ پټیک دَ پاره دَ لسو کسانو نامزدګی اوشوه چی یو پکښی جبران هم وو ۔ استاذ انجم هغوی پټیک له دَ ګرونډ غاړے ته روان کړل هلته هغوی دوه ، دوه ، درے ، درے کسان خوارهٔ شول او دَ ګرونډ دَ کبلو نه به یې په لاس ګنده بوټی ویستل ۔ جبران ، کامران او سراج یو ځائے لګیاوو خپل کار یې هم کوو او خبرے یې هم کولے ۔ چې استاذ انجم هغوی په خبرو اولیدل نو اواز یې پری اوکړو ”خبرے بند۔ خپل کار کوی۔ “۔ انجم استاذ جبران سره خله ګډول غوښتل څو څو ځله یې ورته دَ بنو لاندې اوکتل خو هغه بیخی لاندی کتل ۔ دَ انجم استاذ زړهٔ

نور صبر اونه کړے شو او هغه ته يې اووې "جبرانه ! که ستړې شوې يې نو په دغه کېلو سمله" جبران په کلک اواز اووې "نه استاذ جی ستړی شوې نه يم ۔ ستا دَ همدردئ ډيره مننه" دې سره يې دَ واخو ستړې په دواړه لاسه اوچت کړو او يو خوا ته يې گوزار کړو ۔ بيا راغئ کامران سره کيناستو او گنده بوتي يې ويستل ۔ هغه او کامران خپلو کښې خبرې کولے چې هغه پرے بيا اواز اوکړو ۔ "خبرے بند، خپل کار کوئ" چې هغه د ردِ عمل اظهار اونه کړو نو بيائے جبران ته اووې "جبرانه دلته راشه" جبران پاسيدو هغه له ورغئ ، په هوشيار پوزيشن کښې اودريدو او وې وئيل " جی سر ؟"۔

انجم استاذ :۔ دلته کينه او ماته پوره حال اووايه چې دا څۀ قيصه ده ؟۔

جبران دَ هغۀ په ناپوهئ دَ قهره مسکې شو لکه چې هغه ته واقعی پته نه وی ۔ دا هر څۀ هغه په خپلو سترگو ليدلې دی او بيا هم تپوس کوی چې دا څه قيصه ده ۔ هغه دا غوښتل چې هغه ته اووائی چې "تۀ خو استاذ جی دَ هر څۀ نه خبر يې ۔ زمانه ولے تپوس کوې ۔ خو هغه داسې اونکړې شو او وې وئيل " دَ څۀ قيصه سر "؟

انجم استاذ :۔ ستا او دَ انور استاذ ۔

جبران:۔ (دَ ناخولئ خندا) هيڅ نشته استاذ جی ، جزاء سزا خو ژوند سره تړلې څيزونه دی ۔ هيڅ نشته سر ۔

انجم استاذ :۔ جبرانه ! که زما نه خفه يې نو گورئ ستا په سزا کښې زما لاس نشته ۔





جبران :۔ ماخو دَ چا نه څۀ گيله نه ده کړې سر ۔

انجم :۔ تا نه ده کړے خو زما هم دومره تجربه شته ۔ ماته پته ده چې تۀ زمانه خفه يې ۔ خو تۀ په خدا ای باور اوکړه چې ستا په سزا باندې زما زړۀ درد کوی ۔

جبران:۔ ستاسو په سينو کښې زړونه شته دې استاذ جی ؟ او که بالفرض وی هغه دَ غوښې دی که دَ کانړی ۔

انجم استاذ:۔ وه ظالمه تا پسې خو زما زړۀ چوی ۔ تاته څۀ پته ده چې په ما څۀ تيريږی ۔

جبران :۔ استاذ جی ! دا ستا خبرې سرکاری دی که ذاتی ؟

انجم استاذ :۔ زۀ پوهـ نشوم ۔

جبران :۔ که ستا خبرې سرکاری وی چې هوشيار پوزيشن کښې درته اودريږم او که ذاتی وی نو خپل ذات پورې يې محدود اوساته ۔

انجم استاذ :۔ نه نه ، تۀ زما په مطلب پوهـ نشوې ۔ زۀ خو ستا دَ فائدے خبره کړم ۔ حوالدار انور دومره بد سړی نه دې ۔ معافی ترينه اوغواړه ، زۀ به هم ورته ستا سفارش اوکړم . . .تانه هم غلطی شوې ده ۔ هڅو که دَ هغۀ لاس درپورے اولگيدو نو څۀ اوشو ۔

جبران :۔ هيڅ نه دی شوې ، استاذجی ۔ ما خو څۀ نه دې ويلې "دے سره هغه روان شو او خپل کار کښې اخته شو ۔

چې پټيک ختم شو او هغوی خپل بيرک ته لاړل نو نورو هلکانو اولامبل او جامے يې بدلې کړې خو هغه دومره ستړې شوې وو چې دَ

رپ وهلونه وو ۔ هغه په کټ کښې ډډه شو چې لږ دمه شی او خوله یې اوچه شی نو بیا به اولامبی ، جامې به بدلې کړې او ډوډۍ به اوخوری ۔

نمر دَ ننۍ ورځې سفر مکمل کړې وو او دَ تور غر نه پناه شوې وو ۔ رنګروټان کرنګیدلی پلیټونه مس ته روان وو ۔ انجم استاذ او انور استاذ مس ته دَ تلو تیاریې هم کوو او جبران ته ې هم غلې غلې کتل خو جبران دَ هغوی دَ موجودګۍ نه ناخبره پټې سترګې پروت وو او دَ ننۍ ورځې روداد یې دَ زړۀ په پاڼه لیکل ۔ هغه لا په کټ کښې پروت وو چې دیکښې کامران راغی او هغه ته یې اووې "پاڅه جبرانه ! ستا ډیوټی ده تیارې اوکړه "۔ جبران چې دَ ډیوټۍ نوم واوریدو نو ناګهانه یې ټوپ کړو او په هیبت اودریدو ، دَ کامران نه یې تپوس اوکړو " څۀ دی کامرانه ؟

کامران :۔ ستا مونږه سره پریډ ګرونډ کښې دَ چوپیره ډیوټی ده ځان تیار کړه "۔

جبران :۔ اوه ! ما خو لا ډوډۍ هم نه ده خوړلی ۔

کامران :۔ تۀ ډوډۍ اوخوره او زۀ به کتهونه یوسم ۔ چې ډوډۍ اوخورې نو ډیوټۍ له ځان رارسوه ۔

جبران :۔ ډیره ښه ده ، ته ورځه زۀ په آن فن کښې درغلم "جبران خپل پلیټ په لاس کښې واغشتو او مس ته روان شو ۔ لنګری خان محمد ورته پلیټ کښې یوه څمڅې اینګولې واچوو او نور خان ورله دوه





چپاتۍ ورکړې ۔ هغه غرمنې اوږې وو چې میز ته کیناستو نو په یو څو نوړو کښې یې پلیټ تش او ډوډۍ ختمه کړه خو اولږه یې ختمه نشوه او په نیمه ګیډه پاڅیدو ۔ بیاغلې غوندې خان محمد ته اودریدو او ورته یې اووې "خان محمد استاذ مونږ نشوم لږه ګریبی او یوه چپاتی راکړه ،

خان محمد ورته په ستغه لهجه کښې اووې "نه چپاتی شته او نه ګریبی شته ۔ خپله برخه دی اوخوړه او ځه په مخه دې ښه ۔ خپې اوباسه " جبران هغه ته یو ځل بیا اووې "ډیر اوږې شوی یم ما غرمه هم نه ده خوړلې " هغه غرمنۍ برخه راکړه ۔

خان محمد په زمکه پرتې دَ ډوډۍ اوچو ټکړو ته اشاره کوی او وائی "غرمنۍ برخه دې دا ده پرته ده ۔ دا واخله یوسه "۔ جبران په زمکه پرتې دَ ډوډۍ او اوچې ټکړې راغونډه وی او دَ پتلون جیبونو کښې یې اچوی چې جیبونه ډک کړی نو روغوندې دَ مس نه اوځی ۔ خان محمد چې هغه ته اوګوری نو ځان سره وائی "توبه خدایه توبه "۔

## ړومبۍ برخه

دَ جبران دَ دویمې ورځې سزا دَ ړومبۍ نه سخته وه ۔ نن هغه دَ پرون نه زیات په تکلیف کښې وو ځکه چې په اوچه ډوډۍ یې خیټه خرابه شوې وه ۔ کله کله به یې په خیټه کښې یو " کړږ " وشو او دردونه به ورته رااوچت شو بله دا چې په ډډو چال کښې په ټوپونو ټوپونو دَ هغۀ پنډۍ غوټه شوې او سپینی یې مرې شوې وی ۔ بهر

حال هغه یو با همته هلک وو هار منلو والا نه وو او هرے سزا ته پرانستې تندی ولاړ وو ۔ چې کله به په ډبل کښې دَ هغهٔ خیټه کښې درد را اوچت شو نو دَ بیلچی په لاسکی به یې خیټې له زور ورکړو او درد به غلې شو ۔ په ډډو چال کښې هغه ته ډیر تکلیف وو ۔ یوه موقع داسې راغله چې دَ خیټې ګیس یې سرته اوختو او چې په سر کښې یې ځائے او نشو نو بیا واپس خیټې له راغې او چې دَ خیټې نه یې دَ وتو لاره ملاؤ نشوه نو دَ توپ سره یې یو "بق" کړو او ټول خوړلی، څکلی یې دَ خلے په لاره بهر را اووتل او بیا یې دَ هر توپ سره پرله پسې یو څو "بقونه" اوکړل ۔ چې خیټه یې خالی شوه نو دَ هغهٔ دَ سزا طریقه هم بدله شوه او هغه ته بل آرډر ورکړے شو ۔ اوس هغه سُر کښې وو او په نوی عزم سره یې ډبل کوو ۔ چې دا سزا ختمه شوه نو بیا دَ کرالنګ سزا شروع شوه استاذ انور به ورته مخکښې ولاړ وو او هغه ته به یې وې "شابه، شابه" هغه ته داسې ښکاریده لکه چه هغه خرپوسی کوی ۔ خپل شهید پلار ورته مخکښې ولاړ وی او هغه ته په خندا خندا وائی "شابه، شابه، راشه، راشه" دے خیال سره به هغه هم مسکے شو خو چې پلار ته به یې اوکتل نو دَ هغه په ځائے به استاذ انور ولاړ وو ۔ دَ کرالنګ په دوران کښې یوه موقعه داسې راغله چې دَ هغه دَ بدن روستی برخه دَ زمکے نه لږه اوچته شوه استاذ انور چې هغه ته اوکتل نو په غصه ورغی او په هغه ځایونو یې لتې ورکولے دَ کومو نه چې هغهٔ دَ هغه لاس منعے کړې وو ۔ په هغه وخت





جبران غصه شوې وو او دَ هغه لاس له یې څنډ ورکړې وو خو اوس ولے چپ پاتې شو ۔ دا ولے ؟ جبران هار اومنلو؟ نه نه داسې نه ده هغه حرکت دَ هغه په عزت حمله وه او دا دَ هغه دَ سزا یوه برخه وه ۔

چې کرالنګ ختم شو نو بیا دَ مورچے کنستلو او بندوسزا شروع شوه او دغه سزا کښې دَ هغه دویمه ورځ تیره شوه ۔

## دویمه برخه

په الفا کمپنۍ کښې دَ بینټ فائټنګ (Bayonet fighting) مقابله وه ۔ دَ اسلامی فلسفهٔ جهاد په رڼا کښې دَ کمانډنټ صیب په حکم لس Dummy Targets لګیدلے وو چې دَ یو نسبت لس په حساب دَ خپلو "جوانانو" انرجی لیول معلوم کړی چې یو کس دَ څو مره دشمنانو مقابله کولے شی ۔ کمپنۍ فال ان وه ۔ ټول رنګروټان، استاذان، حوالدار میجر، او صوبه دار مستقیم تیار وو ۔ دَ کمانډنټ صیب لارې ته سترګے لګیدلې وې ۔ لږه شیبه پس کمانډنټ صیب هم سره دَ صوبه دار میجر او دَ سنټر ټریننګ ټیم (Center training team) دَ صوبه دار ادم خان سره تشریف راؤړو ۔ مقابله دَ این سی اوز نه شروع شوه ۔ ټولو این سی اوز خپله خپله کارکردګی واره په واره ښودله ۔ دَ پلاټون نمبر i او پلاټون نمبر ii نه پس دَ پلاټون نمبر iii دا این سی اوز مقابله روانه وه دَ حوالدار میجر دَ چارج سره به این سی او دَ حیدر چغه اوویستله ۔ په ټارګټ یعنی نقلی دشمن به ورغی دَ "پری، بټ، کټ" رسمی چغه به یې اوویستله اولسو وانړو ټارګټونه به یې

ځان اورسولو ـ په دې ټولو کښې یو هم دَ سترګو خوړیدو نه وو ـ دَ این سی اوز نه پس دَ رنګروټانو مقابله شروع شوه ـ هغوی هم دَ خپل رول ماډل استاذانو په پل ، پل کیښودو ، لکه دَ ماشومانو دَ لوبوې "میر" له ګوتے اوړې او یو طرف ته به اودریدل ـ په هره شو کښې به کمانډنټ ادم خان صیب ته اوکتل او دَ هغهٔ تاثر به یې معلوموو ـ صوبه دار ادم خان انتهائی شرمنده وو ـ په دې دومره کسانو کښې یو هم داسی نه وو چې دَ هغهٔ زړهٔ ته پروتے وې ـ دَ جبران نه لیډری اخستې شوې وه او هغه له دَ ټولو نه روستو نمبر ورکړے شوې وو ـ هغه هم دا غوښتل چې دَ خپلو مشرانو او پیروکارو غوندې رسمی کار اوکړی او یو طرف ته هغوی سره په ځنګ کښې اودریږی ـ خو بیا ئے په زړه کښې راغله چې دَ کمانډنټ صیب په مخکښې هغه له هغه ځهٔ ښودل پکار دی دَ کومے جذبے په وجه سره چی هغه بهرتی شوې دې ـ چې دَ جبران نمبر راغی نو هغه دَ حوالدار میجر " ready " سره په مستی مستی خپل ځائے ته راغی او دَ ریډی پوزیشن کښې اودریدو ـ حوالدار میجر دَ "چارج " آرډر ورکړو ـ دَ کمانډ سره جبران په ښی لاس ټوپک اوچت کړو ، په یو شړق یې ګس لاس ته اوویشتو ، بیا یې په دواړه لاسه ښه مضبوط اونیوو ، دومره مضبوط چې ټوپک بیخی دَ هغه دَ بدن یوه حصه ښکاریده ـ دَ چارج دَ چغے سره هغه دَ حیدر یوه داسې خوفناکه او دهشت ناکه چغه اووهله چی حوالدار میجر دَ خپل ځایه دوه قدمه روستو شو ـ کمانډنټ صیب او





ادم خان صیب یو بل ته په مسکا اوکتل او په کرسو کښې نیغ کیناستل ـ دَ چغے سره هغه په ړومبی دشمن ورغی ـ دَ "پری " سره یې پرې حمله اوکړه ـ دَ "بټ " سره یې هغه په ځټ دَ ټوپک په بټ اووهلو او لاندې په زمکه راخلاص کړو ـ دَ "کټ " سره دَ هغه په سینه کښې یې خنجر ورسم کړو ـ په سینه یې ورله خپه کیښوده او خنجر یې ترینه واپس را اوویستلو ـ دا ټول کار چې هغه په سیکنډونو کښې ختم کړو نو په دویم دشمن یې دَ حیدر چغه اوویستله او چې هغه یې هم قلار کړو نو بیا واره په واره په نورو ورغی ـ دَ کمال خبره دا وه چې نه هغه ستړے کیدو او نه دَ هغه په جذبه کښې کمی راتله ـ په اخری دشمن یې دومره یرونکی چغه اوویستله چې دَ کمانډنټ په مخ باندې مسکا خوره شوه او ادم خان خو دَ خوشحالی نه په کرسی کښی اړخ بدل کړو ـ چی د اخری دشمن نه یې ځان بے غمه کړو نو ټوپک یې دَ ښی لاس نه ګس ته اوویشتلو او په هوا کښې اونیوو ـ بیا یې دَ ګس نه ښی ته اوویشتلو او په هوا کښې یې نیغ اونیوو ـ بیا ئے دَ ټوپک لاس په هوا کښې اوچت کړو او دَ الله اکبر چغه یې اوویستله ـ هغه سره به ټولو افسرانو ، استاذانو او جوانانو دَ الله اکبر چغے اوویستلی ـ په اخره کښې دَ پاکستان زنده باد چغه اووهله او چی دَ ټوپک بټ له یې په ښی لاس شړق ورکړو نو بټ مات شو او دوه ټوټی شو ـ دے سره دَ هغه جذبه سړه شوه او یره پرې راغله ـ دَ ټوپک دواړه ټوټی یې راواغشتې او نورو

هلکانو سره اودریدو ۔ هغه لا ساه نه وه اغشتې چې کمانډنټ صیب هغه رااوغوښتو ۔

جبران په خپلو کړو پښیمانه وو او په خپل ځان غصه ورتله ۔ په زړۀ کښې یې وی چې ، کاش ما داسې نه وې کړې ۔ اوس به ماته د دې سزا ملاویږی ۔ نوکری به هم لاړه شی او دَ کوارټر ګارډ یا کورټ مارشل سزا لا تیرے ۔ چی هغه کمانډنټ صیب ته پیش شو نو سلوټ یې اوکړو ۔ کمانډنټ صیب دَ هغه سلوټ واغشتو او وې وئیل "ستا څۀ نوم دې"؟

جبران :۔ زما نوم جبران دې سر ۔

کمانډنټ صیب :۔ تا ټوپک ولی مات کړو

جبران :۔ سوری سر ۔ بیا به داسې نه کیږی سر ۔

کمانډنټ صیب:۔ دَ بیا خبرے سره به بیا ګورو ۔ اوس دے ولے مات کړو ۔ دومره مستی دې ولې کوله۔

جبران:۔ دا مستی نه وه سر ، جذبه جهاد او دَ خپلو دشمنانو په مرګ خوشحالی وه ۔

کمانډنټ صیب:۔ دَ دشمن په مرګ دې ولې خوشحاله کوله ۔

جبران:۔ د دشمن په مرګ تل خوشحالی کیږی سر ، ماتم نه ۔

کمانډنټ صیب:۔ ستا دشمن څوک وو ؟

جبران :۔ سر زما خپل ذاتی دشمن هیڅ څوک نشته ۔ دا زما دَ ملک او قوم دشمنان وو۔ خپل دشمن معاف کیدیشی سر خو دَ قوم وملک





دشمن نشی معاف کیدے ۔

کمانډنټ صیب :۔ دا خو اصلی دشمنان نه بلکه نقلی دشمنان وو ۔

جبران :۔ سوری سر ! دشمن ، دشمن وی که اصلی وی که نقلی ۔ سر ! ماچی به په دوی دَ حیدر چغه اووهله نو دوی ټولو به "جئے هند" چغه اووهله ۔ دې سره زۀ په ځان پو هـ نشوم او ماته پته نه لګی چی ما څۀ اوکړل البته چی هغوی مې په مرده حالت کښې اولیدل نو بیا ....

کمانډنټ صیب:۔ تۀ خو ډیر کم عمره یې تاته دا خبرې چا ښودلی دی ۔

جبران:۔ سر دا خو زمونږ دَ ملک بچی بچی ته معلوم دې چې هندوستان نه صرف زمونږ دَ دین دشمن دې بلکه زمونږ دَ ملک وقوم دشمن هم دې ۔

کمانډنټ صیب:۔ ته په دې جذبه فوج کښې بهرتی شوې وې ۔

جبران :۔ بالکل سر ۔

کمانډنټ صیب:۔ که تۀ په خپله دَ دشمن د لاسه مړ شې ۔

جبران :۔ سوری سر ! دَ ملک وقوم دَ پاره چی څوک ځان قربان کړی نو هغه ته مړ نه بلکه شهید ویلی کیږی ، او شهید مړ نه بلکه ژوندې وی ۔

کمانډنټ صیب:۔ ok , yes, yes ۔ ستا خو ډیرے پخے خبرے او ډیر ښۀ خیالات دی ۔ زۀ ستا د جذبے قدر کوم او دا امید ساتم چې تۀ به دَ ملک وقوم نوم روښانه کړے ۔

جبران :۔ انشاء الله سر چې ستاسو مرسته او سرپرستی راته حاصله

وی او ستاسو دَ "شاباش" اواز راپسې وی نو زمونږ جوش او جذبه به څنگه سړه شی سر۔

کمانډنټ صیب (مسکے شی) شاباش، ول ډن بوائے ۔ تینک یو ۔

جبران :۔ تینک یوسر ۔

## دریمه برخه

دَ جبران دَ سزا دریمه ورځ دَ دویمې نه هم سخته وه ۔ دَ کیټ ایکوپمنټ په ځائے دَ هغه په پیټو کښې خښتې اچولے شوې وې ۔ دَ هغه جوله او پوچونه هم دَ خښتو نه ډک شوې ووَ۔ په مقرره وخت مقرره ځائے ته دَ سزا دَ پاره راوستې شو ۔ رنگروټان او استاذان یې دَ سزا تماشے ته اودریدل ۔ دَ کښتی، بیلچې نه علاوه دَ هغهٔ په اوږو باندې څلویښت کلو وزن پروت وو او هغه په هوشیار پوزیشن کښې ولاړ وو۔ دَ هغه معصومیت او مظلومیت ته چې یو استاذ اوکتل نو رامخکښے شو او غلے غوندی یې استاد انور ته اووې "لږه گوزاره ورسره کوه ماشوم هلک دے هسې نه چې څهٔ چل پرې اوشی" استاذ انور دَ هغه پټه خبره ښکاره کړه او په ډاگه یې اووی، "ولی گوزاره کوه ، سزا، سزا وی ... هله به ترینه قلاریږم چی دَ نوکری نه انکار اوکړی او اوتښتی"۔ خو جبران د دې څیزونو نه کله یریدو ۔ هغه دَ سزا په رومبی شپه دَ ډیوټی په دوران کښې ټوله شپه ژړلی وو او هغه هم په سزا نه بلکه په خپله بے عزتی ۔ دَ هغې نه پس هغه پخه فیصله اوکړه چې هغه به دَ خپلو استاذانو هرستم برداشت کړی خو نه به





اوژاړی او نه به دَ هغوی نه معافی اوغواړی ۔ هغه ته ټول استاذان دَ یو خوی خصلت مالکان او دَ یوې سوړې ماران ښکاریدل ۔ ټول سخت گیر، بے رحمه، بے حسه او دَ انسانیت دَ جذبے نه محروم ۔ چی کله هغهٔ دَ استاذ انور دَ خلے نه دَ خپل ځان متعلق دغه خبرے وووریدے نو رنگروټانو ته یې اوکتل او مسکې شو ۔ دَ هغه مسکا په استاذ انور ډیره بده اولگیده ۔ په غصه ورغی او په مخ یې ترینه یو شړق اوویستلو ۔ دې سره هغه بیا مسکے شو او بل مخ یې ورته اونیوو ۔ استاذ انور ترینه په بل مخ په بل لاس شړق اوویستلو دَ هغه لاس خطا شو او دَ مخ په ځای یې پوزه اولگیده ۔ دَ اوښکو په ځائے یې دَ وینے سره قطره دَ پوزے نه را اووته ۔ دَ سپیرمے گوټ ته غلې غوندې اودریده او دَ نور سهیلو انتظار یې کوو۔ او چې کله دَ هغې دَ لارې ملگرے دَ هغے خوا له رااورسیدې نو ټولے په غنډه په مستی مستی دَ هغهٔ دَ شنې شونډې دَ ورشو په مینځ لاره دَ هغهٔ دَ خلے گودر ته روانے شوے ۔ رنگروټانو چې ورته اوکتل نو دَ هغوی په سترگو کښې اوښکے راغلې خو دَ جبران په مخ مسکا خوره شوه ۔ هغه مسکا کومه چې دَ یو شهید دَ شهادت نه مخکښې دَ هغه په مخ خوریږی ۔ استاذ انور چې هغه ته اوکتل نو لاغصه شو ۔ او هغه له یې دَ ډبل مارچ حکم ورکړو ۔ جبران چې ډبل شروع کړو نو په منډه کښې دَ هغهٔ دَ پوزے وینه هم هغه سره شامله شوه او چی څومره به دَ هغه منډه تیریده هومره دَ هغه دَ وینے جوش هم تیزیدو ۔ دَ هغه وردی دَ

هغهٔ په وینو داسې رنګ شوه لکه چې چا پرې دَ ګولیهاروپونه کړی وی ۔ هغه سر ټیټ کړے وو او ډبل مارچ یې کوو ۔

بے رحمه نمردَ اسمان په ډاګ په ډاګه تندی په ډاګه خندا کوله او خپلے پلوشے به یې دَ هغهٔ په بدن لکه دَ سومبو منډلې ۔ دَ وریځې یوه توره غونډۍ دَ هغهٔ په حماقت غصه شوه او دَ هوا په مرسته یې په خپلو تورو پنجو کښې اونیوو۔ جبران داسی محسوسه کړه لکه چې اسمانی مخلوق دَ هغه دَ خوشحالولو اوتښنولو کوشش کوی ۔ دی سره هغه مسکې شو او ځان سره یې غلې غونډې اووی ”مهٔ کوه استاذ به خفه شی ، دَ هغه دَ زړهٔ پټه خبره ښکاره شوه ، دَ هغه استاذ ووریده او وی وئیل ،څهٔ دې اووې څوک به خفه شی “

جبران:۔ هیڅ نشته سر ، دا بله خبره وه “۔

استاذ انور :۔ زهٔ به چانه خفه کیږم ۔ که تا زما خفګان ته کتل نو داسے به ولې وې ۔ کینه کینه ، دې سره جبران کینی او هغه پرې ډډوچال کوی اوه مالی ګاډ ، دَ څلویښت ، کلو وزن سره په هر قدم په ناسته ټوپ او ټوپ هم یو دوه نه بلکه پرله پسې پوره نیمه ګهنټه ، دې نه پس یې بیا دَ مورچے کنستل او دَ هغې دَ ټیولو سزا شروع شوه ۔ چې پنځه بجے شوې نو د هغه دَ اخری ورځے سزا هم ختمه شوه ۔ هغه چی خپل بیرک او خپل کټ ته را اورسیدو او کټ ته یې اوکتل نو په خپل کټ یې یوه لفافه اولیده ۔ هغه خط اوچت کړو، ښکل یې کړو او بیا یې کیښودو ۔ ځان سره تولیه ، صابن او جامے واغشتې او واش روم ته





لاړو ۔ دَ لامبلو نه پس یې صفا جامے واغستې ۔ بیائے ځان سره خط ، کاغذ اوپن واغشتو چې دَ خط لوستلو نه پس جواب ورکړی ۔ دَ استاذانو دَ یرې هغه سره چا خبرے هم نه کولے ۔ یو سراج او کامران به ورسره کله کله ګنګوسې کوو نور هیچا نه ۔ په تلو تلو کښې یې هغوی ته دومره اووې چې ”زهٔ بهر اوځم چې دا خط اولولم او جواب ورکړم ۔ دے سره هغه پریډ ګرونډ سره جخت سټیډیم ته لاړو ۔ په پوړو کیناستو او دَ مور خط یې په مسکا او مینه کهلاؤ کړو ۔ خط داسې وو ۔ خوږه جبرانه ګل اوسې ۔

بچے ! ستا خط رارسیدلې وو ۔ مونږ ډیر خوشحاله شو چې ستا ټرینینګ شروع شو او په تیره تیره په دې ډیر خوشحاله شو چې ستا استاذان تانه ډیر خوشحاله دی او ستا خیال ساتی ۔ دَ استاذ انجم او استاذ انور متعلق خبرے مِ په زړهٔ ډیرے خوږے اولګیدے ۔ چې هغوی سِتا خیال ساتی نو زما دعا ده چې خداې دې دَ هغوی خیال اوساتی ۔ خداې دې په خپلو بچو خوشحاله ساتی ۔ ته وایې چې هغوی تاته دَ خپلو مشرانو نه کم نه ښکاری نو بچے استاذ خو روحانی پلار وی او غاړ بند درته اچوم چې دَ ترهٔ او پلار نه ورته کم اونه ګورې ۔

بچے ! خط په دې وجه لیټ شو چې مونږ ستا دَ راتلو په طمعه وو خو چې تا په راتلو کښې تاخیر اوکړو نو خط مِ ځکه در اولیږو ۔ بچے ! خپل ټرینینګ په صحیح طریقے سره مکمل کړه ۔ زمونږ غم مهٔ کوه ، مونږ سره دې دَ پلار ډیر یادونه دی ۔ ټول هغوی سره په مشغولا یو ۔

په دے ډیره خوشحاله شوم چې ته هم په هغه کمپنۍ کښې یې په کومه کښې چې ستا پلار صوبه دار پاتې شوې وو ـ کوشش کوه چې دَ هغه نوم روخانه اوساتې ـ

بچے ! دَ راتلو نه مخکښې یو خط را اولیږه چې مونږ په طمعه طمعه ستا دَ راتلو لارے ته ګورو ـ دیکښې ډیر خوند او مزه وی ، بله دا چې زۀ به درله ښه ډیر غونزاخی پانبۀ کړم او ستا دَ استاذانو دَ پاره به کورنی غوړی ، ساګ او دَ جوارو اوړۀ پیدا کړم ـ

بچے ! بیګاه مِ خوب کښې لږ ګډوډ لیدلې یې ، په یره راپاڅیدم ستا دَ خوشحالۍ دَ پاره مِ نفلونه اوکړل او چی سپوږمۍ ته مِ اوکتل نو ته راته پکښې ښکاره شوې ـ دَ سپوږمۍ مخ باندې راته لږه خړه ښکاره شوه ـ دَ لوپټې په پسکی مِ دَ هغې دَ صفا کولو کوشش کوو خو لاس مِ نه ور رسیدو ـ بچے! خبرے ډیرې دی او که ټوله ورځ او شپه لګیا یم خو ختمیږی نه خو دا لږے خبرے په ډیرو منظور کړه ـ بچے ! یو سوال درته کوم چی دـ ملک وقوم په عزت او وقار دَ قربانۍ نه مخکښے زۀ غواړم چې ستا کور ودان کړم او دَ صوبه دار صیب په لاره دَ تلو نه مخکښې ، چی ستا اولاد ستا په لاره لاړ شی ـ بچے ډیر مِ یادیږی چی خط در اورسی نو جواب راکړه او بیګاه له دولس بجې سپوږمۍ ته لږ مخامخ اودریږه چی مخ دې پکښې اووینم . . . .بچے ! چې کله دې ټرېننګ ختم شی او په چُهټی راځې نو نګینے له ښنګړی ، سپوږمی له دَ شهیدانو تصویرونه او غازی خان یو خائسته پن راؤړه . . .او . . .





او ماله په مخ مسکا راؤړه ـ استاذانو ته دې زما دَ طرفه ډیرے ډیرے دعاګانے ـ

خدایے دې دَ یخ او تود باد نه ساته ـ

فقط ستا مور ـ

جبران چې خط اولوستلو نو ښُکل یې کړو او یو خوا ته یې کیښودو ـ بیا یې کاغذ او پن راواغشتو او دَ هغې جواب یې لیکلو ـ شروع یې داسې اوکړه ـ

خوږے مورے ډیره ډیره خوشحاله اوسې ـ

السلام علیکم !

مورے ! ستا خط څۀ راغی چې دَ جنت ټولے دریچے راته بیرته شوې ـ ښکلے نظارے دَ کتو او خوږے وږمے په چپوشوې ـ دَشفق ټول رنګونه دَ بو ډۍ ټال شو ـ په دغه ټال په زانګیدو زانګیدو تاته ګورم او خط لیکم ـ زړۀ مِ غواړی چې ستا خورے غیږ ته درټوپ کړم او په دې نیت چې زۀ ځان جوړ کړم نو ته غیبه شې ـ داسې مۀ کوه کنه مورې ـ که ستا دَ غیږ نه اوخویدم نو تا ترین به مِ ځاې شی او زما ارمان به نیمګړے پاتې شی ـ مورے ! یو تپوس درنه کوم خفه نشې ، چې دَ دنیا ټولې میاندې خوږے وی او که نه یواځې ته خوږه یې ـ زۀ خو ویم چې ستا غوندې به یوه مور هم نه وی ـ مورے ! پرون " دَ مور ورځ " یعنی Mother Day وه ـ ټوله ورځ مِ په زړۀ کښې ستا دَ مینے غور ځنګونه وو ـ دَ ورځے ستا دَ لیدو موقعه ملاؤ نشوه خو دَ شپی مِ

تاسو ټول دَ سپوږمۍ په مخ اولیدی نو زړهٔ مِ خوشحاله شو ـ نن شپه به بیا ټیک دولس بجے ستا ملاقات له دَ سپوږمۍ دنیا ته ورځم ـ وخت یاد ساته مورے ، دَ شپې ټیک دولس بجے به زهٔ سپوږمۍ ته ولاړ یم ـ ته هم داسی اوکړه چې ستا دَ نورانی مخ یوه خوندوره نظاره اوکړم ـ مورے ! که موقعه ملاؤ شوه نو ستا دَ دعاګانو پیغام به خپلو استاذانو ته اورسوم خو فی الحال دا ممکن نه دی ځکه چې مونږ دَ یو بل نه ډیر لرې تلی یو ـ خبرے ډیرے دی خو ټولې لیکلې ځکه نشم چې حوالدار میجر دَ رول کال سیټۍ اووهله او هغے له ورتلل پکار دی ـ مورے! زما سلام قبول کړه او ټولو ته واره په واره زما نیکې پیرزونے ورکړه ـ په تامین ـ

ستا ځوی جبران ـ

جبران لا خپل نوم پوره نه وو لیکلې چی حوالدار میجر دَ سیټۍ سره سره هغه ته اشاره هم اوکړه ـ دَ هغه په اشاره هغه هر څهٔ په هاغه ځاے پریښودل او رول کال له یې منډه کړه ـ چې دَ کبلو دَ شینکی نه اووتو او دَ خاؤرو ریګ ته ووختو نو حوالدار میجر ورته اووې : سټاپ ، کینه " دَ هغه په زړهٔ کښې راغله چې هغه دَ هغه دَ منډے او جذبے نه متاثر شو او دَ همدردۍ په طور یې ورته اووی چې کینه ساه واخله ـ هغه لا په دغه شش وپنج کښې وو چې حوالدار میجر دوباره اووې "کینه نواب صیب" جبران دَ هغه حکم اومنلو او په خاؤرو کښی کیناسو او چی څنګه کیناستو نو دَ هغهٔ دَ طرفه ورته





آرډر اوشو "فرنټ رول بیګن " دَ جبران په زړهٔ کښې راغله چې دَ هغه نه تپوس اوکړی چې "ولې؟ ما څهٔ ګناه . . .خطا کړے ده خو هغه ته دَ فوج هغه زړه او مروجه مقوله رایاده شوه چی "مخکښې آرډر اومنه ، بیاشکایت اوکړه " دې خیال سره هغه فرنټ رول یعنی سانټۍ شروع کړې او په سانټو ، سانټو یې هغه له ځان اورسوو ـ په سانټو کښې ترینه طیله داره سواتۍ ټوپۍ یو ځائے په خاؤورو کښې پریوته ـ پنجی دار څپلۍ ( چی دَ هغې پیامړے پرانستی وې ) بل ځائے او دَ جیب پیسی بل ځائے پریوتے ـ ټول په خاؤرو کښې لړلې شوې وو ـ هغه حوالدار میجر ته په هوشیار پوزیشن کښې لکه دَ یو خطرناک مجرم اودریدو ـ دَ جسمانی سزا ورکولو نه مخکښې دَ بدو ردو تمهید شروع شو ـ دې نه پس یې ورته دَ "ډنډ پوزیشن " آرډر ورکړو او چې تر څو رول کال وو هغه په دغه پوزیشن کښی وو ـ

چې رول کال ختم شو هر سړی ته خپله خپله ډیوټۍ حواله شوه او هغوی روان شو نو هغه هم پاڅیدو ـ کامران او سراج هغه او څنډو او دَ څپلو ، ټوپۍ او دَ پیسو په تلاش کښې یې هغه سره امداد اوکړو ـ څپلۍ او ټوپۍ یې په اسانه پیدا شوې خو دَتیارې په وجه پیسی اونه موندلے شوې ـ نور هلکان مس ته لاړل او هغه واش روم ته لاړو ـ چې جامے یې بدلې کړې نو مس ته ورغی او ډوډۍ یې اوخوړه ـ په دیکښی هغه ته خپل خطونه رایاد شو ـ پلیټ یې زر زر اووینځلو په کیټ بکس کښې کیښودو او سټیډیم ته روان شو ـ هغه هلته

خطونو پسې ګرځیدو چې سراج هم ور اورسیدو ۔ هغه هم ورسره دَ خطونو لټون شروع کړو خو هیڅ په ګوتو ورنه غلل۔ جبران په کبلو خفه کیناستو ۔ دَ سراج په تپوس باندی هغهٔ ، هغه ته پوره قیصه اوکړو۔ سراج دَ هغه په سزا ډیر خفه شوے وو او هغه له یې تسلی ورکوله ۔ هغه دَ همدردی په طور هغه ته اووې ”جبران بهائی ! خفه کیږه مه ، داسې کله کله کیږی “ جبران هغه ته په سوالیه نظر برند برند اوکتل او وے وئیل کله کله ؟ زهٔ خو دې استاذانو دَ لادو بادو اوغورځولم ۔ اخر ما کړې څه دی ؟ دا ټول ماته ولې یو موتې شوی دی ۔ ما دوی له څهٔ څهٔ نه دی کړې . . .ته ګوره ، استاذ انور زما په وردۍ چائے توې کړے ۔ غلطی هغه اوکړه او سوری ورته ما اووی ۔ دَ هغه دَ غلطۍ سزا ماته راکړے شوه ۔ دا کومه انسانیت سوز سزا چې ماته راکړے کیږی نو آیا دا فوجی سزا ده که د دوی خپل اختراع دې درے ورځے یې پرله پسې دَ پیټو درے ، درے ګهنټې سزا راکړه ۔ ته اووایه سراجه ما کوم جرم کړے دې ۔ ما کومه غلطی او ګناه کړے ده چې دَ هغې سزا نه معاف کیږی ۔

سراج :۔جبران بهائی ! هر څهٔ راته معلوم دی خو هیڅ نشو ویلے ۔ زهٔ هم ستا غونډې رنګروټ یم او تهٔ خو لاښهٔ یې ، تکړه یې دَ پیټو سزا زغملے شی زهٔ خو یې اوچتولے قدرې هم نشم ۔

جبران :۔ دوی ټول ما پورے انختی دی ، ټول ماته یو صلاح شوی دی که دوی ماته خپل جرم اوښودلو نو زهٔ به هغه نه کوم خو چې معلوم





خو شی کنه ۔

سراج :۔ جبران بهائی ! خفه کیږه مه خو ستا جرم او ګناه ماته معلوم دی ۔

جبران :۔ تهٔ هم داسے وایی ، ښه وایه څهٔ دی ؟

سراج :۔ جبران بهائی ! ستا جرم ستا انتهائی تابعداری ده ۔ ستا غلطی ستا خوږے او پستې خبرے دی او ستا ګناه ستا خائست دې ۔ دې ټولو عوامولو ستا شخصیت مشکوک کړو او دا هغوی ستا اخلاقی کمزوری اوګڼله خو په دې ډیر خوشحاله شوم چې سزا ته دې غاړه کیښوه خو دَ هغوی لاس دې په ځان پرے نښودو ۔ زهٔ ستا په مړانه فخر کوم ۔ دا جسمانی سزا به اخر تیره شی خو دَ بے غیرتۍ داغ نه ورانیږی “۔ جبران دَ هغهٔ خبرے اوریدے خو هیڅ جواب یې ورنکړو ۔ سراج چې خپلی خبرے ختمے کړې نو بیائے هغه ته اووې ”څه چې څو بیرک ته صبا دَ پاره تیارې اوکړو “۔

جبران :۔ ته ورشه سراجه ۔ زما اوستا یو ځائے ناسته اوګرځیدل ښه نه دی هسی نه چې زما په تیلو کښې تهٔ هم اوسوزې ۔ د سراج دَ تلو نه پس هغه ډیره شیبه هلته ناست وی او دَ خپل فوجی ژوند په ناکړدو سوچ کوی . . .هغه ډیره شیبه ناست وو او چی په ناسته تنګ شو نو پاسیدو او دَ ملګرو خوا له بیا ورغی ۔

★★★★★★★★★★★

★★★★★★

## څلورمه برخه

تیک دولس بجې جبران دَ خپل کټ نه غلې غوندې پاڅیدو او په غلو قدمونو دَ بیرک نه اووتو ۔ دَ وتو سره دَ پریډ گرونډ سره نزدې سټیډیم ته لاړو ۔ اسمان بالکل صفا وه ۔ سپوږمۍ دَ اسمان نیمې له راغلې وه ۔ ستوری دَ هغې په ننداره وو او هغه دَ خپل جمال په تماشه وه ۔ جبران سپوږمۍ ته اودریدو او په هغې کښې یې دَ خپلې مور مخ لټوو ۔ هغه په سپینه لوپټه کښې پټه په سجده پرته وه خو چې دَ سپوږمۍ پلوشو ورله دَ جبران دَ راتلو زیرے ورکړو نو په توندۍ سره یې سلام اوگرځوو او مخ یې دَ لوپټې نه ښکاره کړو ۔ هغوی دواړو یو بل ته په ډکو سترگو اوکتل خو دَ مینې چپو هغوی څۀ ویلو ته پرے نښودل البته په چپه خله یې دَ راز ونیاز خبرے شروع وې ۔ چې څومره به وخت تیریدو دَ هغوی مینه زیاتیده دَ هغوی دا مینه ، محبت لاشروع وو چې دیکښې یو مضبوط او طاقت ور لاس دَ هغۀ په اوږه راتیر شو او دَ هغۀ گریوان ته را اورسیدو او هغه یې تینگ اونیوو ۔ دَ نیولو سره یو خوفناک اواز راغلو "تۀ څوک یې او دلته څه کوې ۔ جبران چې په یره یره هغۀ ته مخ راواړه وو او وې کتل نو هغه دَ آر ۔ پی (ریجمنټل پولیس) یو سپاهی وو ۔ دې سره دَ هغه بل اواز راغلو "تاته ویم کنه ، په دے نیمه شپه دلته څۀ کوې ؟ ...بل درسره څوک وو ۔

جبران :۔ استاذ جی گریوان مې پریږده ۔





سپاهی :۔ گریوان به دې هله پریږدم چې سړے راته اوښائې ۔

جبران :۔ سړی نه وو ښځه وه ۔

سپاهی :۔ ښځه وه ؟ څۀ شوه ؟

جبران :۔ ستا په راتلو لاړه غیبه شوه ۔

سپاهی :۔ راځه مخکښے شه چې استاذ له دې بوځم ۔

سپاهی هغه لاس نیولے آر ۔ پی حوالدار له بوځی ۔ هغه په خپله کمره کښې ملاست وی ۔ سپاهی هغۀ ته وراوډبوی ، او جبران ورته پیش کړی ۔

حوالدار :۔ څۀ دی نیاز محمده ؟ ولی ؟ . . .دا څوک دې ؟

نیاز محمد:۔ سر دا هر څوک چې دې خو په مشتبه حالت کښې په نیمه شپه په سټیډیم کښې ولاړ وو دَ چا انتظار یې کوو ۔

حوالدار :۔ بل ورسره څوک وو ؟

نیاز محمد:۔ سر ما خو څوک لیدلی نه دی خو دې وائی چې یوه ښځه راسره وه ۔

حوالدار :۔ ښځه ؟ (جبران ته گوری) تۀ په خپله دَ جینۍ په ډول یې او ښځو پسې گرځې ۔ بے شرمه ، بے غیرته ...سمه خبره اوکړه ۔

جبران :۔ زۀ دروغ نه وایم سر ۔

حوالدار :۔ (سپاهی ته) تا څول لیدلے وه ۔

نیاز محمد:۔ نه سر ما هیڅ نه دی لیدلی ۔

حوالدار :۔ دا څۀ په پاگل مو سر دې ...دا ښځه څوک وه ؟

جبران :۔ دا زما خوږه مور وه ۔

حوالدار :۔ مور ؟ دا هلک خو ماته روغ نه ښکاری ۔

جبران دَ حوالدار په میز پرتو کاغذونو ته ګوری او وائی : سر ، زهٔ روغ یم نه لیونے یم نه پاګل ۔ نن شپه ټیک دولس بجے زما او دَ هغے دَ ملاقات نیټه وه ۔

حوالدار :۔ ملاقات اوشو او هه لاړه ؟

جبران :۔ ملاقات لا جاری وو ۔ دَ زړونو خبرے شروع وی خو چې نیاز محمد استاذ راغیٔ نو هغې په مخ لوپټه واچوله او لاړه ۔

حوالدار :۔ ته وائی "زه روغ یم" ۔ دا روغ داسې وی ؟۔

جبران :۔ سر که ستا زما په خبره یقین نه کیږی نو ستا په میزدا پراتهٔ کاغذونه د دې خبرے ګواه دی ۔ سر په دې کاغذونو کښې یو زما دَ مور خط دې چی هغې ماته رالیږلې دې "جبران دَ میز نه دَ مور خط راخلی او هغه ځائے پکښې را اوباخی چی مور ورته دَ ملاقات خواست کړې وو " سر دا اوګوره هغه وائی چی "بچے ! ډیر مِ یادیږې ۔ چې خط دراورسی نو جواب راکړه او بیګاه له دولس بجے سپوږمۍ ته لړ مخامخ اودریږه چی مخ دې پکښې اووینم "۔ سر دا زما دَمور خط دې او نن راغلی دې او نن مِ جواب هم ورکړو " هغه خپل خط راخلی او هغه ته وائی " سر دا اوګوره کنه ما ورسره وعده کړے وه چی "بیګاه له به زهٔ ستا دَ وینا مطابق ټیک دولس بجے سپوږمۍ ته اودریږم چی ستا دَ مخ ننداره پکښې اوکړم " دا اوګوره سر دروغ نه ویم ۔





حوالدار :۔ دا خطونه ستا دی ؟

جبران :۔ سر دا یو مِ دَ مور دې او بل زما دې ۔

حوالدار یو نظر بیا په خطونو اچوی ۔دَ هغهٔ لوستل لا جاری وی چی دَ سترګو نه یې غټې غټې اوښکے راپریوځی ۔ چی خطونه اولولی نو خپلې اوښکے اوچی کړی او وائی ځویه! تهٔ دلته ولې راتلې۔ دَ فوجی جوړیدو نه بهتره وه چې ته افسانه نګار وې ۔ کوم څیز چې مونږ په جسمانی سترګو نشولیدے هغه ته دَ تخیل په سترګو وینې ۔ بچے چرته بله نوکری نه وه ؟

جبران:۔ سر زه نوکری له نه یم راغلې ۔ زه خو شهادت له راغلې یم ۔ چی ټریننګ ختم شی او قسم پریډ اوشی نو شهادت ته به جوړ شم ۔ بیا به بریګیډیرصیب ته حواست کوم چی زما ارمان پوره کړی۔

حوالدار په ځیر ځیر جبران ته ګوری او بیا وائی ۔ دَ ملک وقوم دَ پاره ستا جذبه قابلِ تحسین ده ۔ زهٔ ستا دَ جذبے قدر کوم او ستا دَ شهادت سره سره دَ الله نه دَ خپل شهادت هم امید کوم ....ښه بچے څهٔ تکلیف خو درته نشته "۔

جبران:۔ نه سر هیڅ نشته ۔ هر څهٔ ټیک ټاک دی ۔ ډیره شکریه سر ....سر دا خطونه ځان سره واخلم۔

حوالدار :۔ هاؤ بچے واخله ....نیاز محمده ۔ دے خپل بیرک ته اورسوه او چې کټ کښې سملی نو تهٔ ترینه راځه ۔

جبران :۔ لاړم سر ، سلام علیکم ۔

حوالدار :۔ وعلیکم سلام ۔ په مخه دې ښه ۔

## پنځمه برخه

دَ جبران دَ وتو نـه پـس لائـن سنتـری دَ هغـهٔ دَ غیر حاضرۍ رپورټ استاذانو له ورکړے وو ۔ هغوی دا موقعه دَ خداې نه غوښته ۔ دواړه دَ هغـه لټون پسې اووتـل ۔ دَ هغـهٔ دَ ناستے پاستے ځایونـه ، سټیډیم او دَ پریډ ګرونډ ګوټ ګوټ یې لټ په لټ کړل خو چې دَ هغهٔ څۀ پته اونه لګیده نو دَ حوالدار میجر کمرے ته ورغلل او هغه ته ې ټول صورت حال اووې ۔ هغـه پری هډو اوچ اونه خوړل ، هغوی یې ځان سره واغشتل او صوبه دار صیب له ورغلل ۔ صوبه دار صیب هغـوی سره دَ هغـوی بیـرک تـه ورغـی ۔ چې دَ هغهٔ تش کټ ته یې اوکتـل نو دَ غصے نه لنبه شو ۔ ټول پلاټون یې Stand to کړو او ټولو تـه یې بـد رد شروع کړل ۔ ټول رنګروټان په خوبولې انداز ولاړ وو او دَ هغه سپورې ستغې یې اوریدے ۔ دے نه علاوه دَ لائن سنترې نه یې دَ هغـه متـعلـق مـختلف تپوسونه کول ، څه وخت اوتے دی ؟ څوک وو ورسره ؟ پـه کومه لاره اوتے دې ؟ تاسره یې څۀ خبره اتره یا سوال جواب شوې دې ؟ سنتـری غـریب په خپله رنګروټ وو ، دَ هغه خپل غمونه دومره وو چې تپوسونو ته نه وو جوړ شوې البته صوبه دار صیب له یـې څۀ مات ، ګوډ جوابونه ورکړل خو دَ هغهٔ پری تسلی اونشوه ۔ بیا ئے حوالـدار میجر ته اووې چې دَ هغه دَا بنستې او بیډ کرکټر رپورټ جوړ کړه۔ حوالدار میجر لا په رپورټ تیارولو کښې لګیاوو چې جبران





اونیاز محمد رااورسیدل ۔ نیاز محمد چې پلاټون دَ سټینډ ټو په حالت کښې اولیدو نو دَ برنډې نه په داسی حال کښې واپس شو چې هډو چا اونه لیدو ۔ جبران چې بیرک ته ورغی نو ټول ببر شول او په هغه یې سترګی ښخے کړې ۔ دَ تپوس نه مخکښی یې په څلور تنه یې راګیر کړو۔ کومه مړانه چې جبران په بینټ فائټنګ کښې دَ Targets پـه غـورځـولـو کښـې ښـودلے وه هغـه هغوی دَ هغهٔ پـه راغـورځـولـو کښې اوښودله ۔ چې ښهٔ خواری یې پرې اوکړه نو بیا ئے تریـنـه تپوسونه شروع کړل ، چرته تلې وې ؟ چا سره تلې وی ؟ څۀ دے کـول ؟ چـانـه دې تپـوس کـړے وو ۔ جبـران لـکـه دَ خطرنـاک مجرم دَ جیـوری دَ مـمبرانـو او دَ چیـرمیـن مخے ته په هوشیار پوزیشن کښې چپ چـاپ ولاړ وو۔ نـه یې جـواب ورکـوو او نـه یې دَ جواب ورکولو ضـرورت مـناسب ګـڼـلو ځـکه چې هغه ته پته وه چې دَ هغه په یوه خبره باندی هم دَ هغوی یقین نه کیږی ۔ چی دَ تپوسونو دور ختم شو او هغـه څۀ جواب ورنه کړو نو بیا دَ پوچ ګولی دور شروع شو ۔ صوبه دار صیب یو ځل بیا حوالدار میجر ته اووې "دَ دهٔ دَ بیډ کریکټر رپورټ تیار کړه چی دَ کمانډنټ صیب نه پری دَ خصوصی سزا آرډر واخلو"۔

حوالدار میجر:۔ زه خو ویم ، سر چې مخ ورله تور کړو او په ټول یونټ کښې یې شرمیدلې اوګرځوو۔

استاذ انور:۔ سر، کـه زما منی نو زۀ خو ویم چې په مخ ورله تیزاب واچوو او عمری تریـنه خلاص شو۔ دا بے غیرته او بے شرمه چی دَ کله

نـه راغـلـې دي نـو چا سره مو دَ سترګو لګيدو شان پاتے نشو "دے سره هغـه په جبران لاس اوچتوی ۔ جبران دَ هغه لاس په هوا کښې نيسی ۔ استـاذ انـجـم ، حـوالـدار ميـجـر او صـوبه دار صيب دَ هغه مزاحمت ګستـاخـی اوګڼی او هغوی هم جبران پسی هڅه کوی ۔ جبران چی دَ هغـوی پـه سـتـرګو پو هـ شی نو وائی Get back , you all ۔ هغوی ټول به خپل خپل ځائے اودريږی ۔ استاذ انور چيکونه وهی خو لاس دَ هغه دَ ګرفت نه شی خلاصولے ۔

جبران دَ هغه منګول له نور زور هم ورکړی او وائی " استاذ جی زۀ نه بے غيـرتـه يم نـه بے شرمه او نه نور څۀ يم خو ستاسو دَ لاسه هر څه هر څه شوم ۔

حوالدار ميجر:۔ بے غيرته تۀ جواب ګرځوې وودی و هم دا خوله ۔

جبران:۔ سـر دا کـوم وهـل چې تـاسـو اوکړل دا کافی دی او په کوم لاس چې تـه زمـا خـولـه وهـل غـواړی هغه په خپله خوله کيږده چی نوری غـلـطی خبرے ترينه اونه ځی ۔ سر ، زۀ بے غيرته نه يم ۔ کـه بے غيرته وی نـو سـتـاسو سزا به م ولې زغمله ۔ سزا خو غيرتی ته ملاويږی بے غيرته تـه نـه " استـاذ انور چيکونه وهی چې خپل لاس خلاص کړی ۔ جبران هغـه تـه يـو ځل بيا ګوری او وائی "که دَ مور دَ نصيحت لحاظ م نه وی نـو دالاس بـه م درنـه بـوتې ويستلی وو خو افسوس چی مور م راته غاړه بـنـد اچـولې دي چې " خپـلـو استـاذانو ته به دَ مشر او پلار په سترګه ګورې " دے سره هغه دَ استاذ انور لاس پريږدی ۔ بيا صوبه دار صيب ته





ګوری او وائی "صوبه دار صيب ! چې څنګه دې خوښخه وی هغسی رپـورټ تيـار کـړه ۔ وضـاحـت به يې دَ کمانډنټ صيب مخکښی کيږی خـو يـوريـکـوسـټ درتـه کوم چې زما دَ بيډ رپورټ سره سره د دی دواړو استاذانو بيډ رپورټ هم تيار کړه چی رپورټ مکمل شی ۔

استاذ انجم :۔ تۀ مونږ ته دهمکی راکوی ؟ مونږ يرول غواړې ؟

جبران :۔ نـه استـاذ جی نـه، خو له م دې ماته شی چې زۀ خپل مشر له دهـمـکـی ورکړم ۔ زۀ خپل پوزيشن واضحه کول غواړم ۔ زۀ پيدائشی مـجـاهـد يـم او دَ فـوج دَ اصـولـو نـه خبريم ۔ دَ خپلو استاذانو دَ مشرانو غـونـدې قـدر کـوم خـو .....خـو د استـاذانو نه هم دَ خپل عزت نفس تـوقـع کوم ...صوبه دار صيب ! دا استاذ انور هغه سړې دی چی زۀ يې ستاسو په نظر کښې اوغورځولم ۔ دا دې مخامخ ولاړ دې۔ دۀ ماته ويلی وو چـی حوالدار ميجر او صوبه دار صيب سره به نه ملاويږې ۔ او دا يې هـم ويـلـی وو چـی "زمـا دَ اجازت نه بغير به کمانډنټ صيب سره هم نه مـلاويـږې ګـيـنـی هغه سزا به درکړم چې ټول عمر به يې ياد ساتی " ما د دۀ خبـره ځکه اومنله چې د دۀ دَ سزا نه يريدم ۔ بله خبر دا ده چې دې زما ږومبی کمانډر وو۔ مادۀ ته دَ پلار په سترګه کتل او دۀ چې ماته په کومو سـتـرګـو کـتـلـی دی هغه دۀ ته پته ده ۔ چی زۀ يې دَ ستاسو ټولو دشمن کـړم نو ميدان ده ته صفا شو ...د دې ټولو هلکانو په مخکښی يې زما پـه وردی چائـے تـوې کـړه ...چائے دۀ توې کړه او سزا ماته راکړے شوه ۔ دې استـاذ انـجـم رانـه پـه مـخ شـړقـونـه اوويسـتـل ۔ حـوالدار ميجر رانه

اوویستل ، تاسو رانه اوویستل دَ لیډری چیندی هم رانه تاسو کوزې کړی او دَ دریو ورځو دَ پاره دې دَ دریو دریو ګهنټو دَ پیټهو سزا هم راکړه ۔ سر پـه خپل زړهٔ کښې لږ سوچ اوکړی، چی دا ولی ؟ ما څهٔ جرم کړې وو ؟ سر ! تاسو چې ماسره څهٔ اوکړل او څهٔ کوی داسې ستاسو اولاد سره هم کیدیشی . . .سر ! ماته څان ډیر بد ښکاری چې دَ خپلو مشرانو او کمانډرانو مخکښې داسے خبرے کوم ۔ خو دَ هر ظلم یو حد وی ۔ چی هغـه حد کراس شی نو بیا دَ ظلم مخ نیوی پکار دی ۔ . . .سر ! تاسو کمانډنټ صیب ته زما خلاف دَ بیډ کریکټر یا لوز کریکټر رپورټ ورکړی، ما خپل پوزیشن ستاسو پـه مخکښې واضحه کړو خو دَ کمانډنټ په مخکښې دا ګستاخی نشم کولے ۔ سر! اوس چونکه زما اوستا څه تعلق پاتے نشو ځکه چې زهٔ څان د دې نوکری اهل نه ګنم ۔ دے سره روغوندے روستو شی ، خپلی وردی له ورشی ، هغه ښکل کړی او سلام ورته اوکړی ۔ بیا پـه ډکو سترګو رنګروټانو ته اوګوری مسکے شی او روغوندې دَ بیرک نه اوځی ۔ دَ هغه په وتو باندی صوبه دار صیب وائی ۔ یه هلکه چرته ځی ۔اودریږه لاړ نشې ګوری ۔ (استاذ انور او رنګروټانو ته وائی ) ورشی، اوې نیسی، لاړ درنه نشی " استاذان او رنګروټان ټول هغهٔ پسې اولګیدل او دَ هغه دَ نیولو کوشش یې کوو۔ خو چې هغوی وروسیدل نو هغه ترنه غزیدلې وو ۔ لکی دَ اوسی په یوه منډه دَ ګراؤنډ بل سرته اورسیدو ۔ دَ ګنده وین په غاړه اودریدو او ټوپ یې ترینه وهو خو چونکه دا ښه کافی پلن وو نو دَ هغه زړهٔ پرے





اوبهٔ اونـه څـکـلې ۔ یو څو قدمه روستو شو ، ډیر په تیزی سره پرے بیا ورخوشے شو او چی ټوپ یې کړو نو دَ ګنده وین په بله غاړه یې په یو جق دواړه خپی اولګولے ۔ دَ ګنده وین په غاړه او خواؤ شا ځایونه دَ بنګو او دَ ویلنی دَ بوټونه ډک وو هغه په دغه بوټو کښې ډیر په تیزی، سره روان وو آن چې بونډری وال ته اورسیدو ۔

بونډری وال نهه فټه اوچته وو ، هلته اودریدوساه یې واخسته او هغوی ته یې روستو اوکتل۔رنګروټان دَ ګنده وین په غاړه ولاړ وو او دَ هغے نه یې دَ ټوپ وهلو کوشش کوو ۔ دَ صوبه دار صیب په آرډر باندې څلورو کسانو ټوپ کړو ۔ یو په کښې ورپریوتو دَ بل خپی په غاړ اولګیدے خو څان یې ټینګ نکړے شو او ګنده نالی، ته ورپریوتو البته دوه کسان داسې وو چې پورے وتل جبران هغوی ته خیال اوکړو چې دَ هغه دَ نیوو کوشش کوی ۔ نو دَ لرے نه یې په دیوال ورمنډه کړه او هواګیر پرے ووختو۔

د استاذانو او رنګروټانو شور ژوړ لاجاری وو چې سړک ته اورسیدو ۔ هغه لا په سړک منډے وهلې چې دَ روستو نه پرے یو موټر راغی ۔ هغه دَ سړک پـه غاړه اودریدو او ګاډی له یې لاس ورکړو ۔ دَ ګاډی اودریدو سره ډرائیور دَ هغه نه تپوس اوکړو "چرته ځې"

جبران :۔ دے سره به بیا ګورو ، اوس مِ دے ظالمانو نه اوباسه ۔ ډرائیور ورته په توندی سره کړکی لرے کړه او هغه ګاډی ته اوختو۔

★★★★★★

## لسم باب

جبران وارخطاوو او ساه یې تله راتله ۔ ګاډې مخکښے روان وو ۔ ډرائیور چې یو پوخ عمر سړی وو، کله کله به یې هغه ته کتل خو جبران په خپلو خیالونو کښې ډوب وو دَ هغه کتو پسې یې مخ نه وورځ ۔ یوه شیبه ډرائیور په کتو کتو کښے هغه ته اوویل "بچے ته ستړونې یې "؟

دَ بچی ټکی سره دَ هغه زړۀ دَ خوشحالۍ نه ټوپ کړو ځکه چې دا ټکی هغه ډیره موده پس وورېدو ۔ هغه ډرائیور ته دَ مینې په نظر اوکتل او وے وئیل "نه خان جی ، ستړونې نه یم "۔

ډرائیور: ۔ څۀ شغل کوے ؟

جبران: ۔ شغل لاړو ختم شو د دے ظالمانو دَ لاسه ۔

ډرائیور هغه ته نیغ نیغ ګوری لکه چې دَ هغه نه وضاحت غواړی ۔

جبران دَ هغه په کتو پوهـ شو او وے وئیل ۔ زۀ په فوج کښے بهرتی شوے ووم خو ....

ډرائیور: ۔ خو څۀ ؟ خبره پوره کړه بچے ۔

جبران: ۔ خو د دے ظالمانو دَ لاسه مې نوکری پریښوده ۔

ډرائیور: ۔ دَ کوم ظالمانو دَ لاسه ؟

جبران : ۔ دَ خپلو استاذانو دَ لاسه ۔

ډرائیور: ۔ ولے دے پریښوده ؟ په ټریننګ کښې سختی وه ؟

جبران : ۔ دا لویه قیصه ده خان جی ۔ زۀ به درته کومه کومه خبره کوم





او ته به یې تر کوے اورے ۔

ډرائیور : ۔ اوس کوم خوا روان یې ؟

جبران: ۔ اوس خو شپه ده نشم تلے چی صبا شی بیا به ګورو هره خوا چې لاړم ۔

ډرائیور: ۔ ته دَ کوم ځائے یې ؟

جبران: ۔ زۀ دَ پیښور یم ۔

ډرائیور : ۔ چرته هم مه ځه ۔ نیغ خپل کور ته لاړ شه ۔

جبران: ۔ کورته نه ځم خان جی ... کورته په کومو سترګو لاړ شم ۔ هغوی خو زما دَ نوکرۍ په طمعه دی ۔

ډرائیور: ۔ مور ، پلار دے شته ؟ زما مطلب دے نور څوک رشته دار وغیره ۔

جبران: ۔ پلار مې مړ دے ۔ یو مې وررور دے دوه مې خویاندې دی ۔

ګاډے دَ یوے بنګلے مخے ته اودریږی او هارن وهی " ښۀ بچے شپه دلته ماسره اوکړه ، سحر به لاړ شے ..(ډرائیور جبران ته په مسکو سترګو اوګوری )۔ست مه غواړه ۔ یوه پوخ عمره ښځه راځی او ګیټ لرے کوی ۔ ګاډې چې دننه شی نو هغه ګیټ بند کړی او ګاډی پسی روانه شی ۔ ډرائیور او جبران دواړه دَ ګاډی نه کوز شی ۔ ښځے چی جبران ته اوکتل نو وے وئیل "بهادرخانه! دا هلک څوک دے ؟

بهادرخان دَ ګاډی نه سامان هم کوزه وی او هغے له جواب هم ورکوی ... دا میلمه دے ۔

آپاجی ۔ شپے له راغلے دے ۔

آپاجی جبران ته په مشکوک نظر گوری او بهادرخان ته وائی ”تا ډیر ناوخته کړو ولې خیروو؟

بهادرخان:۔ نور خیر وو آپاجی خو گاډی راته خراب شوے وو ډیر په مشکلـه مِ ټیک کړو جبران دَ سامان په اوچتولو کښی بهادرخان سره امداد کوی ۔

آپاجی :۔ ډوډی دے خوړلے ده ؟ ”آپاجی باورچی خانے ته ځی چی هغوی له ډوډی گرمه کړی ۔

بهادرخان :۔ نه ، نه مِ ده خوړلے ۔ ډوډی گرمه کړه ” هغه جبران نه تپوس کوی “ ستا څۀ نوم دے بچے۔

جبران:۔زمانوم جبران دے خان جی ۔

بهادرخان :۔ ډیر ښۀ ۔ ښه بچے ته واش روم ته ورشه مخ لاس اووینځه او زه جامے بدلوم ۔

چی هغوی ځان تیاره وی نو ډوډی هم تیاره وی ۔ آپاجی ډوډی ډائننگ روم کښې اولگوی او بهادر خان ته وائی ”بهادرخانه راځه ډوډی تیاره ده “۔

بهادرخان :۔ (جبران ته ) ”راځه جبرانه بچے چی ډوډی اوخورو ۔

جبران :۔ نه خان جی ما خوړلے ده ۔

بهادرخان :۔ تا به دَ ماښام ډوډی خوړلے وی او هغه به دے هضمه شوے هم وی دا دَ دریو بجو ډوډی ده ۔ راځه بچے ډیرے منړے دے وهلے دی





ته به ضرور اوږے شوے یې ۔ ست مه غواړه ، دا خپل کور اوگڼه۔

جبران هغـه سره ډائننگ روم ته روان شی او هغه سره میز ته کینی ”بهادر خان چې ږومبې نوړی اخلی نو دَ آپاجی نه تپوس کوی ”کوثر ډوډی خوړلے ده “؟

آپاجی ( یو سوړ اسویلے اوکړی ) ډیر په منت او زاری یې یو څو نوړی اوخوړے او هغه هم هله چې په زور مِ ورله خوله کښې ورکړے ۔

بهادرخان:۔ گولی یې خوړلے دی ؟

آپاجی :۔ خوړلے دی خو څۀ پرے هیڅ ښیگړه یې پرے نه کیږی ۔ څلـور میاشتے اوشوے چې خوری یې خو څه پرے ۔ خدائے ته اسانه ده بهادرخانه ، زما خو دَ هغے دَ ژوند نه امید قطعی دے “۔ دے سره دَ بلے کمرے نه اواز راځی “ آپاجی ...آپاجی آپاجی ۔ بیا وینه شوه خوب پرے حرام دے (پاځی او په تلو کښې وائی ) درغلم لورے هغه روانیږی او دَ هغے کمرے ته ورځی ۔ لږه شیبه پس دواړه ډائننگ روم ته راځی ۔ کوثر سلیپنگ سوټ اغوستے وی ، سرے سترگے او خورے زلفې بهادرخان له ورځی او وائی ”السلام علیکم انکل “۔

بهادرخان هغه ښکلوی او وائی ”وعلیکم السلام څنگه یې بچے “

کوثر:۔ فائن انکل ۔

بهادرخان :۔ راځه بچے ماسره ډوډی اوخوره ۔

کوثر:۔ نو انکل ، دَ ډوډی موډ کښې نه یم تینک یو ۔

بهادرخان :۔ میلمه ته دے سترې مشی او نکړل لورے ۔

کوثر جبران ته په غور سره ګوری او وائی "انکل دا هلک څوک دے ؟

بهادر خان :۔ دا میلمه دے بچے (جبران هغے ته اوګوری ۔ د دواړو سترګے خپلو کښے اولګی ۔ کوثر دَ جبران خواله په غصه راځی او وائی ): اوس ولے راغلې ۔ نۀ به راتلے کنه ۔ ستا دَ لاسه په ما څۀ څۀ تیریږی ؟ خوب او خوراک دے راباندے حرام کړے دے " هغه جبران دَ ګریوان نه نیسی او په مخ ترینه یو شړق اوباسی ۔

بهادرخان :۔ کوثر ، کوثر کوثر ډیره بدتمیزه یې ۔ دا میلمه دے "دَ هغے لاس نیسی او څان پسې یې راکاږی ۔

آپاجی : ۔ دا څه کوې لورے ۔ میلمه باندے ګوزار کوے ؟

کوثر:۔ دا میلمه زۀ ډیرښه پیژنم ۔ دا دے انکل ۔ آپاجی :۔ دا هغه هلک دے چی خوب ته مِ نه پریږدی ، جبران دَ ډوډی نه لاس راکاږی او هغے ته حیران ګوری ۔

بهادرخان :۔ خفه نشے جبرانه بچے ۔ د دے دماغی توازن برابر نه دے ۔

کوثر :۔ زه بالکل ټیک یم ۔I am all right uncle ، اوس ایله په لاس راغی ۔ هغه دَ بهادر خان دَ پنجے نه څان خلاصوی ، جبران پسی ورځی او هغه بیا دَ ګریوان نه نیسی او وائی "تا خوزۀ تباه وبرباد کړم "۔

جبران په حیرانتیا بهادرخان ته ګوری او وائی " دا څۀ دی خان جی . دا ماسره څۀ کیږی ۔ ماڅۀ ګناه ، خطا کړے ده ۔

کوثر:۔ ستا ګناه ...تۀ هغه نه یې چی براؤن سوټ دے اچولے وو ، براؤن ټائی دے تړلے وه ، براؤن بوټان دے اچولے وو ، وایه ...وایه ۔ ته





هغه نه یې "۔

جبران:۔ براؤن سوټ ، براؤن ټائی او براؤن بوټان اچول ګناه ده ؟

کوثر :۔ ډیره لویه ګناه ده ۔ تا دومره لویه ګناه کړے ده چې دَ هغے اندازه نشے لګولے ۔ تا خو زۀ تباه وبرباد کړے یم او تۀ دَ ګناه خبره کوے ؟ ...وایه دا ولې ؟ جواب راکړه ۔

بهادرخان :۔ دَ حد نه مه تیروځه ، پریږده د دۀ ګریوان او راشه دلته کینه ۔

جبران :۔ دا پریږده خان جی چې دَ خپل زړۀ براس اوباځی ۔ ماته خو خپل جُرم اوښایه کنه ۔ ما خو تۀ چرے لیدلے هم نه یې ۔

کوثر:۔ تا نه یم لیدلے خو ما لیدلے یې ۔ تۀ هغه نه یې چی ماله په زیبا بیوټی سنټر کښې په مخه راغلے وے ...وایه ...وایه ته هلته تلے ئے که نه ۔

جبران (په یره ) ماتا سره څۀ بدتمیزی کړے وه ۔ غلط نظر مِ کړے وو که غلطه خبره مِ کړے وه ۔

کوثر :۔ تا هیڅ نه دی کړے ، تا خو ماته کتلے هم نه دی ۔

جبران :۔ ښه نو بیا ؟ نه کتل زما شرافت دے که شرارت ؟ وایه ...وایه ۔

کوثر:۔ What is your name?

جبران :۔ زما نوم جبران دے ۔

کوثر (شرمنده شی ) سوری جبران ۔ آئی ایم ریلی سوری ۔

بهادرخان :۔ ډوډی خوره بچے ۔ د دے خبرے زړۀ ته مه اچوه ۔

جبران :۔ بس خان جی زۀ موړ شوم ۔

کوثر:۔ ته ډوډۍ نه خورے ؟

جبران ( په غصه ) نه ، نه خورم ۔

کوثر:۔ انکل دے ډوډۍ ولے نه خوری ؟

بهادرخان :۔ ډوډۍ به ښه اوخوری ۔ تا ورسره خومره بد تمیزی اوکړه ۔

کوثر :۔ ما خو ورته سوری اووے انکل ۔

بهادرخان :۔ عجیبه ده ۔ سړې بے عزته کړه ، په مخ ترینه شړق اوباسه ، بیا دَ شونډو په سر سوری اووایه؟ ته معاف شوے او خبره ختمه شوه ؟

آپاجی :۔ لورے معافی ترینه اوغواړه ۔ غوږونو له ګوتے یوسه او توبه اوباسه نو هله به معاف کیږے۔

کوثر درے ځله غوږونو له ګوتے اوړی ، درے ځله توبه اوباسی او وائی " توبه خدایه توبه بیا به داسے نه کوم . . .اوس دے معاف کړم ؟

جبران :۔ هاؤ معاف شوے ۔

کوثر :۔ ښه اوس ډوډۍ خوره ګینې خوله کښې به یې درله په زور درکړم ۔

جبران :۔ که تهٔ راسره خورے نو خورم ګینې نه ۔

کوثر :۔ هاؤ ، دواړه به مقابله کوو۔

بهادر خان ( مسکے شی ) داسے نه زهٔ به ون ، تو ، تهری وایم ۔ تهری سره به مقابله شروع کوی ۔ ready ، ون ، تو ، تهری "دے سره دَ هغوی مقابله شروع شی ۔ جبران موړ وی هسے چل ول کوی او هغه





غټی نوړی اخلی او تیره وی یې بهادر خان او آپاجی ورته ګوری او خاندی ۔ په لږ ساعت کښې کوثر ټول پلیټونه خالی کړی ، او دَ جبران هغه لا ډک پروت وی ۔ کوثر انکل او آپاجی ته ګوری ، خاندی او وائی "مقابله چا اوګټله ؟

بهادرخان دَ هغے لاس اوچت کړی او وائی you are the winner ، مقابله زما لور اوګټله ۔

شاباش "آپاجی او بهادرخان بهر اوځی او جبران او کوثر دواړه خاندی ۔

## ړومبۍ برخه

بهادرخان خان آپاجی او کوثر پاڅیدلی وو او دَ ناشتے په میز یې دَجبران انتظار کوو خوجبران هغسے په دروند خوب اوده وو ۔ یوه شیبه پس کوثر راغله او هغه ته ئے ور اوټکوو ۔ دَ هغے په ناکنګ جبران پاڅیدو ۔ دَ واش روم نه چی فارغ شو نو دَ ناشتے میز له ورغی۔ جبران بهادرخان سره جخت او کوثر او آپاجی ته مخامخ کیناستو ۔ کوثر مسکی شوه او هغه ته ئے اووے "جبرانه ! شپه ښکله تیره شوه "۔

جبران ( په بے اعتنائی سره ) په ځان نه یم پو هـ شوے ۔ دَ ملاستے سره اودهٔ شوے یم ۔

آپاجی :۔ ناشته کوه بچے ۔

جبران:۔ شکریه آپاجی ۔

بهادرخان :۔ زمونږ دَ طرفه خو درته څهٔ تکلیف نه وو ؟

جبران:۔ نه جی ستاسو دے خدائے عزت اوکړی ۔ تاسو چی زما کوم

قدر اوکړو دا به تړول عمر یادوم۔ که تاسولفتې نه وو راکړے نو معلومه
نه ده چې اوس به کوم ځائے ګرځیدم ۔ تاسو له دے خدایے د دې بدله
درکړی ۔

بهادرخان:۔ جبرانه بچے ! ستا په راتلو زمونږ په کور کښې سپرلے
راغی۔ دَ خوشحالی زیرے راغی۔ په دے څلورو میاشتو کښې کوثر
نن مونږ سره ناشته اوکړه ۔ او بیګا یې ستا په وجه په مړه ګیډه ډوډۍ
اوخوړه ۔ تۀ ورته لږ اوګوره څومره خوشحاله ده ۔

جبران (سنجیده شی ) سوری خان جی ! زۀ به دے ته چرے هم اونه
ګورم ۔

آپاجی :۔ ولے بچے دے ته ولے نه ګورے ؟

جبران:۔ آپاجی ! چا چې په نه کتو باندے زمانه سپیره اوویستله نو
په کتو خو به رانه څرمن اوباشی۔

کوثر:۔ ته زما په سپیره خفه شوے یې ؟ زۀ هم بیا روستو خفه ووم خو
وخت تیر وو ۔ ماخو تاته سوری هم اووے ، غوږونو له مِ ګوتے هم یوړے
او توبے هم اوویستلے او تا خو زه معاف کړے ووم۔

جبران:۔ معاف کړے مِ یې خو هیرولے نشم۔ ستا سپیرے خو دَ خان
جی او آپاجی په مخکښے زما شخصیت مشکوک کړو چې زۀ به
واقعی غلط سړے یم " جبران دَ ناشتے نه لاس راکاږی او په ټشو پیپر
ګوتے صفا کوی ۔

آپاجی :۔ ناشته اوکړه بچے ، ځان موړ کړه ۔





بهادر خان :۔ جبرانه بچے ! تاڅۀ اوخوړل ؟ ځان موړ کړه ۔

جبران:۔ زۀ موړ شوم خان جی ۔ نوره نشم خوړے ۔

کوثر هم دَ ناشتے نه لاس راکاږی او په ټشو پیپر ګوتے صفا کوی ۔

آپاجی :۔ کوثر ! ته هم جبران سره سیالی کوے ۔ ناشته کوه لورے ۔

کوثر :۔ چې دے نه خوری نو زما هم بس دے ۔

جبران :۔ زۀ به سمندر ته ټوپ کوم نو تۀ به هم ټوپ کوے ۔

کوثر :۔ بالکل به هم داسے کوم ۔

جبران :۔ o.k ،خان جی ، آپاجی او کوثر بیګم ، ماله رخصت راکړی
چې ځم درنه ۔

بهادرخان :۔ کوم خوا ځے بچے ۔ ستا په راتلو خو زمونږ په کور کښے
رونق راغی۔ ستا تلو سره به لویه بربادی اوشی ۔ او ځے چرته ؟ تا چې
وې کور ته نه ځم ۔

جبران :۔ کورته نه ځم خان جی ... چرته محنت مزدوری به کوم
...ښه ستاسو دَ ټولو ډیره شکریه ، ډیره مننه ۔

آپاجی :۔ جبرانه بچے داسے مه کوه ۔ یو څو ورځے ایسار شه ۔ د دے
جینۍ دَ خاطره ۔

جبران :۔ د دے جینۍ دَ خاطره ؟ دے کښے خاطر شته ؟

کوثر :۔ چې ځے نو څه خو ستا تلو سره ۔ به د دے کوره زما لاش هم
اوځی او دَ تلو نه مخکښے دے دَ خپلې سپیرے بدل واخله " هغه پاڅی
او دَ هغۀ خواله راځی " واخله جبرانه دَ خپلې سپیړے بدل ۔ ولاړه یم

درته ۔

جبران :۔ هغه لاس دے مات شی چې تانه بدل اخلی ۔

کوثر :۔ نه اخلے بدل ؟

جبران :۔ چرے هم نه ۔

کوثر :۔ ستا بدل به زهٔ واخلم ۔

کوثر په دواړه لاسه ځو ځو ځله خپل مخ سر وهی ۔ جبران هغه دَ لاسه نیسی ۔ بهادرخان او آپاجی هغه غیږ کښې نیسی او خپلے کمرے ته یې بوځی ۔ جبران په خپلو خبرو ستومانه وی۔ هغه چپ چاپ په کرسی کښې کینی او په لوے سوچ کښې پریوځی ۔ لږه شیبه پس بهادر خان او آپاجی دَ هغه خوا له راځی او خفه کینی ۔ جبران په ډکو سترګو هغوی ته واره په واره ګوری او وائی ماته ډیر افسوس دے چې زما په وجه تاسو ته تکلیف اورسیدو ۔

بهادرخان :۔ جبرانه بچے ! یو ځل مِ درته بچے ویلے دے اوتل به مِ بچے یې ۔ تهٔ که هر چرته یې ستا یادونه او ستا مینه به زما په زړهٔ کښې پرته وی ۔ زهٔ تانه مجبوروم ۔ تهٔ ازاد یې او دَ خپلے طبعے خاوند یې که تلل غواړے نو تلے شے ۔

آپاجی :۔ بچے ! هر څه تا په خپله اولیدل داسے معلومیږی چې دَ هغے روح ستا روح سره تړلے دے که تهٔ اووتے نو دَ هغے نه هم ساه اوځی ۔ بچے ! یو سوال درته کوم ، زما دے سپینو ډکو ته اوګوره ( سر ، سرتوره وی ) ته ایسار شه ۔ دومره ایسار شه چې هغه لږه ښه شی ۔





جبران :۔ آپاجی ! چی ترڅو هغه ښه شوے نه وی او هغے جواب نه وی راکړے چرته هم نشم تلے ۔

بهادر خان :۔ وعده ده ؟

جبران :۔ بالکل وعده ده ۔

آپاجی :۔ خدائے دے په خوشحالو خوشحاله کړه ۔ خدائے دے کامیاب کړه بچے ۔ جبرانه بچے ! ته به په زړهٔ کښی وائی چی څهٔ مصیبت کښې ګیرشوم ، بلکه ستا په ذهن کښې به نورے نورے خبرے وی خو تهٔ یقین اوکړه چی هیڅ داسے خبره نشته . . .

جبران :۔ نه آپاجی ! زما په زړهٔ کښې دَ شک ، شبے هیڅ خبره نشته البته دَ کوثر متعلق مِ ذهن کلیر نه دے چی هغه واقعی ذهنی مریضه ده او که څه داسے ذهنی صدمه ورته رسیدلے ده چی دَ هغے دَ برداشت نه بهر ده ۔

بهادرخان :۔ جبرانه بچے ! زهٔ دَ نوښار یم او دَ ماربلو کاروبار کوم ۔ په سوات ، ملاکنډ ، یکه غونډ ، میچنۍ او متهره کښې زما خپلی دَ ماربلو کارخانے دی ۔ زما دوه ځامن دی ، یو په یورپ کښے دے او بل ما سره خپل کاروبار کوی ۔ آپاجی زما مشره خور ده او خپلو خورینو او خورځو سره دومره مینه کوی چی خپله ځوانی یې دَ هغوی په مینه قربان کړه ۔ کوثر زما او د دے خورزهٔ ده ۔ د دے مور ، پلار او رونړه ، خویاندے په جرمنی کښی دی او خپل کاروبار کوی ۔ کوثر لا وړه وه چی مور ، پلار سره کلی ته راغلے وه ۔ دا به آپاجی سره سملاسته او

دے بـه ورتـه دَ شپے خوړے قیصی کولے۔ دے سره د دے آپاجی سره دومـره میـنـه پیـدا شوه چی بیا ترینه خو ځیده هم نه ۔ چې کله د دے مـور ، پلار واپس تلل نو دا ورسره نه تله ۔ مونږ ټولو ورته ډیر منت زاری اوکړل خو دے اونه منل اونتیجه دا شوه چې هغوی ترینه لاړل او دا پاتے شوه ۔ مونږ دے له دَ مور ، پلار هغه مینه ورکړه چی خپل مور ، پلار ترینه هیر شو۔ دَ ابتدائی تعلیم نه پس دا مونږ دلته په برن هائی سکول کښے داخله کړه اوس دَ خیره په برن کالج کښې په فرسټ ائیر کښې لګیا ده ۔ څهٔ کم وزیات څلور میاشتے اوشوے چی دا ذهنی تکلیف ورته پیښ شوے دے ، ما او آپاجی دواړو دَ ایبټ آباد ټولو ډاکټرانو او ماهرین نفسیات ته اوښودله ۔ دے نه علاوه دَ دم درخا دَ پاره مو یو پیر ، فقیر پرے نښودو خو د دے هیڅ ښیګړه اونشوه ۔ خوب اوخوراک دواړه پرے حرام دی ، نیمه پاتے نشوه ۔ اوس ستا راتلو سره دا معلومه شوه چی څهٔ هغے پټول غوښتل هغه ښکاره شو او دَ خپلو جذباتو نه دومره مجبوره شوه چی تانه یې په مخ سپیړه اوویستله ۔ بیګاه چی کومه ډوډی دے اوخوړه او نن سحر یې چې کومه ناشته اوکړه دومره خوراک دے په څلورو میاشتو کښې نه دے کړے ۔

جبرانه بچے ! ته مونږ سره دومره احسان اوکړه چې دَ هغے دَ زړهٔ دَ پاره یو څو ورځے ایسار شه ، چې ستا څهٔ کار وی یا څومره پیسے دے پکار وی نو هر څهٔ ته تیار یم بچے دَ انسانی رشتے دَ خاطره په هغے رحم اوکړه ، په مونږ رحم اوکړه ، دا به ستا مونږ سره لوے احسان وی ۔





جبران :۔ خان جی ما خو تاسو سره وعده اوکړه چې زه به تر هغے پورے ایساریم چې هغه ښهٔ شی او په خپله جواب راکړی خو هسے نه چی تاسو رابانډی تنګ شی او په زور مِ دَ کوره اوباسی ۔ (خاندی)

بهادر خان :۔ بچے دا کور زمونږ نه بلکه دَ هغے دے ۔ مونږ نه تا ویستلی شو او نه به داسے اوکړو البته چې ستاسو کور په کور شی نو کیدیشی مونږ درنه لاړ شو ۔ دے سره جبران مسکے شی ، شرمنده شی او سترګے خکته کړی ، یوه شیبه پس وائی "دلته به زما ډیوټی څهٔ وی ؟

بهادرخان :۔ بچے دا ستا کور دے او په خپل کور کښې چی څهٔ دَ کور دَ مالک ډیوټی وی هغه به ستا هم وی ۔ خو زهٔ دا ویم چی ته هغے سره کالج کښے داخله واخله ، دواړه به یو ځائے ځی راځی ۔ داسے به کور او بهر دواړه دَ یو بل دَ سترګو وړاندے یې او تعلیم به مو هم مکمل شی ۔ ستا څهٔ خیال دے بچے ۔

جبران :۔ خان جی ! دیکښے زما دَ وینا ګنجائش پاتے نشو ۔ زهٔ به دَ هغے ، ستاسو ، دَ خپل او د دے کور دَ عزت پوره پوره خیال ساتم انشاء الله ۔

بهادرخان :۔ انشاء الله ۔ ښه بچے زهٔ به اوس واپس لاړ شم ډیر کارونه مِ دی ۔ چې هغه راغونډ کړم نو بیا به راشم او په موبائیل خو به رابطه هر وخت ساتو ۔ ښه آپاجی زهٔ به درنه لاړ شم ۔ ته دَ جبران او دَ کوثر پوره پوره خیال ساته ۔

آپاجی (خاندی) چی ته اونه وائے نو ګینې نه به یې ساتم ؟

بهادر خان :۔ ښه بچے ماته اجازت دے ؟

جبران :۔ ځی ورشی ۔ غم مه کوئ هر څهٔ به ټیک ټاک شی انشاء الله۔

بهادر او آپاجی :۔ انشاء الله ۔

## دویمه برخه

دَ بهادر خان دَ تلو نه پس آپاجی په اخلی پخلی کښی مصروفه شوه او جبران خپلی کمرے ته لاړو ، په کټ کښې سملاستو او په یو لوے سوچ کښې پریوتو ۔ هغه دَ خپل ژوند کتاب لوستلو۔ دَ خپل کلی دَ یارانو ، دوستانو مور ، پلار ، د رور او خویاندو او دَ خپل ژوند واقعات یې لوستل ۔ دَ استاذ انور او استاذ انجم تراخهٔ واقعات هم پکښې راغلل ۔ چې به اخری باب یې شروع اوکړه او دَ هغے کردارونه یعنی بهادرخان ، آپاجی او کوثر هغه ته مخکښے شول او دَ هغوی صرف دَ یوے شپے او نیمے ورځ دَ ناستے ، پاستے دَ خبرو اترو اوکړو اوړو مطالعه یې شروع کړه نو داسے معلومیده چې هغه دَ دنیا دَ لویو لویو دشتو نه یو جنت نظیر گلستان کښې خپه کیښوده ۔ دا ټول کردارونه هغه ته د دے دنیا مخلوق نه ښکاریدل ۔ دَ هغهٔ په خیال کښې دا کردارونه افسانوی او ناولی کیدیشی شو حقیقی نشی کیدے ۔ هغه سره دَ کوثر مینه دَ یو داسے کس سره مینه وه چې نه ئے ورسره سترگے لگیدلے وې ۔ نه یې ورسره خبرے اترے شوے وے او نه څهٔ دعاسلام یا خط وکتابت ۔ دا ټول کردارونه او بالخصوص دَ کوثر کردار





هغه ته مشکوک او پراسراره ښکاریدل ۔ بیا ئے په زړهٔ کښے اووے چی اخر هغه کومه خوبی ده چې په هغه کښې شته او په نورو کښې نشته ۔ کیدیشی هغے څه داسے رومانی ناول یا افسانه لوستلے وی یا یې داسے فلم کتلے وی چې دَ هغه هیرو ، رنگ ، جوثه ، قدوقامت ، لباس اوکړهٔ اوړهٔ زما په شان وو ۔ مختلف خیالونه دَ هغه په زړهٔ کښې راتلل او په مختلفو لارو تلل ۔ هغه لا په دغه خیالونو کښې ډوب وو چې دَ هغهٔ دَ کمرے ور روغوندے لرے شو او کوثر دَ هغهٔ کمرے ته راغله ۔ دَ هغے په راتلو باندے هغه سترگے پټې کړے او ویښ ځان یې اودهٔ کړو ۔ کوثر دَ هغه کټ له ورغله ، یوه شیبه دَ هغه کټ ته اودریدهٔ بیا په کمره کښې گرځیده او دَ کمرے دَ گوټونو او مختلفو زاویو نه یې دَ سترگو په کیمرو دَ هغه فوټو گرافی کوله ۔ چی دا یې اوکړل نو بیا دَ هغهٔ خوا له راغله دَ هغه مخ ته یې په غټو غټو کتل او دَ هغه دَ مخ پټې کرښے یې دَ زړهٔ په رگونو کښې ځایولے ۔ چې دَ هغهٔ په دیدن یې سود اونشو نو بیا تیټه شوه او دَ هغهٔ دَ مخ هغه ځائے یې ښکل کړه په کوم چی هغه سپیره ورکړے وه ۔

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★

## یوؤلسم باب

دَ مازیگر وخت وو ، دَ نمر زیړے پلوشے دَ باران په څاڅکو لامیدلې اونو ، بوټو اودَ هغوی په پاڼو پریوتے ، په لوند سړک راتمبیدے او په مرطوبه فضا کښې خوریدے ۔ کوثر او جبران په خوشگوار رومانی نشه کښې لاس په لاس شاپنگ سنټر ته روان وو ۔ په تلو تلو کښې هغه په ځان پوهه نشو او په هغه سړک روان شو کوم چې دَ هغه ټریننگ سنټر ته تلے وو ۔

آر پی (R.P) حوالدار ریاض چې هغه اولیدو نو ورمخکښے شو او هغه سره یې دعا سلام اوکړو ۔ کوثر چې هغوی په خبرو کښې مصروف اولیدل نو لږه مخکښے شوه او دَ هغۀ انتظار یې کوو ۔

حوالدار ریاض دَ هغه نه تپوس اوکړو "جبرانه بچے څنگه یې"؟

جبران :۔ ښه یم سر ، تینک یو ۔ تاسو څنگه یې ۔

حوالدار ریاض :۔ ته ولے بهگوړه شوے جبرانه ؟

جبران:۔ سر ما دَ پاره خو دا نوکری سور انگار جوړ شوے وو ۔ کوم ظلم او جبر دغه ځلورو واړو په ما اونکړو ۔ استاذ انور خو ماته صفا ویلے وو چې "یابه ته یې یا به زۀ یم" ما دا نه غوښتل چې دَ هغه نوکری خرابه شی نوزۀ ترینه په خپله اووتم ۔

حوالدار ریاض:۔ گوره بچے ته بهگوړه یې او قانونی طور ماته دا حق حاصل دے چې تا اونیسم او صوبه دار میجر ته دے پیش کړم خو چې تاته گورم نو دَ خپل ځوی مینه مې دربانده ماتیږی ۔ او د دے مینے په





سوب تاته لاس نشم اچولے ۔ ته داسے اوکړه چې تر سوبهگوړه یې نو په دے طرف مه راځه۔ بله خبره دا ده چې دَ قانون نه خلاصے نشته ۔ په هره طریقه چې وی ته به یو ځل گرفتاریږے او کمانډنټ صیب ته به ستا پیشی کیږی ۔ که زمانے نو راځه بچے خپله نوکری کوه او ښه په نره دَ حالاتو مقابله کوه ۔

جبران :۔ ترسو چې استاذ انور او استاذ انجم دغلته وی نو ناممکنه ده ۔

حوالدار ریاض :۔ دَ هغوی نه خبر یې ؟ هغوی لائن ارسټ دی ۔ هغوی په توبو دی خو اوس یې گناه نه معاف کیږی ۔ کیس په هغوی الټه شوے دے ۔ دَ هغوی خلاف کمانډنټ صیب دَ انکوائری او مکمل رپورټ حکم کړے دے ۔ بچے که زما منے نو ته هم راشه چې کمانډنټ صیب ته خپله صفائی پیش کړے۔

جبران :۔ زۀ یریږم سر ، هسے نه چې بیا سزا راکړی ۔

حوالدار ریاض :۔ یریږه مه بچے ستا ذمه واری زۀ اخلم ۔

جبران :۔ سر زما په وجه دَ خپلې نوکرۍ رسک ولے اخلے ؟

حوالدار ریاض :۔ رسک نه اخلم ستا رپورټ دَ آر پی او سنټر انټیلی جنس دَ طرفه صوبه دار میجر صیب ته ستا په حق کښې ورکړے شوے دے ، صبا نه بله ورځ دَ هغوی پیشی ده او پیشی څۀ چه کیدیشی سزا ورکړے شی ۔ ته داسے اوکړه چې صبا ماښام دلته راشه ۔ زۀ به تا صوبه دار میجر صیب سره ملاؤ کړم او خپله خبره به ورته په خپله اوکړې ۔

جبران :۔ ډيره ښه ده سر ، زۀ به انشاء الله صبا ماښام دلته راشم ۔

حوالدار رياض :۔ شاباش بچے ۔ دَ چاے ، اوبوست درته څکه نه کوم چی تـه بهګوړه يې او که څوک دے ما سره اووينی نو ښۀ خبره نه ده ۔ څه ورځه بچے په مخه دے ښه ۔

جبران :۔ لاړم سر ، سلام عليکم ۔

حوالدار رياض :۔ وعليکم السلام ۔

## ړومبۀ برخه

جبران او کوثر دواړه يـوه کيـفـۍ کښـی ناست وی ۔ چائے هم څکی او خبرے هم کوی ۔ کوثر ترينه ړومبے تپوس دَ حوالدار رياض په باره کښے اوکړو ۔

کوثر :۔ دا سړے څوک وو او تا ته يې څۀ وې ؟

جبران :۔ دا سړے په دغه يونټ کښې حوالدار دے ۔ ماپه څۀ وجه دَ فوج نوکری پريښے ده ۔ دۀ وے چی بيا راځه او خپله نوکری کوه ۔

کوثر :۔ تا ورتۀ څه اووے ؟

جبران :۔ ما ورته اووی چې صبا ماښام به درشم ۔

کوثر :۔ ولې ؟ تا ورته داسے وے ۔ تاته دَ نوکرۍ څۀ ضرورت دے ۔

جبران :۔ ضرورت شته ۔

کوثر :۔ څۀ ضرورت ؟ ستا کوم ارمان نيمګړے دے چې دَ نوکرۍ نه بغير نه پوره کيږی ؟

جبران :۔ زما ډير ارمانونه دی ، يو دا چې دا زما چوائس دے بله دا چی





. . . .

کوثر :۔ بله څۀ ؟ چپ ولې شوے ؟

جبران :۔ بله دا چی دا نوکری زۀ ستا د پاره کوم ۔

کوثر :۔ زما دَ پاره نوکری مۀ کوه مادَ پاره دا ډيره ده چې ماسره په څنګ کښې يې او لکه دَ سيوری زما وجود سره انختے يې او که تاته دَ پيسو ضرورت وی نو هغه پوره کول ستا کار نه دے زما کار دے ۔

جبران :۔ ځينے ارمان داسے وی چې هغه په پيسو نه پوره کيږی ۔ هغه په نوکرۍ پوره کيږی ۔ اګر چه په ظاهر دَ هغے اهميت دومره نه وی خو بهرحال ارمان خو وی ۔

کوثر :۔ ستا هغه کوم ارمان دے چی زۀ يې نشم پوره کولے ۔ وايه ، وايه ؟

جبران :۔ درته اووايم ؟ خفه کيږے خو به نه ۔

کوثر :۔ چرے هم نه ۔

جبران :۔ کوثر زۀ ويم چی زۀ دَ ډيوتۍ نه ستړې ، ستومانه راشم ۔ په کټ کښې سره دَ بوټانو پريوځم او سترګے پټې کړم نو ته غلے غوندے راشی زما دَ خپو نه دَ خاوَرو ، دوړو ډک بوټان او خولے وهلے بدبوداره جُرابے اوباځې يو خواته ئے کيږدے ، بيا زما دَ سر نه ټوپی لرے کړے ۔ زما په ويښتو کښې او زما په تندی خپل پاستۀ لاسونه کيږدے ۔ زما سترګے چی اوغړيږی نو تۀ مسکۍ شې او ماته وائی "ولې ستړے شوے يې"؟ زه ستا دَ مسکا جواب په مسکا اوکړم ، بيا راته اووائے

"واش روم اتېنډ کړه چې ډوډۍ اوخورو ـ زۀ تاته په مينه اوګورم او درته اووايم "ولې اوړے شوے يې ؟

کوثر:ـ دا خو زۀ هم غواړم ـ تا خو بالکل زما دَ زړۀ خبره اوکړه ـ داسے معلوميږي چې زما او ستا خيالات بالکل يو دی ـ زۀ حيرانه په دے يم چې په دے عمر کښې دومره پخې خبرے تا دَ چا نه زده کړے.

جبران:ـ په دے عمر کښے ؟ ولے تۀ دَ کار سويې ؟ خو دواړه همځولی يو ـ او دا خبرے زده کيږی نه ـ دا په خپله جوړيږی او په مناسبه موقعه په خوله راځی ـ

★★★★

## دويمه برخه

نمر په غرغره وو چې جبران دَ ايف ايف سنټر ګيټ ته اورسيدو ـ جبران سپين پتلون ، سپين بشرټ اغوستې وو او سپينه ټائی يې په غاړه کښې زانګيده ـ حوالدار رياض چې هغه ته اوکتل نو بيائے ګارډ ته دَ سلامۍ آرډر ورکولو ـ جبران پوهـ شو چې حوالدار رياض بيا اوخويدو ـ هغه مسکې شو او هغه تهٔ اووے سر زه يم ...جبران يم سر ـ

حوالدار رياض مسکے شو او وے وئيل ـ ته هلکه سميږی نه ګوری دا دويم ځل دے چې ماله دهوکه راکوې خو يو ځل به هغه سزا درکړم چې ټول عمر به ياد ساتے جبران سر ټيټ کړی او وائی " سرحکم کوی زه ستاسو هرے سزا ته تيار يم".





حوالدار رياض :ـ نه ځويه نه هسے ګپ مې لګوو ( ورتر غاړوځی ) خدائے دے هغه ورځ نه راولی ...ښه راځه چې صوبه دار ميجر له ورشو ـ چې دَ صوبه دار ميجر کورته اورسی نو جبران بهر اودريږی او حوالدار رياض دَ هغه بيټهک ته ورشی ـ

صوبه دار ميجراو صوبه دار ادم خان دواړه ناست وو او دَ جبران دَ کيس په باره کښې يې خبرے کولے ـ حوالدار رياض هغوی ته سلوټ اوکړو ـ صوبه دار ميجر سر اوچت کړو او تپوس يې ترينه اوکړو:ـ خير شه رياض خانه څنګه راغلے ـ

حوالدار رياض :ـ سر ، ستاسو سلام له هم راغلم او ما وے چې دَ جبران دَ کيس په باره کښې تاسو نه څۀ معلومات اوکړم ـ سر انکوائری رپورټ مکمل شوے دے خو چې کمانډنټ صيب ته به کله وړاندے کيږی ـ

صوبه دار ميجر:ـ زمونږ دواړو دا خيال دے چې مونږ خپل رپورټ صبا له پيش کړو خو دَ هغه رنګروټ دَ بيان مسله ده ـ دَ هغه له خوا هيڅ بيان ياوضاحت نشته ـ مونږ دا کوشش کوو چې هغه دَ پوليس په ذريعه را اوغواړو ـ دَ هغه بيان قلم بند کړو او مکمل رپورټ صيب ته پيش کړو ـ

حوالدار رياض :ـ سر دَ پوليس ضرورت نشته ـ هغه ما راغوښتے دے ـ

صوبه دار صيب :ـ تا راغوښتے دے ؟ کوم ځائے دے ؟

حوالدار ریاض :۔ بهر ولاړ دے سر ، که ستاسو اجازت وی چی راپې ولم ۔

صوبه دار میجر:۔ هله شابه زر کوه ۔ راپې وله شابه ۔

حوالدار ریاض بهر اوځی او جبران ته وائی "راځه جبرانه ، صیب دے غواړی ۔ جبران دَ پتلون دَ جیب نه سپین رومال را اوبوباځی ، هغه په سر تېری او دننه ورځی ۔ دَ ورتلو سره خپه په زمکه وهی او سلوټ کوی ۔

صوبه دار میجر او صوبه دار ادم خان چی ورته اوګوری نو دَ دواړو سترګے پرے ښخے شی ۔ یوه شیبه پس صوبه دار میجر دَ هغه نه تپوس کوی ، جبران ته یې ؟

جبران :۔ yes sir ۔

صوبه دار میجر :۔ کینه بچے ۔

جبران :۔ تینک یو سر ۔

صوبه دار میجر :۔ ښه بچے صفا صفا خبره اوکړه چې ته ولے بهګوړے شوے یې ۔

جبران هغوی ته پوره قیصه شروع کړه او دَ اول نه تر اخر پورے یې ورته اوکړه ۔ صوبه دار ادم خان دَ هغه حلفیه بیان قلم بند کړو او دَ هغه نه یې پرے دستخط واخستو ۔ چې دا هر څۀ ختم شو نو جبران صوبه دار میجر ته اوکتل او وے وئیل " سر ماته دَ تلو اجازت دے ؟

صوبه دار میجر :۔ نه بچے ، تا قانون شکنی کړے ده او تاسره به دَ قانون





مطابق کار کیږی ۔ ستا دَ سزا او جزا فیصله به کمانډنټ صیب کوی البته تر هغے پورے به تۀ کوارټر ګارډ کښې بندی یې ۔ ریاض خانه ! دے کوارټر ګارډ کښې بند کړه ۔

حوالدار ریاض :۔ سر یوریکوسټ کولے شم ۔

صوبه دار میجر :۔ هاؤ ، وایه څۀ ویل غواړے ؟

حوالدار ریاض :۔ سر دا هلک جبران ما په ذمه واری راوستې دې چې ده ته به سزا نه ملاویږی ۔

صوبه دار میجر:۔ سزا نه ملاویږی ؟ ته سنټر کمانډنټ یې او که حوالدار دا ته لا کومے خبرے کوے ۔ دا ذمه واری به حیثیت صوبه دار میجر زه نشم اخستلے نو ته ئې څنګه اخلے ۔

حوالدار ریاض :۔ سر ، زه دَ کیس دَ سزا خبره نه کوم بلکه د دۀ دَ غیر حاضری دَ سزا خبره کوم ۔

صوبه دار میجر:۔ دا هم خلاف قانون خبره ده ۔ تۀ داسے غیر ذمه دارانه خبرے ولے کوے ۔ که دے زۀ پریږدم او بیا بهګوړه شی نو ذمه داری دَ چا شوه ؟ زما نوکری خو لاړه ختمه شوه ۔

حوالدر ریاض :۔ سر زۀ د ده پوره ذمه واری اخلم ۔ بلکه تر صبا پورے د ده ضمانت کوم ۔

صوبه دار میجر :۔ تۀ د دۀ په کیس دومره دلچسپی ولې اخلے ۔

حوالدار ریاض:۔ سر دَ ولی جواب به صوبه دار ادم خان درکړی ۔

صوبه دار میجر :۔ ښه ادم خان صیب وایه ( هغه ته نیغ نیغ ګوری )۔

صوبه دار ادم خان :۔ سر ! مونږ ټول دَ دې دنیا مخلوق یو او په مختلفو شعبو کښې مصروف یو ۔ که د دنیا ژوند ته او په دنیا کښې دَ انسان کردار ته اوکتلے شی نو دا روزمره ژوند او د دے ژوند سره تړی واقعات دَ یو فلم نه کم نه دی ۔ مونږ روزانه دَ ښه یا بد څۀ ناڅۀ واقعاتو نه متاثر کیږو ۔ دَ بعضې واقعاتو تاثر وقتی وی او زر هیریږی ۔ دَ بعضې دیرپاوی ، څۀ موده پس هیر شی او بعضې واقعات په ډائرئ کښې اولیکلے شی او دَ ډائرئ کتو سره وخت په وخت یادیږی ۔ دَ بعضی واقعاتو تاثر ابدی وی ، دَ زړۀ په پاڼه اولیکلے شی چې هغه نه هیریږی ، نه زړیږی او نه ضائع کیږی بلکه دَ وخت تیریدو سره په هغے کښې نوره هم اضافه کیږی ۔ چونکه زما تعلق ټریننګ سره دے او ښه سپاهی جوړول زما دَ ژوند مشن دے نو په وجه به دَ دے هلک په حقله به زۀ دومره اووایم چې دا نه ما جوړ کړے دے اونه خپلو استاذانو بلکه دا پیدائشی سپاهی دے ۔ زۀ د دۀ دَ شخصیت خبره نه کوم بلکه د دۀ د کردار او کارکردګی خبره کوم ۔ دۀ چې دَ کمانډنټ صیب په مخکښے په بینټ فائټنګ کښې کومه مړانه ښودله ده هغه زما په زړه لیکلی شوے ده ۔ زمونږ فوج ته د داسے زلمو ضرورت دے چې دَ قوم سترګے پرے اوچتے وی۔

صوبه دار میجر :۔ دا هغه هلک دے چې رائفل یې مات کړے وو ۔

جبران په یره یره په اوچو شونډو ژبه اووهله او وے وئیل "سوری سر"۔

صوبه دار آدم خان :۔ یریږه مه بچے ۔ تۀ لا دَ فوجی قانون نه پوره خبر نه ئے ۔ دلته چې یو کارتوس درنه روک شی یا دَ رائفل یو میخ درنه





روک شی نو دَ سزا مستحق شوے او که دَ اکسرسائز په دوران کښې دے رائفل مات کړو نو دَ انعام یا کم از کم دَ شاباش مستحق شوے ۔ دے کښې وجه دا ده چې هغه ستا غفلت وو او دا ستا جوش او جذبه ده ۔ زمونږ فوج ته د داسے سړو ضرورت دے چې هغوی کښې قوی جوش او جذبه دواړه وی ۔

صوبه دار میجر :۔ اوس دۀ سره څۀ اوکړو ۔

حوالدار ریاض :۔ اوس ، سر دے پریږده چې شپه اوکړی ۔ صبا له به یوه بجه پیشی له راشی ۔

صوبه دار میجر :۔ شپه به کوم ځائے اوکړی ؟

جبران :۔ سر ، دلته نزدے زما دَ آپاجی کور دے ۔

صوبه دار میجر: (صوبه دار آدم خان ته ) صبا له به ټیک یوه بجه دے ماته پیش کوې دا ستاذمه واری شوه۔

صوبه دار ادم خان :۔ ( حوالدار ریاض ته ) حوالدار ریاض صبا له به ټیک دولس بجے دے ماته پیش کوے ۔

حوالدار ریاض :۔ o.k سر ، ډیره ښه ده ( جبران ته ) جبرانه صبا له به ټیک یږلس بجے ماته پیش کیږے۔

جبران :۔ ډیره ښه ده ۔ تینک یو سر ۔

## دریمه برخه

ټیک یوولس بجے جبران حوالدار ریاض ته پیش شو ۔ هغه دَ هغۀ په راتلو باندے ډیر خوشحاله شو ۔ خپله ډیوټی یې یو بل

حوالدار تـه حواله کړه او هغه دَ الفا کمپنۍ دَ پلاټون نمبر3 بیرک ته ورغـی ۔ هلته حوالدار انور او نائیک انجم هم وو ۔ دَ حوالدار ریاض او جبران پـه لیـدو بـاندې هغوی رنګونه اووهل ۔ حوالدار ریاض هغوی سره عـلیک سلیک اوکړل خو جبران پـرے ځان ناغرضه کړو ۔ خپل کیټ بکس ئی خلاص کړو او دَ هغے نه یې خپله وردی ، بیلټ ، بوټان راواغشتـل ۔ بوټان او بیلټ یې پالش کړل ۔ په استری شوے وردی یې لاس اووهو ، شولډرے او بیجونه یې صفا کړل . . . چې هر څۀ یې ټیک کـړل نو وردی یې واغوسته ، بوټان یې واچول ، دَ بیرک اینے ته مخامخ اودریـدو او ټوپۍ یې په سر کړه ۔ بیا حوالدار ریاض ته مخامخ اودریدو ، مسـکے شـو او سـلوټ ئے ورته اوکړو ۔ د سلوټ سره یې ورته اووے I am ready sir ۔

حوالدار ریاض مسکے شو او وے وئیل Very good ډیر ښه ۔ څـه چـی ځـو ۔ حـوالـدار ریـاض هغه صوبه دار ادم خان له بوتلو ۔ هغـه تـه یـې حواله کړو او په خپله دَ ګیټ ډیوټۍ له ورغی ۔ صوبه دار آدم خان دَ هـغـه سـر سـری مـعـائنه اوکړه ۔ په کالر یې ورله ګوتے اووهلے او وے وئیل "په هر لباس کښې خائسته ښکارې ځویه ۔ وِل ډن ، څه چې ځو صوبه دار میجر له "۔

ټیک یوه بجه هغه صوبه دار میجر صیب پیش شو ۔ صوبه دار میجر چې دَ هغه دَ وردی انسپکشن اوکړو نو وے وئیل ۔ Well done boy "۔ بیـا ئـے صـوبـه دار ادم خـان تـه اووے "صوبه دار صیب هغه نور هم





راولـه چې صیـب تـه یـې پیـش کـړو "۔ صوبه دار آدم خان لاړو او لږه شیبـه پـس یې حوالدار انور او نائیک انجم راوستل او صوبه دار میجر تـه یـې پیش کـړل پاؤ کـم دوه بـجے صـوبـه دار میجر صیب انکوائری رپـورټ سنټـر کـمـانډنټ صیب ته پیش کړو ۔ کمانډنټ صیب چی فـائـل تـه اوکتـل نو وے وئیل : 2ic صیـب او ایډجوټنټ صیب هم را اوغـواړه "۔ پـنـځـه مـنـټـه کم دوه بجے دواړه دَ کمانډنټ صیب دفتر ته ورغـلـل او پـه خپـلـو خپـلـو کـرسـو کیناستل ۔ دے نه پـس صوبه دار مستـقـیم ، حـوالـدار انـور او نـائیک انـجـم هـم حـاضـر کـړے شول ۔ کـمانډنټ صیب چی فائل یو نظر اوکتو نو 2ic ته یې حواله کړو او په خپـلـه یـې دَ صـوبه دار مستقیم نه تپوس اوکړو "صوبه دار صیب : د دے بهګوړه هلک دَ کرکټر په باره کښے ته څۀ وائی "۔

صـوبـه دار مستـقـیـم :۔ سر ، ماسره پوره دَ الفا کمپنۍ چارج دے ۔ زۀ انفرادی طور سره د دۀ دَ کرکټر په باره کښې معلومات نه لرم ۔

2ic صیب :۔ دا دَ بیډ کرکټر سر ټیفیکیټ تا تصدیق کړے نه دے ؟

صوبه دار مستقیم :۔ سر ، دا حوالدار میجر لیکلې دے او ما دَ هغه په سفارش تصدیق کړے دے ۔ ایډجوټنټ :۔ په پټو سترګو ؟

صـوبـه دار مسـتـقـیـم :۔ سـر ، حوالدار میجر دَ مکمل ثبوت نه پس دا رپورټ لیکلے دے ۔ او ما دَ د دۀ دَ رپورټ تصدیق کړے دے ۔

2ic صیب :۔ دے رپـورټ کښے ډیـرے ګـډے وډے خبرے دی ۔ آیا هغه واقعی داسے وو ۔

صوبه دار مستقیم :۔ سر چی حوالدار میجر وائی نو ووبه ۔

ایډجوټنټ :۔ تا خپله انکوائری نه ده کړے ؟ هلک ولے بهګوړه شو ؟

صوبه دار مستقیم :۔ په دے نه پو هیږم چې داسے ولې اوشو ۔

2ic صیب :۔ تۀ دَ پلاټون نمبر 3 کمانډر هم وے او کمپنی کمانډر هم ۔ هلک ولی بهګوړه شوwhy هغه عوامل څۀ وو چې هغه یې دے ته مجبور کړو ۔

صوبه دار مستقیم :۔ سوری سر ۔

2ic دَ هغه په فائل لیکی ۔ Neglianer

کمانډنټ صیب :۔ حوالدار میجر ! ته دَ جبران متعلق څۀ وائې ۔

حوالدار میجر :۔ سر ما چی څۀ لیکلے دی دَ هغے تصدیق کوم ۔

2ic . . . .دا هلک واقعی بیډاو لوز کرکټر وو ۔

حوالدار :۔ دے نه علاوه ګستاخ هم وو ۔

ایډجوټنټ :۔ تا سره تاسره یې څۀ ګستاخی کړے وه ؟

حوالدار میجر :۔ ما سره یې خدائے شته نه ده کړے خو دا استاذان ترینه تنګ شوی وو ۔

2ic صیب :۔ دَ دَې هلک کرکټر په کومه حواله بیډیا لوز وو ۔

حوالدار میجر :۔ داسے مکمل ثبوت خو ماسره نشته سرخو دے استاذانو پرے شک کوو۔

ایډجوټنټ :۔ دا هلک ولے بهګوړه شو ۔

حوالدار میجر:۔ دے دَ شپے دولس بجے دَ بیرک نه اوتے وو او یوه نیمه





بجه واپس راغی ۔

2ic :۔ تا ترینه تپوس کړے وو چی هغه چرته تلے وو ۔

حوالدار میجر :۔ سر ، څو څو ځله مِ ترینه تپوس اوکړو خو هیڅ جواب یې رانکړو ۔

ایډجوټنټ :۔ چی جواب یې درنکړو نو بیا مو په څلور کسه راګیر کړو ، په زمکه مو راواچوو او دَ پاسه پرے ګرځیدی ؟ تاسو له دَ وهلو اجازت چا درکړے دے ؟

کمانډنټ :۔ Too severity and roughnesswith the recuit ۔

(کمانډنټ دَ هغه په باره کښې دا ریمارکس لیکی )۔

2ic :۔ حوالدار انور ته دَ جبران متعلق څۀ وایی :۔

حوالدار انور :۔ سر دا هلک ډیر ګستاخ او نافرمان وو ۔ مونږ ترینه ډیر تنګ شوے وو ۔ تر نیمے شپے پورے به بهر ګرځیدو ۔ هر چاته به یې خاندل او ناز وادا به یې کوله.

2ic (خاندی ) دَ جینکو په باره کښې مِ دَ نازوادا ټکی اوریدلے دے خو دَ هلکانو په باره کښې نه ۔

صوبه دار میجر :۔ سر که ستاسو اجازت وی نو جبران به هم راولو چی هغه دا الزامات په خپله ووری۔

کمانډنټ صیب :۔ جبران راغلے دے ؟

صوبه دار میجر یس سر ،

کمانډنټ:۔ را اوې غواړه ۔

صوبه دار ميجر :۔ تھينک يو سر ۔

صوبه دار ميجر بهر اوځی او دَ باقاعده مارچ شکل کښې يې دننه راولی ۔ چې هغـه دَ کمانډنټ صيب ميز ته نزدے شی نو اودريږی او سلوټ اوکړی ۔

کمانډنټ صيب :۔ 2ic صيب او ايډجوټنټ صيب هغه ته ګوری ۔ جبران دَ سلوټ نه پس په هوشيار پوزيشن کښې اودريږی ۔

2ic صيب :۔ ښه حوالدار انور ! تا دَ نازوادا خبره کوله ۔

حوالدار انور:۔ سر ، تاسو ورته لږ اوګورئ ، معافی غواړم دے دَ جينئ نـه خوکم نه دے ۔ ده مونږ ته ټول ماحول خراب کړے وو ۔ لوئے هلکان به دۀ له راتلل ، استاذان به دۀ له راتلل او دۀ ورسره ګپې لګولے

کمانډنټ ( جبران ته ګوری ) تۀ هغه هلک نه يې چې رائفل يې مات کړے وو ؟

جبران يس سر ، زۀ هغه يم ۔

2ic :۔ تا دَ هغے دَ تدارک دَ پاره څۀ اوکړل ؟

حوالدار انور :۔ څۀ ما منعے کړل او څۀ مِ دۀ ته حواله کړل ۔

ايډجوټنټ :۔ تا څوک منعے کړل او ده ته دے څوک حواله کړل ۔

حوالدار انور :۔ لوے هلکان او NCOS ما منعے کړل او حوالدار ميجر او صوبه دار صيب مِ ده ته پريښودل ۔

2ic :۔ حوالدار ميجر او صوبه دار صيب به هم راتلل ؟

حوالدار انور :۔ دوی به خپلو کمرو ته غوښتلو ۔





ايډجوټنټ :۔ چې دوی منعے شو نو حالات ټيک شو ۔

حوالدار انور :۔ بالکل صيب ۔

2ic :۔ ستا او د دۀ په څۀ نالګی شوه ۔

حوالدار انور :۔ زما او د دۀ نانګی نه وه سر ۔

2ic :۔ (نائيک انجم تـه ) تـۀ د حوالدار انور دَ خبرے تائيد کوے چې د دوی مينځ کښې څۀ ذاتی اختلاف نه وو ۔

نائيک انجم :۔ نو سر ، زۀ دَ حوالدار انور دَ خبرے تصديق نه کوم ځکه چی ...ځکـه چی ... مـونږ دواړو دۀ سره ډير زياتے کړے دے ۔ سر کـومـه کومه غير اخلاقی خبره مونږ ده ته نه وه کړے ۔ کوم کوم غلط حرکات مـونږ ده سره نه وو کړے ؟ دَ خپل خواهشات پوره کولو دَ پاره کـومـه کـومـه سزا مـونږ دۀ له نه وه ورکړے خو شاباش دے وې په دے هـلک دے وی چې هـره سپـوره ، ستغه يې برداشت کړه ، هره سزا يې اوزغـمـلـه ، هـره سـختـی يې تيره کړه خو مونږ دواړه يې غير اخلاقی حرکات تـه پرے نښـودو۔ د دۀ حسن، د دۀ پستو خبرو او دَ دۀ انتهائی تابعداری د دۀ شخصيت مونږ ته مشکوک کړے وو ۔ او د دۀ دَ ګيرولو دَ پاره مونږه هره حربه استعمال کړه خو زۀ د دۀ مړانے ته سلام کوم چی زمـونږ ناجائز مطالبات يې تسليم نه کړل او دَ نر غونډے هسکه غړې زمـونږ سزا ته اودريدو ۔ په دغه وجه دے ګستاخ هم شو او سرکشه هم ۔ بيډ کرکټر هم شو او لوز کرکټر هم ۔

2ic :۔ تـه خـو حوالدار انور سره په دے جرم کښے شريک وی تا کښی دا

احساس ځنګه پیدا شو ۔
نائیک انجم :۔ سر ، زۀ دَ بد اخلاقئ په هر حربه او هر فعل کښې حوالدار انور سره شریک ووم خو دا احساس ما کښې هغه وخت پیدا شو کله چې دے مونږ په ځلور تنه راګیر کړو ښه مو اووهو او پوچه وینا مو ورته شروع کړه ۔ دَ ژړا او چغو فریاد په ځائے ده اووے "دا کوم زیاتے چې تاسو ما سره کوئ داسے ستاسو اولاد سره هم کیدیشی "۔ دَ صوبه دار میجر او صوبه دار ادم دَ خولو نه ناصافه اووتل "الله اکبر" دَ الله اکبر سره په دفتر کښې ډیره شیبه مکمل خاموشی وه بیا 2ic اووے "په دے جرم کښې تاسو سره حوالدار میجراو صوبه دار مستقیم هم شامل وو ؟
نائیک انجم :۔ نو سر ، دوی دواړه بے ګناه دی ۔ مونږ جبران ته ویلے وو چې دَ دوی دواړو آرډر اونه منی او حوالدار انور ورته صفا ویلی وو چې " که ماته پته اولګیده چې تۀ زمونږ دَ آرډر نه بغیر دوی سره ملاؤ شوے یې نو هغه سزا به درکړم چې ټول عمر به یاد ساتے "۔ جبران زمونږ دَ ډیرے نه دَ حوالدار میجر او صوبه دار مستقیم صیب پرائیوټ آرډرونه اونه منل او دوی هم زیاتے اوکړو چې د دۀ خلاف یې انتقامی کار روائی اوکړه ۔
2ic :۔ تاسو جبران ته ولے ویلے چې دَ حوالدار میجر او صوبه دار صیب آرډر مه منه ۔
نائیک انجم :۔ زمونږ دا مطلب وو چې هغوی سره یې ورانه شی نو





میدان به مونږ ته صفا شی ۔
2ic صیب ۔ o.k. Thank you ۔ (جبران ته) تۀ ولے ښهګوړه شوے ۔ ته په خپله صفائی کښې څۀ وائې
جبران :۔ سر ، ما چې څۀ ویل غوښتل هغه استاذ انجم اووے ۔
2ic صیب :۔ ته دَ شپے دولس بجے دَ بیرک نه اووتے او چرته لاړے ؟
صوبه دار ادم خان :۔ سر کیدیشی دے پوره وضاحت اونکړی ، که ستاسو اجازت وی نو د دے وضاحت به زۀ اوکړم ۔
کمانډنټ صیب :۔ o.k ، اوکړه وضاحت ۔
صوبه دار ادم خان :۔ سر دا اومه خوله هلک په دے دومره کچه عمر کښې ډیر رومانی ذهن لری ۔ دۀ ته یو خط راغلے وو هغے کښې دَ نورو خبرو نه علاوه دا هم لیکلی شوے وو "چې خط درشی نو بیګاله دولس بجے سپوږمۍ ته اودریږه چې ملاقات اوکړو ۔ ده په جوابی خط کښې هم ورته دغه لیکلی وو چې ټیک دولس بجے سپوږمۍ ته اودریږه چې ملاقات اوکړو ۔ دے ملاقات دَ پاره دے دولس بجے دَ کټ نه پاڅیدو او په سپوږمۍ کښې یې دَ هغے دَ مخ نندارہ کوله ۔
2ic صیب :۔ دا رشتیا ده جبرانه ۔
جبران :۔ بالکل رشتیا ده سر ۔
2ic صیب :۔ په دے عمر کښے ستا دا ذهن دے ۔ ما خوته معصوم ګڼلې لیکن دے نه معلومه شوه چې تۀ هم ښه ذهنیت نه لرے ۔
ایډجوټنټ :۔ دا څوک وه چې تا ورسره دَ سپوږمۍ په مخ کښې

ملاقات کوو ۔

صوبه دار ادم خان :۔ داسر ، هغه معشوقه ده چې هر چاته دَ دنیا او مافیها نه خوږه ده ...دا سر ...دا معشوقه د ده مور ده ۔

کمانډنټ :۔ Oh, my God

2ic ۔ سبحان الله ۔

صوبه دار ادم خان :۔ سر دا هغه خط دے چې دَ مور له خوا ورته راغلے وو ( خط ورکوی ) او دا بل هغه خط دے چې ده ورته لیکلے وو ۔

ایډجوټنټ :۔ دا خطونه تاته څنګه در اورسیدل ؟

صوبه دار آدم خان :۔ سر ، دا په منډه کښې د ده نه پریوتے وو او ماته رارسیدلې دی ۔

کمانډنټ :۔ o.k دَ کیس نه معلومه شوه چې صوبه دار مستقیم خپله ډیوټۍ صحی طریقے سره نه ده کړے او دَ غفلت مرتکب شوے دے ۔ دے دَ پاره دے دلته دَ عهدے اهل نه دے او د ده بدلی سبهی ته کیږی ۔ حوالدار میجر انتقامی کارروائی کړے ده ۔ دے دَ پاره دے دَ حوالدار میجری نه ډیموټ کیږی او دَ حوالدار په حیث دَ ده بدلی انفنټری سکول کوئټه ته کیږی ۔

حوالدار انور او نائیک انجم دَ خپل زیاتی په وجه دَ خپلو عهدونه نه صرف ډیموټ کیږی بلکه د دے دواړو بدلی سیاچین ته کیږی ۔

2ic صیب :۔ سر جبران سره څه اوکړو ۔

کمانډنټ:۔ دَ جبان سزا دا ده چې دے زر تر زره خپل تعلیمی کمے پوره





کړی چې دَ کمیشن دَ پاره یې ریکمنډ کړو ۔ دَ پریډ ټائم نه روستو دے دَ دۀ ټیوشن بندوبست اوشی ۔ او دَ پاسنګ آؤټ نه پس دے صوبه دار ادم خان سره په ټریننګ ټیم کښې دَ انسټرکټر به حیث د دۀ تعیناتی اوشی " بیا جبران ته ګوری او وائی " تۀ دَ کوم ځاے یې ؟

جبران :۔ زۀ دَ پیښور افریدو کلی اوسیدونکے یم ۔

کمانډنټ :۔ صوبه دار غلاف خان شهید پیژنے ؟

کمانډنټ صیب لا خپله خبره مکمل کړے نه وی چې رنر دَ بهر نه راځی ۔ دَ ټیلیفون ریسیور اوچتوی او هغه ته وائی "سر میجر یاسر تاسو سره خبرے کول غواړی "۔

کمانډنټ صیب مسکے شی دَ رنر دَ لاسه ریسیور اخلی او وائی "وعلیکم السلام ۔ څنګه یې یاسره ؟ خوش خبری ښه ښه ۔ صوبه دار غلاف خان خو شهید شوے دے ...ژوندے دې ... ون ، ټو ، تهری کلیر شو ۔ صوبه دار صیب له فون ورکړه چې ماسره خبرے اوکړی ....وعلیکم السلام ، صوبه دار صیب د دے دنیا ته خبرے کوے که د عالم ارواح نه ( خاندی ) ستا دے مبارک شی ۔ راځے نه ؟ ...زخمی یې ؟ میجر یاسر له فون ورکړه صیب ۔ هیلو یاسر ۔ که صوبه دار صیب ډیر زخمی وی نو CMH راولپنډۍ ته یې راؤړه ۔ تاسو دَ هم دَ هغه ځائے نه خبرے کوې ؟ صوبه دار صیب به کله راشی ؟ دَ راتلو نه مخکښے ما خبره کړه Ok, Thank you and good luck ۔ بیا جبران ته ګوری او وائی ۔ O.k, you cam go. جبران چې دَ کمانډنټ

صیب دَ دفتر نه اوځی نو 2ic دَ کمانډنټ صیب نه تپوس کوی "څهٔ اوشو سر"۔

کمانډنټ صیب :۔ مبارک شه صیب ۔ دَ کوزے بانډے دَ الجهاد العالمیه مهم کلیر شو ۔

2ic صیب :۔ دَ کلیر نه خبرووم سر خو دَ صوبه دار غلاف خان شهید په خبره پو هٔ نشوم ۔

کمانډنټ صیب:۔ صوبه دار غلاف شهید نه بلکه ژوندے دے البته مهم یې کلیر کړو۔

2ic :۔ وِل ډن صوبه دار غلاف خان ۔سر دَ هغه دَ پاره څهٔ دَ پارټۍ بندوبست پکار دے ۔

کمانډنټ:۔ هغه او دَ سنټر ټولو افسرانو له به پارټی زهٔ ورکوم او دَ سنټر دَ NCOS او جوانو دَ پاره کوارټر ماسټر ته اووایه چی دَ " بړا کهانا " بندوبست اوکړی ۔

2ic :۔ o.k sir

## څلورمه برخه

دَ جبران زړهٔ دَ خوشحالۍ نه ټوپونه وهل یو خو دا چې هغه په کیس کښې باعزته برے شوے وو بله دا چې دَ کمانډنټ صیب په فون باندے یې دَ کمانډنټ دَ خولے نه دَ خپل پلار نوم وورېدو نو دَ هغه په شهادت شکی شو ۔ دَ پیشی نه پس هغه صوبه دار آدم سره لیدل اوکړل او دَ هغه دَ مرستے شکریه یې ادا کړه ۔ هغوی لا خپلو کښې





خبرے کولے چی دیکښے حوالدار ریاض هم راغی ۔ هغه چی دَ جبران دَ کیس نه خبر شو نو ډیر خوشحاله شو ۔په خبرو خبرو کښې صوبه دار آدم خان هغه ته اووے "جبرانه بچے ! کمانډنټ صیب غواړی چې ته خپل تعلیمی کمے پوره کړے او کمیشن دَ پاره دے ریکمنډ کړی ۔ دَ دوو بجونه روستو ته فری یې خپله مطالعه کوه ۔ ستا ډیوټی ، پټیک معاف ولے چی ستا چمړا ده ....." جبران ( خاندی ) نو سر پلیز مخکښے نور څهٔ مه وایی"

صوبه دار آدم خان ( خاندی ) نه وایم ځویه خو د دے دا مطلب نه دے چې ته بالکل آزاد شوے چی څهٔ دې خوښه وی هغه کوې او چې چرته دے خوښه وی هلته به ځے ۔

جبران :۔ سر زهٔ تاسو ته دا یقین درکوم چې زما له خوا به تاسو ته دَ شکایت هیڅ موقع نه ملاویږی خو یو خواست درته کوم سر ، که ستاسو خوښه وی او اجازت راکوی نو زهٔ به شپه آپاجی کره کوم ۔

صوبه در آدم خان :۔ آپاجی دے کوم ځائے ده ؟

جبران :۔ دلته نزدے ده سر ، ایوب میډیکل کالج سره خوا کښې دَ هغے کور دے هلته یو پرائیوټ کالج هم دے چې ایونګ کلاسونه پکښې لګی ۔ چې دَ کلاس نه پس دلته راځم نو ناوخته به وی ۔

صوبه دار آدم خان :۔ ټیک ده زما پرے څهٔ اعتراض نشته جو دَ پریډ نه غیر حاضر نشے یا څهٔ بله مسله جوړه نه کړے ۔

جبران :۔ نوسر ، تاسو مطمئن اوسی چی هیڅ مسله به نه جوړیږی ۔

صوبه دار ادم خان :- تیک ده لاړ شه خو دا خبره خپل حوالدار میجر ریاض سره ډسکس کړه چې ستا دَ where abouts معلومات ورته وی ۔

حوالدار ریاض :- حوالدار میجر ریاض خان ؟ سر زهٔ پوهـ نشوم ۔

صوبه دار ادم خان :- مبارک شه ته دَ الفا کمپنی حوالدار میجر شوے ۔

حوالدار ریاض :- Really sir

صوبه دار ادم خان :- بالکل ستاسو آرډر به اوس یوه شیبه پس اوشی خو ما دَ پاره مسله جوړه شوه ۔

حوالدار ریاض :- څنګه سر ؟

صوبه دار آدم خان :- هغه داسے چې دَ نائیک انجم په ځائے نائیک رفاقت علی دَ حوالدار انور پر ځائے حوالدار شریف خان دَ حوالدار میجر عبدالباسط په ځائے تهٔ او دَ صوبه دار مستقیم په ځائے زما آرډر کیدونکے دے ۔

حوالدار ریاض :- دا خو ډیره دَ خوشحالۍ خبره ده سرخودَ ټریننګ ټیم ډیوټی چا ته حواله شوه ۔

صوبه دار آدم خان :- ماله یې ډبل ډیوټی راکړه ۔ هغه به هم وی او دا هم ۔

جبران :- سرمبارک شه ، او حوالدار ریاض صیب ستاسو هم مبارک شه ۔

ډواړه :- ډیره مهربانی ۔





جبران :- سر مادَ پاره څهٔ حکم دے ؟

صوبه دار ادم خان :- څه ته خپله مطالعه کوه تاته اجازت دے او رشتیا دا خطونه واخله او زر تر زره یې اولیږه ۔

جبران :- تینک یو سر ، دا دے اوس یې پوسټ کوم سر ۔

جبران دَ کنټین نه یو لفافه واخلی په هغے کښې خپل خط بند کړی او دَ سنټر پوسټ بکس کښې واچوې ۔ دے نه پس مس کښې ډوډۍ اوخوری او بیا خپل بیرک ته لاړ شی ۔ په بیرک کښې نائیک انجم او حوالدار انور خپل سامان پیک کوی او دَ تلو تیارې کوی ۔ جبران ټولو رنګروټانو سره علیک سلیک اوکړی خو استاذانو ته سلام اونکړی ...بیا خپل سوټ کیس لاس کښې اونیسی او بهر اوځی۔

هغه چې کورته اورسیدو نو سوټ کیس یې په خپله کمره کښې کیښودو او دَ بوټانو سره په کټ کښې پریوتو او سترګے یې پټې کړے ۔ لږه شیبه پس کوثر دَ هغه کمرے ته راغله ۔ دَ هغه دَ بوټانو تسمے یې پرانستے ، په مزه مزه یې دَ هغه دَ خپو نه بوټان اوویستل او یو خوا ته یې کیښودل ۔ بیا ئے دَ هغه دَ خپو نه فوجی جُرابے اوویستلی او په بوټانو کښې کیښودے ۔ دے نه پس یې دَ هغهٔ دَ قمیص تڼۍ پرانستې ، دَ سر نه یې ورله ټوپۍ لرے کړه ، دَ هغه دَ مخ او تندی خوله یې په تولیه اوچه کړه او په ویښتو کښې یې ورله ګوتے وهلې ۔ جبران ویښ ځان اودهٔ کړے وو او دَ هغے دَ لاسونو خوند یې محسوسولو ۔ دَ هغه بدن زیګ او ویښتهٔ یې بېر شو ۔ دے سره یې

سترګې اوغړولې او هغې ته يې په مسکا اوکتل ، کوثر هم مسکۍ شوه او وې وئيل : ولې ډير سترې شوې يې واش روم اټېنډ کړه چې ډوډۍ اوخورې ۔ جبران مسکې شو او وې وئيل "ولې ډيره اوږې شوې يې "؟ دے سره په کټ کښې کيناستلو ، هغه هغې ته دا ويل غوښتل چې هغه خوړلې ده او نوره يې زړۀ ته نه کيږي خو دَ هغې دَ خاطره هغه داسے اونه کړے شو ۔ هغه ورته يو ځل بيا اوکتل او وے " تۀ ډوډۍ کيږده ، زۀ درغلم ۔

★★★★★★★★★★

★★★★★

★★★★

★★★

★★

★





## دولسم باب

دَ ماښام تياره په زمکه او دَ وريځے نور غلاف دَ اسمان په مخ خور شوے وو ۔ هوا وريځے په غيږ کښې ګيپه نيولے وه او تياره دَ هغے په رګ رګ کښې ننوتے وه ۔ په ديکښے دَ اسمان په لمنه کښې دَ بريښنا يو نرے تار لکه دَ نرۍ شنے چوکے اوځليدو ۔ دَ هغے په جواب کښې دَ اسمان نورو غاړو کښې دَ بريښنا نښخے ښکاره شوے ۔ په دغه بريښنا کښې دَ وريځے په پړدو کښې اوده "ګوړ ګوړو بابا ، په خپله ژبه کښې اوګونيدو ۔ دَ هغه دَ يرے نه دَ وريځے سترګے ډکے شوے او يو څو غټ غټ څاڅکی ترينه لاندې راپريوتل ۔ دَ هغوی په سيالۍ کښې دَ څاڅکو لړۍ شروع شوے ۔ دے سره هوا هم دَ وريځے دَ غير نه اووته او په مستۍ او خوشحالۍ په فضا کښې په ګډا شوه ۔ په لږ ساعت هغه جامونه اووريدل چې ټول ملک يې خړوب کړو ۔

دَ صوبه دار صيب ښځه پروين بی بی دَ بال بچ سره په برنډه کښې ناسته وه او دَ باران دَ غولو تماشه يې کوله ۔ سپوږمۍ او غازی خان دَ غولو په ميرلو کښې خپلو کښې مقابله کوله او دواړو دَ "چُف دا زما " چغے وهلے ۔ نګينه ورته غصه شوه او ورته يې اووې "چپ شۍ مړو څۀ شور مو جوړ کړے دے ، دَ خدائے نه خير غواړۍ " په دغه باد ، باران او تيارۀ کښې په تور پړونی کښې پټ مخ يوه جينۍ په تيزو او اوږدو ګامونو روانه وه ۔ دَ هغے پړونے او جامے لوندے خوشتے وې او اوبه ترينه څڅيدے ۔ دَ هواليونو چپو هغه په ديکښے هم نه پريښوده

، دَ هغے سره به یې چیرِ چارِ کوو او دَ هغے پړونے به یې اوچت کړو او تیر پاتے ځایونه به یې ټول لوانده شول ۔ دَ هوا دَ زورګرۍ او دَ هغے دَ سینه زورۍ په دغه مقابله کښې هغه دَ صوبه دار غلاف خان کور ته اورسیده ۔ اخوا دیخوا یې اوکتل او دَ کور په ګیټ وردننه شوه ۔ دَ دیوال چنې ته اودریده او خپل پړونے یې ځان ته راغونډ کړو ۔ پروین بی بی او نګینے چې هغه اولیده نو دواړو په یو وخت په هغے چغے کړے " برنډے ته راځه خیرمارے باران دے ۔ شابه ، شابه "۔

خیرماره په منډه منډه برنډے ته ورغله او دَ هغوی کټونو سره خوا کښې غلے غونډے اودریده ۔ نګینے ورته اووے "راځه خورے کټ کښې کینه "۔

خیرے مارے په مړو سترګو هغے ته خوار خوار اوکتل او وئے وئیل "کټ کښې څنګه کینم بی بی ۔ ټوله لونده یم کټ به لوند شی ۔

پروین بی بی :۔ کینه لورے کټ تانه ښه نه دے ۔

خیرماره :۔ بی بی جی کینم نه خو یو سوال له راغلے یم ۔

پروین بی بی :۔ وظیفه غواړے ؟ ډوډۍ تیاره ده خو په دے باران کښې به یې څنګه اوړے ؟

خیرماره ....وظیفے سره به بیا ګورو بی بی جی خو .....

پروین بی بی :۔ ښه ښه پوهـ شوم ۔ ورشه نګینے دے له دَ زړو جامو هغه بوجۍ راواخله چې ځان له پکښې خوښخے کړی ۔

خیرماره :۔ بی بی جی زه یو بل سوال له راغلے یم ۔ که یو ترپال درکره





وی ؟ دَ ناستے ځائے مو نشته ۔ دَ پاس نه باران دے او لاندے ختې دی ۔

پروین بی بی :۔ تاسو کوم ځائے ډیره یې ۔

خیرماره :۔ بی بی جی د دے کلی نه بهر دَ جنازے جماعت کښې ډیره یو خو دَ هغے چهت ټول سورے دے او څاڅی ۔

پروین بی بی :۔ تاسو څو کسان یې ؟

خیرماره :۔ مونږ دوه کسان یو ۔ یو زهٔ یم او بل زما دَ ترهٔ ځوے دے ۔

پروین بی بی :۔ ترپال شته خو په هغے به کار اونشی ۔ دا خو لویه شپه ده ، ترپال به پاس اچوی که لاندے ؟ په دے ستاسو کار نه کیږی (نګینه مورته په غوږ کښې څهٔ وائی ) ...هاؤ ...هاؤ ۔ ډیره ښه خبره ده ...ته داسے اوکړه لورے چې زمونږ حجره بالکل خالی پرته ده ۔ څلور پنځه کمرے دی پکښې ۔ خپله کډه کوډه راواخلۍ او دلته راشۍ په کمره کښې کډه واړه وی ۔ جامے به هم دلته بدلے کړی او ډوډۍ به هم دلته اوخوری داسے دے خوښخه نه ده ؟

خیرماره :۔ ډیره مِ خوښخه ده بی بی جی . خدائے دے دَ بال بچ په خوشحالو مړه کړه ۔ زهٔ ورځم بی بی چې هغه راولم ۔

پروین بی بی :۔ ځه ته ورشه لورے هغه پسی او ته غازی خان دوی ته دَ حجرے ګیټ هم لرے کړه او ټولے کمرے هم ۔ چې کومه کمره یې خوښخه شی په هغے کښې به کډه واړه وی ۔ لږه شیبه پس هغه او په خر سوریو زلمې دَ حجرے په ګیټ دننه شول ۔ غازی خان دَ حجرے ګیټ بند کړو ۔ خیرمارے زلمې دَ خر نه په غیږ کښې اوچت کړو او

یوے کمرے ته یې بوتلو ۔ بیا ئے خر اونیوو او دَ حجرے یو گوټ ته یې دَ مال په برنډه کښې اوتړو ۔ پروین بی بی او دَ هغے لونړو دَ حجرے او دَ کور دَ مشترکه ور په چودو کښې دا هر څۀ لیدل خو چې کله غازی خان کورته راغی نو ټول حال یې مورته اووې ۔

په هغوئ دَ پروین بی بی زړۀ اوسوزیدو دَ جبران یوه نوے جوړه جامے یې دَ جامو په بوجۍ کښې کیښودے او غازی خان ته یې اووے "راشه څویه دا بوجۍ ورله یوسه " غازی خان بوجۍ واخسته او په منډه یې هغوی له یوړه ۔ خیر مارے هغه ښکل کړو او په سر یې ورله لاس کیښودو ۔ بیا ئے دَ بوجۍ نه یوه نارینه جوړه را اوویستله هغه یې زلمی له ورکړه او دَ کمرے ور یې ورپسې راپورے کړو ۔ دَ زنانه ؤ یوه جوړه یې لاس کښې اونیوه بلے کمرے ته لاړه او هلته یې جامے بدلے کړے ۔ بیا ئے خپلی او دَ هغه لوندے جامے نچوړی کړے او دَ برنډه په کټونو کښې یې اوغوړولے ۔ په دیکښے دَ کور نه تلی اوشوه ۔ دے سره غازی خان کورته منډه کړه مور ورله یو چینک چائے او دَ حلوا پلیټ ورکړو چې دغه مسافرو له یې ورکړی هغے ورته دا هم اووے چې دا دے گرمه گرمه اوخوری یخنی ده "۔

غازی خان مورته اووے چې په دے باران هغه دا نشی اوړے ۔ پروین بی بی دَ هغه په خبره غصه شوه خو چې اوې کتل نو باران واقعی زیات وو او غازی خان دَ پاره دَ هغے اوړل مشکل وو ۔ پروین بی بی نگینے ته اووے "نگینے ماله پړونے راکړه زۀ یې په خپله اوړم "۔





نگینه :۔ مورے ته ؟

پروین بی بی :۔ لورے دَ خدای دَ قهر نه یره پکار ده ۔ اخر دا هم انسان دی ، دَ چا پیدا ده ۔خدائے دے دا وخت په چا هم نه راولی "۔ نگینے هغے له پړونے ورکړو ۔ هغے چینک او پلیټ لاس کښې اونیول او حجرے ته لاړه ۔ چې برنډے ته اورسیده نو خیرمارے ته یې اووے "راشه لورے دا چائے واخله او گرمه گرمه اوڅکی یخنی ده "۔

خیرمارے چې هغه اولیده نو هغے له په منډه ورغله لوښی ئے ترینه واخستل او ورته یې اووے "بی بی جی ! تاولے تکلیف کوو ۔ ماته به دے ویلے وو ، زۀ به درغلې ووم " پروین بی بی پسې غازی خان او سپوږمۍ هم حجرے ته ورغلل او مور سره جخت اودریدل "پروین بی بی چې هغوی اولیدل نو سپوږمۍ ته یې اووے "سپوږمۍ چې دوی چائے اوڅکی نو لوښی ترینه کور ته راوړه ۔ دے سره هغه دَ باران په شیبو کښې کورته روانه شوه ۔

چې هغوی چائے اوڅکله نو خیر مارے غازی خان او سپوږمۍ دَ لاسونو نه اونیول ، دننه کمرے ته یې بوتلل ، پیالۍ یې ورته ډکے کړے خو هغوی دَ چائے څکلو نه انکار اوکړل ۔ هغوی دواړو په غور سره زلمی ته کتل او یو بل سره به یې په غوږ کښې پټې پټې خبرے کولے ۔ دَ هغوی په دے پټو خبرو زلمے او خیر ماره دواړه په خندا شو ۔ غازی خان او سپوږمۍ دواړه دَ هغوی په خندا کچه شو او دواړو کورته منډه کړه ۔ غازی خان مورته ورنزدے شو او په غوږ کښې یې

ورته څۀ اووے۔

سپوږمۍ دَ هغه پټه خبره ښکاره او وے وئیل "په غوږ کښې ورته څۀ له وایې خو ښکاره ورته اووایه چې هغه سړی مِ دَ جبران لالا په شان دے"۔

پروین بی بی :۔ هاؤ ۔ هاؤ ۔ دَلالا جامے دے اغوستے دی ځکه دے دَ لالا غوندے ښکاری۔

سپوږمۍ :۔ نه مورے په هر څۀ کښې دَ جبران لالا غوندے دے ۔

نګینه :۔ بس که دروغ مه وایه دروغ ژنے ۔

سپوږمۍ :۔ قسم دے که دروغ وایم ګینی دَ غازی خان نه تپوس اوکړه ۔

نګینه :۔ دا غازی داسے پوخ بابا دے چې پو هیږی ۔

سپوږمۍ :۔ که زۀ دروغ وایم نو ته ورشه په خپله یې اوګوره ۔

نګینه :۔ بس بس دا تا چې اولیدو دا ډیره ده ۔ زۀ پردو سړو ته نه ګورم ۔

هغوی لا دا خبرے کولے چې دیکښے خیرمارے دَ چایولوښی راؤړل ۔ هغه په بدله جوړه کښې ډیره خائسته ښکاریده ۔ دَ نګینے خو پرے هډو دَ خیرمارے ګمان نه کیدو ۔

پروین :۔ چائے مو اوڅکله ؟

خیرماره :۔ خدائے دې درسره ډیر ښه اوکړی بی بی جی ۔ خدائے دې د دې عوضے او بدلے درکړی او خدائے دې په خپل بال بچ خوشحاله کړه ۔





پروین بی بی :۔ راځه لورے کینه ولے ولاړه یې ۔ (خیرماره هغے ته مخامخ دَ کټ په لنګه کینی ) سمه کینه لورے ۔

خیرماره :۔ سمه ناسته یم بی بی جی . ( غازی خان مورته په غوږ کښې څۀ وائی ) خیرماره مسکۍ شی او وائی "غازی خان څۀ وای بی بی جی ؟

پروین بی بی :۔ دَ غازی خان خپل ورور جبران یاد شوے دے ۔ دے وائی چې ستا دَ ترۀ ځوې دَ جبران په شان دے"۔

خیرماره :۔ جبران ستا ځوے دې بی بی جی ۔

پروین بی بی :۔ هاؤ لورے ۔ خدائے دے لری سره دَ نورو دَ بچو ۔

خیرماره :۔ دغه جامے دَ هغه وې چې هغه واغوستے ځکه دَ هغه غوندے ښکاری ۔

پروین بی بی :۔ دا هلک ستا دَ ترۀ ځوے دے او که نور دے هم څۀ دے ؟

خیرماره ( اوشرمیږی سترګے خکته کړی او وائی ) بی بی جی دا زما چنغول هم دے ۔

نګینه :۔ دے څۀ ناجوړه دے ؟

خیرماره :۔ نور ناجوړه نه دے بی بی خو په یوه چودنه کښې یې خپه ماته شوے ده او پلستر مو ورته اچولے دے ۔

پروین بی بی :۔ تاسو دَ کوم ځائے نه راغلی یې ۔

خیرماره :۔ بی بی جی مونږ دَ کوزے بانډے نه راغلی یو ۔

پروین بی بی :۔ کوزه بانډه کوم ځائے ده ؟

خیرماره :۔ بی بی جی دا دَ پاکستان او افغانستان په پوله یو کلی دے
۔ دے ځایه نه ډیر لرے دے ۔

پروین بی بی :۔ دے علاقے ته څهٔ له راغلی یې ۔

خیرماره :۔ بی بی جی روکے پسی ګرځو ۔ مخکښے دَ مریم زی افریدو کلی ته لاړو ۔ هلته مو اونه موندلو ۔ بیا دَ تکیه افریدو کلی ته لاړو ۔ هلته نه وو ۔ بیا دَ کانګړے افریدو کلی ته لاړو هلته هم نه وو ۔ بیا دلته راغلو ۔ دلته خو هډو چا ایساریدو ته پرے نښودو ۔ خلقو راته وې چې خپې اوباسئ دلته دهشت ګردی کیږی ۔ دغه رنګے مو دویم چکر اووهو ۔ او دا ځل په دریم چکر دے کلی ته راغلو خو بیا هم چا کلی کښی نه پریښودو نو دَ کلی نه بهر مو دَ جنازے په جمات کښې ډیره واچوله چې د اولړے او باران نه ډیر تنګ شو نو تاسو سره دے خدائے ښهٔ اوکړی تاسو پناه راکړه ۔ بی بی جی په ګرځیدو ګرځیدو مې خپې ماتے شوے او دَ لادو بادو پریوتو ۔

پروین بی بی :۔ تاسو دَ چا لټون پسی ګرځئ ؟

خیرماره :۔ بی بی جی په افریدو کلی کښې زما دَ ترهٔ دَ ځوی څوک خپل دے ۔

پروین بی بی :۔ څوک دے ، څهٔ نوم یې دے ؟

خیرماره :۔ صوبه دار غلاف خان ۔

ټول یو بل ته ګوری ۔ پروین بی بی رنګ اووهی او په حیرانتیا سره وائی "صوبه دار غلاف خان" دَ هغه سره ستاسو څهٔ رشته ده؟





خیرماره :۔ صوبه دار غلاف خان زما دَ ترهٔ ځوی ته ځوے ویلے دې ۔

دَ پروین بی بی په سترګو کښی غټې غټې اوښکے راغلے ۔ دَ نګینے ، سپوږمی او غازی خان سترګے هم ډکے شی ۔ خیرماره چی هغوی ته اګوری نو اویریږی او په یره یره وائی "ولی بی بی جی ستاسو په سترګو کښې خو اوښکے راغلے ؟ پروین بی بی په ډډ اواز کښې اووې "لورے صوبه دار صیب شهید شوے دے ۔ چې ستا دَ خولے نه مو دَ هغه نوم وواریدو نو دَ هغه یاد بیا تازه شو ۔

خیرماره :۔ بی بی جی صوبه دار صیب کله شهید شوے دے ؟

پروین بی بی :۔ پنځه ، پنځه نیمے میاشتے به کیږی ۔

خیرماره :۔ نه بی بی جی ۔ صوبه دار صیب ژوندې دے ۔

پروین بی بی :۔ نه لورے هغه شهید شوے دے هغه یو محاذ ته تلے وو او هلته نه بیا واپس نه دے راغلے ۔ مونږ دومره بدقسمته یو چې دَ هغهٔ دَ لاش په لیدو کښې مو هم نصیب نه وو۔

خیرماره :۔ نه بی بی جی ۔ صوبه دار صیب ژوندے دے که زما په خوله دے یقین نه کیږی نو څوک راسره اولیږه چې د سوار خان نه تپوس اوکړی ۔

نګینه :۔ سوار خان څوک دے ؟

خیرماره :۔ دا زما دَ ترهٔ ځوې ۔ دَ ده نوم سوار خان دے ۔

پروین بی بی :۔ زهٔ څنګه یقین اوکړم چی هغه ژوندې دے ۔

خیرماره :۔ بی بی جی هغه ژوندې دې ۔ البته معمولی زخمی شوے

دې ۔ مونږ سره په هسپتال کښې وو ۔ کيديشي يو څو ورځو کښې راشي ۔

پروين بي بي :۔ يقين مِ نشي لورے ۔

خيرماره :۔ چې يقين دے نشي بي بي جي نو لږ تکليف اوکړه ۔ ستا په مخکښے به دَ سوار خان نه تپوس اوکړم ۔ تۀ راځه بي بي جي ۔

پروين بي بي سره دَ بال بچ حجرے ته ورځي او په برنډه کښې اودريږي ۔ خيرماره دننه ورشي او سوار خان ته وائي "سوار خانه ! دَ صوبه دار صيب بي بي راغلے ده تاته دَ هغه معلومات کوي چې هغه واقعي ژوندې دے ؟

سوار خان دَ کمرے نه په اوچت اواز وائي "مبارک شه مورے هغه ژوندې دې ۔ هغه مونږ سره يو ځائے هسپتال ته تلے وو خو هلته ګوډ شو ۔ هغه بالکل ټيک ټاک دے او انشاء الله يو څو ورځو کښې به راشي ۔

پروين بي بي :۔ بچے خوله دے دَ شاتو او شودونه ډکه شوه ۔

سوارخان (خاندی) مورے ، تاخو رانه په چاے او حلوا ځان خلاص کړو ۔ پروين بي بي نګينے ته ګوري او وائي "نګينے دے خبرو کښې ماته دَ خپل ځوی خوږ والے ښکاری ۔

سوار خان :۔ مورے صوبه دار صيب راته ځوې ويلې دی ۔ ته راته ځوې ولې نه وائي ۔

پروين بي بي :۔ ولي نه ځويه ۔ ماته خو دَ خپل ځوی نه کم نه





ښکارے ۔

سوار خان :۔ ولی کم نه ۔ دَ صوبه دار صيب تپوس کوے او د دے مات ګوډ ځوی تپوس نه کوې ؟ دَ هغه په خبرو کښې دومره کشش وو چې لکه دَ مقناطيس پروين بي بي ځان ته راکاږي ۔ هغه په مزه مزه کمرے ته ورشي او ورته وائي : ځويه څنګه يې : پروين بي بي او سوار خان دواړه يو بل ته په غټو غټو ګوري ۔ دواړه دَ يو بل نه سترګے نه اوباسي او دواړوه په خپلو خيالو کښې ډوب شي ۔ يوه شيبه پس سوار خان مسکے شي ۔ پروين بي بي يوه ليونۍ چغه اوباسي "زما ځويه ، زما وصال خانه ځويه ، هغه په هغه ورغوته کړی او دَ هغه دَ پاسه اوغورځيږي ۔ چغے وهي ، ژاړي او په ژړا کښې وائي "زما ځويه ته چرته وې بيا لکه دَ ليونو هغه ښکلوی او ښکلولو کښې نګينے ته وائي "راشه نګينے لورے دا دے لاله جي دے ۔ ستا وصال خان لاله جي "نګينه چې دَ مور خبرے ووری په هغه ورپريوځي او هغه ښکلوی ۔ سپوږمۍ او غازی خان هم هغه ښکلوی ۔ يوه شيبه پس وصال خان مورته وائي "مورے دا نګينه ده ۔ دا خو لويه شوے ده ۔

پروين بي بي :۔ دا نګينه ده ۔ دا سپوږمۍ ده او دا غازی خان دے ستا کشر ورور ۔

وصال خان :۔ مورے تاسو ټول زمانه چاپيره کينئ چې زه درته په غټو غټو اوګورم "هغه ټول دَ وصال خان نه چاپيره کيني او هغه ورته په غټو غټو ګوری ۔ دَ وصال خان سترګے ډکے شي او لړی لړی

اوښکے پرے راماتے شی ۔ پروین بی بی دَ هغه اوښکے اوچوی او خپلی بهوی ۔ دَ هغه سر په غیږ کښی کیږدی او وائی "ځویه مونږ خو تانه زړۀ صبر کړے وو ته د کومے راغلے ۔

وصال خان :۔ مورے تا زړۀ صبر کړے وو خو زما زړۀ نه صبریدو (خاندی) ستا دیدن له دَ قبر نه رااوتم۔

پروین بی بی :۔ ځویه پوره قیصه راته اوکړه ۔

وصال خان :۔ مورے دا لویه قیصه ده دا به درته بیا اوکړم ، اوس دے خپلے اینګور له تسلی ورکړه ۔ ته ورته اوګوره چی تاسو سره هغه هم ژاړی ۔

پروین بی بی :۔ زما اینګور ۔

وصال خان شګفتے ته ګوته نیسی "دَ شګفتے خبره کوم"۔

پروین بی بی پاڅی هغے ته ورترغاړه ووځی او دواړه په چغو چغو ژاړی ۔ "لورے ماتاته خیرماره ویلے ده ما معاف کړه ۔

شګفته :۔ مورے ستا په دغه ټکی کښې هم خوږوالے وو او خوږوالے دے ۔

پروین بی بی :۔ ماته غازی خان ویلے وو چې ته دَ وصال خان په شان یې ۔

وصال خان :۔ ولے نه دواړه رونړه یو ۔ مورے هغه څۀ شو ؟

غازی خان :۔ هغه په فوج کښی بهرتی شوے دے ۔

پروین بی بی :۔ دَ صوبه دار صیب دَ شهادت دَ خبر نه پس هغه ډیر





یوائے شو ۔ نه یې سبق ته ډیرے لګیدلے او نه یې څۀ کار روزګار ته ۔ چی دَ هغه څلویښتی اوشوه نو لاړو په فوج کښی بهرتی شو ۔ (بیا نګینے ته وائی ) "ورشه لورے لاله جی ته دے زما په کمره کښی کټ سم کړه ۔ تۀ هم ورشه سپوږمی ۔ چی هغوی روان شی نو غازی خان ورپسې منډه کړی ۔

پروین بی بی :۔ ځویه واده خو دے نه دے کړې ۔

وصال خان :۔ واه مورے واه ۔ تاسو نه بغیرمِ څنګه کړے وے ( هغه شګفتے ته ګوری او وائی ) راشه شګفتے ما اوچت کړه "۔

شګفته چې هغه په غیږ کښې اوچت کړی نو هغه مسکې شی مور ته ګوری او وائی "مورے ښځه داسے وایه چې خاوند په غیږ کښې ګرځوی " شګفته اوشرمیږی او پروین بی بی هغه ته په خندا ته وائی "وصال خانه بدتمیزی مه کوه "۔

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★

★

## ديارلسم باب

جبران په ايوننګ کلاسونو کښې داخله اخستے وه ، هره ورځ به دَ پريډ نه پس کالج ته تلو او شپے له به کورته راتلو ۔ آپاجی او کوثر به په خندا ، مسکا دَ هغۀ استقبال کوو ۔ کوثر به دَ هغۀ دَ لاس نه کتابونه واخستل او دَ هغۀ کمرے ته به يې اوړل ۔ بيا به يې دَ هغه دَ خپو نه بوټان او جُرابے اوويستلے ، هغه ته به مخامخ اودريده او ورته به يې اوويل ''ډوډۍ کيږدم '' هغه به مسکے شو او ورته به يې اووئيل ''جی بالکل کيږده ۔ زۀ درغلم '' چې ډوډۍ ته به کيناستل نو ډوډۍ به يې هم خوړه او دَ ننی ورځے ټولے خبرے به يې هم کولے ۔ آپاجی چی به دَ هغوی مينے ، محبت ته کتل نو نيمه به نه پاتے کيده ۔ هغه پيغله زړه شوے وه خو بغير خواری او محنته خدا يې دَ کوثر او جبران په شکل کښې لور او ځوې ورکړی وو ۔ دا دواړه چې به کله دَ هغے سترګو ته مخکښے روستو کيدل نو دَ خپل اولاد مينه يې پرے ماتيده هغے به خپل کار هم کوو او ځان سره به يې په مسکا مسکا دَ هغوی خبرے هم کولے ۔ جبران او کوثر به ترناوخته پورے په ډائننګ روم کښې هغے سره ناست وو او هغے سره به يې خوږے خبرے کولے ۔

بهادرخان به هم هفته دوه پس راتلو او ډک ګاډے سودا به يې راؤړه چې په هغے کښې به دَ کور دَ سودا نه علاوه دَ کوثر او جبران او آپاجی دَ پاره جوړے جامے ، پيزار او دَ ضرورت نورسامان هم وو۔ شپه دوه به يې اوکړه ، آپاجی ، کوثر او جبران سره به يې خندا خوشحالی اوکړه او بيا





به لاړو ۔ جبران اوس د دے کور يو فرد ګرځيدلے وو ۔ دَ هغوی هيڅ خبره دَ هغه نه پټه نه وه ۔ کله کله به کوثر ته غصه هم شو او کله کله به مرور هم خو بيا به ډير زر پخلا شو ۔ دَ کوثر دَ بيماری او دَ هغے معجزاتی طور دَ صحت يابۍ خبر دَ هغے مور حميده بانو او دَ هغے پلار سليم رضا ته هم رسيدلے وو ۔ هغوی به څو په ځويمه په موبائيل او ټيليفون دَ هغوی تپوس کوو ۔ حميده بانو به آپاجی او کوثر سره په ګهنټو ګهنټو خبرے کولے ۔ جبران سره يې هم څو څو ځله خبرے شوے وې او دَ کوثر په خواست يې ورله دَ انټرنيټ په ذريعه خپل تصوير هم ليږلے وو ۔ دغه تصوير دَ هغه دَ مور ، پلار نه علاوه دَ هغه رونړو او نورو خپلوانو ته هم رسيدلے وو ۔ حميده بانو او سليم رضا دَ زوم په حيث هغه قبول کړے وو او دَ جرمنی نه به يې ورله سپشيل ګفټونه راليږل آپاجی غوښتل چې زر تر زره خپله ذمه واری تر سره کړی او کوثر او جبران دَ ښځے خاوند روپ کښې اووينی ۔

يوماښام هغوی په ډائننګ روم کښې ناست وو خپلو کښې يې خبرے کولے چې په ديکښے آپاجی دَ هغوی خواله راغله او کيناسته ۔ چې هغے ته دَ خبرے موقع ملاؤ شو نو جبران نه يې تپوس اوکړو ''ځويه ستاسو پاسنګ آؤټ به کله وی . جبران په سواليه نظر هغے ته ګوری ''پاسنګ آوټ؟ ولې څۀ خاص خبره ده آپاجی ؟

آپاجی : هاؤ ځويه .زۀ ستا دَ پاسنګ آؤټ انتظار کوم ..زۀ غواړم چی خپله ذمه واری ترسره کړم۔ د دے مور پلار بهر دی او ټوله ذمه

واری یې زما او دَ بهادرخان په سر ده ۔ زهٔ غواړم چی خپله ذمه واری تاسو ته حواله کړم ۔

جبران :۔ زهٔ پوهـ نشوم آپاجی ۔

آپاجی :۔ پوهـ نشوے که زمانه هسے خبرے اوباسے ۔

جبران :۔ نه آپاجی ! تهٔ یقین اوکړه چې زهٔ ستا په خبره پوهـ شوے نه یم ۔

آپاجی :۔ چې پوهـ نه یې نو ځان پوهـ کړه ۔ دواړه ماشاء الله ښهٔ بالغ یې ۔ دواړه ښه حسین یې او دے نه علاوه دواړه دَ یوبل آئیډیل یې ۔ زهٔ غواړم چی په غریدلے سترګو دَ خپل ژوند دا لوے ارمان پوره کړم او ستاسو وادهٔ اوکړم ۔ جبران ( خاندی ) هله وادهٔ ...کوثر وادهٔ (هغه دَ کوثر په مخ لاس راکاږی ۔ کوثر اوشرمیږګی ، مسکی شی او بهر اوځی ) جبران په خندا خندا کښی آپاجی ته وائی ”آپاجی هغه خولاړه اوتختیده “۔

آپاجی :۔ ماتانه تپوس کړے دے دَ هغے نه نه ۔

جبران :۔ آپاجی ما خو لا دا سوچ هم نه دے کړے ۔

آپاجی :۔ دا به کله کوې ؟

جبران :۔ آپاجی دَ وادهٔ نه مخکښے ډیر کارونه دی ۔ زهٔ غواړم چې خپل تعلیم مکمل کړم او په آرمی کښې لانګ کمیشن واخلم ۔

آپاجی :۔ چې وادهٔ اوکړے نو بیا چې دے څهٔ خوښ وی هغه کوه ۔ خپل مور پلار راولیږه چې جینۍ اوګوری او دعائے خیر اوکړی ۔





## ړومبۍ برخه

جبران خپله کمره کښې مطالعه کوله چې کوثر دَ هغه کمرے ته راغله او دَ هغه میز سره جخته په یوه کرسۍ غلے غوندے کیناسته ۔ جبران دَ هغے په راتلو او موجودګی ځان ناغرضه کړو او په خپله مطالعه کښې مصروف وو ۔ کوثر دَ هغه په مخ سترګے ښخے کړے وې خو هغه سترګے نه اوچتولے ۔ یوشیبه پس هغه غلے غوندے پاڅیده ۔ دَ هغه کتاب یې بند کړو او یو خوا ته یې کیښودو۔ جبران په سنجیده موډ کښې هغے ته برند برند اوکتل او وے وئیل ”کتاب دے ولے بند کړو “؟

کوثر مسکۍ شوه او وے وئیل ”لږے به خپلې خبرے اوکړو “۔

جبران :۔ خبرے خو مونږ په ډائننګ روم کښې کړے دی ۔

کوثر :۔ هاؤ ...خو څهٔ خبرے زما په غیرموجودګۍ کښې شوې دی ۔

جبران :۔ ماته پته نشته ۔ کتاب راکړه زهٔ خپله سټډی (Study) کوم ۔

کوثر:۔ جبرانه پلیز۔ ماته پوره خبره اوکړه چې تااو آپاجی نورے څهٔ خبرے اوکړے ۔

جبران :۔ ماسره ستا دَ فضول خبرو دَ پاره وخت نشته ۔ کتاب راکړه ۔

کوثر :۔ دا خبرے فضول نه دی جبرانه ۔ دا په ما ډیرے خوږے لګی ۔

جبران :۔اوه ۔ دَ واده خبرے تابانده خوږے لګی ؟ نو بیا تختیدے ولې ۔ لږه به ناسته وې چې هر څهٔ دے په خپله اوریدلے وې ۔ زهٔ دے یوائے

پرېښودم او ته لاړے ۔

کوثر :۔ زما دَ طرفه آپاجی وه ، زما ضرورت نه وو ۔

جبران :۔ ستا دَ طرفه آپاجی وه خوزما له خوا ګوک نه وو ۔

کوثر :۔ تا ورته څۀ اووے ؟

جبران:۔ آپاجی سره زۀ دا خبرے نشم کولے ۔ زما سترګے شرمیږی ۔

کوثر :۔ ماسره خوکولے شې کنه ۔

جبران :۔ ډیره بے شرمه یې ۔ ته خپل مجازی خدای سره داسے خبرے کوی ۔

کوثر :۔ بے شرمه نه یم ۔ دا خو سمه خبره ده ۔ وادۀ کول یا دَ وادۀ خبره کول څۀ غلطه خبره نه ده ۔

جبران :۔ ډیرے کلکے سترګے دے دی ۔ دے خبرو کښې زما او ستا کار نشته ۔ دا کار دَ آپاجی او زما دَ مورجی دے ۔ هغوی دواړو چې څۀ جوړ کړل ماته منظور دی ۔

کوثر :۔ دا خبرے په ما ښۀ لګی ۔ زۀ ویم چې هر وخت مو دا خبرے کولے ۔

جبران :۔ په تا به ښه لګی خو په ما نه لګی ۔ دَ وادۀ نه مخکښې ډیر کارونه دی ۔ پاسنګ آوټ به کیږی ۔ زۀ به ایف ۔ اے کوم ۔ بیا به کمیشن اخلم ۔ لفټیننټ به جوړیږم نو دے نه پس وادۀ کوم ۔

کوثر :۔ اوهو دا به چرے وی ۔

جبران :۔ اوبه شی تا باندے ولی توندی ده ۔





کوثر :۔ جبرانه دَ حالاتو څۀ پته نه لګی ۔ حالاتو سره ادلے بدلے هم راتلے شی او زۀ په یو حالت کښې هم تامس کول نه غواړم ۔

جبران (مسکے شی ) ۔ حالات به انشاء الله زمونږ په حق کښې وی ۔

کوثر :۔ که حالات بدل شو نو بیا ؟

جبران :۔ بیا دا چې ستا دَ څۀ کمے دے ۔ ښه حسینه یې ، امیره یې ۔ زۀ نه بل ، بل نه بل وغیره وغیره ۔

کوثر :۔ Stupid ۔ تۀ داسے خبرے ولے کوے ۔ هغه لاس اوچتوی او د۔ هغه نه په سر دَ سپیړے ویستلو کوشش کوی خو هغه سر لاندے کړے ۔ دَ هغے لاس په هوا کښې تیر شی خو هغه یې په خپل لاس کښې اونیسی ۔ دَ هغے پسته او نازکه پنجه دَ هغه په پنجه کښې راشی ۔ جبران خپله پنجه کله سخته او کله نرمه کړی ۔ دَ دواړو په زړونو کښې دَ مینے بجلی اولګی ۔ دَ هغے په رګا کښې دَ هغوی سترګے شمکورے او تورے شی ۔ جبران چې دَ هغے پنجے له زور ورکړی نو دَ هغے زړۀ په درزیدو شی او چې پنجه سسته کړو نو دَ هغے وجود په رپیدو شی ۔ هغے خپل سر دَ هغه په اوږه کیښودو۔ دَ هغے خورو زلفو دَ هغۀ دَوجود ځینے برخے تبنولے دَ دواړو په زړونو کښې دَ زار وقربان او راز ونیاز خبرے شروع وې ۔ په چپه خوله دَ مینے غورځنګونه لاشروع وو چې دیکښې آپاجی دَ هغوی کمرے ته راغله ۔ هغے چې هغوی په مدهوشه حالت کښې اولیدل نو مسکے شوه او بهر اووته ۔ یوه شیبه پس یې دَ خپلی کمرے نه کوثر ته اواز اوکړو ۔

دَ هغې اواز کوثر او جبران دواړو وورېدو ۔ دې اواز سره هغې دَ هغه دَ اوږې نه سر پورته کړو په نشيزه سترګو يې هغه ته اوکتل ، مسکۍ شوه او بهر اووته ۔

آپاجی په خپله بستره کښې سملاسته ، سترګې يې پټې کړې او دَ کوثر او جبران متعلق يې سوچ کوو ۔ په دغه سوچونو کښې هغې ته دَ خپل ژوند کتاب پرانستې شو او دَ خيال په سترګو يې دَ خپل ژوند روماني منظرونه او دَ پيغلتوب بابونه ليدل او لوستل ۔ هغه ګل ناز چې خائست ته يې دَ سپرلی ګلونه پسخېدل ؟ خبروته يې دَ سرندې تارونه اودريدل او دَ وړمو بهيرونه ترينه تلل ، چی دَ حسن مسجمه او دَ رومان کرشمه وه ، چی دَ هر چا دَ زړۀ ارمان او دَ هر چا دَ زړه درمان وه ، چا چی دَ خپل آئيډيل په تلاش کښې دَ خپل ترۀ ځوې زاهد ، دَ ترور ځوې عامر او دَ ماما ځوې شاکر دَ خپل حسن لائق نه ګڼلو ۔ او واره په واره يې دغه تړول جوابی کړل ۔ زاهد چی ناامېده شو نو خودکشی يې اوکړه ۔ عامر ليونې شو او شاکر دَ هغې دَ لاسه وطن پرېښودو ۔ په پردی وطن کښې مړ او ښخ شو ۔ دَ هغې مغروره حسن هم هغې سره وفا اونکړه ۔ دَ عمر او دَ حالاتو دَ حادثو په وجه په کميدو شو ۔ ان چی دَ ګل نار نه آپاجی جوړه شوه ۔ او چی کله نه يې په ويښتو کښې سپين اولګيدل ، دَ نظر چشمې يې واچولې او خپل پيپړ مخ ته يې په اينه کښې اوکتل نو تير وخت ، تيرې ځوانۍ او دَ خپل حسن شيدا يانو پسې ارمان ورغی ۔ دَ زاهد





په ښکلې ځوانۍ ورله افسوس ورغی ، دَ عامر په غزيدلې ځوانۍ يې منګولې اومروړلې او دَ عامر په ليونۍ مينه او سيرې ګريوان يې سترګې ډکې شوې ۔ هغې ته هغه منظر هم مخکښې شو چی کله دَ هغې دَ حسن شيدائی عامر چې دَ هغه دَ خائست خبرې به په ګودرونو کيدې ، په خاؤرو کښې ناست وو ، په زمکه يې کرښې ويستلې او دَ "ګل نار" نوم يې ليکلو ۔ هغې ورته دَ مينې لاس ورکړو خو هغه دَ "ګل نار" په ليکلو ، ورانولو او بيا ليکلو کښې دومره مصروف وو چی آپاجی ته يې هډو بره اونه کتل ۔

هغې ته هغه منظر هم مخکښې شو چې کله هغې ته دَ خپل اخر ژوند دَ اخری مرحلې احساس اوشو او خپل کوچوان ګلوبابا چې دَ پړسو پريوتې وو ، ته يې دَ شريک حيات جوړيدو پيشکش اوکړو ۔ ګلو بابا دَ هغې خبره وورېده خو هغه دَ خپلې اسپې په مالش او چاپۍ کښې دومره مصروف وو چې دَ هغې په خبره يې هډو غوږ اونه ګرولو ۔

دې نه پس هغې خپله توجه دَ کوثر تعليم وتربيت ته اوګرځوله او هغې سره ايبټ اباد ته راغله ۔ د آپاجی درې شيدايان وو او هغه د درې واړو آئيډيل وه خو دَ هغې آئيډيل پکښې يو هم نه وو ۔ په دې لحاظ سره کوثر خوش قسمته وه چی خپل آئيډيل ورته ملاؤ شو ۔ هغې راغوښتل چی کومه غلطی هغې کړې ده هغه کوثر اونکړی او په هر قيمت او هره طريقه جبران دَ هغې دَ ژوند ملګرې شی ۔ دَ هغې دلچسپی دَ جبران په شخصيت کښې وه ، دَ هغه په عهده او مال

ودولت کښې نه وه ۔ دغه وجه وه چې هغې ترينه دَ مور ، پلار ، اصل نسل ، قوم قبيل او ذات پات تپوس اونکړو ۔

کوثر هم غوښتل چې جبران سره دَ هغې وادهٔ زر تر زره اوشي ځکه چې دَ آپاجي دَ ژوند کتاب هغې څو څو ځله لوستلے وو او دَ هغې ژوند دَ هغې دَ پاره دَ عبرت يو ژوندے مثال وو ۔ کله کله به آپاجي دَ جبران په مينه شک منه شوه او په زړهٔ کښې به يې دا تلوسے او وسوسے راتلے چې هسے نه هغه لکه دَ هغې نيمګړے نيمه خوا پاتے شي ۔ خو چې کله يې هغوی دواړه دَ مينے په دنيا کښې مد هوشه اوليدل نو زړهٔ يې باغ وبهار او دماغ يې ګل وګلزار شو ۔ کوثر رومبۍ جينۍ وه چې دَ جبران په ژوند کښې حادثاتي طور سره داخله شوه ۔ دے نه مخکښې هغه دے طرف ته مائل هم نه وو او هم دغه وجه وه چې هغه مور څو څو ځله جوابي کړے وه او هغې ته يې په ډاګه ويلے وو چې دَ وادهٔ نه مخکښې ډير کارونه دي ۔ اوس هم هغه په خپل قول ثابت قدم ولاړ وو او دَ هغه زياته توجه خپل ټريننګ او تعليم ته نه وه ۔ دَ هغه دا خيال وو چې هغه په خپلو خپو اودريږي او ځان له په معاشره کښې څهٔ مقام پيدا کړي ۔

## دويمه برخه

جبران ډير خوشحاله وو ځکه چې نن دَ هغه پاسنګ آؤټ وو ۔ هغه دَ شپې نه خپل بوټان بيلټ او وردي وغيره تيار کړې وو ۔ دَ ناشتے نه پس يې خپله وردي واغوسته ، بوټان يې په خپو کړل ، بيلټ ئې





اوتړو ، شنه ټوپۍ يې لاس کښې اونيوه او په برنډه کښې لوے آئينے ته اودريدو ۔ وينتهٔ يې په ګمنز واړول او ټوپۍ يې پرے دَ پاسه کيښوده ۔ بيا ئے دَ قميص په سلوټونو او کالرګوټے اووهلے ۔ آپاجي او کوثر ورته روستو ولاړے وې او په مسکو سترګو يې هغه ته کتل ۔ جبران چې په آئينه کښې هغوی په مسکا اوليدل نو هغه هم مسکے شو ۔ په هوشيار پوزيشن کښې اودريدو او ابوټ ټرن يې اوکړو ۔ خپه يې زمکے له راوا چوله او هغوی ته يې سلوټ اوکړو ۔ هغوی دواړه دَ هغه سلام واغشتو او هغه له يې دَ نوې وردي مبارکي ورکړه ۔ کوثر په هغه دَ پرفيوم سپرې اوکړه او ورته يې اووئيل "نن خو بالکل لفټيننټ ښکارې "۔

جبران :۔ نن ولے ؟ لفټيننټ خو زهٔ يم البته په شو ډروم کراؤنونه نشته "۔

بيا يې موډ بدل کړو او کوثر ته يې اووے "ډرائيور ګاډے تيار دے ؟ ۔ کوثر مسکۍ شوه او وے وئيل : يس سر "۔

جبران ( په افسرانه موډ ) تيل اوبه يې پوره دي ؟

کوثر :۔ يس سر ۔

جبران :۔ ډرائيور ګاډی ستارټ کړه ، کړکۍ کهلاؤ کړه او زما دَ راتلو انتظار کوه ۔ هری اپ ۔

کوثر:۔ o.k sir " هغه ګاډی له ورځي ، ګاډی ستارټ ، کړکۍ کهلاؤ کړي او هغه ته وائي "سر ګاډے تيار دے "۔

جبران په افسرانه موډ په ګاډی کښې کینی ۔ کوثر ورپسے کړکۍ بند کړی ۔ بیا ګاډی کښې کینی ۔ هغه ته ګوری او وائی ”سر اجازت دے ، ګاډی روان کړم “۔

جبران :۔ هاں اجازت دے ۔ ګو (go)۔

چی ګاډې روان شی نو کوثر جبران ته ګوری او وائی ”نن خو ډیر Lovely ښکارے ۔

جبران:۔ نن ولے ؟ د دے مطلب دے چی دے نه مخکښے زۀ Lovely نه ووم ۔

کوثر :۔ مخکښے صرف Lovely وے او نن ډیر Lovely یې ۔

جبران :۔ تا ځان ته کتلے دی ته خو قتلول کوے ۔

کوثر :۔ بدل اخلې ؟

جبران:۔ نه چرے هم نه ۔ حقه خبره کوم ۔

کوثر:۔ ستا دَ مهربانۍ ډیره شکریه خو دا تپوس کولے شم چې دا دومره مهربانی په کومه وجه ده ۔

جبران :۔ څۀ خاص وجه نشته دا ستا حق دے ۔ دے نه مخکښے ما ستا حق تلفی کړے وه ۔ ما ستا مینه بناوتی ګڼله خو چی ماته پوره پته اولګیده چې ستا مینه کښې بناوټ او ملاوټ نشته او ډیره ژوره ده نو زۀ دَ هغے تلافی کول غواړم “۔ په دغه خبرو اترو کښې هغوی دَ آرمی سنټر ګیټ ته اورسی ۔ کوثر دَ ګیټ مخے ته ګاډے اودروی ۔ جبران دَ کوزیدو تیارے کوی او هغے ته وائی دَ نوې سحر ، نوې تحفه راکړه ،





دے سره هغه دَ کوثر شونډے ښکل کړی او بیا په خپلو شونډو ژبه اووهی ۔ جبران خپلی کمپنۍ ته روان شو او کوثر کالج ته روانه شی ۔

جبران چی خپل پلاټون ته اورسیدو نو نائیک رفاقت علی او حوالدار شریف وردۍ اغوستے وے او رنګروټانو اغوستے ۔ جبران هغوی دواړو ته سلوټ اوکړو او وے وئیل ۔” I am present sir “حوالدار شریف خان چی هغه ته اوکتل نو ے وئیل well done boy ۔ بیا ئے په رنګروټانو چغے جوړے کړی ۔ شابۍ ..شابۍ هری اپ “۔پاؤ کم اووه بجے کمپنی فال ان شوه ۔ دَ انسپکشن نه پس ټیک اووه بجے کمپنی پاسنګ آؤټ ګرونډ ته اورسیده ۔ پاؤ باندے اووه بجے صوبه دار ادم خان او نور صوبه داران رااورسیږی ۔ دَ راتلوسره هغه حوالدار میجر له وډیو کیمره ورکړه او ټولے کمپنی ته دَ اخری ریهرسل حکم اوکړی ۔ صوبه دار ادم خان او نور صوبه داران دَ سلامتۍ په چبوتره باندے اودریږی او جبران ته دَ کمپنۍ دَ لیډنګ دَ پاره اوویلے شو ۔ جبران دَ ګراؤنډ په مینځ کښی اودریدو او آرډر یې ورکړو ”کمپنی هوشیار ...آسان باش ...هوشیار .... *کمپنی دائیں مڑیگی ...کمپنی دائیں مڑ* “ بیا لاړ شی په لیډنګ پوائنټ باندے اودریږی او وائی ” *کمپنی جلدی چلی گی ، کمپنی جلدی چل* “ دے سره هغه مارچ شروع کړی او مارچ سره دَ ډکے اواز راځی ۔ چی دَ سلامۍ چبوترے ته اورسی نو وائی ” *کمپنی دائیں سلام کریگی ۔ کمپنی دائیں سلام* “ دَ هغه سلام او مارچ سره

ټول دَ لاسونو په پړقار کښې دَ رنګروټانو حوصله افزائی کوی ۔ دَ ریهرسل نه پس کمپنی په خپل ځائے اودریږی ۔ اودَ افسرانو دَ راتلو انتظار کوی ۔ لس منټه کم اتهه بجے مولانا صیب راشی قرآن شریف په میز کیږدی او یو خوا ته کینی ۔ پنځه منټه کم اتهه بجے ایډجوټنټ او دوه منټه کم اتهه بجے 2IC صیب راشی ۔ یو منټ کم اتهه بجے کمانډنټ صیب راشی ۔ ټیک اتهه بجے مولانا صیب پاسی او ټولو انګروټانو ته وائی "لاسونه اوچت کړی" ټول لاسونه اوچت کړی او دَ وطن دَ خاؤرے دَ وفادارۍ قسم خوری ۔ دے نه پس دَ پاسنګ آوټ دَ پاره صوبه دار ادم خان کمانډر ورکوی ۔ دَ کمپنۍ دَ هوشیار نه پس هغه لیډنګ پوائنټ ته ځی ۔ دَ مارچ سره دَ ډکے او بینډ اواز راشی او دغه رنګے صوبه دار ادم خان دَ ټولے کمپنۍ لیډنګ اوکړی ۔ دے نه پس کمپنی خپل ګراؤنډ ته اورسی او هلته ډس مس شی ۔

## دریمه برخه

جبران چی کورته اورسیدو نو کوثر هغه له دَ پاسنګ آؤټ مبارکی ورکړه او هغه ته یې ګلدسته پیش کړه ۔ جبران ګلدسته زړه پورے اونیوه او وے وئیل : مهربانی ، شکریه ،

کوثر مسکۍ شوه او هغه ته یې اووئیل ۔ زړۀ پورے یې مۀ نیسه ، پوزے پورے یې اونیسه او خوشبوئی ترینه واخله ۔

جبران :۔ زړۀ پورے یې ځکه نیسم چی ستا تحفه ده ګینی د دے ضرورت نشته ۔





کوثر :۔ ضرورت نشته ؟ ولې ؟

جبران ګلدسته یو خوا ته اړدی ۔ دَ هغے زلفے دَ ګلدستے په شکل کښې نیسی او وائی "زما په مغزو کښې لا تر اوسه ستا دَ زلفو دَ وږمو نشه ده ،

کوثر دَ متهائی دَ ډبلی نه یوه دانه راخلی او هغه له یې خوله کښې ورکوی او وائی " دا نه واخله چی خوله دے خوږه شی "۔

جبران :۔ نو ۔ دا خواږه په مانه لګی ۔ زما په خوله کښې لا تراوسه ستا دَ شونډو خواږه پراته دی ۔ کوثر یو ځل بیا مسکۍ شی ۔ دَ ګوتۍ نه پینټ شرټ رااوباسی او هغه ته وائی : دا اوګوره جبرانه ښکلی سوټ مِ درله راؤړے دے ۔

جبران دَ هغے نه سوټ اخلی او وائی "ډیر ښه ، ډیر اعلیٰ ، ډیره مهربانی ۔

کوثر :۔ دا به نن مازیګر اغوندے او بهر به چکر له ځو ۔

جبران :۔ سوری کوثر ۔ دا نن نشم اغوستے ۔ نن به زۀ هغه براؤن سوټ اغوندم چې ته یې لیونې کړے وې۔

کوثر ( اوشرمیږی ) اوس خو داسے خبرے مه کوه ۔

جبران :۔ ولی ؟ او یو ټپوس درنه کولے شم ۔

کوثر :۔ وایه څۀ ویل غواړے ؟

جبران :۔ زۀ ویم که زه تاته نه ووم ملاؤ شوے نو بیا ؟

کوثر :۔ اوس به خپل منزل ته رسیدلے ووم یا به ورنزدے ووم ۔

جبران :۔ کوم منزل ته ؟

کوثر :۔ یا به مړه ووم یا قریب المرګ ۔

جبران :۔ زما دے سوټ کښې څۀ خوبی وه چې ته يې فريفته کړے ۔

کوثر :۔ خوبی سوټ کښې نه وه تا کښې وه او تا کښې ده ۔

جبران :۔ هغه کومه خوبی ده چې ما کښے وه او نورو کښې نشته وايه ؟

کوثر :۔ چرے هم نه ۔ که مِ درته اووے نو بيا به درنه ځان روک شی ۔

جبران :۔ ځان خو رانه تا اورک کړے دے نور به رانه څه اورک شی ۔

کوثر ( خبره په بله اړوی ) ټريننګ ختم شو ۔

جبران :۔ هاؤ رشتيا دا خبره خو زمانه هيره وه ۔ ټريننګ ختم شو ۔ پاسنګ آؤټ اوشو او ټول رنګروټان به اوس خپلو خپلو يونټونو ته ځی ۔

کوثر :۔ ستا بدلی چرته اوشوه ۔

جبران :۔ زۀ هم دلته پاتے شوم او يوه خبره بله ، صبا له به زه تانه جدا کيږم ۔

کوثر :۔ څۀ مطلب . .زر وايه ۔

جبران :۔ مطلب دا چې مونږ له لس ورځے چُھټی راکړے شوه ۔ نن ماښام زمونږه "بڑا کھانا . . .ده او صبا سحر به کلی ته ځم ۔

کوثر :۔ اوه مائی ګاډ ۔ دا لس ورځے به څنګه تيريږی ۔ جبرانه يوه خبره مِ منې ؟





جبران :۔ حکم کوه چې ستا نه منم نو دَ چا به منم ۔

کوثر :۔ ما ځان سره کلی ته بو ځه پليز ۔

جبران :۔ نه کوثر دا خبره دے نه منم ۔ چې مور ما سره تا اووينی نو په وهلو به مِ مړ کړی ۔ تا ځان سره نشم بوتلے ۔

کوثر :۔ پليز جبران ۔ زۀ ستاسو کلی او کور او ستا مور بی بی ليدل غواړم ۔

جبران :۔ ښه بوبه دے ځم خو په يو شرط ۔

کوثر :۔ ماته ستا هر شرط منظور دے ۔ وايه شرط څۀ دے ۔

جبران :۔ تا سره به آپاجی هم ځی ۔

کوثر دَ خوشحالی نه چغه اووهی بهر آپاجی له منډه کړی او وائی "هرّا" صبا له به مونږ دَ جبران کلی ته ځو ۔ هغه آپاجی ته وائی "آپاجی جبران مونږ دواړه ، صبا له کلی ته بو ځی ۔ ته به مونږ سره ځی کنه آپاجی ۔

آپاجی :۔ هاؤ لورے خامخا به درسره ځم ۔

## څلورمه برخه

مازيګر څلور بجے جبران ته صوبه دار ادم خان فون اوکړو چې په سيول کپړو کښی زر تر زره سنټر ته راشه ۔ جبران زر زر خپل براؤن سوټ واغستو او ځان يې تلو ته تيار کړو ۔ کوثر ګاډې سټارټ کړو او ګاډی کښی کيناستو خو څۀ ورته ياد شو ، خپلے کمرے ته واپس شو او ګلدسته يې ځان سره واخسته او ګاډی کښې کيناستو ۔ کوثر چې

ګلدستے ته اوکتل نو تپوس یې ترینه اوکړو "په ګلدسته څۀ کوې"۔

جبران :۔ کوثر که ستا اجازت وی نو دا به صوبه دار ادم خان له ورکړم ۔

کوثر :۔ ماتاله راؤړے ده . ستا خوښه ده چې هر چا له یې ورکوې ۔

جبران :۔ مهربانی ۔ دَ هغه په ما ډیر احسانات دی ۔ اګر چه زۀ دَ هغه بدله نشم خلاصولے خو . . .

کوثر :۔ ډیره ښه خبره ده ۔ دا دَ مینے یوه نښخه ده ۔ هغه به پړے خوشحاله شی ۔

جبران :۔ تینک یو کوثر ۔

په خبرو خبرو کښی هغوی سنټر ته اورسی ۔ جبران چی دَ ګاډی نه کوز شی نو په سټیډیم کښی ډیر خلق اووینی ۔ هغه په زړۀ اوخوړه چې څۀ ایمرجنسی ده ۔ هغه چی دَ آر ۔پی (R.P) یو سپاهی نه تپوس اوکړو نو هغوی جواب ورکړو چی ځوک سرکاری میلمه راځی دَ هغه دَ استقبال دَ پاره ټول جمع شوی دی ۔ هغه ځان سره ګلدسته واخلی او په تیزو قدمونو روان شی ۔ کوثر ګاډی یو خوا ته اودروی او دا ټوله نظاره وینی ۔

جبران چې صوبه دار ادم خان له ور اورسیدو نو هغه ته یې سلوټ اوکړو او ګلدسته یې ورته پیش کړه ۔ صوبه دار ادم خان مسکے شو او وے وئیل : یره جبرانه څۀ زبردست کار دے اوکړو ۔ دا ګلدسته ځان سره اونیسه دا به ته په خپله ورکوې ۔

جبران ( په حیرانتیا ) چا له صیب ؟





صوبه دار ادم خان :۔ میلمه له "بیا سنټر حوالدار میجر انعام الله ته وائی" انعام الله ګلدسته به جبران پیش کړی او نور به ګل پالش اوکړی ۔

انعام الله :۔ ډیره ښه ده صیب ۔

انعام الله سیټی اووهی او ټول خلق په خپل خپل ځائے اودریږی ۔ جبران په فرنټ لائن کښې اودرولې شی . . .لږه شیبه پس په هوا کښی یو هیلی کاپټر ښکاره شی ۔ هیلی کاپټر په هوا کښی یو چکر اووهی او په مزه مزه لاندے راکوز شی او په زمکه اودریږی ۔ دَ هیلی کاپټر نه میجر یاسر او هغه پسی په سپینه جوړه کښې ملبوس یوسپین ږیرے سړے راکوز شی ۔ هغه غټ پټکې وهلے دے او ګس لاس یې غاړه کښې اچولے وو ۔ داسے معلومیده چی ماته لاس ته پلستر اچولے دے ۔

جبران حیران وو چی ګلدسته یوه ده او سړی دوه دی چې چاته یې پیش کړم او چی کله یې دَ صوبه دار آدم خان نه تپوس اوکړو نو هغه ورته اووے چی دغه سپین ږیرے بوډا ته یې پیش کړه ۔ په تلو تلو کښې میجر یاسر هغه دَ ځان نه مخکښے کړو او په خپله ورپسې روستو راروان وو ۔ صوبه دار میجر ګارډ آف آنر هوشیار کړو او یوه زبردسته سلامی یې ورکړه ۔ میجر یاسر دَ پرنټی سلام واخستو او بوډا صرف لاس اوچت کړو ۔ هره خوا دَ نعرۀ تکبیر ، الله اکبر او دَ پاکستان زنده باد چغے شوے ۔ هغوی دَ لاسونو په ړقار کښی راروان

وو۔ جبران ورمخکښے شو او هغه ته يې گلدسته پيش کړه هغه ترينه گلدسته واخسته ، بوئيں يې کړه ، مسکے شو ، گلدسته يې هغه ته واپس کړو او وے وئيل How are you my son ۔ جبران چې هغه ته په غـور اوکتل نو په سترگو کښې دَ خوشحالۍ اوښکے راغلے او چغه يې کړه "باباجی" دے سره هغه ته ورترغاړه وتو۔ صوبه دار ميجر او صوبه دار ادم خان دَ جبران په حرکت غصه شو ۔ صوبه دار ادم خان هغه دَ لاس نه اونيوو او روستو يې کړو چې هغوی دَ گل پاشۍ په باران کښې تير شو نو جبران اونيولے شو او صوبه دار ميجر ته پيش شو ۔ صوبه دار آدم خان هغه ته غصه وو او صوبه دار ميجر په خوله کښې څگونه نيولې وو او په فوجی ژبه کښې يې هغۀ ته اووې۔ "يه هلکه تاته نه وو ويلے شوے چې دے پلار له به دے لاس يا غاړه نه ورکوے ؟

جبران :۔ ويلے شوے وو سر ۔

صوبه دار ميجر :۔ نو بيا دے ولے غاړه ورکړه ۔

جبران :۔ سوری سر ۔

صوبه دار ميجر :۔ دَ سوری بچيه تا ولی د آرډر تعميل اونه کړو ۔

جبران :۔غلطی اوشه سر ، بيا به داسے نه کيږی ۔

صوبه دار ميجر :۔ بيا به ولے کيږی ۔ داسے سزا به درکړم چې ټول عمر به ياد لرے ۔

جبران :۔ زۀ په ځان پو هـ نشوم سر دَ جذباتو نه مجبور شوم بله





دا چې . . .

صوبه دار ميجر :۔ بله دا چې څۀ ۔ وايه ؟

جبران :۔ بله دا چې ژوند يې مِ اوليدو مونږ خو د دۀ غائبانه نماز جنازه هم کړے وو ۔

صوبه دار ميجر ، صوبه دار ادم خان ته گوری او وائی : دے څۀ وائی ؟

صوبه دار آدم خان :۔ ته څۀ واې هلکه صفا خبره اوکړه ۔

جبران :۔ صفا خبره دا ده سر چې دا ميلمه صوبه دار غلاف خان وو او . . . .

صوبه دار ميجر :۔ صوبه دار غلاف خان سره ستا څۀ تعلق دے ؟

جبران :۔ صوبه دار غلاف خان زما پلار دے سر ۔

صوبه دار ميجر او صوبه دار ادم خان :څۀ دے اووے ۔ ستا پلار دے ؟

جبران :۔ هاؤ سر ، دَ بابا په باره کښې مونږ ته ويلے شوی وو چې هغه شهيد شوے دے ۔ سر، ما چې خپل شهيد پلار ژوندې اوليدو نو دَ ډيرے خوشحالۍ نه په ځان پو هـ نشوم او ورترغاړه وتم ۔

صوبه دار ميجر ( دَ هغه په سر لاس اړدی ) ټيک ده بچے ۔ خفه نشی ۔

جبران (صوبه دار ادم خان ته گوری ) سر تاسو زما نه خفه شوے يې ۔ آئی ايم سوری سر هغه له لاس ورکوی ۔

صوبه دار ادم خان :۔ داسے نه راترغاړه وځه بالکل داسے لکه صوبه دار غلاف خان ته چې ورترغاړه ووتې وې ۔ زما په تادَ مخکښے نه شک وو چې تـه دَ عام سړی اولاد نـه يې ۔ خو اوس راتـه معلومه شوه چې دَ

شاهین دَ جالے نه دَ شاهین بچے الوزی ۔

جبران :۔ سر زۀ یو څو منټو له باباجی سره ملاویدے شم ۔

صوبه دار میجر :۔ نه څویه اوس نه ، هغه کانفرس هال ته تلے دے او ټولو افسرانو له بریفنګ ورکوی۔

**پنځمه برخه**

چی " بڑا کھانا" ختمه شوه نو ډلے ډلے هلکان په ګراؤنډ او سټیډیم کښې خوارۀ شول ، دوه ، دوه ، درے درے او څلور ، څلور کسان ځائے په ځائے کیناستل او خپلو کښې یې خبرے او ګپ شپ شروع کړو ۔ دا ټول هلکان دَ ملک دَ ګوټ ګوټ نه راغلی وو ۔ او نهه میاشتے یې دلته یو ځائے تیرے کړے۔ دَ انګابنګاناالیدلی کسان خپلو کښی دوستان او رونړه جوړ شوے وو ۔ دَ یو بل په خوی بوی پو هـ شوے او دَ یو بل دَ مزاج نه خبر وو ۔ چا دَ ټریننګ دَ سختئ خبرے کولے ، چا دَ استاذانو دَ رویے خبرے کولے او چا خپلې ذاتی خبرے کولے ۔ ځینې خو پکښې داسے وو چې دَ یو بل نه دَ جُدائی په تصور کښې یې اوښکے بهولے ۔ دَ کور ، کلی پتې اخستلے کیدے ، ورکړے کیدے او په چُهټیانو کښې دَ ملاویدو پخے وعدے کیدے ۔

په دیکښے دَ ګراؤنډ دَ یو ګوټ نه چغه پورته شوه "مسافر مه وژنے خاونده په ځنکدن کښې دَ وطن ارمان کوینه ۔ دغه ټپه لاختمه نه وه چې دَ بل ګوټ نه یه قربان شو . دَ مسافرو به څه حال وی یا به نهار وی یابه سپو خوړلے وینه ۔ دے سپې سمدستی دَ ګراؤنډ دَ مینځ





نه دَ یکه زار اواز اوشو ۔ مسافری دے ډیره اوکړه ، رب دې سوب دَ خپل وطن اوکړه مئینه ۔ دے سره لوبه دَ منګی شوه ډلے په ډلے اتڼ ، بهنګړے او شاډولے شروع شی او هر یو دَ زړۀ ارمان اوباسی ۔

کامران ،سراج او جبران یو خوا ته ناست وو او خپلو کښې یې ګپې لګولے خو په دیکښے هغه ته دَ خپل پلار سره دَ ملاقات وخت رایاد شو ۔ هغه نیغ دَ صوبه دار ادم کمرے ته ورغی۔ صوبه دار ادم خان دَ هغه انتظار کوو ۔ دَ ورتلو سره جبران سلوټ اوکړو او دَ ورتلو اجازت یې ترینه واخستو ۔ صوبه دار ادم خان مسکې شو او ورته یې اووے "راغلی څویه ! راځه ما ستا انتظار کوو۔ دَ صوبه دار غلاف خان بریفنګ ختم شوے وو ۔ هغه ډوډی هم خوړلے وه ۔ اوس په Jcos مس کښی jcos سره یې دَ خپل مهم په باره کښې خبرے کولے ۔

هغوی سره په لاره کښی حوالدار میجر ریاض هم ملاؤ شو ۔ هغه یې هم ځان سره واخستو ۔ صوبه دار ادم خان او حوالدار میجر ریاض مس ته ورغلل او جبران بهر اودریدو ۔ دَ علیک سلیک نه پس صوبه دار ادم خان صوبه دار غلاف خان ته اووے "سر بهر یو میلمه ستاسو انتظار کوی که اجازت نو چی راشی "۔

صوبه دار غلاف خان ۔ صوبه دار صیب دا خبرے لړے سکرټ دی په دیکښے دَ هغه ګډون مناسب نه دے ۔ بس زۀ پنځه ، شپږ منټه کښې خپله خبره ختموم نو بیا ورسره ملاویږم ۔ چی صوبه دار غلاف خان خپله خبره ختمه کړه نو بیا ئے اجازت ورکړو ۔ دَ جبران راتلو سره

صوبه دار غلاف خان پاڅي ۔ دَ هغه پاڅیدو سره ټول jcos پاڅي ۔ جبران چې راشي نو پلار ته ورترغاړه وځي او په ژړا شي ۔ دَ پلار سترګے یې هم دَ اوښکو ډکے شي ۔ دواړه یو بل ہے واره ښکلوي ۔ بیا دواړه اوښکے اوچے کړي او کیني۔ دے سره ټول Jcos هم کیني ۔ صوبه دار میجر صیب صوبه دار غلاف خان ته ګوري او وائي ”صوبه دار صیب ! جبران خو نن ما کوارټر ګارډ کښې بنده وو خو قسمت یې ۔ ښۀ وو بچ شو ۔

صوبه دار غلاف خان :۔ ولې صوبه دار میجر صیب ؟

صوبه دار میجر :۔ دۀ زما آرډر Disobey کړے وو۔ مونږ ټولو ته څو څو ځله ویلے وو چې میلمه له به لاس نه ورکوي او دۀ تاسو ته غاړه درکړه ۔

صوبه دار غلاف خان :۔ ولې جبرانه ! تا حکم عدولي ولے اوکړه ۔

جبران :۔ سوري باباجي ۔

حوالدار میجر ریاض او jcos ”باباجي “؟

صوبه دار غلاف خان مسکې شي او وائي ’هاؤ ۔ جبران زما ځوې دی خو ماته دا پته نه وه چې دے بهرتې شوے دے ۔

صوبه دار ادم خان :۔ سردا پته خو مونږ ته هم وه چې دے ستاسو ځوې دے ۔ دا خو بیا روستو انکشاف اوشو ۔ (ټول jcos جبران ته ګوري )

صوبه دار غلاف خان :۔ ټریننګ څنګه دے بچے ؟





صوبه دار ادم خان :۔ ټریننګ ختم شو صیب ۔ نن پاسنګ آوټ وو او دوی ته دَ لسو ورځو چُھټي ورکړے شوه ۔

صوبه دار غلاف خان :۔ دَ جبران پوسټنګ چرته اوشو ۔

صوبه دار ادم خان :۔ سر دے ما ځان سره دَ ټریننګ ټیم سټاف کښې اخستے دې ۔

صوبه دار غلاف خان :۔ صیب یو رنګروټ دَ ټریننګ ټیم په سټاف کښې ؟

صوبه دار آدم خان :۔ صیب دے رنګروټ بلکه دَ استاذ انور استاذ دے او د دۀ سفارش مانه دے کړے بلکه کمانډنټ صیب د دۀ دَ کارکردګۍ نه متاثر شوے دے ۔ دوی لا دا خبرے کوي چې دیکښے دَ صوبه دار آدم خان اردلي یاسین راځي او هغه ته غوږ کښې څه وائي ۔ صوبه دار آدم خان بهر اوځي ۔ په ګاډي کښې ناسته یوه جینۍ هغه ته سلام کوي او وائي ’سر ! جبران پسې تاسو کال کړے وو او لا تر اوسه کورته نه دے راغلے ۔

صوبه دار ادم خان :۔ جبران خو دلته مونږ سره ناست دے ۔

جبران چې خپل نوم ووري نو بهر اوځي او وائي ”کوثر ته ؟ ولې ؟ اینی پرابلم ؟

کوثر :۔ ته دلته ناست یې او مونږ درپسې ټول سنټرلټ په لټ کړو ، سر نه اجازت واخله چې ځو۔

صوبه دار ادم خان :۔ زما د طرف نه هیڅ رکاوټ نشته ، تلے شي ۔

کوثر ( جبران ته ) راځېژه چې ځو ۔
جبران :۔ سوری کوثر ، ماسره یو میلمه دے ، زه هغه یواځے نشم پرېښودے ۔
کوثر :۔ یواځے یې ولے پرېږدے ،میلمه ځان سره راوله چې ځو ۔ هله زر کوه آپاجی غصه ده ۔
جبران دننه ورځی او پلار ته وائی "ابو بهر یوه میلمنه تاسو سره لیدل غواړی ؟ ۔
صوبه دار غلاف :ماسره ؟ دے سره هغوی دواړه بهر اوځی ۔ کوثر دَ ګاډی نه کوزیږی هغه ته سلام کوی او دَ ګاډی کړکی ورته لرے کوی ۔ "سر راځې کینی "
صوبه دار غلاف خان :۔ جبرانه چرته ځو؟ زما شپه دلته ګسټ هاؤس کښې ده ۔
جبران :۔ کینی جی یوه خبره ده یا دلته یا هلته ۔
صوبه دار غلاف خان دَ ټولو نه اجازت واخلی او هغوی سره ګاډی کښې کینی صوبه دار صیب حیران وی چې دا جینۍ څوک ده او چرته ځی ۔ په ګاډی کښې بالکل خاموشی وی او په دغه خاموشی کښې هغوی اورسی ۔ آپاجی جبران ته غصه وی خو چی میلمه ورسره اووینی نو چپ پاتے شی ۔ کوثر جبران ته وائی "جبرانه ډائننګ روم ته راځی چې ډوډی اوخورو ۔
جبران :۔ کوثر نن زمونږ سنټر کښې 'بڑا کھانا' وه مونږ خوړلے ده ۔





تاسو ډوډی اوخوری نو بیا ګسټ روم ته دوه پیالی چائے راؤړی ۔
کوثر :۔ اوه تا خو واقعی ماته ویلے وو خو دَ خیال نه مې دا خبره اوتے وه ۔
جبران صوبه دار صیب ګسټ روم ته بوځی او ورته وائی "بابا جی دا ستاسو بیډ دے دیکښې په ارام سملی ۔
صوبه دار صیب :۔ جبرانه دا څۀ قیصه ده ۔ زه هډو په څۀ پوهـ نشوم ۔
جبران :۔ تاسو جی سملی زۀ به درته پوره قیصه اوکړم ، جبران دَ صوبه دار صیب واسکټ پټکې کوز کړی او یو خوا ته کیږدی ۔ بیا ورته وائی "خپې اوغزوه باباجی ۔ جبران دَ هغۀ په خپو زور کوی ۔
صوبه دار صیب :بچے دا خلق څوک دی او تاسره یې څۀ نسبت دې
"جبران پلارته دَ سر نه خبره شروع کړی او چې دَ تختیدو واقعے له راشی نو په دیکښے کوثر په ترے کښې دوه کپه چائے راؤړی ۔ هغه چی جبران ته اوګوری نو حیرانه پاتے شی ۔ چائے په میز کیږدی او په یره یره دَ هغه نه تپوس کوی "جبرانه ! دا میلمه بابا مې اونه پیژندو"۔
جبران :۔ کوثر دا هغه میلمه دے چې په فوجی هیلی کاپټر کښې راغلے وو او د دۀ دَ استقبال دَ پاره صوبه دار ادم خان ما پسی کال کړے وو او دے نه پیژندو ؟
کوثر :۔ سوری جبران ما اونه پیژندو ۔ کیدیشی ستا ابو وی ۔
جبران :۔ بالکل ۔ دا زما باباجی دے ۔
کوثر:۔ واقعی ؟ بابا سلام علیکم ۔ ډیره دَ افسوس خبره ده جبرانه ۔

چې تامونږ ته مخکښې اونه وې۔
صوبه دار صیب دَ هغې په سر دَ مینې لاس اړدی او ورته وائی "لویه
شې لوری"
جبران :۔ مخکښې ماته هم پته نه وه کوثر ۔
کوثر :۔ جبرانه دَ بیه نه کوز شه زما ډیوټی ته مه کوه ( هغه جبران
کوزه وی او په خپله بیه تـه خیژی چی دَ صوبه دار صیب خپی
اومنډی ۔
صوبه دار صیب :۔ مه ، مه ، مه کوه لورې دیکښې گناه ده ۔
کوثر :۔ بابا جی چی څوې درله خپې منډی نو هغې کښې ثواب وو او
چې لور درله خپې منډی نو گناه ده پکښې ؟ که جبران دے څوې دے
نو زۀ دے لور یم "۔
صوبه دار صیب سترگے پټی کړی او هغه ورله خپی ، سر او اوږے
منډی ۔
جبران دَ کمرے نه بهر اووتو ، خپلې کمرے ته لاړو چی جامے بدلے کړی
۔ په لاره کښې ورسره آپاجی ملاؤ شوه ۔ هغے ترینه دَ کوثر تپوس
اوکړو نو هغۀ جواب ورکړو "هغه په گیسټ روم کښې ده باباجی له مِ
په خپوزور کوی ۔
آپاجی ( په حیرانتیا ) باباجی له . . .دا میلمه ستا باباجی دے ؟
جبران :۔ جی آپاجی . آپاجی هغه ته په غصه گوری " یره جبرانه خو
. . .ډیر راباندے گران یې هیڅ درته نشم ویلے گنې تا به لیدلی وو . . .تا





چې باباجی دے راوستو نو مونږ ته خو به لږ مخکښې ویلے وو چې دَ
هغه مو پوره استقبال کړے وې ۔
جبران :۔ آپاجی ماته هم پته نه وه ۔ دوی سنټر ته راغلی وو او ما سره
اچانک ملاؤ شو ۔
یو شیبه پس صوبه دار صیب وائی " بس لورے بس ایله دمه
شوم " جبران هم گیسټ روم ته راځی او آپاجی هم ۔ آپاجی صوبه دار
صیب ته سلام کوی او کوثر ته وائی "کوثر باباجی له دے چائے ورکړه ،
یخه شوه " کوثر یو پیالی صوبه دار صیب له ورکوی او بله جبران له ۔
صوبه دار صیب چې دَ چائے نه گوټ اوکړی نو وائی "چاے ډیره
مزیداره ده " جبران په مسکا جواب ورکوی "باباجی دا کوثر پخ کړے
ده . . .دا ډیره زبردسته چائے پخوی "صوبه دار صیب مسکې شی
"وې سر کوزیه پو هـ شوم درباندے . . .زړۀ مِ غواړی چې ځان سره یې
کلی ته بوځم "۔
جبران :۔ بالکل باباجی . ستاسو خبره بالکل صحی ده ۔ یو څو ورځو
له یې بوځی. که ټسټ کښې پاس شوه خو هلته به وی او که فیل شوه
نو واپس به راځی ۔
صوبه دار صیب :۔ ښه چې دا خبره ده نو ځان تیار کړی. صبا له به ټول
پیښور ته ځو ۔
جبران :۔ تینک یو باباجی ۔

★★★★★★

## څلوارلسم باب

وصال خان او شګفته په خپل کور کښې اوسیدل خو کمرے يې بيلې وې ۔ وصال خان يواځے ووا و شګفته نور تېر سره په لويه کمره کښې وه ۔ د وصال خان او شګفتے په راتلو باندے دَ صوبيد ار صيب دَ کور نه جنت جوړ شوے وو ۔ هغه کور چې هغے کښې به هره ورځ دَ ژړا نوے نوے نوحه ګرى کيده اوس پکښې دَ خندا او خوشحالئ اوازونه کړنګيدل ۔ هغه خيرماره چې دَ هغے په خواره ورځ پروين بى بى توپے ويستلے ، اوس دَ ټول کور مالکه وه ۔ ټول په هغے راغونډ وو او ټول دَ هغے لاس ته ناست وو ۔ په هر کار کښې به دَ هغے نه مشوره اخستلے کيده او دَ هغے مشوره به قبليده ۔ هغے په لږو ورځو کښې دَ کور نقشه بدله کړه ۔ په يوه خپه به په کور کښې ګرځيده او هر څيز به يې خپل خپل ځائے ته رسوو ۔ دَ پروين بى بى خو دومره تابعداره وه چې دَ کور کار ته به يې بيخى نه پرېښوده ۔ که چرے په غلطئ کښې به نګينے يا سپوږمئ لوښى کنګالول نو دَ هغوى دَ لاسه به يې واخستل او ورته به يې اووئيل 'نه بى بى نه ۔ دا کار زما دے ۔ زۀ څۀ دَ پاره يم ، دا به زۀ اوکړم ته ورشه خپل سبق وايه "که پروين بى بى به سبزى پريکوله ۔ نو هغے به خپل کار پرے ښوده او هغے ته به يې اووې نه بى بى جى نه ۔ دا به زه کوم ۔ ته ماسره کينه او دے ته ګوره ۔ چې کټوئ به يې پخه کړه نو دَ څکے دَ پاره به يې پروين بى بى له راوړه او هغے ته به يې دَ څکلو خواست کوو ۔ وفادار





دومره وه که وصال خان به په کټ کښې ډډه بدله کړه نو زر به يې ورمنډه کړه او ورته به يې اووئيل "څۀ تکليف خو ورته نشته ؟ حسينه دومره چې په مخ به يې صرف اوبه واچولے نو لکه دَ شيشے به يې پړقيده ۔ حاضر دماغه دومره وه چې دَ هرے خبرے ورسره غټ پريکړے جواب وو ۔ زړۀ وره دومره وه چې ماسخوتن به ټول سملاستل نو هغے به جامے بدلې کړے ۔ پټکى به يې اووهلو او کلاشن کوف په لاس به يې بره دَ کور څوکئ کوله ۔ دَ پانړې کش سره به يې ګوته په کوترى اينبے وه او تياره به ولاړه وه ۔ پروين بى بى او وصال خان څو څو ځله هغه منعے کړے وه چې "هيڅ نشته ہے غمه خپل خوب کوه " هغے به ورته ښه اوکړل خو چې دَ هغوى سترګے به پټې شوے نو غلے غوندے به پاڅيده او خپله ډيوټى به يې کوله ۔ يو ماسخوتن تير ، هغه په چهت ولاړه وه څوکئ يې کوله ۔ په ديکښے يو ګاډى راغى او دَ هغوى دَ کور مخے ته اودريدو ۔ چې ګيټ اوډبولے شو نو هغے پرے دَ پاس نه کلاشن کوف کيښودو او وے وئيل "څوک يې او چا سره مو کار دے "؟ دَ لاندے نه اواز اوشو "زۀ صوبه دار غلاف خان يم او خپل کور ته راغلم " دَ ور په ډبولو باندے ټول ويښ شوے وو ۔ چې شګفته دَ پاس نه راکوزيده نو دَ وصال خان نه علاوه ټول دَ کمرے نه بهر راوتے وو ۔ پروين بى بى په يره يره دَ شګفتے نه تپوس اوکړو" څوک دى لورے " شګفته مسکئ شوه او وے وئيل "مبارک شه بى بى جى صوبه دار صيب راغى "

پروین بی بی (سترګې اسمان ته اونیوې او وې وئیل " یه خدایه ستا
ډیر ډیر شکر دې ـ هله لورې ګیټ ورته لرې کړه ـ شګفتې ورته زر زر
ګیټ لرې کړو ـ ګاډې چې کورته دننه شو نوصوبه دار صیب ، جبران
، آپاجی او کوثر ترینه کوز شول ـ دَ هغوی علیک سلیک چې اوشی
نو شګفته صوبه دار صیب ته ورترغاړه وځی ـ بیا آپاجی له ورځی او
هغې لـه دَ غاړې ورکولو کوشش کوی خو هغه ترینه ځنګ اوکړی ـ
جبران شګفتې لـه دَ غاړې ورکـولو هڅه کوی خو هغـه ورلـه لاس
ورکـوی او کـوثـر لـه خوره غیږه ورځی ـ هغه ترینه اویریږی او دَ جبران
خوانیسی خو شګفته هغه غیږ کښې اونیسی او کلک زور ورکړی ـ
کـوثـر خپې لاس وهی او دَ هغې نه دَ خلاصیدو کوشش کوی خو هغه
یې نـه پریږدی ـ صوبه دار صیب او نور ټول ټبر خاندی خو جبران او
اپاجی هغـوی تـه حیـران حیران ګوری ـ کوثر چې دَ شګفتې نه ځان
خلاص کړو نو لکه دَ یریدلې مرغۍ دَ هغۀ په ځنګ کښې اودریده او دَ
هغۀ په ترښ کښې یې سر ورکړو ـ صوبه دار صیب دَ هغې سر دَ جبران
دَ ترښ نـه را اوباځی ، په خپله سینه یې اړدی او هغې ته وائی " یریږه
مه بچې دا هم لکه ستا جینۍ ده ـ شګفته کلاشن کوف په کټ کښې
کیږدی ـ پټکی دَ سر نـه کـوز کړی او کـمرې ته ورځی ـ چې جامې
بدلې کړی نو بهر رااوځی ـ چې دَ هغې اوږدو زلفو ته جبران اوګوری
نو وائی "اوه مائی ګاډ " بیا مسکی شی آپاجی او کوثر ته واره په واره
ورتر غاړه وځی ـ





صوبه دار صیب ( دَ شګفتې نه تپوس کوی ) وصال خان څۀ شو ـ
شګفته :ـ دننه په کمره کښې دې (هغه کمرې ته ورځی هغه په غیږ
کښې نیسی او بهر یې راولی ـ جبران ، آپاجی او کوثر دَ هغې طاقت او
همت تـه ګوتـه پـه خولـه شی ـ صوبه دار صیب وصال خان له غیږ
ورکوی او پے واره پے واره یې ښکلوی او پروین بی بی ته وائی " دَ وصال
خان مورې دا هغه وصال خان دے چې زمونږ دَ غیږ نه شو کیدلے وو ـ
او زمونږ په دعاګانو خدائے بیا زمونږ غیږ له راوستو ـ دَ جبران سترګې
دَ خوشحالی نـه ډکې شی هغه ورمخکښې شی او وصال خان ځو ځو
ځلـه ښکـل کـړی ـ وصال خان مسکې شی او مور ته وائی "مورې
جبران خو دَ خیره لوې شوې دی "ـ
پروین بی بی:ـ هاؤ کنه ځویه ـ ډیر وخت اوشو ـ خدای دې تاسو ټولو
سره لری ـ
صوبه دار صیب :ـ وصال خانه په دې ډیر خوشحاله شوم چې تاسو دَ
خیره صحی سلامت کورته راغلی ـ
وصال خان (خاندی ) بابا اوس خو راته اووایه چی ته صوبه دار غلاف
خان یې "
صوبه دار مسکې شی او وائی "هاؤ بچې ! زۀ صوبه دار غلاف خان
یم "
وصال خان :ـ اوس مِ تسلی اوشوه ...مورې دَ دوی دَ ډوډۍ بندوبست
اوکړه ـ

پروین بی بی :۔ ډوډی تیاره ده بس ګرمول غواړی ۔

صوبه دار صیب :۔ نه ډوډی مو خوړلے ده ۔ صرف یوه یوه پیالۍ چائے به اوڅکو ۔

شګفته :۔ زهٔ ورځم چې تاسو له چائے پخه کړم ۔

صوبه دار صیب :۔ نه لورے ته مه ځه (کوثر ته اشاره کوی) دا جینۍ کوثرم ځان سره راوستې ده ۔ جبران وائی چې ډیره زبردسته چائے پخوی ۔ د دے لس ورځے امتحان دے ، که پاس شوه نو دلته به پاتے شی او که فیل شوه نو واپس به ځی ۔

پروین بی بی : صوبه دار صیب ! دا غریبه خو میلمنه ده ۔ دَ کور په سمون لا نه ده پو هـ ...

کوثر :۔ نه مورے زهٔ به دَ صوبه دار صیب دا امتحان ضرور پاس کوم ۔ زه ورځم چی تاسو ټولو له چائے تیاره کړم ۔

پروین بی بی :۔ نه لورے ، نن نه ، بیا به شی ۔ ته بغیر امتحانه ما پاس کړے یې ۔ او چی ما پاس کړے نو څوک دے هم نشی فیل کولے ۔ راځی کینۍ تاسو ارام اوکړی ۔ او ستاسو کار به شګفته اوکړی ۔ شګفته او نګینه باورچی خانے ته راځی ۔

## ړومبۍ برخه

دَ صوبه دار صیب دَ راتلو خبر په افریدو کلی او نور خواؤ شاکلو کښې خور شوے وو ۔ دَ کلونه به جتۍ جتۍ خلق راتلل ، چائے، او به او شربتې به څکلې کیدے او دَ دنیا خبرے به کیدے ۔ په





خواوشاکلو کښې ځینی محب وطن داسے هم وو چې هغوی به ورله دَ روژو پاخه دیګونه رالیږل۔

چې دَ میلمنو نه اوزګار شو نو صوبه دار صیب وصال خان او پروین بی بی ځان سره کور پریښودل او نور ټول یې درے ، څلور ورځو له بهر په آؤټنګ اولیږل ۔ په دغه ورځو کښی هغوی سوات ، مری ، کاغان او بالاکوټ ته لاړل او ښه سیلونه یې اوکړل ۔ چی کله کورته واپس شو نو دَ آپاجی او کوثر په خوښخه یې د جبران او وصال خان دَ وادونو نیټه هم کیښوده ۔ په دیکښے دَ جبران چُھټی هم پوره شوه ۔ هغه آپاجی او کوثر سره ایبټ آباد ته لاړو او صوبه دار صیب دَ وادونو په تیارۍ کښی اونختو ۔ هغه لا په دغه منډو

ترړو کښې اخته وو چی دَ جی ایچ کیو له خوا ورته کال اوشو ۔ هغه خپل ضروری مصروفیات پریښودل او هلته لاړو ۔ کله چی هلته اورسیدو نو استقبالیه ته ورغۍ او هغوی ته دَ خپلو راتلو خبر ورکړو ۔ دَ استقبالیه عمله دَ صوبه دار غلاف خان دَ کارکردګی نه خبر وه ۔ هغوی ټول په ډیره مینه هغه سره ملاؤ شواو دَ هغه دَ راتلو خبره یې مخکښے افسرانو ته اورسوۀ۔ چې دَ هغوی له خوا ورته ګرین سګنل ورکړے شو نو دَ یو څو باډی ګارډ په نګرانی کښی هغه دننه بوتلے شو ۔ نورو افسرانو دَ هغه استقبال اوکړو او هغهٔ سره یې لا خبرے کولے چې دَ آرمی چیف له خوا ورته دَ راتلو بلنه ورکړے شوه ۔ صوبه دار غلاف ډیر په عزت سره دَ آرمی چیف دفتر ته بوتلے شو۔ دَ ورتلو سره ورته صوبه

دار صيب سلوټ اوکړو ـ آرمی چيف چی هغه ته او دَ هغه مات لاس ته اوکتل نو مسکې شو ، پاڅيدو د هغے دَ سلوټ جواب يې په سلوټ اوکړو ـ بيا ئے ځان ته راترغاړه ويستو ـ کلک يې سينے پورے اونيوو او ډيرے شيبه يې نيولے وو ـ بيا ئے ځو ځو ځله هغه ښکل کړو او لاس يې ورکړو ـ دے نه پس هغه يې ځان ته مخامخ کينوو او دَ هغه نورانی مخ ته يې کتل ـ آرمی چيف هغه ته اووے "صوبه دار صيب ! ستاسو په ملک او قوم ډير لوے احسان دے ـ تاسو چې څۀ اوکړل دا يوه تاريخی کارنامه ده او زمونږ دَ ملک په تاريخ کښې به هميشه هميشه دَ پاره ژوندی وی ـ صوبه دار صيب دَ هغه دَ ستائينے شکريه ادا کړه او ورته يې اووے "سر دے کښې دَ احسان څۀ خبره ده ـ دَ ملک مثال دَ يو کور دے او دَ کور حفاظت څۀ لويه خبره نه ده ـ دے نه پس يې آرمی چيف له بريفنګ وکړو او هغه يې خوشحاله کړو ـ چی بريفنګ ختم شو نو دَ آرمی چيف په خواست يې هغه سره يوه پيالۍ چائے اوڅکله ـ دَ چائے نه پس ورته آرمی چيف ملټری تمغه او دَ پنځوس لاکهه روپو چيک ورکړو ـ دے نه پس هغه په عزت سره دَ هغه دَ دفتر نه بهر شو او دَ نورو افسرانو په نګرانۍ کښې دَ جی ايچ کيو نه اووتو ـ

جبران خپله ډيوټی شروع کړے وه او دَ صوبه دار ادم خان په معيار ښه پوره ختلے وو يوه ورځ دَ يو ډيمانستريشنDemanstration په دوران کښې کمانډنټ صيب دَ هغه نه دومره خوشحاله شو چی هم په هغه وخت يې هغه ته حوالداری اوتړله ـ دے باندې جبران ډير





خوشحاله شو ځکه چی هغه اوس په NCOS کښی شامل شو ـ

دَ ډيوټی نه پس به هغه کالج ته تلو راتلو ـ په دغه دوران کښې هغه په ايبټ آباد بورډ کښې دَ فرسټ اير دَ پاره داخله هم اوکړه ـ

آپاجی ، بهادرخان او دَکوثر مور پلار دَ کوثر دَ وادۀ دَ نيټے نه خبر کړی وو ـ دلته جبران او کوثر دَ نيټے ورځے شپے شمارلے او هلته دَ کوثر مور پلار بهادر خان دَ کوثر او جبران په واده باندے ډير زيات خوشحاله وو ـ دَ خپله طرف نه يې کوثر له ډير سامان اوکړو او جبران دَ پاره دَ هغه اراده ډيره اوچته وه خو دغه خبره يې دَ کوثر دَ مور او پلار په مشوره پريښوده ـ دَ وادۀ نه مخکښے دَ کوثر ورور فياض او دَ هغه مشره خور سکينه دَ هر اول دستے په شکل کښې ايبټ آباد ته راغلل ـ چی جبران سره يې ملاقات اوکړو نو دَ دواړو په معيار نه صرف پوره بلکه مثالی راغلې ـ

فياض لکه دَجبران ډير خوش اخلاقه هلک وو ـ جبران چی به دَ پريډ نه راغلې نو وردی به يې بدله کړه او بيا به يې ټوله ورځ فياض او سکينے سره خبرے کولے ـ کله کله به يې مازيګر سپورټ يونيفارم واچول او هغوی به يې پلۍ ګراؤنډ ته هم ځان سره بوتلل ـ کوثر او آپاجی دواړه ډير خوشحاله وو چې جبران دَ هغوی په معيار پوره راغلې او بهادرخان خو دَ ډيرے خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائيدو ـ

دَ وادونو کارډونه چاپ شوے او ميلمنوله ليږلے شوی

صرف دَ کوثر دَ مور حمیده بانو او دَ هغے دَ پلار سلیم رضا دَ راتلو انتظار وو ۔ په هغه ورځ کوثر او آپاجی دَ ډیرے خوشحالی نه په جامو کښې نه ځائیدل کله چې ورته دَ هغوی دَ راتلو ورځ اوښودلے شوه ۔ دَ هغوی دَ راتلو اطلاع آپاجی او بهادرخان دَ صوبه دار صیب کورنۍ له هم ورکړه ۔ لوړ مازیګر وو چې صوبه دار صیب ، پروین بی بی ، شګفته ، سپوږمۍ او غازی خان په دوو ګاډو کښې ایبټ آباد ته اورسیدل ۔ دَ هغوی په لیدو باندے آپاجی او بهادرخان ډیر خوشحاله شو او په روڼ تندی یې هغوی ته زړۀ پورے هرکلې اووے ۔ ټول په لان کښې په عزت او درانوی کینولی شو ۔ آپاجی ټولو سره دَ هغوی با همی پیژندګلو اوکړه او په یخو او ګرمو مشروباتو دَ هغوی تواضع اوکړے شوه ۔

چې دَ خوراک څښاک دور ختم شو نو صوبه دار صیب غلے غوندے دَ کور دَ ماحول جائزه واخسته او بهادرخان ته یې اووے "داسے معلومیږی چې زمونږ میلمانۀ لانه دی رارسیدلے "بهادرخان دَ هغۀ په خبرۀ پوهه نشو او تپوس یې ترینه اوکړو ، "ولې صوبه دار صیب ستاسو څۀ ملګری پاتی دی ؟ صوبه دار صیب مسکے شو او وے وئیل نه بهادر خانه زه دَ خپلو ملګرو خبره نه کوم بلکه دَ کوثر مور دَ مور پلار خبره کوم " دے سره بهادر خان په خندا شو او وے وئیل "ښه ښه صوبه دار صیب اوس پوهه شو ۔ رابه شی صیب ، زما ورسره په موبائیل خبرے شوے دے ۔ لاروان دی ۔ اصل کښې خبره دا ده چې دَ





هغوی فلائټ لیټ شو ۔ ګینی کراچۍ ته خو سحر رارسیدلی دی . . . او صوبه دار صیب تۀ په هغوی څۀ کوې ۔ دَ هغوی په راتلو اونه راتلو هیڅ فرق نه پریوځی ۔ مونږ د دے دَ مور ، پلار نه کم خو نه یو ۔ تاسو سره خو خبره مونږ کړے ده . ښۀ زړۀ جمع ساته "۔

صوبه دار صیب :۔ ستاسو دے خدائے عزت اوکړی چې زمونږ دا غریبی مو واخسته او تشه جولۍ مو پرے نه ښودو ۔ ستاسو ډیره مهربانی خو دَ هغوی مرضی هم ضروری ده ۔ ځکه چې لور دَ هغوی ده۔

بهادرخان :۔ دا خبره دے سوله آنے صحی ده چې لور دَ هغوی ده خو مرضی زمونږ ده ۔ اوې صوبه دار صیب ( غلے غوندے ) مونږ هم پکښې څۀ نشو ویلے ، هلک او جینۍ دواړه په یو بل ځان وژنی ۔ زۀ خو صوبه دار صیب سپین سرې یم او سپینې خبرے کوم ۔

صوبه دار صیب ( خاندی ) بے شک ، بے شک ۔

دَ صوبه دار صیب او بهادرخان خبرے اوږدے شوی او بیا پکښې مختلف موضوعات راشی۔ هلته آپاجی او پروین بی بی خولے ورکړے وی او بل ځائے کوثر او شګفته خپلو کښې پس پسې کوی ۔ البته نګینه او سکینه دواړه خاموش ناستے وی ۔ یوه شیبه پس جوړه جوړه جینکۍ پاڅی او بیل بیل ځائے کښې کینی ۔ ږومبۍ جوړه کوثر او شګفته وه چې دَ ډلے نه پاڅیدے او باورچی خانے ته روانے شوے هغوی پسې سپوږمۍ او سپوږمۍ پسی غازی خان هم دَ مینځ نه اووتل ۔

نګینـه او سکینـه پـه ظاهره یو بل سره نزدې او خوا په خوا ناستـې وی خـو دَ هـغـوی خیـالات دَ یـو بل نه ډیر لری وو ۔ نګینې سره ګلابی جوړه اغـوستـې وه او دَ رنګونو شهزادګۍ پکښې ښکاریده ۔ سیکـنـې بـادامی سوټ اچـولـې وو او په افسرانه موډ کښې ناسته وه البتـه کـلـه کله به یې نګینې او دَ هغې جامو ته په ترخ نظر کتل او چې هغې سره به یې سترګې اولګیدې نو مسکۍ به شوه او هغه هم داسې چې ایله دواړه شونډې به یې بیلې بیلې شوې ۔ دې سره به یې سترګې خکته کړې او دَ لاس بنګړو سره به یې لوبې کولې ۔

پـه دې دومـره ناستـه کښې نه هغې نګینې سره خوله پرېکړه او نه دَ نګینې دَ خولې نه څۀ خبره اووته ۔

سکینـه فطری طور خاموش طبعه او کم ګووه ۔ ډیرې خبرې کـول یا اوریدل دَ هغې عادت نه وو۔ د دې خصلت په وجه به پرې بعضې وخت دَ بـعـضـې خلقو دَ لوې نظرې شبه کیده ۔ دَ کوثر او شګفتې دَ تلو نه روستو نګینې هم تلل غوښتل ځکه چې هغه بور شوې وه او وخت پـه وخت به یې ډډې بدلولې ۔ سکینه چې دَ هغې په اراده پوهـ شوه نو دَ لاسه یې اونیوه ځان سره یې روانه کړه او ډرائینګ روم ته یې بوتله ۔ سکینه مسکۍ شوه او هغې ته یې اووې "کینه نګینې " نګینې دَ هغې شکریه ادا کړه او په مسکا یې ورته اوکتل ۔ دې سره سکینه په جوابی مسکا بیا مسکۍ شوه ۔ نګینې چې هغې ته اوکتل نو دَ هغې دَ مسکا پـه شـا دَ مایوسۍ دَ تیرې نښخې ښکاره شوې او په دغه نښخو کښې دَ





هغې لوغړن ارمانونه صفا ښکاریدل ۔

نګینې دَ هغې نه تپوس کول غوښتل خو دا جرأت یې اونکړې شـو ۔ بهـر حال هـغـوی دواړه څـنـګ په څنګ کیناستې او خبرې یې شروع کـړې ۔ دَ هغوی خبرې دَ جامو او دَ جامو دَ رنګونو شروع شوې او دا تسلسل رومانی رنګونو ته اورسیدو ۔ دغه رومانی رنګونه بیا په مـخـتـلـفـو زاویـو خوارۀ شول او په انسانی شکلونو کښی دَ هغوی په خیـالـونـو کښـې نـمـودار شـو ۔ پـه دې مـوضـوع بیـا دَ هغوی خبرې خوندورې او اوږدې شوې ۔

سکینه دَ سلیم رضا صیب ، اعلیٰ تعلیم یافته لور وه ۔ هغه دَ فیـاض او کوثر نه مشره وه خو لا تر اوسه نه وادۀ شوې او نه دَ چا په نوم شـوې وه ۔ دَ هغې مور پلار هم دَ هغې په وجه پریشان وو ۔ په دې لحاظ کوثر نسبتاً خـوش قسمـتـه جینۍ وه چې هغې ته خپل آئیډیل دَ جبران پـه شـکـل کـښـې مـلاؤ شـو۔ هم دغه وجه وه چې دَ هغه دَ لیدو دَ پاره هغـه دَ مور پلار نه مخکښې راغله او جبران سره یې لیدل کتل اوکړل ۔ هغه دَ جبران دَ کړو اوړو ، شخصیت او خبرو اترو نه ډیر متاثر شوه ۔ د دې تـاثـر پـه وجـه دَ هـغـې په زړۀ کښې ډیرې خبرې وی کومې چې هغې جبران ته ویل غوښتې خو کله به موقع نه ملاویده او کله چې به موقع مـلاؤ شوه نو دَ هغې اظهار به یې نشو کولې ۔ جبران په څو څو موقعو دَ هغې نه هغه سره په تنهائی کښې دَ ملاویدو دَ وجې تپوسونه کړی وو خـو دَ اظهار په ځائې به په ډکو سترګو او چپه خوله روانه شوه ۔ جبران

تـه دَ هغـے شـخصيت پُراسراره ښکاريدو په دے وجه يې ترينه څان لرِ راخکلے اوساتو ۔

هلته شگفتے او کوثر خپلو کښې خبرے کولے ، په خبرو خبرو کښې شگفتے کوثر نه تپوس اوکړو ”يه جينى هغه خاوند دے څۀ شو هېږو ښکاری نه ؟

کوثر :۔ سمه شه شگفتے گورې ۔

شگفته :۔ (خاندی) ولې ماڅۀ غلطه خبره اوکړه ؟ خفه شوے ؟

کوثر :۔ نه شگفتے ، تانه به لا څوک خفه شی ۔ ته خو مړی هم خانده وې ۔

شگفته:۔ نه ، کله کله يرول هم کوم :تاته ياد دی هغه په رومبی ورځ مِ څو مره يرولے وی که جبران نه وی نو بيا به دے ژړلے هم وو۔

کوثر (خاندی) چی هغه وخت راياد کړم نو اوس هم راباندے رچ راشی ۔

شگفته :۔ هغه خو دے دَ جبران په تربن کښې سر ورکړو خو اوس به څه کوے ۔

کوثر :۔ جبران خو جبران دے کنه ۔ زما دَ زړۀ ارمان ، دَ څان نه په ماگران دَ زخمونو درمان ، زما جان او زما جانان ۔

شگفته :(خاندی ) اوهو ۔ جينى خو لاړه اوخته ۔

کوثر :۔ يو تپوس درنه کوم خو رشتيا رشتيا به وائے چی څنگه په ما دَ جبران نوم خوږ لگی داسے وصال خان لالا هم تاته گران دے ۔





شگفته :۔ ولې نه ، خو دومره نه لکه چې تۀ دَ خراړے غوندے دَ هغه دَ نوم سره چورليږی او اسمان ته خيژے ۔ .ښه اوس مِ يوه خبره منے ؟

کوثر :۔ ولے نه ! وايه کومه خبره ؟

شگفته :۔ که منے نو هله ۔

کوثر :۔ هاو منم وايه ۔

شگفته :۔ ښه نو راواخله دا خانک او ديگچې چی لوبه گرمه کړو ۔

هغوی دواړه خانک او ديگچی راواخلی کوثر ورته خانک ، ديگچی وهی او شگفته گډيږی ۔ دَ ټنگ ټکور اواز چې وورى نو نگينه او سکينه هم دَ هغوی خوا له راځی ۔ شگفته په گډا کښې نگينه دَ لاس نه اونيسې او څان سره گډوی چې شگفته ستړې شی نو هغه کينی خانک ډِيگچے وهی او کوثر په گډيدو شی ۔ دَ هغوی دا گډا لاشروع وی چې ديکښے جبران او فياض راشی ۔ هغوی چی کوثر او نگينه په گډا اووينی نو په خندا شی او بهر اوځی ۔ لږه شيبه پس آپاجی راشی هغه هم لاسونه اووهی او بيا دے پيغام سره بهر اوځی چی ”بهر رااوځی میلمانۀ راغلل “۔

هغوی ټول بهراوځی او هغوی سره روغ جوړ کوی ۔

دَ روغ جوړنه پس هغوی ټول په کرسو کينی ۔ زيړے نمر دَ هغوی په مخونو دَ پستو پلوشو پنجے راکاږی او دَ هغوی په رنگونو کښې نکهار پيداکوی ۔

آپاجی او بهادرخان هغوی سره دَ ټولو پيژندگلو کوی ۔ سليم

رضا مسکې شی او صوبه دار صیب ته وائی :۔ صوبه دار صیب که ستاسو اجازت وی نو زۀ به دے خپل زومگی او دَ کوثر امیدوار سره یو څو خبرے اوکړم "۔ (سکینه غلے غوندے دَ ډلے نه ووځی او ډرائینگ روم کښې کینی ) ۔ صوبه دار صیب ۔ دا خو صیب ډیره ښه خبره ده خو چې ستاسو په معیار ښه پوره اوخیژی نو هله ورته زومگې وائی اوس نه ۔

سلیم رضا :۔ زما ورسره په موبائیل خبرے شوے دی ماشاء الله ښه معقول دے ۔

(جبران ته ) ښه بچے ته څۀ کاروبار کوے ۔

جبران :۔ زۀ کاروبار نه کوم سر په آرمی کښې حوالدار یم ۔

سلیم رضا:۔ ماته خو ویلے شوی وو چې ته په آرمی کښې افسر یې ۔

جبران :۔ نوسر ، زه نان کمیشنډ افسر یم ۔

سلیم رضا :۔ کمیشن دے ولے نه اخستو ۔

جبران :۔ سر ، چې تعلیم مکمل کړو نو کمیشن به اخلم ۔

سلیم رضا :۔ ستا څو مره تعلیم دے ۔

جبران :۔ زه لسم جماعت پاس یم ۔

سلیم رضا :۔ شاباش بچے ، خپل کوشش جاری اوساته نو هله به منزل ته رسے ۔

جبران :۔ شکریه ۔

سلیم رضا :۔ جبرانه زۀ ستا ډیر مشکور یم چې ستا په وجه زما قریب





المرگ لور ښه شوه او اوس دَ خیره ښه صحت منده او خوشحاله ده ۔

جبران :۔ هر څۀ الله کوی سر ، انسان هیڅ نشی کولے ۔ دا هر څۀ دَ الله په امر شوی دې ۔ بهرحال ستاسو دَ عزت افزائی ډیره شکریه ۔

سلیم رضا :۔ جبرانه بچے دغه مسله خو حل شوه خو اوس یوه بله مسله ده ( ټول دَ هغه خولے ته گوری) ۔ مسله دومره نه ده خو زه پریشانه یم ۔ اینې ته گوره کنه کوثر او سکینه خو دواړه زما دَ زړۀ ټکړے دی او خوږ ، درد راته دَ دواړو یو دے خو سکینے خپل تعلیم مکمل کړے دے او اوس خپل فرم چلوې ۔ کومے ریالسټک خوبۍ چې په سکینه کښې دی هغه په کوثر کښې نشته ځکه هغه لا وړه ده ، تعلیم یې هم کم دے او دنیاوی تجربه یې خو دَ نیش برابر ده ...که یوه خبره درته اوکړم نو اوبه یې منې ؟

جبران :۔ چې خبره دَ منلو وی نو ولې به یې نه منم ۔

سلیم رضا :۔ بعضے خبرې وقتی طور بعضے خلقو ته ښه نه لگی او نامعقولے ورته ښکاری خو دَ وخت تیریدو سره او دَ سوچ او فکر سره ورته هغه نامعقولے خبرې بیا ښه ښکاره شی ۔ زما مطلب دا دے چې فی الحال سکینه دَ تعلیم نه فارغه ده او کوثر زیر تعلیم ده بله خبره دا ده چه دَ انصاف تقاضا هم دا ده چې ړومبی حق دَ مشر اولاد وی ، مقصد مِ دا دے چی تۀ سکینے سره واده اوکړه ( ټول سلیم رضا ته په سوالیه نظر گوری ۔ د کوثر رنگ تک زیړ شی ) ۔

جبران :۔ جی ؟....

سلیم رضا :۔ تا جوړ زما خبره وونه ریدله ۔

جبران ..وو....وو...مِ ...رید...ریدله....خو...خو دا به څنګه ...څنګه اوشی ۔

سلیم رضا :۔ اوهو ۔ ته خو پریشان شوے بچے .. دیکښے هیڅ مشکل نشته ۔ دا به داسے اوشی لکه څنګه چی دا نور وادونه کیږی بلکه دَ هغے نه به ښه کیږی ۔ یوه بنګله ، یو موټر او دوه کروړه روپۍ ستا سلامی ۔ او که لږے وی (خاندی) نو لږ به ځان نور هم اوکره وم ...ستا دَ وادهٔ ټوله خرچه په ما ۔ او که نور څه غواړے نو اووایه ، دا دی ټول ناست دی ۔

جبران :۔ تاسو دَ کوثر نه تپوس کړے دے ؟ هغه به دے ته تیاره شی ۔

سلیم رضا :۔ دَ کوثر غم مه کوه ۔ دَ هغے پخلا کول زما ذمه ده ته صرف ”هان“ اوکړه ۔

جبران :۔ خوله مِ دے ماته شی چې دَ کوثر په ژوند به زهٔ بلې جینۍ ته ”هان“ کوم ۔

سلیم رضا :۔ نیته خو هسے هم ایښودے شوے ده ۔ دَ نکاح نه به مخکښے دعائے خیر اوکړو چې دا کارخیر ته اورسوی ۔

جبران :۔ که دَ دعائے خیر نه ستا مراد زما او دَ سکینے تړون وی نو دا ناممکن دے ۔ زهٔ دے ته تیارنه یم

سلیم رضا :۔ نوګینی دا ستا اخری فیصله ده ؟

جبران :۔ فیصله ، فیصله وی ، مخکښی ، روستۍ پکښې نه وی ۔





چی وی نو کوثر به وی ګینې نه دے وی ۔

سلیم رضا :۔ لږ سوچ اوکړه ۔ هسے نه چې بیاالاسونه مروړے او وخت تیر وی ۔

بهادرخان :۔ هغه پریږده تهٔ سوچ اوکړه چی تهٔ څهٔ وایی آیا داسے چرے شوی دی ۔

سلیم رضا :۔ د ډیر سوچ او فکر نه پس هم په دے غرض دلته راغلے یم ۔

بهادرخان :۔ ته هغه په هغه کارولے مجبوره وی کوم چې هغه کول نه غواړی ۔

سلیم رضا :۔ دا تهٔ لاکومے خبرے کوے بهادرخانه ، دَ هغے په سر کښی ....(چپ شی )

بهادرخان :۔ د دوی سره مونږ دَ کوثر خبره کړے ده ، دَ سکینے نه ۔

سلیم رضا :۔ تاسو کړے ده ، مانه ده کړے ۔ که ماکړے وې نو زه مجرم ۔

بهادرخان :۔ نو ګینې ستا زمونږ په فیصله باندے اعتراض دے ؟

سلیم رضا:۔ بالکل دوی هم تلے شی او تاسو هم ۔

بهادر خان ( حمیده بانوته ) خورے د دے خاوند دے خبرو ته دے خیال دے ؟ دے چی څهٔ وائی ستا ورسره اتفاق دے ۔

حمیده بانو:۔ دیکښے به زهٔ څه اووایم وروره ، ښه درته پته ده چی زما خبره نه منی ۔

بهادرخان :۔ صوبه دار صیب خفه نشی ۔ زما په زړهٔ ډیر ارمانونه

ووخو افسوس چې پوره نه شو او تاسو ته مخ تورن شوم ۔
صوبه دار صیب :۔ خدایې دے مخ تورن کوه مه ۔ دَ قسمت لیک څوک نشي ورانولے ۔ زمونږ د الله په رضا ، رضا ده ۔
بهادرخان :۔ ښه صوبه دار صیب لاړم درنه ، راځه چې ځو آپاجي ۔
کوثر :۔ اودریږه انکل چې وادۀ پاتے شو نو خپل امانت دے هم ځان سره واخله ۔ (هغه کمرے ته ورځي او یوه غوټه راؤړي هغه دَ غوټے نه دَ کالو بکسه راوباسي او هغۀ ته وائي) انکل دا هغه کالي دي چې تاسو ماله دَ وادۀ دَ پاره کړي وو ۔ خو افسوس چې وادۀ پاتے شو نو په کالو به څۀ اوکړم ۔ دا واخله انکل د دے ضرورت پاتے نشو ۔
بهادرخان :۔ نه لورې دا خو ماتاله ډیر په مینه کړي دي ۔ دا ستادي ، دا زما دَ مینے یوه نښخه ده ۔
کوثر :۔ دا کالي ماته په خپل لاس وا چوه چې ستا ارمان پوره شي (بهادرخان هغے ته کالي اچوي ۔ هغه چې کالو ته اوګوري نو په خندا شي)۔
بهادرخان :۔ لورے زۀ تاته ډیر شرمنده یم چې ماستا ارمان پوره نه کړے شو ۔
کوثر :۔ اوس خودے ارمان پوره شو کالي مِ واچول ۔ ماله ټول مبارکي راکړې .آپاجي ....انکل سره تۀ هم ځې ۔ تا خو وی چې "زۀ به تا په خپل لاس ډولۍ کښې کینوم"
(آپاجي او بهادر خان ژاړي او نورو ټولو سرونه ټیټ کړي دي ۔ جبران په





ډکو سترګو هغے ته اوګوري او روانیږي) "جبرانه ! ته چرته ځې : دَ تلو نه مخکښے خو لږ راته مخامخ اودریږې چې په غټو غټو درته اوګورم ۔ ته خو زما ساه یې ، زما روح یې ، چې ته ځې نو ماچاته پریږدے ....جبرانه ماتاته ویلے وو چې ستا تلو سره به د دے کوره زما لاش اوځي" دے سره هغه دَ غوټے نه ډکه طماچه راوباسي ، په خپل سر یې اړدي چې ګوته راکاږي نو یو ټرق اوشي ۔ ټرق سره ټول بیدار شي او پاخي خو هغه راپریوځي او په ابدي خوب اوده شي ۔

## ختم شو

This document was created with Win2PDF available at http://www.win2pdf.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.
This page will not be added after purchasing Win2PDF.